فرېډرېک بارت

د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب

ژباړن
سرمحقق مرستیال نصرالله سوبمن منګل



۱۴۰۳ - ۲۰۲۴

د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب

لیکوال: فریډریک بارت
ژباړن: سرمحقق مرستیال نصرالله سوبمن منګل

کتاب پېژندنه
Political Leadership Among Swat Pathans
Fredrik Barth (1928-2016)

نوم:	د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب
لیک:	فریډریک بارټ
ژباړه:	نصرالله سوبمن منګل [سرمحقق مرستیال]
چاپوار:	دویم
مخکنۍ چاپونه:	لومړی چاپ، کابل ۱۳۶۷
اوسنی چاپ نېټه:	اسد ۱۴۰۳
مخونه:	۱۷۰
چاپ ډول:	رقعي
اوډون او سمون:	فهیم ک.
پښتی:	هارون ساپی
کمپوز او جوړول:	محمد افضل ذاکر
خپرندوی:	انسان څېړنیز او رسنیز بنسټ
جوړښت بڼه:	۱۷۰ مخونه، یاداښتونه [ضیاالحق شمس] او [اکبر کرګر]، تقریظ [دوست شینواری]، نظریه [الف شاه خدران]، څو خبرې [علي محمد منګل]، د ژباړن سریزه [نصرالله سوبمن منګل]، لړلیک، ۱۰ څېرکي، پایله او ضمایم، څو قضیې او اخځلیکونه، پښتو ژباړیز متن، ژبنۍ علامت‌ښودنه، شلمه پېړۍ، ۵۰ مه لسیزه.
	ختیځ، پښتونم ېشتې ټولنې، کلتورپوهنه، لویدیځواله څېړنه.
	پښتو بهیج زر خط، چاپ ډول، کچه ۱۴ X ۲۱ سم.
	ISBN: 978-9936-8073-1-0
موضوعي بڼه:	ختیځ انسانپېژندنه، آسیایي تاریخ- فرهنګ او سیاست، پښتونستان، شمال لوېدیځ، سوات، پښتون پېژندنیز مفاهیم او اصطلاحات، ټولنیز علوم، ټولنیز تعامل، سیاسي تاریخ، د سوات سیاسي سازمانونه، ټولنیز جوړښت او فرهنګ، ټولېدنې، مشرتابه.

انسان خپرولړ – دویم

د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب

انسان بنسټ

فریډریک بارت

پروفیسور توماس فردریک ویي‌بي بارت (۲۲ ډیسامبر ۱۹۲۸ – ۲۴ جنوري ۲۰۱۶) د ناروې یو نوموتی بشرپېژندونکی و چې د سوات د پښتنو په اړه یې میداني څېړنه د ۱۹۵۴ له فبرروي تر نومبر په سوات کې ترسره کړه او بیا وروسته د ځانګړي کتاب په بڼه په ۱۹۵۹ کې خپره شوه.

ښاغلي بارت خپلې لوړې زده‌کړې په کېمبریج او شیکاګو پوهنتونونو کې بشپړې کړې او د امریکا د بوسټون او د ناروې د بورګن پوهنتونونو پروفیسور پاتې شو.

د سوات د پښتنو په اړه د هغه له یادې څېړنې علاوه، پروفیسور بارت د ایران، کردانو، عراق، عمان، سوډان، او ګڼو نورو قومونو په اړه هم میداني څېړنې کړي دي.

نصرالله سوبمن منګل

لیکوال نصرالله سوبمن منګل په ۱۳۲۸ کې د پکتیا په لژه منګل ولسوالۍ کې وزېږېد او د مارچ په ۲۶مه ۲۰۲۰ چې د وري اوومه ۱۳۹۹ کېده، د یو اویا کلونو په عمر په کابل کې وفات شو او په شهدایي صالحین هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

د سرمحقق مرستیال سوبمن منګل خپله لومړنۍ علمي او ښوونیزه دنده د کابل په ښوونې او روزنې پوهنتون کې د جغرافیې د ښوونکي په توګه پیل کړه او په ۱۳۵۶ کې د پښتو څېړنو نړیوال مرکز ته ولاړ، او دوه لسیزې یې د همدې مرکز د تألیف او ترجمې د مسوول په توګه دنده ترسره کړه. هغه په ۱۳۸۲ تر ۱۳۸۶ د علومو اکاډمۍ د بشري علومو مرستیال هم و.

د ښاغلي سوبمن منګل د لیکلو او ژباړلو اثارو تعداد تر شلو اوړي او په لسګونه مقالې یې د علومو اکاډمۍ او نورو نشراتي کانالونو له لوري خپرې شوي دي.

د پښتې په اړه:

د سوات د دولت بنسټ د یوې جرګې له لارې په ۱۹۱۵ کې کېښودل شو او تر ۱۹۱۸ پورې یې مشر ته بادشاه ویل کېدل. په ۱۹۲۶ کې یې مشر والي ومونول شو او په ۱۹۶۹کې یاد ریاست اوسني پاکستان ته ورګډ کړای شو. د کتاب په پښتې انځور د سوات د مستقل ریاست د پیسو نوټ دی چې هغه مهال کارېده.

About Cover photo:

The Swat state was formed through a Jirga in 1915, with its leader titled “Badshah” until 1918. In 1926, the leader’s title changed to “Wali.” In 1969, the state was merged into present-day Pakistan. The book cover features a currency note from the independent Swat state used during that period.

د خپرندوی یادښت

د فریډریک بارټ «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» اثر د سوات پښتنو د قبیلوي ژوندودود، د پښتني ټولنې د رغوونکو توکو او پیچلو سیاسي جوړښتونو، ټولنیز نظام او سیاسي سازمان او مشرتابه د محرکاتو په تړاو یوه ژوره مطالعه او څېړنه وړاندې کوي. په دې مطالعه کې بارت د سوات ټولنیز سیستم تشریح او تحلیل کوي او هغه پیچلې غوټې راسپړي چې د پښتنو د ژوند څرنګتیا تعریفوي. د بارت لېوالتیا په پښتنو کې د سیاسي او ټولنیزې مشرتابه د رامنځته کېدو تر شا د پرتو عواملو او میکانیزمونو په را سپړلو کې نغښتې او لوستونکو ته پر دې ټولنه د واکمنو جوړښتونو په تړاو د یوه دقیق درک ورکولو په لټه کې دی.

دلته د څېړنې اصلي تمرکز په پښتنو کې د سیاسي نظام او قدرت پر ډاینامیکونو دی. لیکوال له سطحي تحلیل وړاندې ځي، ټولنې ته ننوځي او د خپلې مشاهدې، په پښتني جغرافیا کې د ژوند تجربو، د اړیکو د رامنځته کېږیو کانالونو او ژورې مطالعې له لارې هڅه کوي، چې د پښتنو جغرافیا، ژوند دود، سیاسي او اجتماعي نظام، د قدرت ستنې، دودیز قبیلوي سلسله مراتب، د قبیلوي نظام محورونه، د ټولنیزې راکړې ورکړې او ژوند دود میکانیزمونه تشریح او وڅېړي او پټ او ناسپړل شوي اړخونه یې را وسپړي.

په دې کتاب کې د ټولنیز رول، قدرت او نفوذ د محورونو پربنسټ ویشبندۍ تشریح کېږي او د سوات په ولسونو کې د ځمکې او کرنې دودیز اقتصادي- سیاسي رول او دغه راز روحانیت، چې په قبیلوي ټولنو، په ځانګړې توګه پښتنو کې د نفوذ او مشرۍ یوه مهمه لاره ده، تر بحث لاندې راځي. دا په پښتني ټولنه کې د مشرۍ او اقتدار د څو اړخیز ماهیت د درک او تشخیص لپاره خورا مهم دي. بارت ښیي چې څه ډول دغه ویشبندۍ د سیاسي رهبرۍ او ټولنیز نفوذ په رامنځته کولو او پیاوړتیا کې رول لوبوي. لیکوال د ټولنیز هویت او مشرتابه په راټوکېدو کې د نسب او شتمنۍ (خانۍ او ځمکوالۍ) موضوع ته اشاره کوي، چې ځنګه د هغو پر اساس افراد د ټولنې د سیاسي او اجتماعي نظام راس ته رسیږي.

سیاست او مشرتابه د بارت د تحقیق اصلي موضوعات دي، ځکه هغه په ډېر دقت د سوات ټولنیز سازماني چوکاټونه او د مشرۍ ډاینامیکونه، چې ددې سیمې د وخت اجتماعي سیستم تعریف کوي، تجزیه او تحلیل کوي.

په وروستیو کلونو په ځانګړې توګه د بریټانیایي هند له وېش وروسته چې د سوات د خودمختاره دولت بڼه له منځه لاړه او په سیمه کې نویو سیاستونو او دولتي پالیسیو د ټولنو د رهبرۍ او اجتماعي نظام د مدیریت او مشرۍ لپاره د بنسټپالنې او افراطي ډلو ملاتړ ته مخه کړه، د پښتنو په ټولنیز او سیاسي نظام، د قدرت په دودیزو محورونو او اقتصادي او اجتماعي سیستمونو کې ژور تغییرات راغلل. دې تغییراتو د سوات په شمول، چې سیاسي او اجتماعي نظام یې د شاوخوا قبیلوي ټولنو په پرتله یوځه ماډرن او د تحول په حال کې و، د ډیرو پښتني قبیلوي ټولنو اجتماعي سیستمونه وخپل او له غوره بدیل پرته د قدرت او مشرتابه ګڼ دودیز محورونه تغییر او یا له منځه لاړل.

ددې لپاره چې په پښتني/افغاني ټولنه کې د سیاسي او اجتماعي نظام څرنګتیا، د مشرۍ هڅوونکي او رامنځته کوونکي عوامل، د ودې پراووونه او په را وروسته کلونو کې ماډرنایز کېدو ته تمایل او د تغییر پر وړاندې مقاومت یا تعامل په ښه توګه درک کړو، او پاشل شوی ټولنیز نظام او فرهنګي ارزښتونه د وخت غوښتنو ته په کتو، بېرته و رغوو، دغه کتاب د پښتني ټولنې د تېر، اوسمهال او راتلونکي د شناخت په تړاو خورا ژور او روښانه تصویر را کولای شي.

«انسان» د دغه کتاب د خپرندوی او یوه اکاډمیک مرکز په توګه په دې باور دی، چې دغه ځېرنیز اثر د پښتون فرهنګ او سیاست په تړاو د اکاډمیکو بحثونو لپاره مهم او مرستندوی دی. مور ویاړو چې دغه کتاب یوځل بیا خپروو او تاسې ته یې وړاندې کوو.

د «انسان» اداره

د دویم چاپ سریزه

د سوات د پښتنو پر سیاست څېړنه یادښتونه

د څېړنې لپاره لید او موضوعي بېګانګي زښته مرسته کوي چې د یوې پدیدې بیان د څېړونکي لخوا په وضاحت سره ممکن کړي. په ځینو څېړنیزو نظامونو کې د څېړونکي د رول اړوند اندېښنه د دې لامل شوې چې ځینې یې د څېړنې وړ موضوع سره ګډ، ځینې یې پرې اغېزناک، ځینې یې تر اغېزمن او ځینې یې محتاط او محکوم وبولي. دا هغه څه دي چې د ټولنیزې او انساني پدیدې په پلټنه کې نورو لا ریښتوني ښکاري.

هغه مهال چې د پوزیټویزم لخوا څېړنلارښود چمتو کېږي، طبیعي ده چې د پدیدې او څېړونکي ټولوالی دوي فرض ګڼي، خو د فنومنولوژیکو څېړنډولونو فرض پر دې دی چې څېړونکی پخپله د څېړنیزې موضوع یوه برخه ده او داسې ښکاري لکه په یوه ګډ وجود چې خبرې کېږي. د لا وضاحت لپاره ځینې مهال مونږ له خپلو ټولنیزو پدیدو سره داسې تړلي او حل شوي یو چې ډېرې وخت راته پوښتنه نه پیدا کېږي، اړیکې او ډولونه یې مونږ ته عادي ښکاري او همسې مو د چاپېریال د قوانینو او سیستمونو له برخې ګڼلي، نور مو منلي او ناځوابي یې راته نه ښکاري. اما همدا ساده او واضحې، بدیهي شوې پدیدې چې د یو بل وګړي په نظر ورشي، ورته عجیب ډول سره د پوښتنې وړ په نظر ورځي. هغوي کېدی شي زمونږ د چارو په مانا و نه پوهېږي، ولېتوب یې ورته نه وي ځواب شوی، زاویه یې ورته جالبه وي او ډېر ناویلي او نالیدلي ورته د ویلو او لیدلو وي.

مونږ ته په ورځنیو ټولنیزو اړیکو کې یوازې اړیکې او خپل د مشاهدې او نتیجې وړ مراودات ښکاري، مورږ وګړي ګورو چې ورسره په ډېره ناښکاره بڼه پوهېږو، ټولنیز ګډ وجود مو دی او ګډه پوهېدنه مو ده او پدیدې راته پېژندل شوې ښکاري. تاریخي لړۍ تر هغه ځایه چې شفاهي پوهېدنه یې راغبرګوي مونږ ته واضحه ده او باور مو کړی چې په یوې ممکنې واضحې اړیکه کې له نورو سره واقع شوي یاستو. دا شان زمونږ پر سر د قدرت، آزادۍ، ګټې او معاملاتو قوانین په هغې بڼه حاکم او حاضر دي چې فکر کوو نور که یې نوم او توصیف په ذهن کې و نه لرو هم، پایلې او کارکړنې یې همېشه لرو.

ځینې څېړنیز مکتبونه په دې ټینګار کوي چې څېړونکی دې له پدیدې بېل او بېګانه وي چې تر څو یې په هکله هغه لید ولري چې نوی معرفت ورسره ممکن شي، اما د دې لید په وړاندې بل لوری داسې فکر کوي چې څېړونکی باید له پدیدې سره داسې تړلی او ګډ وي چې د همزړهتوب او یووالي له اړخه یې هغه څه په هکله ترلاسه کړي چې نور یې نه شي موندلی او پرې پوهېدلی. په یوه دریځ کې مونږ د خپل ذهن او خپلو تجربو له تکراري مداخلاتو ډارېږو او پایلې ناصافې او ناسمې ګڼو، بل دریځ کې مونږ باید له پدیدې سره داسې تاړونه څغلولي وي چې پوهېدنه پرې راته ممکنه شي. دا د معرفت بېل بېل ډولونه هم وړاندې کولی شي چې فرضیات یې بېل او ماهیت یې هم بېل ګڼل کېږي.

لومړی خو دا نه مالومېږي چې په دقیقه، جدي او ژوره مطالعه کې دا کوم ډول معرفت کېږي، دا هسې پوهېدنه ده چې د لومړي ډول څېړنچارې ورپورې دي او په سادګی، شفافیت، دقت، توجه، تخنیک، واقعي تجربې او بداهت ترلاسه کېږي، او انسان یوازې کتونکی دی، که دا دویم ډول پوهېدنه ده چې په زیرکی، بهانو، محتوایي خپلوی، زماني تجربې او یو ډول چالاکی ترلاسه کېږي. د ځینو مشهورو په وینا پوهېدنه کله وخت لکه د ښکار غوندې ده چې ښکاري باید ورته ویښ، چالاکه او شېبه شېبه کې چمتو وي. په هر حال دا هغه لړی ده چې په څېړنیز سیستم کې لکه یوه پراخ نقد په هغو مطالبو او موضوعاتو کېږي چې د څېړنو له لارې ترلاسه کېږي او بیا د نړۍ د سیاست او ژوند کولو لپاره کارول کېږي.

دا دی په دې څېړنه او لیکنه کې د فرېډریک بارټ څرګندونې او لاسته راوړنې لولو، دی جالب لید لري او هغه څه کتلی شي چې ډېرې زمونږ څېړونکي یې کېدی شي پر دې باور و نه لري چې د پوښتنې وړ یې وګڼي. کېدی شي ډېرې زمونږ څېړونکي هغو ته موضوعات او مسأله ونه وایي، مګر د ده لید له هغو زاویو دی چې لوستونکي جذبولی شي او په دوام کې دا ښودنه کوي چې نوي څه غواړي پایله کې وړاندې کړي. زه سره د دې چې په دې کتاب به خپلې نیوکې وړاندې کړم، دا یو څېړنیز باید راته لومړیتوب لري چې همېشه د څېړونکیو د بېګانګۍ او خپلوی رابطه له پدیدو سره د دوي د کار په څرنګوالي او جذابیت اغېز لري. زمونږ پښتانه څېړونکي هم دې ته اړ دي چې د پدیدو د مشاهدې په بهیر کې یوه نوې زاویه واخلي ترڅو د پدیدو هغه اړخونه را وسپړي چې تر اوسه یې څېړنه نه ده شوې او نوی معرفت ایجادولی شي. بارټ هم د څېړنې د دغې بڼې پېښې په حکم چې له دغه چاپېریاله بېګانه دي، هم د دې لپاره چې د انساني علمونو په حوزه کې د قدرت د رابطو او مناسباتو مطالعه کوي، د وګړیو چلندونه مطالعه کوي، په نویو او جالبو نتایجو وړاندې کولو مکلف ګڼل کېږي.

دا هغه موقعیت دی چې بارټ ته امکان ورکوي چې په سوات ټولنه کې خپله څېړنه بېخي ځانګړې ترسره کړي او په ځانګړیو پایلو یې پای ته ورسوي. زه باوري نه یم چې دا دې هغومره چې دا څېړنیز تشکیل ورته جذابیت او فضا ایجادوي تر هغې دې ښکلي او جذابه څېړنه وي.

د انټروپولوجۍ څېړنیز روشونه هم د وګړیو، کیفي، شننیز او مشاهدهیي امکاناتو او څېړنچارو سپارښتنې په مکرر ډول څېړونکي ته یادوي، او داسې مجال کې یې پرېږدي چې دی له یوې بڼې بهانتها محتوایي او کیفي واقعیتونو سره پاتې شي، دا چې څرنګه یې له دې بې انتها محتوا څخه څه را اخلي، نوم ورته ږدي، بیانوي یې، تجربه کوي یې، مثالونه ورته راوړي، ټینګار پرې کوي او وروسته کې تر منطق جوړېږي، دا نو د څېړونکي حوصلې، زیار او پوهې پورې تړل کېږي.

فرهنګ بارټ له دې اړخه هم خپلې کمۍ لري او کېدی شي منلې يې هم وي. زه يې دلته ځينو ته اشاره کوم.

- د دې څېړنې لوستونکي او مخاطبان څوک دي؟ دا د هسې پوهېدنې په کچه دي چې د ټولې نړۍ لپاره په يوې خاصې زمانې مقطع کې د کارونې وړ وي او که نه يوازې د يوه سيستم، د يوه پوهنتون، د يوې علمي رتبې او يوې ځانګړې موسسې لپاره علمي خدمت دی. زما په ګومان دا ليکنه هغه قالبونه راکاروي چې په امريکا او لويديځ پورې اکاډمیک منطق اخلي او نن چې دا ليد يو څه ننګول شوی دی، هسې معرفت نه شي کېدلی چې د نړۍ د انسانانو لپاره په ټوله مانا وړاندې شي او له ډېرو نابو څېړنو واوسي. د دې خبرې تأييد مې هغه وخت هم کوي چې د بارټ لخوا دغې څېړنې ته ورکړل شوی. هغه د ۱۹۵۶ کال په څو مياشتو کې دا مشاهدات کوي. خامخا به يې د خپلو اسنادو په دفاع کې دا منلې وي چې څېړنه يې تر هغو ليکنو نه ور رسېري چې پېړۍ شاوخوا مطالعه پرې روانه وي.
- د څېړنې په لړ کې د موادو او مشاهداتو سره مرسته کوونکي توکي، شرايط او وګړي ټول خپلې اغېزې لري. د فنومنولوژيکو مهارتونو او شننو په رڼا کې د يوه وګړي دنيا او د پوهېدنې جهان دی چې له نړۍ او نورو سره يې د اړيکو، هويت او موقعيت امکان برابروي. دې شرطونو ته په کتو سره د کشمالي او څو نورو دروني جهان او د پوهېدنې او تجربې لړۍ له څو خواؤ محدودې دي: د ژبې او ژبکارونې له اړخه، چې دا بارټ پورې هم ورګړځي، پر پديدو د باورمندۍ له اړخه چې کشمالي به يې بېخي ساده او د بيان وړ نه بولي!، د ذهني جوړښتونو له اړخه، د اړيکو او درناوي د څرنګوالي له اړخه، د ارزښتيزو فشارونو له اړخه، د پېښو د واقعي کېدنې د لحظهيي او زماني اوسېدو له اړخه او ډېر داسې نور.
- بارټ په يوې بېلې تجربه کې منطق اخيستی، او له بېلې موضوع سره رابطه اخلي، د هغې رابطې له لارې خپلې معرفتي تجربې د ژبو په منځ کې، د بېلا بېلو اصطلاحاتو په موندلو سره وړاندې کوي.
- هغه کسان چې دا ډول تېزسونه تأييدوي د هسې يو ذهنيت لرونکي وي چې لوري لري. دوي د نورو سرچينو او مطالعاتو په رڼا کې ګوري او خپل نظرونه ورکوي، حال دا چې د واقعيتونو په را سپرلو به سړی هغو توپيرونو ته حيران شي چې د پوهې په دغو اوږدو کې يې ماهيت موندلی.
- له دې ټولو سره سره د دغه کتاب ادبيات تقريبا انتقالي اصطلاحاتو سره د بيان وړ دي. ځکه د څېړونکي لپاره دومره ځانګړی امکان نه پاته کېږي چې په يو خاص شمېر اصطلاحاتو يې زده کړې او څېړنې کړې وي، او بيا د بل چاپېريال د وګړو او بلې ژبې د ټولنيزو واقعيتونو په پوهېدنه کې مخکښ اصطلاحات پرې اغېز و نه لري او ذهن ته يې لوری ور نه کړي. دا راغلي اصطلاحات چې دی يې په خپل څېړنيزه طرحه کې کاروي، د څېړنې پر محتوا محدوديت لږوي په ځانګړې توګه انټروپولوژيکو څېړنو کې د اصطلاحاتو او تجربو د مرزونو او د ژبنيزو توپيرو په هکله دقت سره. دوي معمولا هغه واقعيتونه او مفاهيم چې ډېر برجسته او واضح دي، هرڅو يې په هکله ډېر ليکنيز کوښښ ته اړتيا شته، را اخيستي او کار يې پرې کړی او د دغو مفاهيمو هغې ننني نړۍ ته يې لږ سر ورښکاره کړی چې خومره تاريخي بېلګې له ځانه سره راغبرګوي. حجره، ننګ، ملاټر او ... ځينې نور اصطلاحات لکه پيغور، ننواتي، سرتور، دستار او شمله، ... لا پاتې چې حتی د قدرت او خواک په فردي او ټولیزو قالبونو کې تري تصورات او واقعيتونه ويستل کېدلی شي. له دې اړخه د دغې څېړنې يوه خاصه کچه ده چې د سوات د پښتنو په سياسي ژوند کې تر دې ژورې تجربې شته او ممکنې دي چې وڅېړل شي او لا نه دي څېړل شوې.

بارټ يو شمېر واقعيتونه د سياسي امر د بهير او زمينو په توګه مونږ ته ليکنيز کړي دي، دا امکان يې د هڅو لاندې نيولی چې د لوستونکيو ذهن ته يې ـ تر ممکن بريده هغه لوستونکي چې په دغه چاپېريال يو څه ذهنيت لري ـ د پوهېدنې دا تجربه ممکنه کړي. زمونږ لپاره به دا ښه وي چې وپوهېږو دا واقعيتونه له نورو دغه ډول زاويو هم څېړل کېدلی شي او کله چې داسې ورته ګورو، د قدرت پوښتنه څرنګه څوابېږي. بارټ هڅه

کړې چې کله د فردي قالبونو او چلندیزو امکاناتو تمرکز وکړي او کله په ټولیز او ټولنیز جوړښتونو. اما دی زما په اند تر پایه نه شي کولی تشخیص کړي چې د وګړي موقعیت د ټولنې په رابطه څومره او څرنګه فردي او ټولیز دی. دی لکه څرنګه چې د ټولو توافق مشاهده کوي او د پوهېدو وړ یو تجربي امکان یې بولي چې د قدرت او د ساتلو، موندلو او کارولو مناسبات یې ومومي، عین وخت کې دا وضاحت ورته ستونزمن دی چې وګړی د ټولنې په وړاندې د سرغړاوي فوق العاده چانسونه لري. دی نه شي کولی چې د وفاداری د اصطلاح او مفهوم په لمن کې دا واقعیت را ونغاړي چې وګړي ولې خپل وګړیتوب په داسې شرایطو کې نه کاروي چې امکان لري د ټولنې په وړاندې یې وکاروي. هغه څه دي چې دی یې بند کړی، کلک یې نیولی او د ده په وینا هغه وفاداري یې منځ ته راوړې چې دی یې د قدرت په مناسباتو کې شني. د ده په ټول بیان کې دا د سرغړاوي امکان لیدل کېږي او د ده په انسان پوهنه کې پښتون داسې په نازک او باریکو څه ؤ ټرل شوی چې سرغړاوی نه کوي او ها خوا دا ټولنه څومره کلکه او قیده جوړه ده او جوړښتونه څومره لږ مجال پرېږدي خو وګړي ته د ډېر زیات لوی او مخالف غبرګون فرصت ماناداره ښکاري. هر وګړی داسې چلند کوي لکه کولی چې شي له دغو قواعدو ووځي. اما معمولاً نه وځي. دا خبرې له استثناء سره د ده په ټولو څېرکو کې پوهېدل کېږي.

زما په باور د همدغو دلایلو له مخې چې پاس مې د نیوکو په بڼه راوړي دي، د بارټ دا کتاب کولی شي ځینې واړه او په وړې کچه جوړښتونه د سوات په سیاسي فضا کې د همغو کلونو لپاره وښایي، خو محتوایي ښودنه نه شي کولی. دا ځرګندونې ځینې مهال داسې کچې او موضع ته ورځي چې د بارټ دریځ ښکاروي چې یوازې جوړښتونو ته متوجه پاتې دی او دا مهال محتوا ترې خطا شوې. ځکه خو جوړښتونو په داسې یوې بېګانه څېړنیزې لړۍ کې مالومه او د تأمل وړ مشاهده کېدلی شي، اما دا هغه محتوا له ځانه سره را خپروي او لېږدوي چې د پردي لید لپاره هڅه ممکنوي.

بله د تفسیر مسأله ده. په انټروپولوژۍ کې د تفسیر مسأله د لیکنې او څېړونکي له اساسي کیفیتونو ګڼل کېږي. دې باید پام وشي چې یو ټولنیز او انساني واقعیت نه د بل لپاره یوه توضیح، بلکې پخپله داسې یوه پدیده ده چې توضیح غواړي، او دا هغه مجال ایجادوي چې د راټول کړی شویو موادو په تفسیر لاس پورې شي. اوس څېړونکی په تفسیر کې له خپلو ذهني او نظري بوختیاؤ څرنګه خلاصیږي او څنګه دا وضاحت ایجادولی شي، دا نو د بارټ په کار کې نیمایي تر نیمایي کچې زما په اند اسم دی نه زیات. د دې لپاره چې لوستونکیو ته آسانه شي د بارټ فرضیات دې یو ځل ولولي او دقت دې پرې وکړي، دی د دغو فرضیاتو لپاره خپل مشاهدات او ارقام هسې تفسیروي چې کولی شو ورته ووایو دی پخپلو نظري جوړښتونو بوخت دی او په یوې کچه کې یې ځان قانع ساتلی دی. مبهمې فرضیې مونږ ته څه نه شي را ښودلی بلکې کېدونې ده د یوه چاپېریال او یو شمېر پرلپسې واقعیتونو له جوړښت او وضعیت سره برابري ولري، او دا د تفکیک او پوهېدنې لپاره څه ځانګړي نه شي وړاندې کولی.

په نولسمه پېړۍ کې لي پلای (Le Play) دا ډول څېړوندود رواج کړ چې څېړونکی پکې یوازې د یوې ټولنې له ټولو انساني پدیدو سره اړیکې نیسي او پرې خپلې تجربې لیکي، اما دا ورو ورو په شلمه پېړۍ کې ووښل شوې په دوه ریښتو: یو دا ډول څېړنې په یوې وړې جغرافیایي او محدودي انساني ټولنې پورې لکه یو کلی او یا یوه برخه، یوه مجموعه او یو ټولګی. او یا دویمه بڼه یې موضوعي شوه چې یوه موضوع او ځانګړی مضمون په یوه ځای کې وکتل شي او په هکله یې ارقام را ټول شي. بارټ د سیاسي مشرتوب موضوع څېړي او جغرافیایي محدوده یې هم یو څه لویه ده. دا درجات هغه مهال لا هم جدي پام کې نیول کېدلی شي چې ژبه، کلتور، آشنایي، تجربې، د څېړنې وخت، مقدمات، پایلې، فرضیات او همکاران او امکانات مو څرنګه راسره څېړنیز نظام بشپړوي.

دا هم باید ووایم چې د ځینو نورو لیکوالانو تر څنګ د بارټ نظریات د دې لپاره ډېر مهم نه دي چې د ډېرو ځېړنو له منځه فوق العاده او ځانګړي دي، بلکې د دې لپاره مهم دي، چې دلته لیکلی تاریخ او لیکلي اسناد کم دي او یا نشته. د بارټ نه د دې لپاره هرکله منندوی یاستو چې داسې ځېړنه یې په داسې یوې ټولنه کې کړي چې هلته لیکنې او مکتوبې نښې کمې دي او د پوهېدنې اړتیا ډېره.

د ټولنیزې او روحاني مشرتابه ښلګې یوازې او یوازې د مشرۍ زمینې او پېژندنې نه شي ممکن کولی. د ځمکوالي او مذهبي پیرۍ لارښوونې او اغېزې که هر څو په وګړو کې د وفاداری احساس منځ ته راوړي او مشري ښه اخلي، خو د اقتصاد او ټولنیزې هوښیارۍ ښلګې هم په دې هکله د ورزیاتېدو دي. په همدې هکله زما په نظر ځینو مخونو کې داسې جملې شته چې دا وضاحت له منځه وړي او ابهام خپروي.

او دا هم یو څو ټکي د ژباړن، او نورو هغو همکارانو په هکله چې سریزې یې لیکلي؛ ښاغلی سوبمن دې تلپاتې شي چې د زیارونو او هڅو په پایله کې یې د ختیځوالو د پوهاوي او معرفت نړۍ ته رنګ ورکړی، مګر د ژباړې لړۍ به مې هغه مهال ښه نیولی شوی چې د دغه کتاب اصلي متن هم راسره وی. خو ځینې اټکلونه مې اوس ځکه سم دي چې ځینې جملې په متن کې د ننه له خپله اصلي مسیره وځي، زه نه پوهېږم چې دا د بارټ د لیک کمال دی او که د سوبمن صیب د ژباړې جمال.

د ښاغلي دوست شینواري، ډاکټر الف شاه ځدران، او علي محمد منګل له لیکنو مې داسې و انګېرله چې دوي یا دې ځېړنه زښت حیران دي او یا هم د سریزې لیکلو د عرف او رسم په حکم د جوړښتونو په قالبونو کې په احترام دي. د ډاکټر ځدرانِ ښکلې نظریه د کتاب په پوهېدو کې مرسته کوي، او زه یې له هرې بلې سریزې مهمه بولم. خو د ښاغلي منګل توصیفاتو د کتاب په اړه له واقعیتونو هغه عدول وه چې د یو لوستونکي په توګه یې خوښ نه کړم.

په وروسته کې د بارټ او ټولو انسانپوهانو دا حسرت شېبه شېبه له ځانه سره لرم چې لرې او بکرې ټولنې او ځایونه ومومم، امکان راته وي چې ورشم او د ځېړنې مسافر شم. دا یو ځانګړی خوند او لذت لري چې زه فکر کوم د بارټ لپاره یې د کلماتو له تلو نه د هغې مینې لمدوالی ځاځي چې دی یې ستایي او د ځېړنې د وخت یادونه یې کوي.

پای
ضیاالحق شمس

د دویم چاپ سریزه

«د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب»
یا په ټولو پښتنو کې د سیاسي قیادت او ګډ ژوند یوه بېلګه

د مشهور ختیځ‌پېژندونکي او په ځانګړي توګه افغانستان‌پوه مارګنسترن او د هغه د شاګردانو څېړنو د افغانستان؛ په تېره د پښتون ولس او پښتو ژبې په تاریخ کې د متحجرو او جامدو فکرونو یو کنګل مات کړ. د دې رول اغېزه دا وه چې یو ډول خیالي او له ځانه جوړو شویو افسانو ته یې د پای ټکې کېښود. هغه وکړای شول د پښتون ولس د سامي‌توب او اسرائیلیت افسانه د کنګل په څېر لمر ته کېږدي، او د خپلو سختو او جدي څېړنو په لړ کې د پښتنو د ساکي‌توب او اریانیت اصل را په ډاګه کړي ـ همداراز یې د پښتو ژبې قدرت او د سیمې مشهورو ژبو لکه د اوستا او سانسکریټ سره نږدیوالي هم روښانه کړ.

د مارګنسترن شاګرد فریدریک بارت بیا بله کارنامه هست کړه، هغه په پښتني ټولنه کې د مشرتابه مسئله او په پښتني قبیلوي ټولنو کې د سیالي، رقابت، د بېلابېلو اقشارو (پرګنو)، طبقاتو او همدارنګه د مذهب حدود او ثغور وڅېړل. په یوه داسې ټولنه کې چې په ظاهره له انارشي او ګډوډۍ سره مخامخ ده، خو یو داسې قوي او وسپنیز ظم په کې موجود دی چې ټولنه په کې خپل ژوند ته دوام ورکولی شي چې هغه دود، سنن او قواعد دي. دا کوډ د یوه منظم حکومت او دولتي اداري لرونکې ټولنې په څېر او په ځینو مواردو کې له هغه نه لا ښه ټولنه اداره کولای شي ـ دا ځکه چې ټولنه یو نالیکل شوی قانون لري اوهغه پښتون‌ولي ده. یا د پښتنو کود او کنډکس Code and Conducts دی.

طبیعي خبره دا ده چې فریدریک بارت د دې مسئلې د لا ژورې څېړنې لپاره د پښتنو په تیت او پرک ټولنې باندې د تعمیم (جنرالایزیشن) یوه ساحه غوره کړه او هغه د سوات دره وه. دا ځکه ښه او غوره نمونه او بېلګه وه چې د پښتنو یو مشهور روایتي قوم یوسفزي په کې مېشت دي ـ بارت دوه کاله په سوات کې تېر کړل او «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» اثر یې بشپړ کړ چې نن د پښتني ټولنو د پېژندنې او څېړنې لپاره ښه کیلي کېدای شي.

د انتروپالوجيکو څېړنو په لړ کې لومړی اثر چې د بريتانوي استعمار په راتلو سره ترتيب او ليکل شوی، هغه د الفنستن «کابل سلطنت بيان» دی چې په خپل وخت کې د بريتانيا ملکې ته د يوه رپوټ په ترڅ کې ليکل شوی. د دې کتاب اهميت په دې کې دی چې ټول مسايل يې ناپيلي خېړلي، خو له انګريزانو سره تر جګړې وروسته ليکل شويو اثارو کې غرضونه زيات شوي دي، يا په بل عبارت د پښتنو ضد ليکل شوي دي. الفنستن چې زيات وخت يې د پښتنو په هجرو کې تېر کړی، ان د کاليو او دود-دستور په هکله يې ژورې ليکنې کړې دي. خو د سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب اثر؛ سره له دې چې حجم يې کم دی، خو يو لړ علمي او اکاډميک اړخونه او پايلې لري.

پاتې دې نه‌وي چې بريتانوي افسر «اچ ډبليو. بيليو» هم د «جنرل رپوټ ان» د يوسفزي په نوم يو اثر ليکلی چې په (General Report On the Yousufzai tribe) کې چاپ شوی دی . البته د بيليو اثر يو ساده رپوټ دی ـ داسې چې د وخت تعاملات او فرهنګي مسايل دود-دستور ان د قبرونو ډول، او د ټولنيزو ډلو لکه روحانيونو، عوامو، ملايانو، مياګانو ،اخندزادګانو او نورو توپيرونه او تعريفونه لري.

خو کله چې د بارت اثر ته يعنې «د سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب» اثر ته راځو، دا په واقعيت کې يوه ساحوي څېړنه يا فيلد ورک Field work دی چې د بېلابېلو کاستونو، او ډلو سره په کې تماس حاصل شوی دی. د هغوی دندې او نقش يې خېړلی دی، او په دې لړ کې يا په عام ډول په تيت او پرک پښتني ټولنې ان له کندهار تر چترال او له لويديځ تر ختيځ پورې ټولنو کې په عام ډول صدق کوي.

مشهور پوه او څېړونکي اکبر اس احمد چې د ننګ او قلنګ تيوري يې په پښتني ټولنه کې خېړلې ده، د سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب اثر باندې يې د «ميلينيم او کاريزما د سوات په پښتنو کې» په نامه يو انتقادي اثر کښلی دی. ياد پروفيسور د بارت سره په دې څېړنه کې ګډ کار کړی دی، هغه ليکي: «پروفيسور بارت د «لوبو» نظريې ځينې ابتدايي تصورات او ميتودونه پرتله کړي، نيومان، مارګنسترن (۱۹۴۷ستون ۱۹۴۸) او دغه ډول د نژادي او يو ځای شويو ډلو په باب د انسان پېژندنې بېلابېل نظرياتو څخه (بارت ۱۹۲ ۲) د پټان مسودې په شننه کې کار اخلي. په دې اساس هغه ګډ کوښښونه، سازشونه او د ډلو ترمنځ انډولونه شرح کوي چې د سوات په سياست کې اغېز او دخالت لري. په سوات کې مشران سياسي ملګرتياوې جوړوي او په دې موخه يې جوړوي چې په زياته اندازه سياسي طاقت او ګټه ترې واخلي. له دې خبرې هغه اړين او پوره حالات را بهر او روښانه کېږي چې د يوسفزو په دوه ګوني ډله‌ييز نظام کې يې ليدلی شو. دا په بنسټيزه توګه د قدرت لوبه ده.» (ميلينيم او کاريزما د سوات په پښتنو کې ۴۸ مخ)

بارت په خپل اثر کې د پښتني ټولنې او په خاص ډول د سوات پښتني ټولنې ځانګړی حالت د تربورولۍ يا تربګنۍ او د کورنۍ سيالۍ په مفاهيمو کې تشريح کوي چې په ټولو پښتنو ټولنو کې نسبتاً عمومیت لري.

اکبر اس احمد هم دا خبره را په ډاګه کوي چې د پښتنو ټولنيز نظم او د سياسي عمل يوه خوا په هغه کړنه کې انعکاس کوي چې د پښتنو برنۍ او لاندينۍ کچې نرينه يې په کورنۍ کې په انانيت سره ترسره کوي. بارت په يوه روښانه څېړنه او شننه کې راښودلې ده. هغه تربورولي او سيالي د وېش له سيستم سره تړلي بولي ـ او بيا يې د سياسي ملګرتيا سره رابطه ورکوي ـ د نارينه‌وو ترمنځ د کورنۍ خپلوۍ او د تربرونو مخالفتونو يوه ګډه مسئله ده چې بنياد يې د ميراث په لړۍ کې په کورنيو تعصباتو او شخړو باندې ولاړ دی. دا کوم استثنايي اسلامي ځانګړنه نه‌ده، بلکې په راجپوتو کې هم دا عبارت شته چې وايي «بهاتي شتزه» يعنې ستا ورور ستا دوښمن دی، سره ورته‌والی لري.

په قبيلوي يا قبايلي ټولنه کې دا ځانګړنه د ځمکې او ميراث سره تړاو لري ـ په پښتني ټولنه کې چې کله پلار مړ شي ځمکه د زامنو تر منځ وېشل کېږي او دويم او دريم نسل چې د مالکيت وېش لري د سيالۍ سبب کېږي. که له يوې خوا همدا پروسه د عدم اقتصادي تمرکز سبب کېږي له بلې خوا تربور يعني د تره پور يا زوی ګړنه کله هم د دوښمن په معنا کارول کېږي چې د ځمکې له مالکيت سره نېغ په نېغه تړاو لري.

دغه راز بارت د پښتني قبايلي ټولنې د ټولنيزې اقتصادي شننې په ترڅ کې د صوفيانو، وليانو، خانانو نفوذ او اغېز باندې هم غور کړی دی او په دقت يې څېړلي دي.

دا ځکه چې ولي او خان په سيمه‌ييز سياست کې په يوه سطحه کې ګڼل کېږي او د سيمه‌ييز سياست انځور ويجاړوي. مذهبي ليډران؛ ملا دی او که ولي يوازې د لوی مذهبي بحران پر مهال مشرتوب ته رسېږي، او هغه هم اکثراً د نامسلمانه طاقت په مخالفت کې. له دې پرته د ملا کار رسمي، دستوري او ګډوډ دی. هغه جماعت چلوي ـ هلکانو ته سبق وايي او کليوالي دستورونه پوره کوي. په دې برخه کې هغه يوې ښې نقطې ته اشاره کوي او هغه دا چې ملا او ولي يوازې د نامسلمانه طاقت د استيلا په وخت کې مشري ترلاسه کوي. د دې خبرې مصداق د افغان او انګليس تر منځ په درې جنګونو کې ليدلی شو. د مثال په توګه ملايان لکه ملا مشک عالم، هډې اخندزاده، ملا پيوند، د چکنور ملا، د اسلام‌پور شيخ پاچا او نور را څرګند شول. په نولسمه پېړۍ کې مرکزي دولت خاصتاً امير عبدالرحمان خان ته همدا قشر يو لوی سر درد وو چې البته دا بل او ځانګړی بحث دی.

په معاصره شخړه کې د شوروي ضد جګړې کې هم مذهبي کسان له جوماتونو د سياسي مشرتابه مقام ته ورسېدل. دوې خپل مذهبي کار پرېښود او له مذهب څخه په ناوړه ګټه‌اخېستنې يې سياست ته راوادانګل ـ دې کې شک نه‌شته چې ګاونډيو سازمانونو او په سيمه کې يو لړ افراطي سازمانونو هم ستر نقش درلود. په دې اساس دا او داسې نور مسايل زيات د بارت په اثر کې رايادېږي چې په غور او دقت سره لوستنې ته اړتيا لري.

زما په نظر په دې شرايطو کې «د سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب» اثر يو ډېر ارزښتمن کار دی. دا کار بايد اکاډميکو مرکزونو کې وای، ځکه اړين و. په پايله کې وړانديز دا دی چې موږ د افغانستان پېژندنې او سيمه‌ييزو مطالعاتو پياوړي مرکز جوړولو ته سخته اړتيا لرو چې بايد تر سره شي.

پای
اکبر کرګر

تقریظ

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز ویاړي چې ګرانو هېوادوالو ته «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په نوم یو په زړه پورې اثر وړاندې کوي.

د سوات پښتنو ژوند، د دوی ترمنځه اجتماعي، اقتصادي، روابط او کلتوري اړیکې د محققینو لپاره د خاصې څېړنې وړ دي، ځکه چې د سوات سیمه د پښتنو د اجتماعي او کلتوري ژوند یوه تیپیکه سیمه وه او ده.

د سوات ښکلې دَرې په اریایي لرغونو یادښتونو کې خاص مقام درلود او دغه نوم (سوات) هم ډېر لرغونی دی. درې زره کاله پخوا چې اریایي قومونه له باخترې او د هندوکش له شنو لمنو د ختیځ خواته وخوځېدل د دوی د لرغوني کتاب ریګوید د سیندونو په سندرو کې چې د کابل، کورم، ګومل او اباسین نومونه ستایل کیږي د سوات سیند د سویتي (Sueti) په نوم یاد شوی او په یوه بله سندره کې د سوواتو (Souvatu) په نوم ستایل شوې ده. بیا وروسته د سانسکریت د ګرامر لیکونکی پاینِني (۳۵۰ق‌م) په یادونو کې هم د سوات سیند د سواستو (Suvastu) په نوم او د یونان لرغونی مورخ اریان (۱۷۵م) د سواستوس (Suastos) په نوم یاد کړی چې اوس ( ) یې خاصه یوناني لاحقه ده[1].

په میلادي لومړیو درېو، څلورو پیړیو کې په سوات کې بودایي کلتور را پیدا شو، ورو په ورو یې وده وکړه او د یوه داسې بودایي سپیڅلي مقام حیثیت یې وموند چې د بودایي زایرینو مرجع وګرځېده. د دغو زایرینو په جمله کې یو هم مشهور چیني زایر فاهیان و چې په (۴۰۰م) کې یې د دغې سیمې زیارت کړی او دغه ښکلې سیمه یې (سو-هو-تو) په نوم یاده کړې ده. هیون سنګ بل چیني زایر و چې په (۶۳۱م) کې یې د دغې سیمې زیارت کړی او هغه یې د (سو-فه-سه-تو Su-fa-saixo) په نوم یاده کړې ده داسې اټکل واقعیت ته نږدې ښکاري چې د غزنویانو په برکت به په دریمه او څلورمه پیړۍ کې د اسلام رڼا په دغې سیمې خپلې رنګینې وړانګې شیندلې وې.

دا چې په اسلامي دوره کې د دغې سیمې مهم حالات څنګه و او یوسفزي څه وخت دلته مېشته شول د کتاب په متن کې مواد شته دی. د سوات د پښتنو سیمه د پښتنو د تاریخ په ډېرو برخو کې د خاصې یادونې وړ ده. د شیخ ملي قانون چې (د شیخ ملي دوتر) په نوم هم یادیږي. همدلته (۸۲۰هـ.ق۱۴۱۷م) کې ولېکل شو، د پښتنو بشپړو لیکل شویو آثارو په جمله کې دا لومړی اثر ګڼل کیږي. د دغه قانون متن متاسفانه تراوسه د علمي کړیو په واک کې نه دی راغلی، خو د دغه قانون د نفوذ اثار تر ډېره وخته په سوات کې موجود و چې د کتاب مؤلف فریدریک ویلیام بارت یې هم یادونه کړې ده. په سوات باندې ډېرو سترو امپراتورانو او یرغلګرو د تاریخ په بېلو بېلو پوړیو کې یرغلونه کړي دي لکه مقدوني سکندر، ظهیرالدین بابر، جلال الدین اکبر او بالاخره انګریزي ښکیلاکګرو له دغو ټولو سترو قوتونو سره د سوات پښتنو کله بریالي او کله هم ناکام ټکرونه کړي دي، خصوصاً هغه داسې چې دوی د جلال الدین اکبر لښکر ته (چې د هغه لوی وزیر بیربل په کې ووژل شو) او وخت په وخت انګریزانو ته ورکړی دی هغه به د تاریخ په زرینو ټکو او طلایي رنګ لیکلی وي.

---

۱. د سواتنامې مقدمه، د استاد حبیبي سریزه.

د پښتنو سيمو ته د انګريز امپرياليزم د خونړيو منګولو راغځېدل ټولې سيمې په تېره بيا د سوات لپاره ستره بدبختي وه. د سوات د پښتنو او د انګريزانو ترمنځ لومړی مهمه جګړه د (۱۸۵۷کال د جولای په ۱۸) وشوه چې د نارنجي په لومړی جګړه شهرت لري. له دې وروسته بيا ډېرې جګړې وشوې. لکه د پنجتار جنګ (۱۸۵۸کال د اپريل۱۵) د امبيلي جنګ (۱۸۶۳کال اکتوبر) او داسې نور په ۱۸۹۵ کې پرنګيانو په سوات، دير، چترال، باجوړ او د هغو په ځوا او شا سيمو باندې د خپل استعماري تسلط د ټينګولو اراده وکړه او هلته يې د پاخه سرک په غځولو لاس پورې کړ. او ضمناً يې له (۱۸۶۹) کال ځخه د ابادو درو د کرنې وړ ځمکې د خانانو او نوابانو په لاس ورکړې او د شيخ ملي ځمکو د وېش سيستم په ځای ستره ځمکوالي او فيوډاليزم منځ ته راغلل.

د انګريزانو په مقابل کې د سوات ننګياليو مبارزې ډېر اوږد تاريخ لري چې د دغې وړې مقدمې له حوصلې ځخه وتلې ده. د همدغو مبارزو برکت و چې انګريزان د سوات لپاره په يو ډول کورنۍ ازادۍ قايل و او دا ازادي له انګريزانو وروسته د هغو اخلافو مارشلايانو ته هم په ميراث پاتې شوه، تردې چې په ۱۹۶۹ کال کې د يحيىٰ خان د واکمنۍ په وخت کې د سوات کورنۍ ازادي له منځه لاړه.

دا چې د کتاب مؤلف فريدريک ويليام بارت هغه ستر مبارزين د متعصبينو په نوم يادوي چې په انګريزي شکيلاکګرو يې د خدای دا ازاد وطن سور تنور ګرځولی و، کومه د تعجب خبره نه ده. که په خپل وطن او خپل قوم باندې غيرت کول څوک په هر نوم ياد کړي هغه د دوی کار دی، خو پښتنو ته دغه غيرت کول له نيکونو په ميراث پاتې شوی دی.

د سوات په پښتنو کې ځېړنه ځکه په زړه پورې ده چې دا د پښتنو تيپيکه ټولنه پاتې شوې ده. د ېلو ېلو مدنيتونو او اجتماعي، اقتصادي تحولاتو له ځلورلارې په ځنګ پاتې شوی، د مغولي تمدن، د انګريزي تمدن او په سيمه کې د نورو غير پښتنې تمدن کومه اغېزه چې د يادونې وړ وي نه ده پرې پريوتې. نو د دغسې ټولنې ځېړنه د بهرنيانو لپاره په زړه پورې ده او د بهرنيانو د ځېړنو ترجمه بيا زمور فکر او پام ځان ته اړوي، نو ځکه ويلی شم چې د سوات په پښتنو کې ځېړنه د بارت لپاره او بيا په پښتنو باندې د هغه د اثر ژباړه کومه اتفاقي او تصادفي خبره نه ده.

له نيکمرغه د دغه کتاب ترجمه يوه داسې چا کړې چې هم په انګريزي ژبه پوره تسلط لري او هم په پښتو ژبه پوره حاکم دی او هم د افادې ډېره ښه قوه لري. کله چې ده يوه ډېره مهمه ترجمه يعنې د احمدشاه دراني کتاب له انګليسي ځخه ژباړه او د دغه مرکز لخوا چاپ شو، باور وکړئ چې د دغه کتاب له امله پښتو ځېړنو بين المللي مرکز ته نهايت زياتې تبريکۍ ورسېدلې. دا محترم پوه او زيارکښ عالم سرمحقق مرستيال نصرالله سوبمن دی.

ما دا کتاب سره تر پايه د يوه مسؤل شخص په توګه کتلی دی. په کومو برخو کې چې زما په نظر بايد ځه واړه او جزيي بدلونونه راغلي وای هغه ما ګران سوبمن ته وړاندېز کړل او ده هم په ورين تندي ومنل. زه د ده لپاره زيات بريالیتوب غواړم.

سرمحقق دوست شينواری
د پښتو ځېړنو بين‌المللي مرکز رئيس

نظریه

د «سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» انګلیسي اتنوګرافي چې د ناروې انسان‌پوه، پروفیسور فریدریک بارت لخوا لیکل شوې ده، داسې یوه څېړنه ده چې په هغې کې د سوات پښتنو سیاسي نظام په علمي توګه تحلیل شوی دی او په دغه څېړنه کې سیاسي صلاحیت (واکمنی) او د هغه د سازمان شکل ته چې له دغه صلاحیت څخه په کې کار اخیستل کیږي خاصه پاملرنه شوې ده.

په دې کې به څوک شک ونه لري چې د یوه اتنوګرافیک او تحقیقي اثر د نېې پیژندنې سره د اتنوګرافر او محقق پیژندنه په څرګند ډول مرسته کولی شي. نو تر هغه ځایه پورې چې ماته راځرګنده ده د پروفیسور فریدرک بارت د پیژندنې په برخه کې به په ډېر لنډ ډول خبرې وکړم.

فریدریک بارت په اصلي کې د ناروې دی. ده خپله دوکتورا د انسان‌پوهنې په ساحه کې د انګلستان کمبرج پوهنتون د بشر پوهنې له پوهنځي ترلاسه کړې ده. دی د ناروې د برګن پوهنتون د ټولنیزې انسان‌پوهنې پروفیسور دی او په همدغه پوهنتون کې د انسان‌پوهنې په تدریس او څېړنو بوخت دی. دوکتور فریدریک بارت د سوات پښتنو، د سهیلي ایران کوچیانو (دخمشه کاندفدراسي د باصري قبیلې)، د سوډان د جبل المره د فرد خلکو، د سند او سوات د کوهستانیانو، د مري بلوڅانو په منځ کې ساحوي څېړنې کړې دي. سربېره پر دې پروفیسور بارت هغه اتنوګرافیک معلومات او شواهد چې رابرت ن.پیرسن او د هغه ماندینې د یوه ساحوي تحقیق په ترڅ کې د مري له بلوڅانو راغونډ کړي وو او پیرسن ته مرګ د تحلیل موقع ور نه کړه، تحلیل او خپرونې ته سپارلي دي چې د «مري بلوڅانو د ټولنیز سازمان» په نوم یادیږي. همدغه شان د پروفیسور بارت یو لړ زیات شمېر څېړنې او علمي مقالې په ډېرو معتبرو مجلو او نشراتي وسایلو کې هم چاپ شوي دي چې د ټولنیزو مطالعاتو په برخه کې د موډلونو حیثیت لري. د دغو علمي اثارو او مقالو مکمل فهرست د دغې مقدمې په اخر کې په کرونولوژیک ډول د ماخذونو په لیست کې تنظیم شوی دی.

د «سوات پښتنو» څېړنې د انسان‌پوهنې د تیوریکو او میتودولوژیکو پرابلمونو په برخه کې هم ځینې ستونزې اسانه کړي او یا یې له منځه وړي دي. سوال دا دی چې ایا ساحوي تحقیق د مینوسکي او د انسان‌پوهنې د نورو پیشروانو په شان څو کاله باید دوام وکړي او یا ځان د کمپیوټر او د جمبوجټ له پیړۍ سره سم کړي او څېړونکی باید ځان د لنډ مګر د ژور تحقیق لپاره سمبال کړي؟ پروفیسور بارت د لنډ وخت مګر سختې او ژورې څېړنې پلوي کوي. دی حتی څو میاشتې د کردانو په تحقیق (بارت۱۹۵۳) لس میاشتې د سوات د پښتنو (بارت۱۹۵۴) دریۍ میاشتې د ایراني باصریانو له قبیلې سره (بارت۱۹۶۱) دریۍ میاشتې په سوډان کې (بارت۱۹۶۷) پنځه اوونۍ د مري بلوڅو په ساحه کې (پیرسن ۱۹۶۶) او اووه میاشتې په نیوګینی کې (بارت۱۹۵۷) تېر کړي دي.

پروفیسور بارت د څېړنو لویه برخه کې د دوو عمده موضوعاتو سره ډېره مینه لري چې یو یې د ایکولوژیکي مسایلو او بله یې د وګړو او قبایلو ترمنځ متقابل عمل (Interaction) تشکیلوي. د ده په عقیده کرنه د باغوانۍ او مالپانۍ په پرتله د توافق ډېره پرمخ تللې ستراتیژي ده ځکه کرنه د دغو نورو ټکنالوژیکو نظامونو په مقایسه خلکو ته د استثمار او ګټې اخیستلو زیات قدرت وربخښي او هغوی د زیست ببلا ببلو محیطونو باندې مسلط کوي. مګر په عین حال کې د زیست په محیطونو کې محدودیتونه ښایي د کرنیز نظام د توافق په لار کې خنډونه او ستونزې ایجاد کړي. دغه موضوع پروفیسور بارت په هغه اثر کې بیانوي چې په هغه کې د سوات سیمې پښتانه او کوهستانات تشریح شوي دي. دغه سیمه د کرنې لپاره مناسبه او موافقه ده او بالاخره تر هغې سیمې پورې امتداد مومي چې د دغه توافقي نظام د کرنې سره ډېره لږه مرسته کوي. له دغه راز درجه لرونکي سیمې سره موازي د کرنیز توافق څخه د کرنې او مالدارۍ او له هغه څخه په هغه ستراتیژي لاس پورې کیږي چې پر (Transhumanst) او کوچي ډوله مالدارۍ باندې اتکاء لري.

د یادونې وړ خبره دا ده چې مالداري او مسکون کرنیز ټولنیز نظامونه غالباً د یو بل لخوا په سوات کې څېړل او تشریح شوې ده. څرنګه چې د کروندګرو او مالدارو سواتیانو سیمې چې د پروفیسور بارت لخوا تشریح شوي دي یو له بله نږدې او ګاونډۍ سیمې دي نو د ببلا ببلو ډلو اړیکې چې دغو سیمو کې اوسیږي له یو بل سره د متداخلو اجتماعي اړیکو د سازمانونو پر بنسټ ولاړې دي. د مثال په توګه پر تولیدي او توزیعي عواملو سربېره موږ باید په نسبي نظامي قدرت باندې ځان پوه کړو (کوهن۱۹۶۸-۳۲۲) (کیلی او مینرز۱۹۷۲-۷۵).

د انسان‌پوهنې ډېرو مشهورو څېړنو په منځ کې چې د استوګنې او د ټولنیزو اړیکو سازمان ترمنځ مناسبات په کې څېړل شوي دي «د مري بلوڅانو ټولنیز سازمان» دی چې د رابرت پیرسن له خوا را غونډ شویو شواهدو پر اساس بارت لیکلي دي. دی وایي، د مري بلوڅ خلک مالداران او کروندګر دي. د دې کتاب د شواهدو تحلیل نېغ په نېغه د استوګنځي او د ټولنیزو اړیکو د سازمان ترمنځ مناسبات په دقیق ډول څېړلي دي. په بله وینا د بارت تحلیل په دغو دوو تحقیقي اثارو کې ایکولوژیکي تحلیلي بڼه لري او وایي، کلتوري اجتماعي نظام توافقي شکل لري. هر هغه تحول چې په کې منځ ته راځي په حقیقت کې هغه هم یوه توافقي عملیه ده.

که چېرې د «سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په اثر کې تیوریک او میتودولوژیک سوال مطرح شي؛ نو باید ووایو چې په دغه څېړنه کې د فردي اصالت (Individualism) له مکتب څخه، هم په تیوریک او هم په میتودولوژیک لحاظ ګټه اخیستل شوې ده. دغه مکتب عمدتاً خپل اجتماعي الهام له مکس ویبر څخه په ارث اخیستی دی. د دې مکتب په مقابل کې په انسان‌پوهنه کې د جمعي اصالت (Holism) مکتب واقع دی. کارل مارکس د دې مکتب د نیکه او امیل دور کهایم یې د پلار په صفت پیژندل شوي دي. په لومړني مکتب کې انسان منفرد او د ټولنې په مقابل کې کتل کیږي. د دغه مکتب د پیروانو په عقیده انسان داسې یو مصمم

مخلوق دی چې په خپلو خوښونو او انتخابونو کې ښه والی غواړي یا خپلې ګټې د ټولنې د ترتیبولو یا مجدد تنظیم له لارې او د هغه د سمبولونو لکه ملیت او ژبې له لارې په اګاهانه یا غیر اګاهانه توګه اعظمي حد ته رسوي. دی د «اقتصادي انسان» اصلي موډل دی او په دې لار کې تل ترتله زیار باسي چې په هر قیمت وشي خپلې ګټې اعظمي حد ته ورسوي. د دغه مکتب پیروان عقیده لري چې انسان مصمم دی خپلې خوښۍ یا سیاسي قدرت ډېر لوړ کړي. په دغه مکتب کې د یوې ټولنې افراد د خپلو هیلو لکه د قدرت، خوږو، ازادي او د جنسي روابطو اعظمي حد ته د رسولو په هڅه کې لیدل کیږي. نو په دې ډول انسانان داسې ازاد عمال دي چې د انتخابونې له مسایلو او مشکلاتو انتخابونو ته د ارزښت ورکولو د خرنګوالي او بېلابېلو ستراتیژیو چې هغوی ته د اعظمي حد ته د رسولو لپاره تیار دي. اعظمي حد ته رسول خپل اخرنی انعکاس د سیاسي قدرت په تعقیبولو او ترلاسه کولو کې ځان منعکس کوي. (ادماندلیچ) وایي: دا به یوه ضروري او سمه خبره وي چې فرض کړو د قدرت ترلاسه کولو اګاهانه او غیر اګاهانه ارزو د انسان په چارو کې یو عام محرک حسابیږي. په اخر کې باید وویل شي د اجتماعي عمل او تحلیل مرکز پخپله عمل کوونکی دی. (کوهن) د تیوریک طرزالعمل او کړنلارې هغه تحلیل چې د ډلەییز او د ډلەییزو سمبولونو پر بنسټ ولاړ وي، شکمن ښیي او د هغه سیاسي انسان پر فعالیتونو ټینګار کوي چې د سیاسي قدرت تعقیبول تل هڅوي، د دغه مکتب پیرو انسانپوهان د سیاسي ژوند تصویر د یوې همیشنی لوبې پر بنسټ تمثیلوي چې په هغه کې هر انسان هڅه کوي خپل قدرت د توطیې، مبارزې او تصمیمونو له لارې اعظمي حد ته ورسوي چې هغوی یې سرته رسول غواړي. هر هغه عمل چې دی پر هغه باندې اندښنه کوي د هغې معاملې محصول دی چې په هغه کې یې عکس العملونه له محصول څخه زیات نه وي، بلکې لږ تر لږه له هغه سره سمون لري. د فردي اصالت دغه ټول تیوریک او میتودولوژیک شرایط «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» له یوه سره د بارت په تحلیل، تعمیم او نتیجه‌ګیرۍ کې لیدل کیږي.

له بلې خوا فریدریک بارت د ځینو نورو انسانپوهانو په ډله کې هغه مخکینی عقیده ماتوي چې ابتدایي ټولنې یې په داسې ډول توضیح کولې چې له پرمخ تللو (یا پیچلو) ټولنو سره ذاتي او ماهوي تضاد لري. دی وایي د ابتدایي ټولنو اتنوګرافي د هغوی د تحلیلي چوکاټ جهان شمولیت‌والی څرګندوي.

پروفیسور بارت «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په مشهوره او کلاسیکه اتنوګرافي کې د سوات قبایلي او فیوډالي نظام څېړلی دی. دغو خلکو خپل قبایلي او فیوډالي مؤسسات د لا شعوري پر اساس نه دي، غوره کړي، بلکې دغو قبایلو خپل مؤسسات د یوه ثابت او بریالي توافق په صفت د هغو طبیعي او ټولنیزو محیطونو پر بنسټ ځانته انتخاب کړي دي چې په کې اوسیږي. دغه ځمکه د ځینو خلکو او ځینو ځېړونکو له خوا د بېمشره ځمکې او یا غیستان په نوم یاده شوې ده. په سوات کې هغه ډلې چې په سیاسي نظام کې اساسي دي، نفع او همکاره واحدونه جوړوي، ټول د یوه اصل پر بنسټ ولاړ دي، چې هغه هم انفرادي ظرفیت دی. نو په دې ډول په هره ډله کې یو مشر وجود لري او د هغه د صلاحیت او واکمنۍ منابع له یو لړ اړیکو منشأ اخلي چې له خپلو پیروانو سره یې لري. کله چې مشران د دغو مناسباتو په اساس ووېشل شي، نو دوې کټه‌ګوري ورځخه جوړیدلی شي: یو پښتانه مشران او بل هغه ستانه چې د لوړ نسب خلک دي. لومړنۍ ډله خپل صلاحیت او واکمني عمدتاً له ثروت او فتحې څخه اخلي. دویمه ډله خپله واکمني له منځګړیتوب، خیرخواهۍ او قانون څخه ترلاسه کوي. دغه ډلې دواړه په ښکاره ډوله سیاسي ډلې دي، ځکه هر یوه ډله په خپل وار سره خپل پیروان تنظیموي او پر هغوی باندې خپل حکم چلوي؛ نو په پای کې دوی دواړه خپلې واکمنۍ د قوې له لارې ترلاسه کوي.

په سوات کې مشران او ستانه د مفهوم پر اساس د متضادو او مکملو اجزاو حیثیت لري. د دغو ډلو د هر یوې سیاسي فعالیتونه د بلې ډلې حضور ایجابوي او د غرور، رقابت او سیاسي میرانې او نارینتوب هیله له پښتنو مشرانو څخه کیږي.

دغه کړه او سلوک د کلیوالو پښتنو په مغزو او ذهنتونو کې وي. هغوی دغه شان سلوک خوښوي او هڅوي یې مګر دغه خصلتونه نسبي ماهیت لري او هغه وخت په څرګنده توګه درک کېدای شي چې د هغوی متضاد مفاهیم لکه تواضع، معقولیت او حلم په نظر کې ونیول شي. د دغه مکمل شانته سلوک هیله له ستانه و څخه کیږي او د هغوی متضاد کړه وړه په زیاته پیمانه د مثال په ډول د مشرانو د خاصې میلمه‌پالنې او د هغه پر ضد د ستانه و د تواضع او یا د ستانه و د یو شانته سپین کالي او د مشرانو د مجللو او رنګینو جامو په واسطه ترسره کیږي.

دغه مکملوالی د سیاسي ډلو د اختلاف او دوه اړخیزو وابستګیو سره په زیاته اندازه تړلې دی. مشران د پښتنو د محلي نسبي ډلې غړي دي. دغه مشران خپل پیروان په متداوم ډول زیاتوي او د یو لړ محلي او ورته حجرو په ډلو کې په یوه انشعابي او بې‌مشره اجتماعي نظام کې مشران کیږي. هغه تکتیکونه چې د هغوی پر بنسټ مشران د قدرت ترلاسه کولو لپاره له یو بل سره رقابت او سیالي کوي امکان لري چې ډېر زیات جنجالونه او شخړې رامنځ ته کړي. د دوو مشرانو ترمنځ جګړه او تضاد امکان لري د ډېرې خطرناکې شخړې او لانجې سبب شي.

مګر هغه اشخاص چې د مشرانو پیروان جوړوي او د هغوی د اعمالو کړو وړو خوښوونکي او پلویان دي په عین وخت کې د ستانه و پیروان هم دي. سربېره پردې هغه ډلې چې د ستانه و په مشرۍ یې لارښوونه کیږي د مشرانو پیروانو د ډلې ځینې برخې جوړوي او عموماً د ستانه و پیروان د مشرانو پیروانو په پرتله ډېر خواره‌واره پراته وي. په ډېرو مواردو کې هغه وخت چې د مشرانو ترمنځ شخړې او لانجې رابرسېره شي؛ نو د هغوی معنوي معاونان یا په بله وینا متواضع معقول او پاک نفسه ستانه یې ترمنځ مداخله کوي. د ستانه و اساسي نقش منځګړیتوب دی او دوی په هميشنۍ توګه د سولې د تنظیمولو او د تضادونو او شخړو د کمولو په برخه کې فعاله ونډه اخلي. مشران نه شي کولی دغه نقشونه یوازې پخپله سرته ورسوي. هغه کارونه او چارې چې مشران یې د خپلو پیروانو د زیاتوالي او هغه رقابتونه او سیالي چې دوی یې د خپل نفوذ د زیاتوالي په برخه کې په یوه سیمه کې سرته رسوي که چیرې ستانه هم په عین حال کې فعال نه وي ښایي په انارشي او بینظمۍ منتج شي. مشران او ستانه د یو بل متلازم دي او د سوات سیمې نظام د دواړو خواوو د فعالیتونو نتیجه ده.

د دغه نظام اساسي خصوصیت او بڼه د ټولو مشرانو او د هغوی د پیروانو یووالي په دوو پاڅلیو او د سیاست په لحاظ د همکارو ډلو اتحاد یې جوړول دي. د هرې ډلې په ترکیب کې مشران او ستانه دواړه شامل دي چې دغه شان ترکیب د هغوی ترمنځ مکملیت منعکس کوي. د سازمان نور خصوصیات هم د ډلو په جوړښت باندې؛ د مثال په ډول د هغه شدید تضاد پر تمایل باندې تاثیر کوي چې د تربرونو په منځ کې مناسبات تمثیلوي. دغه تضاد د مسلطو څمکه والو د پلرنیو خیلونو په منځ کې د دغو ډلو د سیاسي انشعاب سبب کیږي او د هغو دوو منشعبو ډلو اتحاد په خپلو منځو کې دوې متضادې ډلې جوړوي. نو د سوات پښتنو په انشعابي تضاد لرونکي نظام کې توازن د اجزاو د انشعاب او اتحاد په مختلفو سطحو او په مشخصو حالاتو کې لکه څرنګه چې په نورو انشعابي تضاد لرونکو ټولنو کې مخصوصاً په افریقا کې تشریح شوی دی، منځ ته نه راځي، بلکې برعکس د سوات په سیاسي نظام کې د سیالانو او رقیبانو ترمنځ تضاد دایمي بڼه لري او له یوې خوا د هغه پرمخ‌تلونکې عملیې او غایي انشعاب پر بنسټ چې په ډلو کې منځ ته راځي او د یوه مشر له خوا یې لارښوونه کیږي او له بلې خوا له یوې ډلې بلې ډلې ته په تبښتبدلو په سیاسي نظام کې توازن ترلاسه کیږي.

د «سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په علمي څېړنه کې دوو نورو موضوعاتو ته هم د بارت لخوا دقیقه کتنه شوې ده چې دلته یې یادونه ګټوره بریښي. یوه یې د پښتنو په ژوندانه کې د حجرې نقش او منزلت او بله یې د پښتنو په ژوند کې د تضادونو په وخت کې د جرګې نقش، وډه او طرز – العمل دی.

د سوات پښتانه بالعموم په کلیو کې اوسیږي. کلي ځانګه مشران لري. هر مشر ځانته حجره جوړوي چې په هغه کې د مشر پیروان کینې، خپل اطاعت مشر ته څرګندوي. په حجره کې د اتحاد او اتفاق خبرې کیږي، د رقیبې اتحادیې په مقابل کې طرحې او پلانونه سنجول کیږي. په هغې کې خیرات او مېلمستیاوې ورکول کیږي او بالاخره حجره د خوب او ساعتیرۍ او سیاسي فعالیتونو مرکز بلل کیږي.

پښتانه بالعموم او د سوات پښتانه بالخصوص د خپل ژوند د تنظیمولو او د ټولنې د کنترول او توازن په خاطر او د زورور او کمزوري ترمنځ د اصلاح او عدالت په منظور ځانته عنعنه لري. دغه عنعنه د پښتنو په جرګو او مرکو کې منعکس شوې ده. که چېرې له یوه پښتون پوښتنه وشي چې ته څوک یې په ځواب کې وایي، زه پښتون او له خلکو سره «پښتو» کوم.

د دغه بیان معنی داده چې هغه د یوې خاصې عنعنې او یا قوانینو پر اساس له نورو سره چلند کوي. دغه قوانین او عرفي د ساتیر د هر پښتون په یاد نه دي. په هر کلي او قوم کې څو تنه سپین ږیري مشران وجود لري چې په دغه عنعنوي قوانینو پوهیږي او د سپین ږیري د مصلحانو، منصفانو یا مرکچیانو په نوم یادیږي. دغه سپین ږیري واقعي منصفان دي، ځکه د هغوی ترمنځ د دریځ او وینا کولو په برخه کې تفاوت وجود نه لري. د هغوی ترمنځ د برابرو وینا کولو او د مساوي دریځ د لرلو واقعیت او رښتیني دموکراسي د هغوی د کښیناستلو په سطحه د جرګې په وخت کې تمثیلیږي. په مرکه کې ټول ګډون کوونکي په دایروي شکل سره کینې او په مجلس کې رئیس وجود نه لري او د مجلس ګډونکوونکی د برابرو وینووو حق لري.

زه «د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» کتاب د سوات د پښتنو مشرتابه په برخه کې یو ګټور علمي اثر ارزیابي کوم. دغه څېړنه په انسان‌پوهنه کې نه یوازې د «سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په ډېره علمي او دقیقه توګه څېړلی دی، بلکې په خپل وار سره د اتنوګرافرانو اتنولوجستانو او محصلانو لپاره یو تحقیقي موډل پیژندل شوی دی. په دغه اثر کې د څېړنې خاص میتود لیدل کیږي او د پښتنو ځانګه‌ییز نسب او تضاد لرونکي انشعابي نظام په برخه کې نوې نظریې لري چې ما مخکې پر هغو خبرې وکړې.

زه سربېره پردې چې د دې کتاب د چاپولو جدي سپارښتنه کوم د محترم معاون سرمحقق نصرالله سوبمن لپاره د سپیځلي پښتون ولس او د ګران افغانستان د فرهنګ د غنا په برخه کې د زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم.

په ډېر درناوي
پوهاند دوکتور الف شاه ځدران
د اجتماعي علومو پوهنځي د انسان‌پوهنې استاد

ستا د ښايست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه زه به کوم يو ټولومه

د دغه اثر په باب څو خبرې

د «سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب» په نوم په انګليسي ژبه کتاب د خارجي پوه پروفيسور فريدريک بارت اثر دی. فريدريک بارت د اروپا د زرغونې او پرمختللې وچې د ناروې ښکلي هېواد او خاورې اوسېدونکی دی، فريدريک بارت په پښتو ژبه پوهيږي او خبرې پرې کولی شي. دی د خارجي پښتو پوه فقيد استاد پروفيسور مارګن سترن شاګرد هم دی

لکه چې د کتاب له نوم څخه په جوته څرګنديږي فريدريک بارت دغه اثر د پښتونخوا په هغه ښکلي شنه، زرغونه او غرنۍ سيمه کې چې د ادم او درخو په نوم ملي او فولکلوري کيسه په کې تېره شوې ښکلې، دا کيسه په ټولو پښتني سيمو، کليو او باندو کې غوره شهرت لري، خارجي مستشرقينو لکه راورټي او الفنسټون هم د دغې ملي او فولکلوري کيسې او د ادم خان او درخو د شهرت خبرې کړې دي. ادم او درخو دواړو په همدغه شنه او زرغونه سيمه کې خاړپوڅې کړې، لوی شوي، نوم او شهرت ته په کې رسيدلي او دلې په کې خاورې شوي دي. د ادم خان او درخو د مينې (پاکې مينې) دغه تراژيده کيسه او داستان دومره خوږ او اغېزناک و چې په خپله سيمه (سوات) کې خای په خای پاتې نشو، بلکې ټولو پښتني سيمو ته ډېر ژر ورسېد او جهاني نوم او شهرت يې بيا موند. بارت خپل اثر په همدغه تاريخي ښکلي خای (سوات) کې د ساحوي ريسرچ او سروې په رڼا کې د خپل پښتون پېشخدمت (کشمالي) نومي او نورو مخورو پښتنو مشرانو په مرسته د څو مياشتو لنډه موده کې بشپړ کړی دی. . .

ويليم بارت دغه غوره او ژور اثر د سوات د پښتنو د ژوندانه او پېژندنې يا د سوات د سيمې د اوسيدونکو د ژوند او پېژندنې په برخه کې په ډېر دقيق ډول کښلی چې د خپلې دوکتورا د تيزس لپاره يې وړاندې کړی و. د بارت دغه تحقيقي اثر واقعاً د بشر (انسانپوهنې) په باره کې ډېر ارزښتناک مواد لري. د خارجي پوه پروفيسور بارت دا درونده کتاب د پښتو او پښتونوالي د پېژندنې په برخه کې په تېره د سوات د زرغونې سيمې د اوسيدونکو د ژوند او پېژندنې په باب لکه چې پورته اشاره وشوه ډېر کره ايکولوجيکي او اتنولوجيکي مواد لري چې بارت په ژوره توګه تحليل او تفسير کړی دی. دغه ساحوي او تحقيقي څېړنه د نوښت او ابتکار څخه ډکه ده چې د ليکوال په علمي کريډټ کې يو لوړ ګام شمېرل کيږي. . .

د دغه اثر په باره کې زمونږ د هېواد محترم پوه د کابل پوهنتون استاد پوهاند الف شاه خدران ډېره ژوره علمي نظریه لیکلې او دغه کتاب یې په ښه توګه ایډیټ کړی دی، ده د دغه اثر ارزښت په واقعي توګه بیان کړی او د ویلیم بارت د کار او تحقیق میتود یې په علمي ډول ښودلی او د انسان‌پوهنې په برخه کې یې دغه کتاب ډېر لوړ ارزیابي کړی دی.

د افغانستان د جمهوریت د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بین‌المللي مرکز رئیس سرمحقق دوست شینواري (د فریدریک بارت داد انسان‌پوهنې اثر چې د سوات په سیمه کې یې بشپړ کړی دی) په علمي توګه ارزیابي کړی، د سوات د کلمې تاریخي انځور یې په مستند ډول کښلي او د کتاب د ارزښت په برخه کې یې ډېر درونده تقریظ پرې لیکلی دی، د محترم پوه سرمحقق دوست شینواري دغه زحمت او زیار په خپل وار سره د خورا زیاتې یادونې وړ دی. د ویلیم بارت په انګریزي ژبه کتاب نی (باندې) پښتو مترجم معاون سرمحقق نصرالله سوبمن منګل په خپل وار سره د سوات د سیمې په جغرافیایي، تاریخي او د سوات د اوسیدونکو یوسفزیو د تاریخ او پیژندګلوي په برخه کې له ځانډن وخت نه تر نن پورې د یوې مستندې سریزې او مقدمې په لړ کې څېړنه کړې ده چې واقعاً د دغې سیمې په علمي کتنه کې د اهمیت وړ ګڼل کیږي. پښتو مترجم نصرالله سوبمن دغه انګریزي متن په ډېره ساده او روانه پښتو ژباړلی دی چې د لوستلو په وخت کې لوستونکی د مشکلاتو سره نه مخامخ کیږي او مونږ دغه قضاوت لوستونکو ته پریږدو...

د «سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب» په نوم اثر ما د چاپ او اهتمام د چارو په وخت کې دوه واړې د سر نه تر اخره پورې ولوست، دغه کتاب که څه هم د بشر پیژندنې په برخه کې کښل شوی، زه چې د فرهنګ (کلتور) او فولکور د کلمو سره مټکی اشنایي لرم؛ نو ما چې د دغه کتاب موضوعاتو لوستل دې ته اړ شوم چې څو ټکي د توان په اندازه پرې وکاږم...

د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب اثر که په غور سره وکتل شي د پښتنو د کلتور او فرهنګ په باره کې ډېر غوره او اساسي مواد لري. که چېرې یو څېړونکی د دغه علمي اثر د فرهنګ او کلتوري موادو په باره کې علمي پروژه ونیسي د خپل تحقیق او څېړنې په نتیجه کې به ورته په ډاګه جوته شي چې دغه اثر د پښتنو د فرهنګ او کلتور په باره کې په تېره د پښتونوالی په برخه کې غوره اصطلاحات لري.

د پښتون ولس کلتور، دود او رواجونه د ځانګړیو او خاصو ټولنیزو موسسو (کلي، باندې، کیږدی، حجرې) او وروسته پاتې اقتصادي شرایطو، په بنسټ ولاړ دی. د پښتنو وینا، ادب، فولکلور او حتی د دوی کلتور او فرهنګ د یو خاص کلیوالي او قبایلي اړیکو څخه جوړ شوی دی چې دا کلتور او فرهنګ د خپل سوچه‌والي سره سره د هرې سیمې او خلکو د کړو وړو نښې له ځان سره لري چې د مقایسې په صورت کې یې واړه واړه توپیرونه یو له بل سره څرګندیدای شي. دا جوته ده چې پښتنواله او پښتونوالی د پښتنو د قبایلي ژوند په بهیر کې ځانته ځانګړی کلکه لار (قاعده) ده چې د یو خاص قانون او نه ورانیدونکي دود په توګه په پښتنو کې وجود لري، زه دلته د زیاتې یادونې څخه ډډه کوم، د پښتو، پښتونوالی او د پښتنو د کلتور د یادونې لپاره د دغه اثر څخه لاندې څو اصطلاح د مثال په ډول راوړم:

۱) میلمه

په پښتنو کې میلمه د لوی حق څښتن ګڼل شوی، بې له میلمه څخه پښتانه ته ګوښې ډوډۍ خوړل خوند نه ورکوي، په پښتنو کې د میلمه ډېر عزت او درناوی کیږي، میلمه پالنه د پښتنو یو خاص دود دی، په دغه باب خارجي پوه ویلیم بارت د خپل کتاب په سر «لومړنی خبرې» تر عنوان لاندې په یوه برخه کې داسې وایي: «دا چې د سوات ښاغلی والي له دغې څېړنې سره مینه وښودله، ډېر زیات یې ممنون یم، دغه شان د ده له مامورینو

او لوی منشي څخه چې په هر ډول ممکنه وسیله یې له ماسره مرسته کړي، منه کوم خو که زه د پښتنو له ډېر برمه ډکې میلمه پالنې سره چې زما د ژوندانه د ښلو ښلو اړخونو سره تړلی و، مخامخ شوی نه وای، د پورتنیو کسانو مرستې به لږ څای نیولی وای...».

پښتانه نه یوازې میلمه ته ډوډۍ ورکوي، بلکې د تګ په وخت کې هغه ته د وس په اندازه څه سوغات او خونی هم ورکوي، زه په خپله په وړکتوب کې څو ځلې د خپل کلي څخه د منګلو کوم بل کلي ته تللی وم، د شپې له تېریدو څخه وروسته سهار د تګ په وخت کې د کور د مشرې مېرمنې او د کور د مشر لخوا د متکو (اوغز، چارمغ، چارمغز) او نینو جیبونه د خونی په نوم راته په ډېره مینه ډک شوي دي. . . په یوه اولسي سندره کې د میلمه یادونه داسې راغلې ده:

د میلمه عزت په کار دی که د چا یې مخې کیږي
تریخ چای او چلم لګیږي

۲) ملاتړ

په عمومي توګه ملاتړ په پښتنو کې هغه څوک دی چې د بل سره په کومه پېښه، خواری، مزدوری او د جنګ او جګړې په وخت کې ملګری شي، په دغه ملګرتیا کې د سر او مال نه تیریږي، د پښتنوالی او د پښتنو په دود کې (ملاتړ) په درېیو مفهومونو افاده کیږي:

۱) په خونه او کور (کورنۍ) کې چې ماشوم لوی او ژنې شي یعنې بلوغ ته ورسیږي او ټوپک تر ملا وتړي، ملاتړ یې بولي. چې کله کله د کورنۍ د ویش په وخت کې د ملاتړ په سر ویش کیږي.
۲) هغه چې د دښمن د وژلو او ستړولو لپاره ملاتړلی وي.
۳) د بدی په وخت کې د یو چا سره ملاتړ او مرسته. په منګلو کې د ملاتړ د کلمې پرځای کله کله د مېړه کلمه ډېره استعمالیږي، مېړه تکړه ته وایي، که کومې کورنۍ ته په یوه معامله او پېښه کې قسم ورکول کیږي نو د مندیې (مدعي) لخوا ویل کیږي: ښه مېړه په کې سرته ونیسه، فریدریک بارت د لومړي څېرکي په یوه برخه کې د ملاتړ موضوع داسې راوړې ده:

«په دغه برخه کې سیاسي عمل د دغو متقابلو او دوه ګونو اړیکو او مناسباتو په کار اچولو هنر ګڼل کیږي، څو د هغو له مخې د ملاتړ کوونکو یوه وړه او اغیزمنه ډله ایجاد شي او یا په بله وینا ترڅو چې په دې اساس باندې سیاسي متحد ملاتړ منځ ته راشي.

پښتانه ځمکوال او د روحاني کورنیو اولاده دواړه فعال سیاسي مدعیان دي، له دې امله دوه ډوله ټولګي منځ ته راځي چې یو یې خان او د هغه ملاتړ دی او بل یې ستانه (ولیان) او د هغو مریدان ګڼل کیږي».

په یوه پښتو لنډۍ کې د ملاتړ په باب داسې ویل شوي دي:

ښه ملاتړلی یار مې ورک دی
چې ملاتړلی ووینم ژړا راځینه

۳) حجره (اوجره، ویجره)

هر پښتون چې کور او کلا لري، د کور او کلا ترڅنګ حجره لري، حجره د میلمه د عزت، مجلس او د خوب ځای دی، په حجره کې د کور او کلي د کار او روزګار خبرې اتري، د کور او کلي د مدیانو د دعوې او تېري او تجاوز او د تربورو ترمنځ د بدۍ د پرېکړې هوارولو مرکه او جرګه جوړیږي، له دې کبله حجره په پښتنو کې

اوچت مقام لري، د ښادیو، ماشوم د زیږیدو او د نورو خوشحالیو په وختو کې په حجره کې ساز او سندرې بلل کیږي. د خانانو او مشرانو په حجرو کې د ټینګ ټکور مجلسونه هم جوړیږي. د حجرې مقام په پښتنو کې څکه اوچت دی: که د کوم پښتانه حجرې ته یو مجرم سومه او پناه ور وړي هغه ته مدعیان ترهغه وخته پورې چې په حجره کې وي هیڅ نشي ویلی، که احیاناً څوک د چا په حجره کې پناه راوړونکي ته ضرر ورسوي، د پښتنو د نرخ سره سمه معامله ورسره کیږي او پردې برسېره ډېره درنه ناغه او شرم پرې اوړي، د پښتنو په حجره کې د مشرانو او کشرانو د کیناستو ځای مالوم وي، خو لکه چې معمول ده د حجرې څښتن په حجره کې بر او لوړ د دې لپاره نه کینې چې د نورو اغلیو خلکو او میلمنو عزت پرځای شي او لوړ یې کینوي. په حجره کې د خپلوانو او خیښانو ترمنځ د واده، لاس نیوي، ښاروالتی، خونې، پریکون او د ولور خبرې هم کیږي، د مړي په وخت کې حجره د میلمنو د درنښت او عزت ځای دی.

ویلیم بارت د پښتنو د حجرې د ارزښت په باب د خپل اثر د پنځم څېرکي یوه برخه کې داسې ویلي دي: «حجره د پښتنو د فرقې خاصه ده او د سوات د ناوې یوازې په هغو سیمو کې چې پښتانه په کې میشت دي، موجودیت لري، د سوات د ناوې زیاته برخه د پښتنو تر سلطې لاندې ده، حجرې په هغو سیمو کې چې د ستانه و یا د هغو د اولادې لخوا اداره کیږي، وجود نه لري. په هغو ځایو کې چې حجره وي، نو هغه هرومرو نارینه و په ورځینې ژوند کې غوره اغېزه لري، په عین حال کې حجره د یوه کلوپ، لیلیې، میلمستون او د مراسمو او تشریفاتو او د خوږو ځای ګڼل کیږي، حجره د پښتنو د سیاسي ژوند د زیاتې برخې د فعالیتونو ځای دی، نو له دې امله زموږ د دغې څېړنې په چوکاټ کې یو خاص ارزښت لري...».

په یوه پښتو لنډۍ کې د حجرې یادونه داسې راغلې ده:

حجره په نوم د ملک جان ده
ډکې کاسې مې د اشنا له کوره ځینه

۴) ملا

په پښتنو کې مذهبي او ديني مشر او عالم ته امام او ملا ویل کیږي، د منګلو په کلیو او بانډو کې د ملا او امام ډېر درنښت او عزت کیږي، کلیوال او بانډوال وایي چې ملا بینا دی او سترګې لري د الله Y کلام (قرآن) یې لوستلی دی، موږ پرانده او نابینا یو. له دې ځایه ښکاري چې د ملا او امام مقام اوچت دی، ملا مسجد چې د الله Y کور یې ګڼي ساتي، کلیوالو ته امامت کوي د هغوی اولادونو او زامنو ته سبق ورښیي، د جنازې لمونځ کوي، نکاح ترې، د جنګ او جګړې په وخت کې ملا د ډېر درانده مشر او سپین پټکي په نوم قرآن په سر باندې نیسي، د جنګ میدان ته ورګډیږي او سیالې ډلې چې هغه وګوري د قرآن په درنښت او د ملا په مخ جګړه سره بندوي او ترمنځ یې د مرکې او جرګې تروخته پورې تار او بند کوي...

فریدریک ویلیم د امام او مذهبي مشر درنښت د خپل اثر د پنځم څېرکي یوه برخه کې دغه شان بیان کړی دی: «... ملا خلکو ته په عبادت کې لارښوونه کوي، د جمعې د لمانځه په وخت او یا په نورو ټاکلیو مذهبي ورځو کې ورته وعظ کوي، له بلې خوا د ژوندانه د غوره دودونو د اجرا په وخت کې برخه اخلي، د مثال په ډول د نوي پیدا شوي ماشوم په غوږ کې اذان کول، د کوژدې او نکاح ترلو او د مړي د جنازې د مراسمو د ادا کولو او د دعا کولو په وخت کې د یادونې وړ ده...».

۵) نایک

په منګلو کې نایک هغه چاته ویل کیږي چې همسایه ولري او واک یې د ده په لاس کې وي او دی د هغو په مرسته او خپل زور د سیالانو سره سیالي او ژوند وکړای شي، په منګلو کې د نایک د کلمې او د نایک د زور او

قدرت په باره کې یو متل شته او دا متل کله کله په هغه وخت کې ویل کیږي چې د نایک همسایه په چا تېری کړی وي، یا تېری وکړي، متل داسې دی: «**چې نایک یې زورور وي، همسایه یې منجوي پردي کټونه**».

نایک کلک، زورور او ملاتړ سړي ته ویل کیږي چې د قوت او زور خاوند وي. بارت د خپل اثر د پنځم څپرکي په یوه برخه کې دغه ټکي ته داسې لنډه اشاره کړې ده: «د یوه نایک (ځښتن) او ځانګړي مزدور (نوکر) ترمنځ اړیکې باید په پام کې ونیسو، کله چې یو سړی له بل تن څخه معاش یا ټاکلي مزدوري واخلي نو دی د هغه تن ځانګړی یا شخصي نوکر دی، د دې خبرې مانا دا ده چې په عمومي توګه دی د هغه تر واکمنۍ لاندې دي...».

٦) منځګړی

په منګلو کې منځګړي ته (منځګړ هم وایي، د لوبو په وخت کې کله چې دوې ډلې سره جوړې شي او یو تن بې‌ملګري او سیاله پاتې شي، نو د دوو ډلو میران ورته وایي: ته زمونږ منځګړوپ یې. دی د هرې ډلې په وار کې خپل وار تېروي. خو د بدۍ، جنګ، د دوو تنو او یا دوو ډلو ترمنځ په یوه پېښه او حادثه کې د روغې او جوړې کولو دنده او چار چې کوم تن یا څو تنه په غاړه ولري هغه ته منځګړی یا میانځګړی ویل کیږي، منځګړی او منځګړوپ د دواړو سیالو او دښمنو ډلو لخوا ازاد او مصؤنیت لري، هغه څوک نه وژني، ځکه چې د روغې جوړې او بدان (بند) لپاره فعالیت کوي.

فریدریک بارت د خپل کتاب په اتم څپرکي کې دغې موضوع ته په یوه برخه کې په تفصیل سره ځای ورکړی دی چې دلته څو ټکي تریې را اخلو: «... چیرې چې د ټکر او مخالفت په وخت کې یو (ستانه) د منځګړي په توګه ټاکل کیږي، نو دریځ یې هم په هماغه شان دی. ښایي مخالفې ډلې له دې سره موافقه وکړي چې موضوعات منځګړي ته واچوي، یا ښایي چې مظلومه ډله، یوه ستانه ته مراجعه وکړي او له هغه څخه د سیال په مقابل کې د عادلانه او بې‌طرفه پرېکړې هیله ولري او په دې توګه خپل دریځ پیاوړی او سیال یا رقیب روغې جوړې ته اړ کړي. ستانه باید هغه شواهد له سره راغونډ کړي چې د ټکر حالت او د اخته کسانو عملیات یې منځ ته راوستلي دي او د خپل منځګړیتوب له مخې یې حل او خلاص کړي...».

٧) مشر

د مشر کلمه په پښتو کې ډېره درنه ده، هر څوک مشر کیدای نشي، په کور، کورنۍ، کلي او قام کې هغه څوک مشر کیدای شي چې هغه د ژبې خاوند وي او پنځه تنه پرې راټول شي، د نغرې ځښتن وي او د مشرۍ سره ډوډۍ ورکړلی شي. څوک چې مشر کیږي هغه به د مرکې او جرګې سړی وي. دا جوته ده چې په پښتنو کې هر سپین ږیری او د پاخه عمر ځښتن ته مشر ویل کیږي، خو د پښتو او پښتونوالی په دنیا کې د قام او قبیلې مشر هغه څوک دی چې هغه ذاتي پوهه ولري او له اولس سره یې راشه درشه ضمیمي او د روغې جوړې او خیر غوښتنې سړی وي.

بارت په خپل اثر کې د سوات د سیمې پښتانه او نور مشران داسې یاد کړي چې هغه زیاته ځمکه ولري او د حجرې ځښتن وي او په حجره کې د ده پلویان او ملاتړ ډېر وي، د صلاحیت هغه اندازه چې مشر د خپلې کورنۍ او یا پلرنۍ د ملکیت او په هغه پورې د مربوطو کسانو له کنترول څخه په استفادې سره یې لري تر یوې اندازې د خپلې مشرۍ لاندې ټولې محلي کنترولو ته پراختیا ورکوي او د محلي د ټولو ځمکوالو د مشر په توګه ډګر ته راووځي.

٨) دود

دود، د کلتور یو توک دی او په اصطلاح کې د چلن ښلګو هغې مجموعې ته ویل کیږي، چې په عنعنوي بڼه

له يوه نسل نه بل نسل ته انتقاليږي او له فردي نامنظم چلن (سلوک) سره توپير لري. که د ځينو ټولن‌پوهانو په اصطلاح فولکلور د خلکو له کلتور سره مترادف او يو شانته وګڼو نو (دود) د خلکو د کلتور پر يوه توک باندې اطلاق کيږي، ټول کلتور نه احتوا کوي. دود، د چلن هغه ثابت قواعد او ضوابط دي چې د زمانې په اوږدو کې تشکيل شوي او په يوه يا بله ساحه کې د خلکو د ژوند لارې چارې تنظيموي (لکه د ميلمه پالنې، واده، اخترونو او داسې نور دودونه)، دودونه د خلکو د تاريخ، اقتصادي فعاليتونو، طبيعي اقليمي شرايطو، ټولنيزې وضعې، مذهبي عقايدو او داسې نورو عواملو تر اغيزې لاندې انکشاف کوي...[۲]

ويليم بارت په خپل اثر د سوات په پښتنو کې سياسي مشرتوب د ځلورم ځپرکي په يوه برخه کې دغې غوره موضوع ته په زيات بيان او تفصيل اشاره کړې ده چې مور ځو ټکي د مثال په توګه ترې دلې را اخلو.

د اسلام دين د يوه فرد د ژوندانه په اوږدو کې د يو لړ دودونو ترسره کولو لکه د زيږيدنې دود، ختنه، واده او د مړي تکفين او تدفين ضروري ګڼي.

د دغو دودونو، مراسمو او شعايرو يوه غوره برخه د هغو عامه او ولسي ماهيت دی چې د ډېرو علاقمندو ټولنيزو ډلو د غړو او استازو په ګډون سره سرته رسيږي، هغه کسان چې په دغو مراسمو کې ونډه اخلي، په سوات کې داسې متحدې مجامع، انجمنونه (محلي ټولنې) جوړوي چې د تالتول (Taltole) په نوم سره شهرت لري، مګر په خپله دغه مراسم د غم او شادۍ په نامه يادېږي.

د پښتو ژبې د ادب او شعر پلار او د تورې او مېړانې د ميدان زړور او تورزن پښتون خوشحال خټک په يوه بيت کې د دود کلمه داسې راوړې ده:

خط و خال په ښه جمال باندې يو دود دی
نه چې حسن د خوبان په دا مزيد شو

۹) واده

په پښتنو کې چې هلک ژڼی (بالغ) او انجلۍ (پيغله) شي نو واده ورته کول ضرور ګڼي، په عمومي توګه د نر او ښځې نکاح ته واده ويل کيږي، خوړې ته هم واده وايي، په منګلو کې هلک چې ژڼی شي په خپله ځانته د واده اختيار او واک نه لري. بلکې د ده د واده واک او اختيار د پلار، که پلار يې نه وي، مشر ورور، که ورور يې نه وي، د هغه تره، که تره يې نه وي تره‌زوی يې واک لري چې واده ورته وکړي، که خپلوان ونه لري د پلرينۍ مشر د ده د واده کولو حق لري، واده د قام او قبيلې د ټاکلي دود او رواج له مخې ترسره کيږي. که د چا واده د قام او قبيلې د دود او رواج له مخې ونه شي خپل خپلوان يې په واده او د واده په مراسمو کې ونډه او برخه نه اخلي، له دې کبله د قام او قبيلې دود ته په درنښت او احترام کتل کيږي، د قام او قبيلې هر غړی مکلف دی چې د قام او قبيلې ټاکلي دود ته غاړه کيږدي، که څوک د قام او قبيلې د دود نه تېری وکړي هغه ته په درنښت او احترام نه کتل کيږي بلکې هغه (تېې) يعنې په خپل دود او دستور کې يې نه شريک کوي، له هغه سره راشه درشه نه کوي، ځکه وايي چې زمور دود ته يې په سپکه کتلې دي...

ويليم بارت په خپل اثر کې دغې غوره موضوع ته د ځلورم ځپرکي په يوه برخه کې غوره ځای ورکړی چې مور د نمونې په توګه څو ټکي دلې ترې را اخلو.

«د واده دود په څو پړاوونو ويشل شوی دی. مجمع، انجمن (محلي ټولنه) يوازې د دغه دود وروستۍ برخه کې يعنې هغه وخت چې ناوې د پلار له کور څخه د زوم خونې ته وړل کيږي برخه اخلي. د واده مراسم د ناوې په

۲. د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ، فولکلور پيژندنه، کانديد اکاډيمسين محمد صديق روهي د افغانستان د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبياتو علمي مرکز، ۸۸ -۸۹ مخونه، ۱۳۶۵کال.

کور کې یو لږ ځانګړو مقدماتي مراسمو ته اړتیا لري. یو ډله خلک په خوشحالۍ سره د زوم د کور او حجرې په لور حرکت کوي او هلته تر یوې یا دوو ورځو پورې د خوشحالۍ مراسم روان وي، د ناوې او زوم له خوا د مجمع یا محلي ټولنې له ټولو غړیو ځخه هیله کیږي چې په مراسمو کې حاضر واوسي. هغه کسان چې د حاضریدو توان نه لري، باید په رسمي توګه اجازه واخلي او یو تن د خپل نماینده په توګه وټاکي، زوم د مجمع له ټولو غړیو ځخه هیله کوي چې په خوړو، خدماتو او کارونو کې برخه واخلي».

په یوه پښتو لنډۍ کې د واده یادونه داسې شوې ده:

نوی واده د زړګي سر دی
په کټ درخیژي تورې سترګې سره لاسونه

لکه چې دمخه وویل شول د فریدریک بارت دغه اثر د پښتنو د کلتور او فرهنګ په باره کې لویه شتمني لري چې په دې باب باید ځانګړې ځېړنې د رسالو او کتابو په بڼه وشي، بارت په دغه اثر کې جرګې او مرکې، ګوندې، ګوند، پښ، ترکان، ډم او داسې نورو ډېرو زیاتو موضوعاتو ته ځای ورکړی دی، چې د ټولو راوړل دلته موضوع اوږدوي...

د دې ټکي یادونه ضرور ګڼم چې د ویلیم بارت اثر په رښتیا سره د پښتنو د کلتور د ځېړنې لپاره خورا ډېر مواد لري او کیدای شي چې د دې اثر له موادو ځخه په استفاده کولو سره د اصطلاحاتو (اولسي او قبیلوي اصطلاحاتو) قاموس جوړ شي.

په پای کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو ځېړنو بین المللي مرکز ته د دغه علمي اثر له املې د زړه له کومې مبارکي وایم او د پښتنو د کلتور او پښتو ژبې ته د خدمت په لار کې یې د زیاتو بریالیتوبونو هیله کوم. د کتاب پښتو مترجم نصرالله سوبمن منګل دغه زحمت ستایم او د پښتو ژبې او د سپیڅلیو پښتنو د خدمت په برخه کې ورته د نورو بریاوو سپارښتنه کوم چې دې لور ته ښه پاملرنه وکړي...

«بله او روښانه دي وي د علم ډېوه»

په ډېر درنښت
علي محمد منګل
کابل – انصاري واټ ۱۳٦۷/۴/۱٦

د ژباړن سریزه

سوات یوه سمسوره او حاصل‌خیزه سیمه ده چې مساحت یې څلور زره مربع میله اټکل کیږي. د سوات غرنۍ سیمه د بڼکلیو درو او لوړو غرو لرونکې ده چې ځینې غرونه یې د سمندر له مخ څخه لس زره فوټه هسکوالی لري. د سوات شمال ته دیر او چترال، ختیځ ته د اباسین غرونه، سویل ته یې د نونیر علاقه او لویدیځ ته یې ارهنګ برنګ، اتمانخیل او باجوړ پراته دي. سوات د یوې تنګۍ ناوې په څېر د غرونو ترمنځ موقعیت لري او په دوو برخو جلا کیږي: یوې خواته یې بر سوات او بلې ته یې کوز سوات ویل کیږي. د دواړو برخو ترمنځ د سوات سیند بهیږي[۳].

د یوناني مورخینو په حواله هغه وخت چې په ۳۲۷ق.م کال کې لوی سکندر په هند برید وکړ، نو دا وخت په سوات کې د (اساکینې) په نامه خلک اوسیدل چې له سکندر سره یې سخت جنګونه وکړل.

د اشوکا په زمانه کې بودایي دین سوات ته ورسید او دلته یې دومره ترقي موندلې وه چې د بودایي دین یو مرکز شو. په دې ځای کې بودایي اثار زیات لیدل شوي دي، چینې زیارت کوونکي هم د دغه مذهبي شهرت په اساس سوات ته راغلل. په دوی کې لومړی فاهیان و چې په (۴۰۵م) کې د هندوکش له لارې سوات ته راغی. د ده د وینا سره سم دا وخت په سوات کې د بودایي دین پنځه سوه خانقا موجودې وې. په (۵۱۹م) کې سنګ یون د کافرستان (نورستان) له لارې سوات ته راغی. دی هم وایي چې په سوات کې بودایي دین ډېره ترقي کړې وه. د (۶۳۰م) او (۶۴۲م) کلونو په منځ کې مشهور چینایي زیارت کوونکی هیون تسنګ چې په کاپیسا، کندهارا او هند کې وګرځید سوات ته هم ولاړ. ولې په دې وخت د سپینو هونانو د برید له امله په ټوله سیمه کې بودایي دین کمزوری شوی و.. وروستی سیلانی چې سوات ته راغی (ووکنګ) و چې په ۷۵۲م کې یې دا ځای ولید.

۳. کاکاخیل، ظفر (پښتانه د تاریخ په رڼا کې)، پیښور، ۱۳۱۴.

د یوولسمې میلادي پیړۍ په پیل کې کله چې محمود غزنوي د غلجیو، لودیانو او کرلانیو د لښکرو په مرسته په هند برید وکړ، نو دا وخت د پښتنو یوه پوځ چې مشر یې پیر خوشحال نومېده، په سوات حمله وکړه او د سوات غیر مسلمان «راجاګرا» ته یې چې په زیات احتمال د هند د شاهي کورنۍ د راجاجیپال له لوري د سوات والي و، ماتې ورکړه.

د روایاتو مطابق د (۱۵) میلادي پیړۍ په پای او د شپاړسمې په پیل کې یوسفزیو په دغه سیمه برید وکړ او دا سیمه یې ونیوله[۴] په دې ځای کې به دا بده نه وي چې د یوسفزیو تاریخ ته لږ څه کتنه وکړو:

د یوسفزیو اصلي ټاټوبي د ګارا او نوشکی په شاوخوا کې و او دغه وروستی ځای لږ تر لږه د لوت یا سترې مالګینې دښتې په څنډو کې پروت دی. دوی د دیارلسمې میلادي پیړۍ په پای او څوارلسمې په پیل کې له دغه ځای څخه وشړل شول او د کابل په شاوخوا کې میشته شول. دوی له الوغ بیګ سره د تخت په نیولو کې مرسته وکړه. څرنګه چې یوسفزي د نورو پښتنو په څېر د ازادۍ قوي روحیه لري، نو د الوغ بیګ قدرت ته یې بیخي غاړه ایښودلې نه شوه او د هغه په مقابل کې ودریدل. په لومړي سر کې د الوغ بیګ ماتې او د الوغ بیګ لخوا د سولې لپاره د یوې غولوونکې میلمستیا او جرګې په پلمه د یوسفزیو د څو سوو مشرانو د وژل کېدلو بیان د «پښتانه د تاریخ په رڼا کې» په نامه اثر په ۱۲۹۵-۹۷ مخونو کې راغلی دی. ورپسې بدمرغه یوسفزي له کابل څخه د پیښور لور ته روان شول.

دلته یوسفزیو په لومړي پړاو کې د دلازاکو په سخاوت ځانونه میشته کړل. کله چې د دوی وګړي زیات شول او ځای تنګ شو، نو دوی له دلازاکو څخه باجوړ ونیو او بالاخره د کابل سین ټوله پاسنی برخه یې له دلازاکو څخه ترلاسه کړه[۵].

د یوسفزیو د تاریخ په برخه کې بارت او الفنستن مخصوصاً د دلازاکو د ماتې په باب یو شان نظر لري. خو وروستی مؤلف د سواتیانو په باب څه تفصیلات ورکړي نه دي. دا باید ووایو چې سوات د یوسفزیو د راتګ په وخت کې د سواتیانو په نامه خلک په دې ناوه کې میشته و چې واکمن یې «سلطان اویس» نومېده او دا وخت یوسفزیو دغې سیمې نیولو ته نیت وکړ. په دې ځای کې به دا غوره وي چې په دې باب دا خوند درویزه بیان دلته راوړو: اخوند درویزه په خپل اثر (تذکرة الابرار والاشرار) کې وایي: «یوه ورځ یوه سواتي راته پیغور راکړ چې سوات مې له تا څخه ونیو، ما په خواب کې ورته وویل چې له ما څخه نه بلکې له یوسفزیو څخه مو ونیو. کله چې دا خلک (مراد یوسفزي) د بابر باچا په څېر د علماوو تابع و، له هغوی څخه یې یوازې یوه انجلۍ د شاه منصور د وینځې توب لپاره وغوښتله او دا وخت چې هغوی ستاسو تابع شول، تباهي ته ورسیدل، خو ان‌شاءالله تاسو به ډېر ژر برباد شئ. ډېر لږ وخت وروسته یوسفزیو د لازاکو ته ماتې ورکړه او هغوی یې ورک کړل... ورپسې په سوات کې د سواتیانو او لغمانیانو ترمنځ جګړه وشوه او یوسفزیو له دغه موقع څخه استفاده وکړه او د لغمانیو په خوا ودریدل، سواتیان یې تباه کړل او ښځې او ماشومان یې د مریانو په څېر ونیول»[۶].
اوس په سوات کې د پنجکوړې او بونیر په ګډون د یوسفزیو د قوم ټبل ټبل خیلو نه اباد دي. الفنستن وایي چې یوسفزي اصلاً په دوو لویو څانګو ویشل کیږي: یوسفزي او مندړیو یوسفزي په سوات پنجکوړه او بونیر کې میشته دي، په داسې حال کې چې مندړد کابل سین په شمالي میدان او همدارنګه د چملي (Chamls) په دره کې ژوند کوي. یوسفزي په خپل وار بیا په دریو ټبلو ټبلو څانګو لکه اکوزي، مولی زي او لاني زي جلا

۴. کاکاخیل، ظفر (پښتانه تاریخ په رڼا کې)، پیښور، مخ۱۳۱۵.
۵. م. الفنستن (د کابل سلطنت بیان)، دویم ټوک، ۹ مخ.
۶. درویزه، اخوند (تذکرة الابرار والاشرار)، پیښور، ۱۰۴مخ.

کیږي. د هغو له لږ څخه اکوزي په سوات او پنجکوړه کې او مولازي او لاني زي په بونیر کې میشته دي[۷] دلته وینو چې د الفنستن دغه ویش نیمګړی دی او بارت په همدغه اثر کې د یوسفزیو د څانګو او ویش په برخه کې یوه جلا تشریحي شجره ورکړې ده. په دغه شجره کې یوسفزي په پنځو څانګو یعنې اکوزي، ملیزي، موسی‌زي، عیسی‌زي او اوریازیو باندې ویشل شوي دي[۸]. د ظفر کاکاخیل «د پښتانه د تاریخ په رڼا کې» اثر هم د یوسفزیو دا شان څانګې ښودلې دي[۹].

بارت وایي چې په سوات کې د یوسفزیو له ځای په ځای کېدو وروسته د ځمکې د ویش د لانجې حل یوه روحاني شخصیت شیخ ملي ته محول شول. په دې ځای کې بارت دا اشاره نه کوي چې ایا شیخ ملي دا ویش څه ډول ویش و، خو د ځمکې د ویش په برخه کې یوازې د نسبي ویش څخه غږیدلی دی. په داسې حال کې چې د «پښتو ټولنیز اقتصادي جوړښت» په نامه اثر کې چې د پښتنو څېړنو د بین المللي مرکز لخوا خپور شوی دی، راغلي دي چې «د شیخ ملي ویش ځکه عادلانه و چې ده د یوسفزیو او مندړو ترمنځ په خوله ویش وکړ او ده د نارینه‌و څخه غیر ښځې او ماشومان هم په کې شامل کړل. (۲۱-۲۲)مخونه».

ویش، نسبي ویش، د ملاتړ ویش کې ویش ډولونه لري لکه د خولې په دې ډول وینو چې په پښتنو دلوګی ویش او نور. په یوسفزیو کې په تېره بیا د سوات په یوسفزیو کې د شیخ ملي لومړنی ویش چې په هر ډول و، خو ورپسې نسبي ویش رواج درلود.

الفنستن په خپل اثر (د کابل سلطنت بیان،۱۳مخ) کې وایي چې د یوسفزیو یوه غوره ځانګې خپله ځمکه په دایمي ډول ترلاسه کړه، خو د هغې د خیلونو په منځ کې ځمکه په تباد لوی توګه ویشل کیدله، په دې معنی چې هر یوه خیل به یوه ځمکه د یوې ټاکلې نیټې لپاره کرله او بیا به یوې بلې سیمې ته لیږدیده. دا ځکه چې د سیمو د ځمکو حاصل خیزې یو شان نه وه. دی وړاندې وایي چې زه به د ځمکو د بدلیدو لپاره د نیکبي خیلو مثال وښیم. د نیکبي خیلو ځمکې په دوو برخو ویشل شوي دي. دا دواړه برخې د پراخوالي له پلوه سره برابرې دي، خو د حاصل خیزی له پلوه سره توپیر لري. دغه اولس هم په دوو برخو ویشل شوی دی چې د ځمکې د انتخاب لپاره په هرو لسو کلو کې پچه اچوي. . . په وروستیو وختو کې په سوات کې د ځمکې تبادله د سوات د پخواني واکمن لخوا منسوخ شوې ده. نو په دې توګه د بیا ویش سیستم اوس په سوات کې نشته او هره څانګه په یوه سیمه کې په دایمي توګه میشته ده. د تبادلې او بیا ویش د سیستم د له منځه تلو دلایل دا دي[۱۰]:

۱. د پښتنو سیمو ته د مرکزي حکومتونو د اداري سیستم راتګ او په ځمکه باندې مالیه ټرل.
۲. د کورونو او کلیو بدلیدل.
۳. د ځمکې نه خرڅلاو او یا ګرو کول.
۴. په ځمکه جدي کار نه کول.
۵. په نیول شویو ځمکو کې د ګډ قبیلوي ملکیت تثبیتیدل.
٦. د ویش په دوران کې په ځمکه شخړې او لانجې.
۷. د خپلوانو هدیره پرېښودل.

۷. م. الفنستن، م(د کابل سلطنت بیان)، کابل، دویم ټوک۱۲-۱۳مخ.
۸. بارت، فریدریک (د سوات په پښتنو سیاسي مشرتوب) لنډیز ۱۹٦۵.
۹. کاکاخیل، ظفر(پښتانه د تاریخ په رڼا کې) پیښور، ۱۲-۱۳مخ.
۱۰. د پښتنو ټولنیز او اقتصادي جوړښت، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، کابل۵۳مخ.

بارت د ويش سيستم د سوات په ناوه کې ښودلی دی، خو د ويش بېل بېل ډولونه د پښتنو په جلا جلا قبيلو کې شته، د مثال په ډول د خولې ويش د شيکل په شينوارو کې يادولی شو، يا دا چې په ښوراوک کې د ملاتړ ويش رواج لري[11].

بارت په سوات کې د دوو ګوندونو يادونه کړې ده. دغسې ګوندې ګانې د پښتنو په نورو سيمو کې هم شته لکه چې په پکتيا کې د تور او سپين ګوند په نامه د ګوندونو خاطره تراوسه د دغه ولايت په خلکو کې ژوندۍ ده.

د روحانيو د نفوذ په باب هم بارت په سوات کې ډېر تفصيلات ورکړي دي. د روحانيو نفوذ نه يوازې په سوات کې، بلکې د پښتنو په ټولو سيمو کې ليدل کيږي او د سوله راوستونکو افرادو په حيث د خلکو لانجې او کشالې حل کوي. په خوست کې يو روحاني د «مقتدا صاحب» په نامه شته چې د سيمو په خلکو کې ډېر زيات نفوذ لري. دغه راز په پکتيا کې د شيخانو په نامه افراد شته چې خلک يې ستانه بولي او احترام يې کوي. د بارت له ليکنې څخه څرګنديږي چې په سوات کې د ستانه و او روحانيو نفوذ تر خانانو يا ځمکه والو زيات دی. دا خبره سمه ده ځکه چې د سوات ټول وروستي واکمنان د روحانيونو له لړ څخه وو. د پښتنو په نورو سيمو کې هم روحانيون د دغسې نفوذ خاوند دي او د هرې طبقې خلک د دوی د پيروۍ ليوالتيا لري. د کونړ سيدان او پاچايان دومره نفوذ لري چې حتی له سيمې څخه بهر د ډېرو لېرو ځايو څخه خلک ورته راځي. په دغه سيمه کې سيدانو ته پاچايان ويل کيږي. په ټولو پاچايانو کې د ګوريکا د درې د ټانګې سيد احمد نور پاچا او د ده اولاده په خلکو کې زيات نفوذ او شهرت لري. د شجرې له مخې سيد احمد نور پاچا د سيد علي ترميزي (پير بابا) د اولادې څخه دی او ويل کيږي چې د ترمزي شجره د اسلام پيغمبر ته رسيږي. سيد احمد نور پاچا د ماموندو په سيمه کې اوسيده او له دغه ځای څخه يوسلوديرش کاله وړاندې د کامران خان د خانې په دوره کې اسمار ته راغی، خان يې مريد شو او د ټانګې کلي او ځمکه يې د سيرې په توګه ورکړه[12]...

زه د دغه اثر د ژباړې په وخت کې له زيات شمېر اتنوګرافيکو اصطلاحاتو سره مخامخ شوم چې د هغو له لړ څخه هغه اصطلاحات چې زيات غوره ګڼل شوي، دلته د يوه لست په توګه د هغو له تقريبي پښتو معنی سره راوړم:

۱) System (نظام).
۲) Patrlineal (پلرنی نسب).
۳) Matrilineal (مورنی نسب).
۴) Hypergamy (له خپلې فرقې څخه پورته ودرول).
۵) Hypogramy (له خپلې فرقې څخه ښکته ودرول).
٦) Patriarchy (پلار واکي).
۷) Matriarchy (مور واکي).
۸) Recruitment (غړيتوب).
۹) Informant (معلومات ورکوونکی).
۱۰) Commensatity (په شريکه ډوډۍ خوړل).
۱۱) Sibling (وروڼه او خويندې).
۱۲) Subsistance (وخوره مه مره).
۱۳) Polygamy (ودميرمنو تعدد).

۱۱. د پښتنو ټولنيز او اقتصادي جوړښت، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، کابل ۲۸-۳۲مخ.
۱۲. د پښتنو ټولنيز او اقتصادي جوړښت، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، کابل ۱۳٦۲، ۲۳۱مخ.

۱۴) Ward (محله).
۱۵) Hierachy (د مراتبو سلسله).
۱۶) Association (انجمن).
۱۷) Role (نقش).
۱۸) Status (دریځ).
۱۹) Structure (جوړښت، ساختمان).
۲۰) Comprsition (ترکیب).
۲۱) Caste (فرقه).
۲۲) Fission (انشعاب).
۲۳) Fusion (اتحاد).
۲۴) Segmentary opposition (ځانګه‌ییز تضاد).
۲۵) Authority (صلاحیت).
۲۶) Acephalous (بې‌مشره).

د دغو اصطلاحاتو په پام کې نیول د کتاب په نهم څپرکي کې اسانتیا راولي او د کتاب له لوستلو دمخه د قبلې انتباه وړ ګرځي. دا ځکه د پښتو په خوږه ژبه کې د انسان‌پوهنې او ټولنپوهنې اصطلاحات نوي شامل شوي.

بارت د ټولنپوهنې او انسان‌پوهنې په ژور درک او پوره علمي صلاحیت د سوات د پښتنو د سیاسي مشرتوب، سیاسي او ټولنیز جوړښت او اقتصادي حالت یو ښکلی انځور کښلی چې د میتود په لحاظ د ځوانو محققینو لپاره د پښتنو د نورو سیمو د ځېړنې په برخه کې د لارښود په توګه تر ټولو ګټه اخیستل کیدای شي. د بارت د لیکنې ژبه ډېره دقیقه، پیچلې او تر زیاتې اندازې ادبي او پخه ده. ژباړن په زښت زیار سره د کتاب متن، ډېرې ساده او عام فهمه پښتو ته اړولي او په دې باب نهایي هدف ترلاسه شوی دی، یعنې کتاب تر ترجمې وروسته د هېواد د ستر ټولنپوه او په انګریزي ژبه کې د پوره تسلط خاوند استاد او قدرمن پوه، پوهاند دوکتور الف شاه ځدران ته د ایډیټ لپاره واستول شو. پیاوړي پوهاند په ژوره مینه او د دغه فوق العاده ارزښتمن اثر د کره کولو او ایډیټ په برخه کې د ژباړن په شان زحمت ایستلی او د کتاب ژباړه یې سر تر پایه په دقیق ډول له اصل سره پرتله کړې او لازم اصطلاحات یې په کې کړي دي. زه د تل لپاره د قدرمن استاد پوهاند ځدران د دغې مرستې مدیون یم.

د کتاب د پښتو جملو او عباراتو د لا سمون او د کلمو د سوچه او نګه کولو په برخه کې د هېواد پیاوړي لیکوال، شاعر، محقق او پوه، سرمحقق دوست شینواري نه ستړې کیدونکی هاند کړی او کتاب یې په دقیقه توګه لوستلی دی. له لوستلو سره سم ځای په ځای یې د ژباړن په نوم د لیکوال تیروتنې اصلاح کړې دي. پردې سربېره یې په کتاب باندې یو ښکلی تقریظ لیکلی دی. د محترم سرمحقق دوست صاحب د مرستې زیات ممنون یم.

په پای کې د دولتي مطبعې د لینوټایپ، صفحه بست، ماشینونو د چاپ او د صحافي د ځانګې د ټولو کارګرانو څخه چې د دغه کتاب په چاپولو کې یې وطن‌پاله ونډه اخیستې، د زړه له کومې منه کوم.

د سرمحقق مرستیال نصرالله سوبمن منګل
۱۳۶۷/۴/۱۵

د لیکوال مقدمه

په دغه څېړنه کې د پښتونستان د شمال لویدیځ ایالت د سوات په نامه ناوې د ټولنې یو لړ بڼې تر بیان لاندې نیول شوي دي. له ماخذونو څخه پرته چې ښودل شوي دي، د دغې څېړنې مواد چې په هغو بنا دي، لیکوال لخوا د ۱۹۵۴ میلادي کال له فبروري څخه تر نومبر پورې ټول شوي دي او د ساحوي څېړنې د تمویل په برخه کې د ناروې د شاهي تحقیقاتو مرکز مرسته کړې ده. د راټولو شویو موادو د تحلیل لپاره مې دونرګرین تر دکتورا نه دمخه فیلوشپ څخه استفاده وکړه. د اسلو د پوهنتون استاد پروفیسور مارګن سترن د زغم څخه ډکو زیارونو له مخې چې زما سره یې د څېړنې د پیل څخه مخکې کلو کې وکړه، ماته دا توان پیدا شو چې نوموړې سیمې ته له تللو وروسته په لږه موده کې په پښتو خبرې وکړم. د تاپې اوسیدونکي ایوب خان د ژباړې د ستونزې په لیرې کولو کې خپله مرسته ونه سپموله او نوموړي په دغه برخه کې دوه میاشتې راسره ملګرتیا وکړه.

دا چې د سوات ښاغلي والي له دغې څېړنې سره مینه وښودله، ډېر زیات یې مدیون یم. دغه راز د ده له مامورینو او لوي منشي څخه چې په هر ډول ممکنه وسیله یې له ماسره مرسته کړې، تشکر کوم. خو که زه د پښتنو له برمه ډکې میلمه‌پالنې سره چې زما د ژوندانه د ښې ښکلو اړخونو سره تړلې وه، مخامخ شوی نه وای، د پورتنیو کسانو مرستې به لږ ځای نیولی وای. ځکه هغوی له ماسره ملګري شول او د هغوی د مثالونو په څرګندولو او د توضیحاتو په ورکولو سره د هغوی د ټولنې په باب زما د پوهنې د زیاتیدو زمینه برابره شوه. په خاصه توګه زه باید د خپل خدمتګار کشمالي نوم یاد کړم. هغه د خپل ځان او د خپل بادار د حیثیت او اعتبار د دفاع لپاره ماته په ډېره ژوره توګه د دودونو په اشنایۍ کې لارښوونه وکړه او د هغو کسانو ترمنځ چې ما ورسره خبرې کولې د دښمنۍ او دوستۍ لارې یې راته وښودلې او په دې ډول یې له نورو سره د پیژندګلوۍ او له سیمې سره اشنایي په برخو کې زما زیاته مرسته وکړه.

د دغو موادو په تحلیل کې مې په اسلو، لندن او مانچسترګي د خپلو ملګرو او همکارانو د بحثونو څخه زیاته ګټه واخیسته. خو تر ټولو غوره دا چې خپل ممنونیت باید د کمبرج د انسان‌پوهنې د پوهنځي د استادانو او محصلینو حضور ته وړاندې کړم، ځکه دوی د تدریس په وروستیو دوو کلو کې په خپلو رسمي او غیر رسمي بحثونو او الهام بخښونکو ملګرتیاو کې د ځان ممنون ګرځولی یم. دغه څېړنه په بشپړه توګه د دکتورا د تزس «د سوات د پښتنو سیاسي سازمانونه» سره چې هلته مې وړاندې کړې و، سمون خوري.

فریدریک بارت
کمبرج، ۱۹۵۷

لړ لیک

لومړی څپرکی
مقدمه

دویم څپرکی
د سوات عمومي ایکولوجي او اتنولوجي
ایکولوجي ۰۵
تاریخ ۰۷
اوسنی حالت ۰۸
کلیوالي سازمان ۰۹

دریم څپرکی
د سازمان اساسي چوکاټونه
ساحوي چوکاټ ۱۳
فرقې (کاستونه) ۱۶
پلرنۍ نسبي ډلې ۲۱
نوټ ۲۴

څلورم څپرکی
همسایه‌توب، واده او خپلوي
د تالتول انجمن یا مجمع (محلي ټولنه) ۳۰
واده او د سببي خپلوۍ اړیکې ټینګول ۳۳

پنځم څپرکی
د نابرابرۍ اړیکې او صلاحیت
اقتصادي قراردادونه ۴۱
د کور د کرایه نیولو قراردادونه ۴۸
د نارینه‌و حجره ۵۰
ستانه او د دوی پیروان ۵۴

شپږم څپرکی
د ځمکې مالکیت او په سیمه‌ییزو ټولنو کې سیاسي اړیکې

اووم څپرکی
د مشرانو ملاتړ کوونکی او صلاحیت
د مشرتابه عمومي بیان ۶۷
د مشرانو د صلاحیت منابع ۷۰

پت او له پت څخه د دفاع په سبب تضادونه ۷۷
د اجباري حمایت اصل ۸۱
د یوه مشر د ملاتړو عامه بڼه ۸۴

اتم څپرکی
د ستانهؤ قدرت او پیروان

د ځمکې کنترول ۸۷
منځګړي (منصفان) ۹۱
د پرهېزکارۍ او سپېڅلتیا په سبب اعتبار درلودل ۹۴
د ستانه د ملاتړو عامه بڼه ۹۶

نهم څپرکی
تړونونه او سیاسي اتحادیې

په بلاکونو (اتحادیو) کې د مشرانو صف‌بندي او تنظیم ۱۰۴
اتحاد او سازماني اهمیت ۱۰۷
د بلاکونو ترمنځ مخالفت ۱۱۱
د قوې ښودل ۱۱۲
د قوې استعمال (جګړه) ۱۱۴
د سازمان وروستنۍ بڼه ۱۱۵
په بلاکونو کې د مشرانو دریځ ۱۱۶

لسم څپرکی
د سوات د دولت تاریخ او سازمان

د سوات د دولت سازمان ۱۲۱

پایله

ضمیمه
د وینې په بدل پورې مربوطې قضیې

لومړی قضیه ۱۲۸
دویمه قضیه ۱۲۹
دریمه قضیه ۱۲۹
څلورمه قضیه ۱۳۰
پنځمه قضیه ۱۳۰
BIBLIOGRAPHY ۱۳۲

لومړی څپرکی

مقدمه

د دغې څېړنې غوره هدف دا دی چې د سوات سیاسي سیستم په تشریحي ډول تحلیل شي او ورسره په خاصه توګه د سیاسي قدرت په منابعو او په هغه سازمان باندې نظر واچول شي، چې دغه سیاسي صلاحیت په کې عملي کیږي. سیاسي سیستمونه داسې بیان شوي چې په یوه سیمه‌ییز او حوزوي چوکاټ کې داسې سیستمونه دي چې د ټولنیز نظم د ساتلو لپاره د مټو د زور د پکار اچولو او یا د هغې له امکان څخه ګټې اخیستلو په واسطه جبري صلاحیت او واکمني تنظیموي (رادکلف براون په فورتیس او ایوان پریچارد کې،۱۹۴۰، ۱۴مخ[۱۳].

خو په سوات کې د مټو زور یا په دغې قوې سره ګواښ کول په ډېرو مناسباتو کې یوه منل شوې مویده ده او د صلاحیت موقفونه د دغې قوې په ګډون د نورو مویدو په واسطه ملاتړ کیږي. د رادکلف براون په تعریف باندې شپیرا (Schapera) د یوې تبصرې په ترڅ کې وایي: «د سیاسي سازمان په مطالعه کې موږ باید په سمه توګه د ولسي لارښوونې او د مشرانو ټولې دندې (د هغو د قدرت په ګډون) وڅېړو. په دغه برخه کې داسې فعالیتونه څېړل لکه د مذهبي سازمان مراسم یا ډله‌ییز ښکار او یا د شتمنۍ تمرکز او بیا ویش د عدلي اداري په شان وړ بریښي او په همدې شان د پرتله‌ییزو هدفونو لپاره ارزښت لري. (شپیرا،۱۹۵۶، ۲۰۹-۲۱۸مخونه).

له دې څخه علاوه د رادکلف براون تعریف د سوات د پښتنو د سازمان په ښکلا ښکلو سطحو کې په یوه شان نه تطبیقیږي. په سوات کې داسې سیمه‌ییزې وړې ډلې شته چې داخلي نظم د جبري صلاحیت له لارې چې د مټو په زور سره یې ملاتړ کیږي، خوندي ساتي، خو تر هغو لویې پرګنې او نفوس هم شته چې اجتماعي نظم په کې وي، بې له دې چې سیمه‌ییز واحدونه یې ټاکلي سرحدونه ولري؛ او د دغه نظم د خوندي ساتلو په مقصد د مټو زور یا فزیکي مؤیدې د اشخاصو د منظمو ډلو لخوا نه استعمالیږي، دا د هغې طریقې ذاتي محصول دی چې په هغې کې وړې ډلې په متقابل عمل او مخالف کې سره مخامخ کیږي.

کوم سیستمونه چې په دغه وروستۍ طرحه بناء شوي دي، په وروستیو وختو کې د زیاتې پاملرنې وړ ګرځیدلي دي، ځکه دا ډول سازمانونه په ډېرو ځایو کې د بې‌مشره خیلونو (Lineage) خصوصیت ګڼل کیږي (فورتیس، ۱۹۵۳وګورئ).

۱۳. په ټول کتاب کې به ماخذونه په همدغه ډول ولیکل شي. ټول یاد شوي آثار او ماخذونه د یوه لست په توګه په پای کې ښودل شوي دي.

که څه هم د سوات نظام له دغو سیستمونو څخه توپیر لري، سره د دغې هم هغه مفاهیم چې د دغو سیستمونو د تحلیل لپاره رامنځ ته شوي، د دغې څېړنې په باب ګټور ثابتیدلی شي.
د دغه پراخ سیستم د تحلیل لپاره د وړو ډلو او د هغو د داخلي صلاحیت د سیستم پوهیدلو ته اړتیا ده. دغه ډلې ډیرې زیاتې ساختماني پیچلتیاوې لري. په دغه برخه کې غوره ستونزه دا ده چې د شکل له مخې په داسې ډلو کې شاملیدل په ازاد انتخاب سره کیږي. د قبیلوي وګړو په باب په زیاتو انتروپولوجیکي بیانونو کې سړی دا فکر کوي چې سیاسي وفاداري د فردي انتخاب په اساس صورت نه مومي. هر یو وګړی په یو خاص او ټاکلي ساختمان موقف کې زیږیږي، نو له دې امله یوې خاصې ډلې او یا یوه خاص موقف لرونکي شخص ته خپله وفاداري څرګندوي. په سوات کې اشخاص خپل سیاسي موقف د یو لړ انتخابونو (خوښونو) له مخې ترلاسه کوي چې هغه په زیاترو وختو کې تېریدونکي (موقتي) یا د فسخه کېدو وړ وي.

د انتخاب دغه ازادي د سیاسي مؤسیسو کړنلاره او دنده په عمده او اساسي توګه اړوي. په هغو سیستمونو کې چې انتخاب موجود نه وي، ځانګړې ګټه او د ډلې امتیازیو له بله سره مطابقت کوي، ځکه چې فرد یوازې د خپلې ډلې له لارې د خپل موقف د ساتنې او بهبود لپاره هڅه کولی شي. له بلې خوا په داسې حالاتو کې ډلهییز تعهدات په خپله خوښه منل کیدای او پرېښودل کیدای شي، ځانګړې او فردي ګټې ښایي د داسې کړو وړو سبب وګرځي چې د ډلې لپاره کومه ګټه ونه لري او افراد کولی شي د شخصي ګټو او سیاسي تجربو په رڼا کې خپل انتخابات (خوښونې) طرحه او عملي کړي. په دې برخه کې د سوات سیاسي ژوند له لویدیځو ټولنو سره ورته دی. په سوات کې زیات شمېر په سیاسي لحاظ فعال افراد د شخصي او ډلهییزو ګټو ترمنځ توپیر په څرګنده توګه کولی شي او کله چې دوی په دغو دوو کې د یوه انتخاب ته اړ شي، نو هرو مرو تر ډلهییزو ګټو څخه شخصي ګټو ته ترجیح ورکوي. دغه حقیقت هغه وخت ښه څرګندیږي چې د یوې ډلې افراد د خپلو ګټو په اساس له یوې خوا څخه لیري کوي او له بلې خوا سره یې نږدې کوي. نو په دې ډول د صلاحیت سیستم هم د غلبې او تسلیمې د اړیکو له نظره او هم په یوه ډله کې د افرادو د یوځای کېدو له پلوه د فردي پرله پسې خوښونو (انتخاباتو) د تطبیق په واسطه منځ ته راځي او خوندي ساتل کیږي.

دغه موضوع د تحلیل په وخت کې پیچلې ستونزې منځ ته راوړي. ښایي په سوات کې به سیاسي سیستم د افرادو د خوښونو یوه مجموعه وګڼو چې د هغې په اساس دوی خپله وفاداري د بېلا بېلو امکاناتو او لارو چارو له مخې چې هغوی ته برابریږي، نورو ته څرګنده کړي. دغه امکانات د خوښونو بنسټ جوړوي، خو د خوښونو د دغو بنسټونو د لیدلو امکان لږ دی. یوه بله اصلاً ورته او اسانه لاره دا ده چې د پورتنۍ څرګندونې په خلاف یو سیستم د سیاسي مشرانو د مشاهدې وړ کړو وړو له نظره تحلیل شي. په دغه لار کې د داسې پوهانو رهنمود لکه ویبر (۱۹۴۷) (چې د قانونیت اساسات یې تحلیل کړي) او ده جوفینل (۱۹۴۵) په نظر کې نیول کیږي. دی چوفینل سیاسي اعمال د وسیلې او هدف په چوکاټ کې مطالعه کوي چې دغه اعمال د مطلوبو اهدافو د ترسره کولو لپاره د ملاتړ د پکار اچولو له لارې رامنځ ته شوي وي. په دغسې چوکاټ کې به وفاداري کوم داسې څه نه وي چې هغو ډلو ته ښودلې شوې، بلکې داسې شی دی چې افراد یې یو بل ته د ګټو رسولو په بدل کې ښکاره کوي، نو له دې امله د صلاحیت دا ډول سیستم او په هغه کې د مشرانو لخوا د افرادو تنظیم په اصطلاح د یو لړ تبادلاتو په نتیجه کې منځ ته راځي. دغه نظر د پښتنو له دې مفکورې سره چې د ما فوق او ما دون مناسبات د دوو اړخیزو او له یو بل څخه بېلو قراردادو په څېر ګڼي، سمون خوري. په دې ډول زمور اصلي موضوع په سوات کې د افرادو ترمنځ د اړیکو څېړل او د هغو لارو موندل دي چې په هغو کې دغه اړیکې په پرله پسې توګه د صلاحیت موقفونه (دریځونه) برابر وي او په نتیجه کې یې مختلفې سیاسي متحدې ډلې منځ ته راځي. د دغه شان تحلیل ښه والی په دې کې دی چې لومړني مواد یې له هغو اعمالو څخه لاس ته راځي چې د مشاهدې وړ دي.

هغه توپیر چې فرت (Firth) یې د ټولنیز جوړښت او ټولنیز سازمان ترمنځ کارې، ښایي د دې څېړنې په تحلیل کې ګټه ترې واخیستله شي. په داسې حال کې چې د اوسني سازمان ماهیت د زیاتو انتخابونو او تصمیمونو او د ټولنې د ځینو ساختماني بڼو په نتیجه کې منځ ته راغلي وي چې زه به یې دلته د «چوکاټونو» په نامه یاد کړم او د هر یوه سیاست کوونکي (لوبغاړي) د خوښونو د ټاکلو او محدودولو سبب ګرځي.

د سیمې د اتنولوجیکي او ایکولوجیکي لنډې څېړنې څخه وروسته به زه په پرله پسې توګه د ټولنې د شکلي (جوله) ییزو چوکاټونو، د ګاونډیتوب او خپلوي مناسباتو او د دوو ګونو اړیکو په برخه کې چې د تسلط او تسلیمۍ ځینې بڼې هم په کې راځي، شرحه وړاندې کړم. د دغه پس منظر په نظر کې نیولو سره به د یوه مشر تر شاوخوا جوړې شوې لومړنۍ سیاسي ډلې او بالاخره د دغو مشرانو او ډلو پییلتوب او ائتلاف د سوات له ستر سیاسي نظام سره څرګند کړم.

په دې ډول وینو چې پورتنی بیان د یوه زیاتیدونکي ترکیب شکل غوره کوي. هغه مباحثې او مواد چې دغه څېړنه وربانديې ولاړه ده، په لنډه توګه په لاندې ډول دي:

که څه هم د هر فرد د قدرت اړیکې د یو لړ خوښونو (انتخاباتو) په نتیجه کې رامنځ ته کیږي، د هر فرد د موقف خاصې بڼې هغه ته د زیږیدنې او استوګنې له مخې ورکول کیږي. له دې امله هر فرد په شکلي توګه په څو ټاکلیو ټولنیزو چوکاټو کې موقف غوره کوي لکه د سیمو منطقوي سیستم (کلي، محلي او کوڅه‌یي) او د میراثي لس ګونو فرقو (Casts) مرتبه دار سیستم چې د افرادو موقف ټاکي. برسېره پردې په پښتنو کې یوازې د مخکې لرونکي فرقې غړي د تابعیت د بشپړو حقوقو څخه برخه‌من دي او د نورو ټیټو فرقو د غړو لپاره یې د مشرانو حیثیت غوره کړی دی. په دغو پښتنو کې پلرنی نسبي ډلې دریم ټولنیز چوکاټ جوړ وي. د دغې ډلې سیاسي پیروان یا غیر پښتانه غړي د یو بل په ارتباط موقفونه لاس ته راوړي.

د خپلوي او د ګاونډیتوب د اړیکو شبکه چې په عمومي توګه د ټولنې جوړونکې ده، له یو بل سره د ارتباط لرلو له مخې د دې سبب کیږي چې هر یو فرد په کلي کې ځانګړی موقف ولري. دغه حالت په سیمه‌ییزو انجمنونو (مؤسیسو) کې د فرد له غړیتوب او د هغې اړیکې له مخې چې د واده محصول دی، راوتلې دي.

خو پورتنی ظاهري چوکاټ او یا د سیمه‌ییزو اړیکو په لړ کې هیڅ مقام لزوماً د یوه خاص سیاسي عهدې لرونکي ته د تابعیت یا په کوم بل خاص شخص باندې د تفوق معنی نه ورکوي[۱۴]. هغه ټول مناسبات چې په هغو کې تسلط نغښتی دی، دوه ګونې مناسبات دي چې د یوه ټرون له مخې او یا په اختیاري توګه منځ ته راغلي دي. هغه لومړي عناصر چې د صلاحیت پورتنی نظام په هغو باندې ودانیږي، همدغه متقابل او دوه ګونې مناسبات دي. د صلاحیت دغه عناصر په ډاګه سره د پښتنو په ورځني ژوند کې څرګندیږي او د عمل کوونکو لخوا درک کیږي. نو له دې امله هر فرد کولی شي هغه مناسبات توضیح کړي چې دی په نورو باندې متکي کوي او دا د ده لپاره هغه دلایل دي چې د هغو له مخې دی د نورو کسانو قدرت ته غاړه ږدي، یا دا چې برعکس د ده د تسلط منابع په نورو باندې شمېرل کیږي. د یوه غړي مقام او قدرت د کورونو د اجازه کولو په ټرونونو، د کار او کسب په قراردادونو، په حجره کې د غړیتوب او دیني تقوا او د دین پالنې په اړیکو کې نغښتي دي.

۱۴. د دغې جملې په برخه کې یوه استثنی شته: د هغو دیارلس ګونو غوره سیمو له لړ څخه چې په دغه څېړنه کې شاملې دي، په یوه کې یې داسې قانون دی چې د خپل منځني فردي قوانینو د خوندي ساتلو سره سره په یوه ټاکلي موده کې د محلي او یا کوڅې هغه مشر ته خپله وفاداري نه هیروي چې دلته صلاحیت لري (اووم څېرکی وګورئ).

په دغه برخه کې سیاسي عمل د دغو متقابلو او دوه ګونو اړیکو او مناسباتو د پکار اچولو هنر ګڼل کیږي، څو د هغو له مخې د ملاتړ کوونکو یوه وړه او اغېزمنه دله ایجاد شي او یا په بله وینا ترڅو چې په دې اساس باندې سیاسي متحد ملاتړ منځ ته راشي.

پښتانه مځکوال او د روحاني کورنیو اولاده دواړه فعال سیاسي مدعیان دي، له دې امله دوه ډوله ټولګي منځ ته راځي چې یو یې خان او د هغه ملاتړ دی او بل یې ستانه (ولیان) او د هغو مریدان ګڼل کیږي.

بالاخره دغه اصلي او ابتدایي ډلې سره یوځای کیږي او یو لوی سیاسي سیستم جوړوي چې په هغه کې دوه لویې ډلې ایجادیږي چې له یو بل څخه جلا او په دننه کې منسجمې اتحادیې یا ډلې جوړوي.

د دغو ډلو شکل ښایي د ځانګړو مشرانو د ترکیبونو د فعالیتونو د نظم او د هغوی د خوښونو په نتیجه کې درک شي. د ټولنې په ظاهري شکل کې دغه ډول نظم د ساختماني تشنج ښکارندوی، په ټېره بیا د پښتنو په نسبي سازمان کې د یوې کنډې خپلوانو ترمنځ دی. له دې امله د سوات سیاسي سیستم یو لړ ظاهري ساختماني موقفونه نه خرګندوي. بلکې سیاسي موقفونه (دریځونه) د افرادو د فردي انتخابونو په نتیجه کې تبارز کوي. خو دغه خوښونې د افرادو د ځانګړو هڅو په نتیجه کې چې غواړي په دې ډول خپلې ستونزې حل کړي، ځینې داسې ستونزې رامنځ ته کوي چې د رسمي سازمان له خصوصیاتو څخه راوځي. ښایي د دغه ډول سیاسي سیستم د تحلیل په ترڅ کې به دغه خصلتونه څرګند شي.

دویم څپرکی

د سوات عمومي ایکولوجي او اتنولوجي

ایکولوجي

د سوات د ناوړ پښتو ژبې خلک په هغه ډله پورې اړه لري چې یوسفزي پښتانه او یا افغانان یې بولي. په دغه ډله کې د یوه لیرې ګډ نیکه یوسف نومي اولاده او هغه کسان شامل دي چې له سیاسي پلوه په یوسفزیو پورې اړه لري. د یوسفزیو شمېر یو ملیون تنه اټکل شوی دی چې د پیښور تر اداړې لاندې سیمې او په قبیلوي ساحه کې د سوات او پنجکوړې د سیندونو په غاړه میشته دي. د سوات د ناوړ د نفوسو شمېر په اټکلي توګه (۴۰۰۰۰۰) تنو ته رسیږي[۱۵].

د سوات ناوه د طبیعي سرحدونو په واسطه جلا شوې ده. د سوات سند د (۱۸۰۰۰) څخه (۱۹۰۰۰) فوټو جګو غرونو له منځه سرچینه اخلي او د سویل لور ته بهیږي. د دغې ناوړ جګ غرونه د اباسین په لویدیځ کې د همالیا د اصلي لړۍ په دوام پراته دي. غاښې یې د (۱۲۰۰۰) څخه تر (۱۶۰۰۰) فوټو په جګوالي په لویدیځ کې د پاسني سوات له ناوړ څخه د پنجګوړې تر ناوړ، په شمال کې د ګلګت تر ژورې سیمې او په ختیځ کې د اباسین تر تنګي پورې خواره شوي دي. د سوات ناوه په کښتنۍ برخه کې پراخه شوې ده، جګوالی یې (۳۰۰۰) فوټو ته راټیټیږي او زیاتره د لویدیځ لور ته کوږوالی مومي، خو سره د دې هم دلته د ناوړ شاوخوا د (۶۰۰۰) څخه تر (۱۰۰۰۰) فوټو په جګوالي وچو او بربنډو غرو نیولې ده. بالاخره د سوات سیند یو نري تنګي ته رسیږي او د یو لړ غرونو څخه له تېریدو وروسته د پیښور هوارې سیمې ته رسیدلي او هلته د زیاتو کرلیچونو له وهلو وروسته د کابل په سیند ګډیږي د سوات ناوه له پیل څخه تر تنګي پورط (۱۲۰) میله اوږدوالی لري. او تر دغې نقطې پورې له هرې خوا څخه د جګو غرونو په واسطه چاپیره شوې ده.

۱۵. له دې امله چې په دې ساحه کې د نفوسو هیڅ ډول سر شمېرنه ترسره شوې نه ده؛ نو دغه شمېر یوازې اټکلی دی.

مواصلات د تنګي له لارې سيند نه تعقيبوي، بلکې د شاوخوا غرونو دپاسه تيريږي. له بونير او پېښور سره د ملکنډ، شاه کوټ او (مورايا کړاکړ) غاښيو له لارې اړيکې ټينګې شوې دي. يوازې يوه تجارتي لاره چې دومره اهميت نه لري له چک درې سره په نوشيره کې د سوات سيند په اوږدو کې پيل شوي او د يوه ټيټ غاښيې له لارې د پنجکوړې ناوې ته اوړي چې د دغې ناوې د لواړې د غاښيې (۱۰۰۰ فوټه جګ) له لارې د چترال او منځنۍ اسيا په لور ځي. نو له دې امله د سوات ناوه د هغو سترو تجارتي لارو څخه چې مر کز يې پېښور و، ګوښې پاتې شوی او همدا علت دی چې چای د يوې عامې مصرفې مادې په توګه دلته يوازې ديرش څلويښت کاله مخکې پيژندل شوی دی او حتی تراوسه پورې هم د ناوې پاسنيو برخو ته رسيدلی نه دی.

د اقليم بدلون تر ډېرې اندازې په لوړوالي پورې اړه لري. د ناوې په تل کې اوږنی تودوخې د فارنهايت تر ۱۰۵ درجو پورې رسيږي. دغه ځای د ژمې په اوږدو کې کله کله ښايي ږلی او واورې ولري. د ناوې په پاسنيو او جګو برخو کې د ژمې په وخت کې يوه ښه اندازه واوره ډېرې کيږي. په دغه ځای کې دوه ډوله لانده موسمونه شته، په يوه کې يې ژمنی بارانونه او يو څه اندازه واوره اوري چې د دسمبر او مارچ ترمنځ مخکې ته رسيږي. په بل کې يې اوږنی مونسوني (برساتي) اورښتونه وي چې له جولای څخه تر اګست پورې دوام کوي. کلنی اورښت نږدې ديرش انچه حساب شوی دی. د ناوې د ټيټو برخو طبيعي نباتات د وچې بوټي (هغه بوټي دي چې اوبو ته زياته اړتيا لري) دي. ځرنګه چې د زيارتونو شاوخوا ځايونه له تګ او راتګ څخه په امن کې وي، نو له دې امله داسې ځايونه ټول په اغزي لرونکو بوټو او يا ليونکيو (نانا) پټ شوي دي. د ۵۰۰ فوټو لوړوالي څخه پورته زياتره د نښترو ځنګلې پرتې دي.

پښتون اولس د غلې دانې په «تشديدي» کرنه چې زياته پراختيايي موندلې ده، ژوند کوي. د هغې ترځنګ د ځارويو روزنه د شيدو او يا نورو محصولاتو او سرې د ټولولو لپاره ترسره کيږي. په کرنه او مالدارۍ پورې د يوې ټرلې ټولنې په حيث، د دغو وګړو شمېر (۸۰۰) تنه اټکل کيدلی شي. تجارتي کرنه حتی تراوسه پورې هم په دغه سيمه کې محدوده ده او يوازې د نارنجو او مالټو په برخه کې چې هغه هم اوس د ځينو کليو په باغونو او په تېره بيا د تانې په سيمه کې پيدا کيږي، په لږه اندازه تجارت موجود دی. د پاتې نورو اقلامو هيڅ ډول تجارت نشته. په عنعنوي توګه اقتصادي اړيکې د پيسو يا له هر ډول نورو پولي وسايلو څخه غير ټينګيږي، حتی په ګوښه پرتو سيمو کې څوک پيسې نه پيژني.

د سوات په کښتنۍ برخه کې په يوه کال کې دوه فصله اخيستل کيږي چې يو يې تر مئ او جون پورې او بل يې تر اکتوبره لاس ته راځي. د مالي احصايې له مخې د سوات ټول دولت يا د (۵۵۰۰۰۰) تنو وګړو لپاره په (۱۹۵۳) کې غوره زراعتي حاصلات په دې ډول و: جوار (۱۶۰) مليونه پونډه[16] (۵۶) مليونه پونډه، وريجې (۳۶) مليونه پونډه او وربشې (۲۴) مليونه پونډه (زبيح،۱۹۵۴، ۱۸مخ).

د سوات د ناوې په ځينو خاصو برخو کې د وريجو اندازه تر نورو حاصلاتو زياته ده. له دې څخه علاوه ګنی، شړشم، نسک او د ميوو او سبو زيات ډولونه دلته په زياته اندازه کرل کيږي.

زراعتي ځمکه په څلورو غوره ډولو باندې ويشلې کيږي:

۱) وچوبۍ (للمي باراني مځکه) يا اوبه نه لرونکې مځکه.
۲) د کځ ځمکه او يا د مصنوعي خړوبولو مځکه.
۳) تاندوبه (شولکره يا طبيعي خړوبولو ځمکه او يا د لدلزاره مځکه.
۴) باغي مځکه.

۱۶. يو پونډ له ۴۵۳,۶ ګرامو سره اندول دی (ژباړن).

اوبه د سوات له سيند او يا د هغه له معاونينو څخه د ګڼ شمېر ويالو په ايستلو سره برابريږي او د ناوې د تل زياته برخه په هغو اوبه کيږي. يوازې ابي ځمکه د يادونې وړ دويم فصل ورکولی شي.

غنم، اوربشې او شړشم په پسرلي کې په وچوبی (للمي) مځکو کې کرل کيږي، دا ډول مځکې د ژمي د وروستيو بارانونو تابع او لندبل يې د ژمي له فصل څخه لاس ته راځي. د کال په دغه فصل کې هغه مځکې له سيند سره نږدې دي او د غنمو لپاره ډيرې مرطوبې او لندې بريښي، د څارويو د اړتيا وړ شوتلې او د شولو د زغليو لپاره ترې استفاده کيږي. د دويم فصل د اخيستلو لپاره د دغې مځکې زياته ممکنه برخه اوبه کيږي او په هغې کې شولې کرل کيږي او همدا شان جوار هم په کې کرې. په دغه فصل کې لوړې للمي مځکې بوره پريښودلې کيږي او يا دا چې د يوه لږ مقدار جوارو لپاره ترې ګټه اخلي. د مېوو باغونه او د سبو کروندې په جلا توګه ساتل کيږي او د کرل شويو موادو د اړتيا سره سم په پرله پسې توګه اوبه کيږي.

مځکې د کورنيو څارويو د سرو په واسطه حاصلخيزې کيږي. مځکې له دې چې سره په پټو کې واچول شي، هغه د يوې مودې لپاره د سرو په ډيرانو کې پرېښودل کيږي، ترڅو چې وروسته شي او يا خاشې او د وښو خځلې ورسره يوځای او د سرو په ژورو ډيرانو کې د څه وخت لپاره پاتې کيږي. کله چې سره په اصطلاح ښه وسوځول شي، بيا يې په پټيو کې پاشي. وچوبی(للمي) ځمکه کله کله د دوو يا دريو کلو لپاره شاړه پرېښودل کيږي. کله داسې هڅه کيږي چې وريجې او جوار په متناوب دول وکرل شي، خو څرنګه چې د دغو موادو د تبادلې په وخت کې ښه غذايي مواد يې په ځای موندل کيدلی نه شي، له دې امله د دغو اقلامو د متناوبې کرنې امکان لږ دی. ځمکه د ساده سپارې په واسطه چې غوايي يې کشوي قلبه او دوه هله (يوه) کيږي. د قلبې وسايل د سيمه‌ييزو پښانو او ترکاڼانو په واسطه جوړيږي چې په اغيزمنه توګه ځمکه اړولی او لوټې ماتولی نه شي.

غوره کورنۍ او اهلي څاروي يې نر غوايان چې د کرنې په کارو کې ترې ګټه اخلي، غواوې په تېره بيا مينې او يوه اندازه وزې د غوښې او شيدو لپاره، چرګې او کورنۍ مرغان د غوښې او هګيو لپاره، خره، کچر او اسان د حمل و نقل لپاره شمېرل کيږي.

په دغه پورتنی بحث کې د يادونې وړ غوره ټکي دا دي: د نفوس تراکم، د کرنې د محصولاتو شمېر او تنوع، د کرنې او توليد تخنيکونه، د مځکې څرېوالی چې په ژوره توګه ساتل کيږي او د بيعو د اندازې جګوالی چې د پورتنيو عواملو او د اوبو لګولو په برخه کې د زيات لګښت له امله منځ ته راغلی او د دغه راز توليدي شيوې لپاره ضروري دی.

تاريخ

د سوات پښتو ژبې خلک خپل نوم د يوسفزيو له قبيلې څخه اخلي چې اوس په دغه سيمه تسلط لري. دغه غلبه هغه وخت ټينګه شوه چې يوسفزی د (۱۵۰۰) او (۱۶۰۰م) کلونو ترمنځ د کابل له ناوې څخه وايستل شول او د پيښور شمالي هوارې سيمې ته د فاتحينو ته په توګه ننوتل او د سوات د ناوې کنترول يې په پرله پسې توګه له سواتي قبيلې څخه واخيست (پلودن۱۸۷۵)، ځينې سواتيان فاتحينو تابع شو او ځينې نور يې د سيند (اباسين) په خوا ختيځ ته وتښتيدل. نن ورځ د هغو اولاده د هزار په سيمه کې د فاتحينو او سترو مځکوالو په څېر ژوند کوي. د پښتو ژبو قبيلو مهاجرتونو د لرې په څېر کې د يوسفزيو يرغل وروستی ګټل شوی چې د شمال لويديځ له غرو څخه پيل شول او د پيښور هوارې سيمې او پنجاب ته وړاندې راغی او د سوات د ناوې په لور واوښت او دغه ناوه هم په کې شامله شوه. سواتيان چې د هغو ځای يوسفزيو ونيو، پخپله هم دوه سوه کاله وړاندې د دلازاکو په نوم مغلوب شو يو خلکو په تعقيب دلته رسيدلي وو.

له دوی څخه وړاندې سوات په زرم میلادي کال کې د محمود غزنوي لخوا فتحه شوی و. دا د پښتنو عنعنوي روایت دی چې د غزني سلطان لومړنی شخص بولي چې دوی یې د اسلام په دین مشرف کړي دي. که څه هم ښایي د غزنوي محمود د یرغل په وخت کې دلته د هندو دین و، خو د میلاد په لومړیو کې سوات د بودیزم یو غوره مرکز ګڼل کېده او حتی په ۷۲۵م کال کې چینایي زایر وکانګ (Wukong) (ستاین ۱۹۲۹) دغه ځای لیدلی و. د سترو او لرغونو کنډوالو او د کندهارا په دود باختري سکو او مجسمو موجودیت په بودایي دوره کې د سوات پرمختګ او ارزښت ښکاره کوي. د دغو تاریخي پوښتنو په باب یوه اندازه لومړنۍ څېړنې د سر اورل ستاین (۱۹۲۵-۱۹۳۰) لخوا شوي دي.

د دغو پرله پسې یرغلونو سره سره بیا هم د ناوې په پاسنۍ برخه کې غیر پښتانه خلک چې د ژبې او کلتور له پلوه له نورو اوسیدونکو سره توپیر لري، ژوند کوي. که څه هم هغوی په دوو جلا ژبو خبرې کوي، خو بیا هم دوی له نورو اوسیدونکو سره یوځای د کوهستان تر نامه لاندې راوړل شوي دي. دوی داسې روایت لري چې د هغه له مخې دوی په پخوانیو زمانو کې د ناوې هغه حاصل‌خیزه برخه چې د سویل خواته پرته ده، نیولې وه او د پخوانیو بودایي خلکو له یوې برخې سره یوشان ګڼل شوی دی. (ستاین ۱۹۲۹). کوهستانۍ ژبې خلک د دارډیک ژبې له کورنۍ سره تړلي (بارت او مارکنسترن،۱۹۵۶) او له دې امله د ګلګت او کشمیر له ژبو سره اړیکه مومي. د کوهستانیو استوګنځی یوازې له (۵۰۰۰) فوټو څخه پورته ځایو کې پیدا کیږي. دا داسې یوه ارتفاع ده چې له هغې څخه پورته د غلو دانو دوه فصله اخیستل امکان نه لري.

دا به غوره وي چې د پښتنو یرغلونه په پورته خوا کې د دغو ایکولوجیکي محدودیتونو په اساس وټاکو (بارت۱۹۵۶).

اوسنی حالت

د دغې سیمې رسمي سیاسي حالت د هغه سیاسي فعالیت د بڼې لپاره غوره دی چې د سوات په پښتنو کې منځ ته راځي. د سوات ناوه په عمومي ډول په قبایلي سیمه کې چې په رسمي توګه د کاملې سیمه‌ییزې داخلي خپلواکۍ لرونکې وه[۱۷]، موقعیت لري. په برتانوي هند باندې د دغو سیاسي او ستراتژیکو غیر مستقیم او ضمني تاثیراتو په باب د څو نسلونو په اوږدو کې زیاتې خرګندونې شوې دي (بروس ۱۹۰۰وګورئ). په سوات کې «سیمه‌ییزه خودمختاري» په دې معنی ده چې د دغه ځای اصلي اوسیدونکي د خپلو سیاسي کشالو د حل لپاره هر ډول چې یې زړه غواړي، ازادي ولري. برتانوي هند نه یوازې په سوات کې له مداخلې څخه ډډه وکړه، بلکې دغه قومونه یې د بهرنیو تېریو. . . په مقابل کې هم وساتل. له دې امله د دغو خلکو د سیاسي اوضاع تحلیل که څه هم غیر معمول دی، یوازې د داخلي عواملو په ارتباط ممکن ترسره شي. دغې داخلي خپلواکۍ یوازې له دوو خواو څخه تغییر پیدا کړی دی: د ملکنډ ایجنسۍ په ۱۸۹۵م کال کې د برتانیې د ستراتژیکو ګټو د ساتنې لپاره پرانیستل شوه چې د هغې لارې حمل و نقل وخاري چې د سوات د ناوې له سویلې برخې او دیر څخه د چترال تر ادارې لاندې سیمې ته تلله. د سوات د ناوې کښتنی څنډه (د سوات د ټولې سیمې دریمه برخه) په دغه ایجنسۍ کې شامله شوه. د دغه ځای مخورو ته د لارې د ادارې او ساتنې د ټرون د په ځای کولو له مخې کلنی معاش ورکول کېده. د دغو مخورو ترمنځ د نظر د اختلاف د لیرې کولو او د دوی د لانجو د حل لپاره د منځګړي په حیث یو مامور مقرر شو.

وروسته د سوات په پاتې برخو کې یو مرکزي دولت چې په پرله پسې توګه یې انارشي نظام له منځه یووړ، تاسیس شو. د دغه دولت حکمران چې تر ملکنډ پورې یې د خپلې واکمنۍ پوله پراخه کړې وه، په (۱۹۲۹)

۱۷. دغه خپلواکي د پاکستان مارشیلانو ونه زغملی شوه او په دې وروستیو کلونو کې (۱۹۶۹) یې پای ته ورسوله.

کال کې د برتانوي هند د حکومت لخوا په رسمیت وپیژندل شو او هغه ته یې یو څه کلنی معاش وټاکه. نو په دې ډول د سوات حکمران د هندي شاهزادګانو په شان چې هند له حکومت سره یې ټاکلي مناسبات لرل، دریځ (موقف) ترلاسه کړ. خو د سوات په اداري چارو کې تر اخرې درجې پورې لږه مداخله کېده.

د هند له ویش وروسته چې د ملکنډ ایجنسۍ او د سوات دولت دواړه له پاکستان سره یوځای شول، د مرکزي او ایالتي حکومت ترمنځ اړیکې پرله پسې نږدې شوې. سره د دې هم زما د ساحو د څېړنو په وخت کې په اداري سیاست کې ژور او عمده بدلونونه رامنځ ته نه شول. له دې امله د سیمه‌ییزې خپلواکۍ د ایډیال لپاره تقریباً سم شرایط لیدل کیدل. د ناوې په کښتنۍ برخه کې خپلواکه سیمه‌ییزه اداره په نسبتاً غیر متمرکز او عنعنوي قبیلوي سیستم باندې چلیږي. که څه هم په وروستیو کې په سوات کې نوې جوړه شوې مرکزي اداره قدرت په لاس کې لري، خو بیا هم قبیلوي موسسات په خپلو پرېکړو او قدرت ساتلو کې تر ډېرې اندازې په خپل ځای پاتې دي. ..

کلیوالي سازمان

په عمومي توګه کلیوالي سازمان او سیاسي ژوند د اساطیرو او ارزښتونو د دوه ټوله ترکیبونو تاثیر لاندې رامنځ ته شوی دی چې په ټوله سیمه کې عمومیت لري. له هغو څخه یو یې د مخکې د اجارې په بڼه او د مخکوال قشر په موقف (دریځ) او بل یې په دیني سلطې او له ورځینې ژوند سره د هغه په اړیکو پورې تړلی دی.

د لومړي عامل له مخې ویل کیږي چې یوسفزي د فاتحانو په څېر دغې ناوې ته داخل شول او د هغو اولاده له یوځه استثنا سره چې وروسته به څرګنده شي، په ټوله سیمه باندې د ملکیت او حکومت ادعا وکړه. روایات وایي چې یوسفزیو د مفتوحه مخکې د عادلانه ویش په برخه کې زیاتې ستونزې ولیدلې، دوی د سیمو د ویشلو لپاره یوه ډېر نامتو او دیندار سپیځلی سړی یعنې شیخ ملي ته رجوع وکړه او نوموړي شیخ داسې نظم منځ ته راوړ چې په عین حال هم عادلانه او هم دوام لرونکی و[۱۸]. ده ولیدل چې د ډلې غړي ټول د یوسف زامن دي، خو خپلو نږدې نیکونو ته د ارتباط له مخې په خپلو منځو کې په خیلونو ویشل شوي دي. شیخ ملي د خیلونو د شمېر په اساس ناوه وویشله او هر یوه برخه بیا یوه خیل ته وسپارله. ورپسې ده د خیلونو په منځ کې د مخکې ویش په نظر کې ونیو. چیرته به چې یوه خیل دوه غوره ځانګې درلودې، نو ده به سیمه په دوو برخو ویشله، او که خیل به درې غوره برخې لرلې، نو ده به سیمه درې برخې کوله، په بله وینا ده د مخکو یو لړ درجه لرونکي برخې چې د یوسفزیو د عمده خیلونو د عمومي ویش له طرحې سره موافقې وې، تحدید کړې؛ خو څرنګه چې هیڅکله د مخکې دوه ټوټې سره یوشان نه وې، نو شیخ ملي د دې په ځای چې خیل ته د ملکیت دایمي حق ورکړي، داسې پرېکړه وکړه چې په یوه ټاکلي وخت کې دې مخکې بیا له سره وویشل شي، چیرې چې خیل دوه ځانګې لري، نو په داسې حالت کې باید د خپل ملکیت ساحه له څه وخت وروسته یعنې په هرو لسو کلو کې یو وار سره بدله کړي. له دې امله د شلو کلو په موده کې به دواړه ډلې یوه سیمه په یوه شان په اختیار کې ولري. کله چې خیل درې برخې ولرلې، نو په هغه صورت کې به څمکه په دایروي توګه چې به دیرش کاله کېدله، سره بدلیدله. په دغه سیستم کې افراد د مخکې څښتن نه کیږي، دوی د خیل د مخکې په مجموعي چوکاټ کې د ونډې لرونکي کیږي، په دې مفهوم چې په یوه خاصه ساحه کې به د تملک حق ولري. په دې ډول د فتحې په نتیجه کې یو عادلانه ویش منځ ته راغی. ځنګه چې هغه سیمې چې په متناوب ډول سره ویشل کیدلې. ډیرې زیاتې پراخه وې، له دې امله د دغه ویش په اساس مخکوالو په هرو لسو کلو کې په یوه دیرش میلې ساحه کې لیږدیدنې کولې. له یوسفزیو پرته نور کسان په دغه لیږد کې داخل نه و. په

۱۸. دغه روایت د هغې خطي نسخې د پیداکېدو له مخې چې پخپله شیخ ملي لیکلې ده، ثابت شوی دی (دغه نسخه د یوسفزیو له خوا د سوات نیول او هغه نقش بیانوي چې ده د مخکو د اندازه کولو او ویش په برخه کې ترسره کړې ده) راورتې ۱۸۶۰، ۳۲مخ وګورئ.

دې ډول د مخکې د قبضې دغه سیستم زیاتره د فاتح یوسفزیو او د هغوی د رعیت ترمنځ ویش باندې ټینګار وکړ. لومړنی ډله واکمنه او حاکمه طبقه ده، په داسې حال کې چې رعیت یې تر لاس لاندې خلک دي چې په پرله پسې توګه خپلو جلا جلا خاوندانو (اربابانو) ته خدمت کوي.

دغه ویش زیاتره د خپلوانو ترمنځ د واده په هغو محدودیتونو باندې تاکید کوي چې د فرقه‌یي نظام (کاست) په څېر ښکلې ټولنیزې ډلې منځ ته راوړي. پښتانه په عمومي توګه له خپل سیال سره واده کول غوره ګڼي او حتی دغه اصل د خپلو خپلوانو په برخه کې هم په پام کې نیسي. دوی خپلې لونې داسې سړیو ته ورکوي چې نسبتاً لوړ مقام ولري. په داسې حال کې چې د ټیټو مقامونو خلکو ته د نجونو ورکول سم نه بولي.

د شغل له مخې پورتنۍ دوه ډلې په خپلو منځو کې په یو بل باندې ترلې متقابل مناسبات لري. مخکوال د ایډیال له مخې جنګیالي او اداره کوونکي دي او ډېر شتمن یې خپل کارونه اجاره دارانو او بزګرانو ته سپاري. هغه کسان چې کمه ځمکه لري زیاتره خپلې مخکې په خپله کړي او د دوی د غرور او ازادۍ غوښتنې حس زیاتره د دې سبب ګرځي چې د نورو بزګري ونه کړي. بې‌مخکې خلک ښل ښل کارونه او چارې مخې ته وړي. د دغو خلکو عمده ډلې اجاره کوونکي بزګران، کارګران، ترکاڼان او پوونده دي. دغه ټولې ډلې یوشان، څه په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه په سیاسي او اقتصادي لحاظ په مخکوالو پورې ترلې دي.

دویم دا چې د سوات پښتانه د اسلام د سپیڅلي دین پیروان دي او په ټولو هغو اخلاقي خصوصیتونو چې په دغه دین کې ارشاد شوی دی، په ښه ډول پوهیږي[19]. د دغو ارزښتونو په ارتباط د دریځونو انواع په پرهیزګاري، تقدس، مذهبي پوهې یا مذهبي اخلاص پورې اړه لري. زیاتره وخت په سوات کې دا ډول دریځونه (موقفونه) میراثي ګڼل کیږي او ډېر افراد او ډلې په دې ادعا چې دوی د حضرت محمدﷺ، ستانه و (ولیانو)، مذهبي امامانو یا مخلصانو اولاده ده، د قدرت او سترو درجو غوښتنه کوي. د دغو ادعاګانو اعتبار که څه هم چې د یوسفزیو مخکوالو له معیارونو څخه توپیر لري، خو د ټولو لخوا منلی شوی دی او د دغسې سپیڅلو دریځونو خاوندان په ټولنه کې خاص مقام اشغالوي. په انګلیسي ژبه کې دوی زیاتره د اسلامي شریعت د پوهې له امله د سنتس (Saints) په نامه یادیږي. د دغه ډول مذهبي درجې سیاسي ارزښت یو مثال د شیخ ملي د نقش له مخې چې وړاندې مو بیان کړ، ښودلی شو. نوموړي شیخ د متضادو ګټو خاوندو ډلو ترمنځ یو ډول عادلانه ویش رامنځ ته کړ[20].

د مخکوالو او د «سپیڅلي» دریځ د خاوندانو ترمنځ د واده په باره کې ذهنیتونه، د نسبي رتبو ښکارندوی دي. یوه ډله مذهبي او روحاني خلک په دې عقیده دي چې دوی به د مخکوالو لونې ځان ته واده کړي، خو په مقابل کې به دوی مخکوالو ته خپلې نجونې نه ورکوي، په داسې حال کې چې مخکوال په دې ټینګ ولاړ دي چې یوازې په متقابل ډول باید د نجونو د راکړې موضوع له روحاني کسانو سره ترسره شي.

د یوسفزیو قبیلوي خیلو نه ستانه وو ته د هغوی د سیاسي منځګړتیا د خدمت په بدل کې د هغو ځینو نامتو مشرانو ته کله کله په مخکو باندې د ملکیت دایمي حق ورکوي. دا ډول مخکې بیا د ویش له قانون څخه مستثنی کیږي او د خیل د عنعنوي «برخو» ساحې په دې توګه یوڅه اندازه کمیږي. په دې ډول د غیر یوسفزیو لکه د پاسنۍ ناوې د کوهستانیو قبیلو د حاشیوي مخکو نیولو په اساس ډېر ځله داسې هم کیږي چې هغه

۱۹. قرآن کریم،۱۴، ۴۹سورة: «په رښتیا سره ما تاسو د نر او ښځې په څېر پیدا کړئ. په رښتیا سره چې ستاسو په منځ کې خدای ته هغه څوک معتبر دي چې په تاسو کې زیات پرهیزګار وي».

۲۰. د سوات تاریخ ۱۰مخ ستانه او سیدان زیاتره د سولې، هوسایی، روغې جوړې او نورو د ګټو په ساتنه کې نقش لري، حتی ګټورو کارو له امله د وطن او خلکو زمور په وخت کې په هغو ځایو کې چې حکومت یا دولت نه وي، د قدر وړ صوفیانو له امله سوله ساتل کیږي».

نسبي ډلې چې روحاني دريځ لري د غير يوسفزي ډلې په صفت د مځکوالو ډلو په توګه تبارز کوي. کله کله «روحاني» مشران حتی د خپلواکو واکوالو په حيث مقام لاس ته ور وړي. په ټولو حالاتو کې دوی د يوې اندازې سياسي اداري واک ادعا کوي او په سياسي ژوند کې فعاله او کله کله خرګند نقش لوبوي.

په دې ډول په يوه کلي يا د حکومت په اساسي واحد يعنې د کلي په يوې محلې کې د بېلا بېلو ډلو افراد ژوند کوي. هره سيمه يا محله د يوه ځانګړي يوسفزي خان لخوا چې دريځ يې د نورو مځکوالو يوسفزيو لخوا تائيد شوی وي، اداره کيږي. دغه ډول يو خان د خپلو بېلو بېلو ډلو اتباعو سره جلا جلا اړيکې لري او هغه دا دي: د يوه خان ملګري مځکوال چې د هغه سره په عين خيل کې عضويت لري او د هغه احتمالي رقيبان دي؛ د ده خپل وابستګان او بزګران، په نورو مځکوالو پورې ترلې افراد، روحانيون (سپيځلي کسان) او د هغوی بزګران او پيروان ګڼل کيږي. د سيمې ځخه بهر افرادو سره هم د خان اړيکې په هماغه اندازه پيچلي دي. د يوه پښتون خان يا مشر په ذهن کې دا ويره شته چې د خپلې پلرينۍ تش په نامه افرادو هم د روحاني دريځ خاوند افراد به د ده تر شاه له نورو بهرنيو افرادو سره د ده پر ضد دسيسه وکړي، لکه چې په همدغه شان دی هم د نورو مشرانو د تش په نامه پيروانو سره دسيسه کوي.

د مشر سياسي فعاليتونه چې د هغه د دريځ د خوندي ساتلو يا پياوړي کولو لپاره سرته رسيږي، د پښتنو په يوه غوره مؤسسه کې چې حجره نوميږي، تمرکز لري.

په هره سيمه يا محله کې لږ تر لږه يوه حجره موجوده وي چې مشر وربانديې نفوذ لري او د محلې د افرادو سياسي، اقتصادي او تفريحي ژوند د دغه مرکز په شاوخوا کې څرخيږي. مشر ته وفاداري او تابعيت حجرې ته د هغه د پيروانو له يوازيني ورتګ ځخه څرګنديږي. دا ډول تابعيت د هغه په ميلمه پالنه سره پياوړتيا مومي. مشر تل په حجره کې ډوډۍ يا کله کله ځينې قيمتي شيان ورکوي او په دې ډول هغه خلک د خپل ځان د احسان لاندې او نمک‌خور ګرځوي چې په حجره کې کښيني.

د مځکې د حاصل‌خيزۍ د زياتوالي امله مشران او نور مځکوال له مځکې ځخه د غنمو ډېر زيات حاصل ټولوي او د غنمو له درې پر څلور ځخه د څلور پر پنځو برخو پورې ټول حاصل له خپلو کروندګرو ځخه اخلي. دومره ډېر غنم هرو مرو د مشرانو (خانانو) د کهول له اړتياو ځخه زياتيږي. په سوات کې د غير پولي سيستم د موجوديت له امله دا حاصل د نه خرابيدونکې پانګې په توګه په جريان کې لويدلی نه شي. نو که دغه غنم د مشر له کهول ځخه غير په نورو خلکو باندې ونه لګيږي، نو ډېره زياته اندازه به يې وراسته شي. خو د مشر ميلمه پالنه د ده د اضافي ثروت له بخښونو او ورکړې ځخه ډېره زياته ده. پښتانه مشران د سختې سيالۍ د فشار له امله له هغه حاصل ځخه چې له مځکې ځخه يې اخلي، ډېر لګښت کوي او دا کار تر هغو کوي چې خپل دريځ د خپلې شتمنۍ په موقتي کمولو سره سره ټينګ کړي، يا خپل دريځ بايلي او خپله ټوله شتمني په دې لاره کې له لاسه ورکړي. زيات شمېر څېړونکو او کتونکو د دې درک کړی دی چې د پښتنو په منځ کې سياسي حيثيت ځومره ارزښت لري[21] دغه هيښونکې ميلمه پالنه او ډېر زيات لګښت يوازې هغه وخت د لېدنې

۲۱. فيرير ۱۸۵۲، ۲۰۴ «هر هغه څوک چې کمې پيسې هم ولري او هغه د خلکو په منځ کې وويشي، ډېر ژر به يو شمېر ملاتړ پيدا کړي چې د ده د قدرت په زياتولو کې به مرستيالان وي...»
د سوات تاريخ ۴۷مخ «هر يوه خان به زرګونو روپۍ ولګولې چې د خپل نفوذ ساحه پراخه کړي او د خپلو دوستانو او ملاتړ د زياتوالي له امله سترې سيمه او زياته مځکه په لاس کې ولري. له دوباره ويش او خای په خای کېدو وروسته به هغه خلک چې د يوه ملک ګوند ته تلل، مجبور و چې د هماغه ويش تر پايه پورې د همدغه خان يا ملک او يا معتبر تر نفوذ لاندې که زړه يې غواړي او که نه، ژوند وکړي. هر ځومره به چې خان دوی وځورول، د دې ښې مځکې او کورونه به يې اشغال کړل او له هغو ځخه به يې د نايانو، ليکونکو يا ساتونکو مصرف راټول کړ، يا به يې په دوی اجباري کار وکړ او مصرف شوې پيسې به يې بېرته واخيستلې، بيا هم دغو خلکو نه شوای کولی د هغه په مقابل کې غږ پورته کړي».

وړ دی چې مور دې حقیقت ته ورسیږو چې په دې ترڅ کې اساسي انګیزه تر اقتصادي نه ډېره سیاسي ده. دا مطلب په یوه لحاظ د غیر پولي ابتدایي ټولنو په منځ کې د «پاتلاچ» (Potlatch) له موسسو سره ورته دی.

د یوه مځکه‌وال د دریځ اصلي ماهیت دا دی چې د مځکې تصرف خوندي وساتي. د سوات پښتنو په بې‌مشره او بې‌نظمه نظام کې دا ډول امنیت یوازې نسبي دی او د مالک په ړښتیاني قدرت پورې اړه لري. کله چې د ده د حق پوښتنه منځ ته راشي، دی د خپلو ملاتړو او مرستیالانو په مرسته د خپل ملکیت څخه دفاع کوي. د مشر زیات لګښت، د سوغاتونو ډېره زیاته اندازه ورکړه او میلمه پالنه هغه وسایل دي چې دی د هغو په واسطه یوه ډله ملاتړ د ځان لپاره برابروي. هغه زیات شمېر کسان چې د مشر په محله کې اوسي، په حقیقت کې ټول د ده سیاسي ملاتړ نه دي. هغه کسان لکه د ده خپل افراد چې د ده قدرت او مقام تائیدوي، هغه بزګران چې له پنځو څخه څلور برخې حاصل ده ته ورکوي او هغه پښې چې د زراعتي حاصل د یوې ټاکلې برخې په مقابل کې د محلې او سیمې خدمت کوي، تر هیڅ ډول مجبوریت لاندې نه ده چې له مشر سره په نورو فعالیتونو او چارو کې مرسته وکړي. یوازې هغه د میلمه پالنې او د سوغاتونو په ورکولو سره دی داسې وجایب او تابعیت رامنځ ته کوي چې د هغو له مخې دی د شخصي سیاسي ملاتړو او په نهایت کې د پوځي ملاتړو په صفت په هغوی باندې تکیه کوي. نو په دې ډول په حجره کې د مشر کړه وړه د دې علت ګرځي چې اساساً غیر سیاسي مناسبات په داسې نا برابرو سیاسي اړیکو باندې واوړي چې د مشر او د هغه د پیروانو ترمنځ موجودې وي.

دریم څپرکی

د سازمان اساسي چوکاټونه

د سوات پښتنو خوښونې (انتخابات) په یوه خلا کې نه ترسره کیږي، بلکې د سازمان په دننه کې یو لړ داسې چوکاټونه شته چې د هغو په اساس وګړي په ډلو او کټګوریو کې تنظیمیږي او تر یوې اندازې د دوی سیاسي خوښونې ټاکي. دغه چوکاټونه زیاتره له حوزې، طبقه بندۍ او نسب سره اړیکه لري چې یو په بل پسې به بیان شي.

ساحوي چوکاټ

ټول سوات د مراتبو د سلسلې (هیرارشی) له مخې په کوچنیو برخو ویشل شوی دی. په بله وینا د سوات سیمه د درجه بندۍ له مخې په فرعي سیمو ویشل کیږي. په دغه ویش کې پخپله جغرافیه‌یي ساحه او هغه ټولنیزه ډله په ګډه توګه راځي چې په هغې کې ژوند کوي[۲۲] هره یوه غوره سیمه د یوې ټاکلې پښې (فرعي قبیلې) له خوا نیول شوې ده چې نوم یې له هماغه پښې څخه اخیستل شوی دی. له دغو نومو سره د زی وروستاړی او یا د خیل او قبیلې نوم ګډ وي. دلته زمونږ د پاملرنې وړ دیارلس سیمې په لومړي ګڼه نقشه کې ښودلې شوې دي. هره یوه سیمه په اټکلي توګه له (۲۰۰۰۰) تر (۳۰۰۰۰) پورې وګړي لري او په تخنیکي توګه د تپې (Tapa) یا داسې حوزې په نامه چې په هغې کې د یو لړ نسبي ډلو په منځ کې د مځکې حقوق شریک دي، یادې شوې دي.

دغه سیمې په سیمه‌ییزو ساحو باندې ویشلې شوې دي چې د هرې یوې نوم زیاتره د هغې د غوره فزیکي علامې (لکه د ویالې ناوه) یا د مسلط کلي او یا د دوو کلیو د نومونو له ګډولو څخه اخیستل شوی دی. دغه ټول ستر حوزوي واحدونه پخپله د سوات له ناوې څخه نیولې د هغې تر سیمو او سیمه‌ییزو ساحو پورې د اوسیدونکو لخوا د وطن په نوم یادیږي.

۲۲. د جغرافیه‌یي ساحې نوم او د یوې ټولنیزې ډلې نوم لکه پلانکی خیل یا زی دواړه د یو بل په ځای ذکر کیږي (ژباړن).

هره سیمه‌ییزه ساحه بیا هم د یو شمېر کلیو ځخه جوړه شوې ده. په هر یوه کلي کې یو شمېر نردې جوړ شوی استوګنځی شته چې تر شاوخوا یې داسې مځکې راتاو شوي دي چې ښکاره حدود لري. اوسني کلي زیاتره په لرغونو ځایو باندې اباد شوي او د هغو زیات شمېر نومونه د غیر پښتو لغتونو ځخه جوړ شوي دي (د مثال په ډول منګلا وار او ډیګرام[۲۳] د پراخوالي له پلوه د کلیو ترمنځ ډېر توپیر لیدل کیږي او د هغو د اوسیدونکو شمېر له (۵۰۰) ځخه تر (۱۰۰۰۰) تنو پورې رسیږي. د سوات یوه پښتون ته کلی د هویت د تعقیبولو لپاره یو غوره ساحوي واحد دی او د هغې اوسیدونکي د ده لپاره د وفاداری اساسي مرکز ګڼل کیږي.

سره د دې هم کلي حکومت ته په ډېر قدرت سره د یوه لومړني واحد حیثیت لري. د ځلورمې درجې فرعي ویش په اساس کلي په وړو برخو لکه (پلو، چم او محله) ویشل کیږي او هره یوه محله د اداري او سیاسي ژوند یو واحد جوړوي. په هره محله کې په عمومي ډول له (۲۰۰) ځخه تر (۵۰۰) تنو پورې ژوند کوي زیاتره کلي دوه محلې لري چې په داسې حالت کې عموماً په لره (کوزه) او بره (پاس) یعنې لره محله او بره محله باندې یادیږي. په نورو حالاتو کې ښایي یوه محله د هغه د موجود اوسیدونکي حاکم، یا په هغې کې د غوره اوسیدونکي نسبي ځانګې، او یا د یوه لرغوني نامتو اوسیدونکي په نامه یا دا چې په یوه بل خاص نوم یادیږي.



لومړی نقشه: غوره قبیلوي سیمې او د قبیلوي ځانګو شجروي اړیکې ښیي.

په پښتنو کې د محلې لپاره د جلا جلا نومونو شتوالی تر یوې اندازې په معنی کې توپیر منځ ته راولي: د مثال په ډول «پلو» داسې یوې محلې ته وایي چې د یوه غیر یوسفزي مشر یا یوه روحاني شخصیت او داسې یو کس له خوا اداره شي چې د غیر مسکون مشر لخوا د اداري لپاره هغه ته سپارل شوی وي. محله یوه عربي کلمه ده چې په وروستیو وختو کې له عربي ځخه اخیستل شوې او معنی یې برخه او یا کوڅه ده.

په هماغه ډول چې ساحوي برخې د حکومت د اهدافو لپاره ویشل شوي، په همدې شان د دیني ټولنو له جوړېدو سره وړتیا مومي، هغه ټول کسان چې په یوه برخه یا یونټ کې چې معمولاً یوه محله وي، خو کله کله ټول کلی په یو ګډ جومات پورې مربوط او یوه امام او ملا پسې مذهبي مناسک اجرا کوي، ځینې وخت حتی لوی ساحوي ګروپونه او ډلې د برخې ټولنې ګڼل کیږي، یو وخت کله چې زه په منګوره کې وم د باران د کېدو لپاره د یوه سیمه‌ییز رود په غاړه د سیمه‌ییزې ساحې یوه ستره ټولنه جوړه شوې وه.

۲۳. د دویم نوم اساسونه (اودی χ ګرام) په پښتو کې ډېر دی(ژباړن).

د سوات دويمه ګڼه نقشه په متن کې ياد شوي کلي څرګندوي.

سيمه‌ييز جومات د ډله‌ييزو کارونو په اساس ترميميږي او امام ته په ګډه سره يوه اندازه جنس د ده د خدمتونو په بدل کې ورکول کيږي. په ډېرو کليو کې يو ډول ځمکه (د تيلو سراى، هغه ځمکه چې تيلو ته وقف شوې وي) شته چې د ملا له خوا اداره کيږي. د دغې مځکې حاصل د جومات د لګښت وړ تيلو لپاره تبادله کيږي.

هغه وظايف چې يو سړى يې د ځانګړو اړيکو له مخې د يوه مذهبي مشر په مقابل کې ترسره کوي، له هغو وظايفو څخه بېل دي چې نوموړى يې د سيمه‌ييز جومات د ټولنې په وړاندې ترسره کوي.

بالاخره هره يوه محله يو شمېر کورونه لري چې شمېر يې معمولاً له (۴۰) څخه تر (۸۰) پورې رسيږي. هر يو کور د يوې کورنۍ له خوا چې د يوه مستقل اقتصادي واحد حيثيت لري، د استوګنځي لپاره برابر شوى دى. د کورنۍ غړي په ګډه سره کار کوي او خپل لاس ته راوړي عايدات له يو بل سره يوځاى کوي. د کورنيو پخلى هم په شريکه توګه ترسره کيږي. هره يوه کورنۍ يو رسمي مشر لري چې بايد يو نارينه وي. دغه سړى د عمر له لحاظه تقريباً هميشه د دغې ډلې تر ټولو غړيو مشر وي. دى د کورنۍ په ټولو غړو باندې واکمني لري او له کور څخه بهر د کورنۍ د استازې په توګه ګڼل کيږي.

د سوات د کليو په زياتو کورونو کې هستوي يا ابتدايي کورنۍ چې د ښځې، مېړه او د دوى د مجردو اولادونو څخه جوړې شوې دي، ژوند کوي. دغه راز له دغې کورنۍ سره غالباً داسې کسان لکه کونډه مور يا پلار او يا د هغوى نا واده شوي اولادونه هم اوسيږي. د واده په وخت کې ښځه د مېړه کور ته وړل کيږي او د يوې مودې لپاره د ده له مور او پلار سره ژوند کوي، خو له يو يا دوو کلونو څخه وروسته ځوانه جوړه د هلک له مور او پلار څخه جلا او يوه خپلواکه خونه جوړوي. خو له دغه قانون څخه مځکوال مستثنى دي. مځکوال ډېر لوى کورونه لري چې ډېر ښه جوړ شوي وي او لوړ ديوال ترې تاو شوى وي. دغه مځکوال د کار په اساس ژوند نه کوي، بلکې د مځکې د مالکيت له مخې يې ژوند تامين کيږي. په دغه طبقه کې زوى له واده وروسته هم په پلار متکي وي. ځکه د پلار د حيثيت ساتلو لپاره دى په جسماني کارونو بوختيږي، پلار هم ندرتاً د خپلې مځکې کومه برخه ده ته ورسپاري. سترې او توسعوي کورنۍ چې زياتره پلرنۍ نسبي سيستم تعقيبوي د مځکوالو په منځ کې وده او پراختيا مومي او د ګډ نيکه تر مړينې او په اخر کې د هغه د ملک او شتو تر ويشلو پورې هماغسې دوام کوي. په اټکلي توګه د يوه کلي لسمه برخه کورنۍ همدا ډول توسعوي کورنۍ دي.



دويمه نقشه: نقشه په متن کې راغلي کلي ښيي.

له دې امله دغه وګړي زياتره د مراتبو د سلسلې (هيرارشي) په توګه په کورونو، محلو، کليو، سيمه‌ييزو ساحو او سيمو باندې ويشل شوي دي او هر سړی د خپلې استوګنځی د ځای په اساس په دا ډول ډلو کې يو دريځ لري.

فرقې (کاستونه)

نو په دې ډول وګړي د ټاکلو سرحدونو له مخې په حوزوي او منطقوي واحدونو ويشل شوي دي. همدا شان د وګړو ټولنيز قشرونه هم د جوتو حدودو په اساس انقسام مومي. هر يو قشر په حوزوي توګه تيت پرک واقع شوي دي، خو د مراتبو د سلسلې (هيرارشی) له مخې متجانس دي. په ساحوي چوکاټ کې موقعيت د استوګنځي له مخې ټاکل کيږي، مګر د مراتبو د سلسلې په چوکاټ کې موقعيتونه د نسبي بنسټ په بنا تعينيږي. د «مراتبو د سلسلې» دا شان ډلې زياتره د قوم په نامه يادیږي چې د خلکو د ديني يا نژادي ډلې او فرقې معنی ورکوي. په سوات کې قومونه د پلرني نسب لرونکي، ميراثي او درجه بندي شوي حرفوي ډلې جوړوي او هر قوم په دننه کې د واده مراسمو ته اعتبار ورکوي. هر قوم خانته نوم لري او په هغه کې غړيتوب د زيږيدنې له مخې د کومې استثنی پرته، لاس ته راځي. د ټولنپوهنې په لحاظ قومونه د طبقو يا فرقو په څېر هم طبقه بندي کيدلی شي. له فرقې څخه د هغو توپير په عمومي ډول داسې ښودل شوی دی؟ (د مثال په ډول ستيونسن ۱۹۵۴) چې په قومونو کې د فرقې په شان ديني او مذهبي اړخ ډېر اهميت نه لري. خو څرنګه چې دغه قومونه د سيند د ناوې د مشابهو مسلمانو او د متحدو ولايتو (هندوستان) د هندو سيستم له فرقو سره موازات او استمرار لري، نو له دې امله زه قومونه د فرقو په نامه يادوم[۲۴].

له يوې بشپړې سر شمېرنې پرته به دا ممکنه نه وي چې د هغو ټولو فرقو نومونه چې په سوات کې شته کړه کړو. يو شمېر فرقې ډېرې خاصې حرفې لري او ښايي يوازې په سيمه‌ييزه توګه مونده شي، چې په داسې حال کې ممکن د دوی شمېر له څو کورنيو څخه تجاوز ونه کړي. لاندې لست د څلورو وړو کليو لکه سانګوتا، وريجو (Vorejo) بيها او نالکوټ د بشپړې سر شمېرنې او د منګوړه او ديګرام او تانې د سترو کليو د نامکملې سرشمېرنې له مخې جوړ شوی دی (دويمه ګڼه نقشه وګورئ). د جارو کښانو فرقې له دوو تنو څخه پرته چې روشنفکرو کسانو له پيښور څخه د دې لپاره راوستلی و. چې دوی له يوه پنځه زره کسيزه کلي څخه د حاجت د قضا لپاره بهر تللی نه شول، په دغه لست کې نورې ټولې هغه فرقې شاملې دي چې د معلوماتو د راغونډولو لپاره له هغو سره په تماس کې شوی يم:

د حضرت محمد (ص) اولاده	سيدان
د ستانه‌و د ښلو ښلو درجو خاوند کسانو اولاده	صاحب زاده
	ميا
	پير زاده
	اخوند زاده
مځکوال قبايلي خلک	مځکوال، پښتون
مذهبي لارښود	ملا
دکاندار	دکاندار

۲۴. د دغه ډول طبقاتي نظام د زيات تحليل لپاره بارت (۱۹۵۹) وګورئ.

کچر والا	پراچه[۲۵]
بزګر	کروندګر (زمیندار)
زرګر	زرګر
خیاط	څرخه مار
ترکان	ترکان
پښ	انګر (اهنګر)
کلال	کلال
نداپ	لنداپ
تیل ایستونکی تیلي	
قصابي	کسابي
موچي	موچي، چمیار
جولا	جولا
زراعتي کارګر	دهقان
پوونده	ګوجر (چې یو شمېر یې په پښتو خبرې نه کوي)
جاله‌وان	جاله‌وان
موسیقي غږونکی او نڅاګر	ډم
دلاک	نایي
دوبي	دوبي
نڅاګر او پرویځي جوړونکی	شاه خیل – کشکول

په اوسني حالت کې کاست څکه ارزښت لري چې د ډلو د رتبوي مراتبو سلسله (رتبوي هیرارشی) او د هغو ترمنځ په سیمه‌ییزو ټولنو کې اړیکې بیانوي. په سوات کې د فرقو د پرتلیزې دسته بندۍ مساله یو څه بحث ته اړتیا لري.

په لومړي سر کې دا باید په ډاګه ووایم چې زه یوازې د دنیایي دریځ (موقف) او درجو سره سروکار لرم، د مذهبي درجه بندۍ هغه سیستم چې په هندوانو کې موجود دی، په اسلامي چوکاټ کې هیڅکله هماغه مفهوم نه لري. دا د دې معنی نه ورکوي چې اسلام ناپاکې ته کتنه کړې نه ده، بلکې د اسلام له نظره ناپاکي فزیولوژیکي یا جسمي اعمالو لکه د حاجت قضا، زنا او مړینې څخه پیدا کیږي. څرنګه چې ټول افراد د دغو

۲۵. په څینو سیمو کې د سوداګر او بنجاره په معنی استعمالیږي.

ناپاکو منابعو په اساس په یوه شان رټل کیږي او هم لکه چې پاکي د پاکو مذهبي اعمالو په واسطه پیدا کیږي، نو په اسلام کې ناپاکي په څرګنده توګه ټولنیزې ډلې د مذهبي مراتبو د سلسلې په څېر نه ښکاري، سره د دې هم په پښتنو کې تمایل شته چې دنیایي درجه د «پاک» او «ناپاک» مخالفو عبارتو په اساس وټاکي.

له دې امله داسې یو نوم او مورد نشته چې د هغو له مخې ټولې ډلې د مراتبو په یوه مستقیمه سلسله کې تنظیم شي. په بدل کې یې یو ډول نیمه خپلواک معیارونه شته چې د ښکلو ټولنیزو ډلو دریځونه د مراتبو په سلسله کې څرګندوي. که چېرې پورتنی لیست ته د دریو معیارونو یعنې شتمنی، سیاسي تسلط او پاکی له پلوه وګورو، نو په اسانۍ سره کیدلی شي چې د فرقو ترمنځ توپیرونه د مراتبو د سلسلې له مخې په اسانۍ سره پیدا کړو.

ځینې کسبونه په جوته توګه نامطبوع (ناپاک) بریښي، ځکه د هغو ترسره کونکی د نورو یا خپلو د مدفوع موادو سره ارتباط مومي. د جاروکښانو په برخه کې دا ناپاکي (نامطبوعیت) دومره زیات ګڼل کیږي چې دغه شغل په پښتنه ټولنه کې ځوک نه مني. دغه راز د نایانو او د وبیانو کار چې د ویښتانو په سمولو، د نوکانو په پرېکولو او د ماشومانو په زیږیدلو پورې اړه لري، واضحاً نامطبوع (ناپاک) دي. د پرویځي او تسمې جوړونکو (موسلیانو) دریځ چې د ځارویو له کولمو سره یې کارونه ترلي دي او د نخاګرانو دریځ چې له ناولو نخاګرو پرته دا نور ټول یاد شوي کسبونه «ناپاک» او خاوندان یې په ډېر ټیټ اقتصادي قشر پورې اړه لري او د هیڅ ډول سیاسي خپلواکۍ ځښتن نه دي، له دې امله دغه ډلې د ټولنیزو پوړیو له پلوه په ټیټه پوړۍ کې ځای لري.

تر هغو پورې چې د مراتبو د سلسلې پاسنۍ پوړۍ ته لا انسان رسیدلی نه وي، نو د پاکۍ معیار دومره څرګند توپیر نه کوي، خو کله چې انسان د مراتبو د سلسلې وروستي حد ته نږدې شي، نو د پاکوالي معیار په ښکاره توګه بدلون مومي او په دې ځای کې د ستانه و او ساداتو تقوی ته د عقیدې له پلوه د هغوی دریځ له عادي خلکو څخه بیخي بیلیږي. منځنۍ ډلې یوازې د شتمنۍ او قدرت په اساس له یو بل څخه توپیر مومي. له دغه لرې څخه قبیلوي مځکوال یعنې پښتانه د نورو لپاره د سیاسي سرپرستانو حیثیت لري. په دې اساس له ستانه و څخه پرته دوی له نورو څخه لوړ دي. مذهبي مشران او ملایان عموماً میراثي مځکې نه لري، خو د امامت په وخت کې کیدای شي چې د جوماتونو وقفي مځکې تر خپل کنترول لاندې راولي. دکانداران او تر یوې اندازې پورې کچروالا د شتمنۍ د ډېرولو په اساس د لوړ مقام څښتن ګرځیدلي دي. هغه بزګران چې د نورو په مځکو کې دهقاني کوي او له کارګرانو څخه فرق لري، معمولاً د یو څه وسایلو خاوندان دي. دوی که څه هم په عادي توګه ځمکه نه لري خو غوایان، تخم او د کرنې وسایل په لاس کې لري. له دې امله دا ډله لږه اندازه له کسبکارانو څخه لوړه بریښي. د دغې خبرې دلیل دا دی چې دوی زیاتره له پښتنو سره ورته دي او خپله شجره پخوانیو فاتحانو ته رسوي، مګر دغه توپیرونه په عملي توګه ډېر ارزښت لري[۲۶].

د مراتبو د سلسلې د مقام په مورد کې د نظریو اختلاف هغو توپیرونو ته ورته والی لري چې د قشرونو ترمنځ شته او د فرقو د ډلو اختلافونه را په ګوته کوي. د مثال په ډول، د بزګرانو او ترکانانو ترمنځ اړیکې محدودوي او د دوی ترمنځ تفاهم په دې سبب چې هر یو مقابل لوری له خپل ځان سره برابر نه ګڼي، ډېر لږ شوی دی. له دې امله د زیاتو تنظیم شویو حرفوي کاستو (فرقو) یوه پیچلې بڼه منځ ته راځي چې هر یوه فرقه له بلې څخه د مراتبو د سلسلې د توپیرونو او نورو موانعو له پلوه جلا کیږي. د پښتنو په منځ کې د دغو ډلو درک کول، د هغوی د افرادو ټولنیزې اړیکې محدودوي او رهنمایي کوي.

۲۶. په وړاندې جدول کې ما له جاله وان څخه وروسته او له بزګرانو څخه وړاندې زرګران راوړي دي. د دغه کار علت دا دی چې په هغو کلیو کې چې احصایه ترې لاس ته راغلې، هلته دغې ډلې د مځکوالو په څېر یوه ټولنه جوړه کړې ده.

دغه موضوع د واده په برخه کې په جوته توګه ځرګندیږي، په داسې حال کې چې تعاملي مفکوره که له یوې خوا په واده باندې کوم قید نه ږدي، خو له بلې خوا د سیالانو ترمنځ واده هڅوي، حتی د دوی ترمنځ دا منلې شوې خبره ده چې ښځې له ټولنیز پلوه د جګو دریځو (موقفو) افرادو ته ورکړل شي. د یوې ښځې خپلوانو ته دا ډېره له شرمه ډکه خبره ده چې هغه د ټولنیز موقف له لحاظه ټیټ کس ته په واده ورکړي. لاندنی لومړی ګڼه شکل هغه ټولې اړیکې ځرګندوي چې د سوات د ځلورو وړو کلیو د موجودو ښځو او میړو ترمنځ لیدل کیږي:



په داسې حال کې چې په دې شکل کې زیاتره ودونه د خپل ترمنځ ښودل شوي دي، خو هغه هڅې چې ښځې دې د جګو ټولنیزو دریځونو خاوند ډلې خواته ولاړې شي، په جوته توګه نه ځرګندیږي. د دغې خبرې دلیل تر ډېرې اندازې لکه چې پورته مو وویل د فرقو د مراتبو د سلسلې د نشتوالي پر بنسټ ولاړ دی. له دې امله د ښځو ودول هغو افرادو ته چې د هغو له فرقې څخه یې فرقه‌یي مقام لوړ وي، د مثال په ډول د بزګرانو او یو لړ حرفوي فرقو او یا د خوارو پښتنو یا ملایانو او شتمنو بزګرانو ترمنځ واده د نسبي ګڼه شکل کې (Hypergamy) هم واده زیاتوالي لکه چې په لومړی برابرۍ ښکارندوی دی. د دغه ډول ښودل شوی دی، د ملایانو د فرقې د نارینه او د ستانه د فرقې (په اتو حالاتو کې) او د پښتنو د فرقې (په یوولسو حالاتو کې) د ښځینه ترمنځ د یو لړ ودونو له امله ځرګندیږي. دا باید یاده شي چې د سر شمېرنې په جمعیتونو کې د ځمکه لرونکو ملایانو یوه ستره ډکه شته چې په هغې کې د (۱۹) ودونو له لړ څخه (۱۷) ودونه یې د دوی او سترو محکوالو او ستانه و د فرقې ترمنځ ترسره شوي دي. دغه ډول ودونه د هغوی د ترسره کوونکو په نظر د برابرو افرادو ترمنځ اټکل کیدلی شي (ځلورم څپرکی وګورئ) او په دې ډول د فرقې په دننه کې د واده کولو او له فرقې څخه لوړې فرقې ته دودولو مفکوره موجودیت پیدا کوي. داسې تمایلات چې د خپلوی اړیکې دي یوازې د فرقې په دننه کې تمرکز ولري، دومره قوي دي چې پښتانه فرقې د «کورنیو مفردیي نسب» په حیث ګڼي.

فرقې د سیمه‌ییزو ټولنو بڼه ځانله نه غوره کوي. په لومړي پړاو کې فرقې میراثي حرفوي کټګورۍ ګڼلی کیږي او له دې امله په اقتصادي لحاظ په یوه بل باندې تړلي او د ضرورت له مخې جوړې شوي دي. لکه چې په وروستي څپرکي کې به هم جوته شي، اقتصادي سازمان په عمومي توګه د فرقې د ساختمان د ارزښتونو تطبیق کول را په ګوته کوي یوازې په هغه صورت کې چې په یوه سیمه‌ییز جمعیت کې د یو ضروري حرفوي ساختمان او د هغې د فرقې ترمنځ توپیر موجود وي، د میراثي حرفې او حرفوي واقعیت ترمنځ اختلاف منځ

ته راځي. په دغسې حالاتو کې که د فرقې د غړیو له خوا مربوطې حرفې نه ترسره کیږي، نو دا ډول حرفې د نورو هغو افرادو فرقو ته ورکول کیږي چې شمېر یې زیات وي. د مثال په ډول د بیها په کلي کې داسې ځمکه لرونکي افراد شته چې یو شمېر یې په پښانو، یو ډله یې نداپانو، یو شمېر په بزګرانو یا د هغو په ځېر نورو پورې تړلې دي او په دې توتو مځکې خاوندان زیاتره په خپلو مځکو کې پخپله کار کوي. له دې امله دلته د زراعتي فرقو زیات شمېر غړي موجودیت لري هغه بزګران چې له خپلې فرقې سره سم کار پیدا کولی نه شي، مجبور دي چې نورو حرفو ته لاس واچوي. دوه تنه بزګران د ګنډونکو په توګه کار کوي. د دغو توپیرونو سره سم بیا هم د فرقې او حرفې ترمنځ توافق په ځینو حالاتو کې د هیښتیا وړ دی. د دغه حقیقت په منلو سره چې د ملایانو لپاره کرنه او سوداګري (د ډوډۍ د پیدا کېدو دوه پیژندل شوې وسیلې د امامت ترځنګ دي) د منلو وړ کار نه دی (پنځم ځپرکی وګورئ). هغه کسان چې زما د ساحوي ځېړنې لاندې په ځلورو کلیو کې په کار لګیا دي او د دوو حرفو له فرقې سره سمون نه لري، شمېر یې په سلو کې شپاړسو ته رسیږي.

د میراثي فرقو او ځوانو حرفو ترمنځ هغه وخت د توافق درجه لوړیږي چې په فرقه کې د بدلون لپاره سخت مقررات موجود نه وي او د تحرک لپاره ازادي ورکړل شوې وي. د سوات خلک په دې حقیقت پوه دي چې د یوه کهول فرقه د بدلیدو وړ ده. سړی کولی شي داسې ځرګندونې لکه: «دوی پخوا پوونده و خو اوس بزګران دي»، «هغوی اصلاً پښتانه و، خو ځمکه یې وخوړه او اوس پښان دي». دا ډول بدلون او تحرک یوه سسته عملیه ده، که د یوه ملا زوی په ترکانۍ بوخت شي، نو دی بیا هم تل د ملایانو له فرقې د یوه فرد په توګه ګڼل کیږي. دغه راز د ده زوی به هم د ملایانو له فرقې ځخه وشمېرل شي. خو له هغې ځخه وروسته معیار په ښه توګه تراوسه پورې تعریف شوی نه دی. ښایي په دریم نسل کې یو ترکان چې پلار او نیکه یې هم ترکانان وي، د یوه ترکان په حیث وګڼل شي، مګر دا چې ده د خپلوی او سیمه‌ییز دریځ (موقف) له مخې د ملایانو سره خپلې اړیکې د تل لپاره ټینګې ساتلې وي.

نوې فرقې په مشابه شکل سره ډګر ته راوځي. یو ډول ځپلې چې ځلویښت کاله وړاندې په کوهاټ کې د یوه موچي له خوا جوړې شوې وې، نن ورځ په سوات کې د نارینه‌و لپاره د ځپلیو په زړه پورې ډول دی چې زیات خلک یې په پښو کوي. د دغو ځپلیو جوړول یو قدرمن کار او کسب ګڼل کیږي او له عادي موچیتوب ځخه ډېر زیات لوړ شمېر شوی دی. د دغو ځپلیو جوړول د منګوره په بازارو کې د ښلو ښلو فرقو د افرادو لخوا مخې ته ځي. ماته وویل شول چې دغه کسب او حرفه دومره نوې ده چې تراوسه پورې په یوه ځانګړې فرقې پورې تړل شوې نه ده، خو په دې مورد کې هیڅوا شک نه درلود چې دا حرفه به د ګنډونکو په ځېر چې یوازې اویا یا اتیا کاله وړاندې د ګنډلو د ماشین په رسیدو سره د یوې فرقې په توګه ځرګند شول، په یوې فرقې باندې واوړي.

د هغو شجرو اوږدوالی چې د ښلو ښلو فرقو د افرادو په یاد کې دی او د فرقو د رښتیاني عمر او د هغه وخت د اوږدوالي ترمنځ چې په هغه کې یوې ډلې د فرقې ښه ځانله غوره کړې، توپیر لیدل کیږي. د غوره حرفو خاوند فرقو لکه ترکانان، ټټاران مسګران او کلالان ټول داسې یوه ډله چې خپل نسب حضرت داودu ته رسیدلی بولي. د دوی په نظر نوموړي پیغمبر د ترکان لپاره اوسپنیز الات برابر کړل او له خپل زنګانه ځخه یې د سندان په حیث کار واخیست او په دغو الاتو سره یې د کلال ځرخ منځ ته راوړ. دوی ته حضرت داودu د یوه کلتوري اتل حیثیت لري. ده په دغه ډول سره وکړای شول چې نوي تخنیکونه اختراع کړي او خپلې اولادې ته یې ور زده‌کړي په جوته توګه د دغه نسب ثابتول بې‌دلیله ښکاري او یوازې د یوه سړي د ادعا ځخه زیات څه کیدلی نه شي چې غواړي خپل ځان د حضرت داودu اولاده وبولي. د ده دغه ادعا زوی او اولادې ته بې له کوم ثبوت ځخه پاتې کیږي. دا خبره رښتیا ده چې د دومره اوږدو شجرو موجودیت یوازې پښتنو ته ارزښت لري، ځکه په فرقه کې د غړیتوب لپاره د مځکې د حقیقي مالکیت په ګډون یوه ګډ افسانوي جد ته نسب رسول

ضروري معيار ګڼل کيږي. ستانه و ته هم شجرې مهمې دي او بايد خپل ځانونه د حضرت محمدr او يا د يوه نامتو ستانه (ولي) د اولادې په حيث ثابت کړي، څو د زيارتونو له عايداتو څخه استفاده وکړای شي. له دغو دوو ډلو پرته د نورو لپاره د دغو شجرو په ياد لرل په ويښل شويو سازمانو (خيل ډوله ټولنو) کې کومه مرسته نه کوي، يوازې دومره اهميت لري چې په يوه خاص دريځ (موقف) کې د مستقيمو نيکونو د نسب د ثبوت لپاره تر ې کار واخيستل شي، يعنې محض د شجرې په توګه له هغو څخه ګټه واخلي.

لاندې به وګورو چې يوازې پښتانه او ستانه ستر سازمانونه لري[۲۷] نورې ډلې حتی د کلي په سويه هم له متحد يووالي څخه سوا ګټل کيږي.

د هندي فرقې ډوله کليو او سازمانو په خپر کوم شی په سوات کې نشته. دلته ټول قضايي او اداري صلاحيت د پښتنو او ستانه و د فرقې په افرادو پورې اړه لري. د ټکر په ټولو حالتونو کې (له هغه حالت پرته چې ډېر نردې خپلوان سره اخته وي) يو سړی خپل ځان د پښتنو يا ستانه و په سياسي واحدونو پورې تړلی ګڼي، نه دا چې په فرقه‌يي ډلو پورې ځان ونښلوي.

په ميراثي فرقه کې د غړيتوب لرلو په اساس، هر پښتون په عملي توګه د خپلې ټولنې په يوه ځانګړې کټګورۍ کې له کومې استثنی پرته يو خاص موقف (دريځ) ځانته غوره کوي. دغه انتساب تر ډېرې اندازې د يوه تن حرفه او کسب ټاکي، د ده د واده او خپلوۍ اړيکو ته جهت ورکوي، د ده هيلې تر يوه ټاکلي پراو پورې ټاکي او بالاخره هغه سياسي نقش تعينوي چې دی يې په ټولنه کې سرته رسوي. خو فرقه (کاست) سياسي يا قضايي متحد واحدونه نه ټاکي. په فرقه کې هر يو سړی ازاد دی چې د خپل غړيتوب لپاره هره ټاکلې سياسي، اقتصادي، تفريحي او يا د بل هر ډول عمل لرونکې ډله چې يې دی وغواړي ځانته انتخاب کړي. په فرقه کې غړيتوب يوازې د هغو دريځونو ساحه محدودوي چې يو سړی د هغې هيلې په زړه کې روزي. له دې امله د منطقوي چوکاټ ترځنګ، فرقه داسې اصول هم جوړوي چې د هغو پر بنسټ سياسي ژوند بنا کيږي.

پلرنی نسبي ډلې

د پښتنو او ستانه وو د يو اړخيزو نسبي اصولو يا د شوي خصلت او نقش يو څه بيان ته اړتيا لري، ځکه دا اصول د ټولنيز سازمان دريم چوکاټ ښيي. منطقوي نظام په محلي واحدونو کې ميشته افراد له يو بل سره ګډوي، په داسې حال کې چې فرقه دوی په هغو ډلو کې چې طبقاتي او رتبوي بڼه لري، سره غونډوي. له بلې خوا، يو اړخيز نسبي نظام هر پښتون، ستانه او په نتيجه کې د دوی سياسي ملاتړو ته د يو خيل لرونکي نظام په يوه خانګړي دريځ کې ځای ورکوي. سره د دې هم چې نسبي ډلې متحدې سياسي ټولنې نه دي، خو بيا هم په هغو کې غړيتوب لرل سياسي انتخابات اغيزمن کوي. زه به په لنډه توګه د دوی اړيکې د داخلي سازمان، د عضويت ډول او د دوی رسمي او شکلي جوړښت شرحه کړم. له سيمه‌ييزو ډلو سره به د دوی اړيکې په شپږم څپرکي کې تشريح شي.

د پښتنو په کورنيو کې نارينه ډېر اختيارات لري او د هغوی قدرت او صلاحيت په ټولو مواردو کې تر ښځو زيات دي. . . دی ټول ملکيت تر خپل تسلط لاندې ساتي او حق لري چې د خپل واک د ساتلو لپاره د مټو له زور څخه استفاده وکړي، دی حق لري چې د کورنۍ واحد وويشي او يا يې غړي د باندې وشړي چې دا کار د طلاق او يا ميراث څخه د اولاد د محروملو په واسطه ترسره کيږي، دا د ده څرګند حقوق دي. دا ضرور نه دي چې ووايو دا خصلت د پښتنو ترمنځ موجود وي، بلکې په نورو ځايو کې هم دغه خصلت ليدل کيږي. نور

۲۷. هغه بزګران چې له يوسفزيو څخه په مخکې قبيلوي ډلو پورې تړلي او هغه پوونده چې خپل خپلواک قبيلوي سازمان يې ساتلی، له دغه قاعدې څخه مستثنی دي.

افراد یا د خپلو حقوقو د اخیستلو توان نه لري او یا د خپلو حقوقو د اخیستلو ارزو نه کوي، داسې مېړونه هم شته چې د خپلو ښځو تر اغیزو لاندې ژوند تېروي، داسې پلرونه هم لیدل کیږي چې د زامنو تر تاثیر لاندې وي. که څه هم د نارینه‌و د صلاحیت او اختیار څخه د ناوړه ګټې اخیستلو د مخنیوي لپاره اغیزمن وسایل هم شته. خو سره د دې هم د هرې کورنۍ په واحد باندې نارینه مخصوصاً سپین ږیرۍ فرد تسلط لري. د نړۍ خپلوی له اړیکو څخه بهر په ټولو نورو اړیکو کې د کورنۍ لخوا نارینه وکالت نیولو کې چې د کورنۍ واحد ته مسؤلیت ور اړوي، نمایندګي یې د کورنۍ په نارینه پورې تړلې ده.

په پښتنو کې نسب په ټینګه توګه د نارینه په خوا شمېرل کیږي مور هیڅکله دا حق نه لري چې په خسرګنۍ او یا پلرګنۍ کې خپلو اولادو ته حقوق انتقال کړي. همدا شان، هغه په هیڅ ډول تولیدي وسایلو باندې کنترول نه لري. هغه ټولې په مېړه پورې تړلې ده او له هغو حقوقو څخه ګټه اخلي چې په مېړه پورې اړه لري. د مېړه حقوق زامنو او که یې زامن نه وي د هغه نړۍ خپلوانو ته لیږدي.

له دې امله په پښتنو کې په پلرني نسب باندې ډېر زیات ټینګار شوی دی. د هغه توپیر په نظر کې نیولو سره چې لنتن (۱۹۳۶) د نسبي او اکتسابي دریځ ترمنځ قایل دی، ویلی شو چې پلرنی نسب د انتسابي دریځ او حقوقو یوازینی اصل جوړوي. خو د پښتنې ټولنې سازمان په یوازینۍ او زیاته توګه په دغه پرنسیب باندې ولاړ نه دی. زیات شمېر دریځونه او حقوق په عمومي توګه د افرادو ترمنځ د دوو اړخیزو موافقو او قراردادونو په اساس ټاکل کیږي یا دا چې هغه اکتساب او لاس ته راوړل کیږي.

په کلتوري لحاظ د تعریف شوي منظور لپاره یو اړخیز نسبي نظام د یو اړخیز توارث او د اولادونو د برابر ګټلو په بنسټ باندې ولاړ دی. دغه دوه عناصر د سوات د پښتنو ایدیالوژي په چوکاټ کې چې پلار او نیکه ته د ژور درناوي لارښوونه کوي او د وروڼو ترمنځ یووالي ستایي، سره نغښتي دي. پلار ته درناوی د هغه د نوم په نه اخیستلو کې څرګندیږي (اولادونه د خپل پلار نوم نه اخلي. (مترجم). یو سړی په دې شرمیږي چې له خپل ځان څخه مشرانو او خپلوانو ته د دوی نومونه واخلي، دغه کار هغوی ته سپکاوی دی. د شجرو د ثبتولو په وخت کې پلار او نیکه ته داسې نومونه لکه ملک بابا یا بادشاه خان ورکړل شول. نورو کسانو هم په هماغه ځای کې مشرانو د نومونو د اخیستلو څخه احترام کاوه او حتی هغوی په هغه خونه کې چې د یوه کس زوی ناست و، ماته یې په پټه د هغه د پلار نوم وښود. د پلار اختیار او واک د ده په ټول ژوندانه کې موجود وي. د پلار او زامنو ترمنځ اړیکې تل رسمي وي له پلار څخه په څنګ کیدل او ده ته ژوره وفاداري او مینه تل منل شوي شیان ګڼل کیږي. له نیکه سره اړیکې له محبت څخه ډکې او صمیمانه دي. خو هیڅکله دغې اندازې ته نه رسیږي چې د سپین ږیرۍ حیثیت ټیټ او صلاحیت یې شکمن کړي.

د وروڼو ترمنځ د دوه اړخیز باور د موجودیت هیله کیږي. د اولاد د مشروالي (ارشدیت اصل) له حق سره یوځه تمایل په تېره بیا د رسمي دریځونو (موقفونو) د توراث په برخه کې لکه مشرتوب په پام کې نیول کیږي. د مشر او کشر ورور ترمنځ توپیر ډېر ځله څرګند شوی دی. خو د عمر په اساس امتیاز ډېر ژر د ځانګړې جذابیت او فردي لیاقت په اساس اغیزمن کیدلی شي. سره له دې چې هر یو زوی د واده له امله یوه ځانګړې کورنۍ جوړوي او د پلار د مړینې څخه لږ وروسته د وروڼو ترمنځ میراث ویشل کیږي، خو بیا هم سکه وروڼه هیڅکله د نورو په مخ کې له یو بل سره مخالفت نه کوي. خو د ناسکه وروڼو ترمنځ اختلاف له کلیوالو څخه یو هم پټ پاتې کیدلی نه شي. د خپل تحقیق په وخت کې د یوې ورور وژنې له پیښې سره مخامخ شوم، خو د پلار وژنې له هیڅ یوې پیښې سره مواجه نه شوم. د ورور وژنې پېښه یوه ویرونکې او غم لړلې پېښه وه. ماته د دوو وروڼو قبرونه وښودل شول، خو دغه مساله بیا راته هیڅ تکرار نه شوه.

دغه اخلاقي معيارونه د نسبي او قومي ډلو د ايديولوژۍ د ساتنې لپاره ضروري بريښي. په سوات کې يوه ډله کم پښتانه د خپلوۍ اصلاحات او وجايب داسې تصور کوي چې ګواګې دغه نومونه تر ليرې ور نيکه (ليرې جد) پورې رسيږي او معنی يې يوه اووه نسله پلرنۍ نسبي سلسله يا پيړۍ ده[۲۸]. خو دا يوازې تصور او خيال دی. ډېر زيات خلک د پيړۍ په خاصه معنی باندې نه پوهيږي. هيڅ ډول داسې هڅې نشته چې په دغه بڼه خپلې شجرې يا قومي مفهومونه ثبوت ته ورسوي. د دغو نومونو (ليرې ورنيکه، پيړۍ) يادونه له دې امله ارزښت لري چې د هغو په اساس په حقيقت کې له قومي افرادو سره د درناوي مناسبات او له هغو سره د يووالي ايديالوژي هرومرو خرګندېږي. (موږ د يوه پلار اولاده يو. پلار او نيکه مو سره يو دي. ليرې ور نيکه مو يو دی. له پيړيو راهيسې يوه خټه يو او په داسې نورو جملو کې د خپلوۍ ټينګتيا لپاره دا نومونه پکار شوي دي (مترجم).

خو د پلرنۍ او مورنۍ نسب د پرله پسې په باب در ادکلف براون (۱۹۳۶) د مقالې له خپرېدو څخه وروسته په بشر پوهنه کې دا تيوري عامه شوې ده چې يو اړخيزې نسبي متحدې ډلې يوازې د يوه ګډ ملکيت په ارتباط منځ ته راځي، يعنې کله چې د يوه نسبي واحد افراد په يوه شي کې ګډه ګټه ولري. هغه ارمانونه او هيلې چې مو پورته شرحه کړل د يوې نسبي متحدې ډلې د پرمختګ بنسټ جوړوي. خو دغه ډلې په حقيقت کې يوازې د يوه ډول ګډ ملکيت په اساس منځ ته راځي.

هغه ملکيت چې د هغه له پلوه افراد په پورته ډول حقوق پيدا کوي، ځمکه ده چې د سوات د پښتنو په زراعتي فيوډالي ټولنه کې د سياسي او اقتصادي قدرت غوره منبع جوړوي. که څه هم د مځکې لرلو حقوق فردي دي، خو مځکوال يې په نسبي ډلو کې د غړيتوب له لارې لاس ته راوړي. له دې امله د ځمکه والو نسبي ډلې مورِ ته د ډېر زيات ارزښت وړ بريښي. د پلرني نسبي ډلې لپاره ګډ نوم خيل دی. زيات شمېر خلک پرته له دې چې د دوی فرقه څه ده، کولی شي د هغه خيل نوم واخلي چې دی په کې غړيتوب لري. خو دا بايد ووايو چې له مځکوالو څخه غير نور خيلونه يوازې تش په نامه خيلونه دي او هغه شجرې چې دوی ته ورکړل شوي دي، محض تصوري او خيالي نسب نامې ګڼل کيږي. له دې امله د غير مځکوالو نسبي ډلو ګډ ملکيت موقتي او ارزښت وړ نه دی او يوه عنعنوي اړيکه له ټاکلي سيمې سره لري چې هيڅکله د بزګرانو غوندې په ځمکه باندې د قانوني حقوقو لرونکی نه دی. د نسبي کسبګرو او نسبي ډلو لپاره په يوه ټاکلې سيمه کې يو عنعنوي انحصار په قراردادونو او معاملو کې شته، خو د دغو حقوقو د خوندي ساتلو لپاره هيڅ ډول موثر وسايل په لاس کې نه لري، يا دا چې شمايي يوې غيرې پښتنې ډلې ته په دې چې په پخوا وختونو کې د ناوې يوه جنګيالی ډله وه، يو کم ارزښته نوم او نښان ورکړل شي. له دې امله ما له سواتي بزګرو څخه اوريدلي دي چې خپل يوسفزي لوی مځکوال سپکوي او په شپاړسمه پيړۍ کې د خپلو پلرونو بې‌کفايتي په جګړو کې غندي. که څه هم دا عقيده شته، خو سره د دې هم په غير مځکوالو کې منشعبې نسبي ډلې وجود نه لري.

د دې په خلاف په پښتنو کې دغه شان خيلونه ډېر پرمختللي دي د مځکې لرلو حقوق او د يوه ځمکه لرونکي حيثيت موندل د دوی په منځ کې د فتحې د عنعنو په اساس تصديقيږي او د پښتنو خيلې سازمان د فتحې له تاريخ سره ډېرې نږدې اړيکې لري. اوس د سوات يوه زياته برخه د يوسفزي پښتنو لخوا کنترولېږي. د يوسفزيو د اولادې لښکرې چې کابل يې پرېښود او د سوات نيولو ته يې هڅې وکړې، پيښور ته داخلي شوي او سوات يې د مغولي بابر د پاچاهي په دوره کې فتحه کړ.

د دغې فتحې او نورو قبيلوي غورځنګونو د مرحلو په باب زيات شمېر شواهد او مدارک موجود دي. په تېره بيا کله چې دوی پيښور او د هغه د شاوخوا پرته سيمه تر کنترول لاندې ونيوله (د سکانو تر فتحې ۱۸۱۸-۱۸۳۴

۲۸. د پکتيا ولايت د منګلو په سيمه کې پيړۍ په خاصه توګه يو شمېر همزولو او د يوه عمر خاوند کسانو ته وايي، د مثال په ډول وړه پيړۍ چې نابالغو کسانو ته راځي، زما د کاکا پيړۍ، زما د مشر ورور پيړۍ او نور (ژباړن).

پوري)، نو دا وخت يې د فارسي تاريخ ليکنې په عنعنه کې برخه واخيستله او زيات اثار يې منځ ته راوړل چې د هغو له لړ څخه اخوند درويزه د «يوسفزيو تاريخ» د شيخ ملي د سوات د فتحې او ځای په ځای کېدو بيان (دغه اثار او نورې منابع د راورتيې لخوا رانقل شوي دي. (۱۸٦۰) د افضل‌خان کليد افغاني چې د يوسفزيو لنډ تاريخ دی، په پلودن (۱۸٦۰) کې شته دی. د شجرو په باب هغه معلومات چې په دغو اثارو کې راغونډ شوي او زياتره په شفاهي منابعو ولاړ دي، دريجوي او نورو لخوا په انګريزي ترتيب او چاپ شوي دي. په سوات کې ډېر لږ داسې پښتانه شته چې د دغو شجرو په باب له يوسف ځخه پورته معلومات ولري. دوی زياتره له هغو منابعو او اسنادو څخه چې په پښتو، فارسي، اردو او انګريزي ژبو کې شته، خبر دي. د شجرو پاسنی برخې ته يې تل په دغو منابعو حواله راکړې ده. ماته ويل شوي دي چې د نومورو اسنادو ليکوالو د حقايقو په راټولولو کې زياته هڅه کړې او ماته به دا بې‌ځايه وي چې خپل وخت د هغو د راغونډولو په باب ولګوم.

د دغې تاريخي عنعنې شته والی او په هغې پورې مربوطو نظريو د شجرې د جدولونو په معنی باندې په نسبي سيستم کې ډېره زياته اغېزه کړې ده. په زياتو بې‌سوادو ټولنو کې يو ارخيزه شجرې د اوسنيو ډلو ترمنځ فاصله څرګندوي. خو حقيقت دا دی چې د ټولنيزو حقايقو د شعوري تنظيم لپاره د شجرو بيا سمول ضروري بريښي (بوهانان، ۱۹۵۲، ۳۱۰). داسې معلوميږي چې په پښتنو کې شجرې دوه غوره او له يو بل څخه جلا نقشونه لري: دا شان شجرې د مراتبو د سلسلې د منشعب خصوصيت په اصلي او فرعي ځانګو کې په داسې رنګ بيانوي چې په خيلي نظام کې وجود لري. په همدا شان دغه شجرې د ليکل شوي تاريخ زماني تسلسل هم څرګندوي او د فتحې تاريخ او د مهاجرت لپاره يوځه کرونولوژي راښيي. په لومړي معنی شجرې هيڅکله پای نه لري. د بد ليدونکي ټولنيزې صف بندی د څرګندولو لپاره يو ساده مفهوم برابروي چې صحيحتوب معيار يې يوازې د ټولنيز سازمان سره په توافق کې څرګنديږي. مګر په دويمه معنی شجرې د يوه مطلق معيار بڼه لري. د ليکلي تاريخ پېښې د بدليدو وړ نه دي. د دغو پېښو او د سوات د عنعنوي شجرو ترمنځ توافق په پرله پسې شفاهي روايت کې ساتل کيږي. حتی د ژورو تاريخي منابعو په مطالعه سره زياتره تېروتنې سميدلې شي. د معلومات ورکونکو پرله پسې ټينګار چې زه بايد تاريخي منابعو ته مراجعه وکړم، دغه احساس په ښه توګه څرګنديږي.

نوټ

په څلور څلويښتم مخ کې دويم شکل د يوسفزيو شجروي اړيکې او د نسب په باب او د ښلو ښلو پلرونو او زامنو او خيلونو او د تاپې د ځينو پښتنو د مفصلې شجرې په ګډون معلومات راخرګندوي. او دغه چارت ټول خيلونه راښيي.



دويم شکل: د يوسفزيو شجروي اړيکې، د تاپې د ځينو پښتنو د مفصلې شجرې په ګډون.

له دې امله د یوسفزیو پښتنو شجرې (۲-۴ شکلونه) دوه جلا شیان څرګندوي چې په عین زمان کې له یو بل سره مخالف وي. داسې ادعا کیږي چې شجرې د پلرونو او زامنویو رښتیانی لست دی او په عین حال کې فکر کیږي چې هغه د ژوندیو کسانو د ډلو ترمنځ ساختماني اړیکې جوتوي. داسې یو روایت شته چې له حرفوي فرقو څخه پرته تقریباً لس ملیونه پښتانه[۲۹] له یو ګډ نیکه څخه چې عبدالرشید نومیده پیدا شوي دي. امکان لري چې د مستندو او شفاهي منابعو په اساس یوه هر اړخیزه شجره برابره کړو (پلودن ۱۸۷۵، ۳۰۹مخ وګورئ).

دویمه ګڼه شکل د سوات په غوره سیمو کې (چې د نومونو لاندې یې په شکل کې کرښې ایستل شوي دي) د یوسفزیو د نسبي ډلو شجرې تر نیکونو پورې څرګندوي. همدا شان دغه شجره د ملکنډ په ایجنسۍ کې د تانې د کلي تر ننني نسل پورې کښته راځي. له شک پرته کیدلی شول چې د ورکړل شویو نومونو په منځ کې څو منځنۍ نسلونه د ژورو معلوماتو په راټولولو سره زیات شي. د هغو خلاو څخه یوه یې ماته د بازی او حمزه خان د نومونو ترمنځ څرګنده شوه چې معلومات ورکوونکو یې ځینې نومونه په یاد راوړلی نه شول. د دغو موقتي نیمګړتیاو څخه پرته شجره اساساً د نردې پلرونو او اجدادو د څرګندولو لپاره یو سم کرونولوژیک لست ګڼل کیږي.

که څه هم په ځمکه باندې د مالکیت سیستم د سترو نسبي ډلو ترمنځ اړیکې ټینګې ساتي، خو بیا هم یو لړ تغییرات او ګډوډۍ پرته له دې چې په ورته توګه په شجره کې بدلون راشي، په کې پیښیږي. له دې امله د تانې په کلي کې داسې ځمکه لرونکي نسبي ډلې شته چې په شجره کې ځای نه لري. په تانه کې دا ډول اوه ډلې لیدل کیږي چې په دویم شکل کې په غټو تورو لیکل شوی دی. خان کور، بازی خیل، باباخیل، شاه احمد خیل، کټور خیل، کنده خیل او علي خیل داسې ډلې دي چې د زور له پلوه له یو بل سره یو شان نه دي او په ځانګو کې یې هم توپیرونه موجود دي. خو هغوی په رتبه او مقام کې سره یوشان تصور کیږي. یوه اتمه ډله چې جمبل خیل نومیږي په شجره کې داخله شوې نه ده. په سیاسي لحاظ دا ډله له نورو سره یوشان ګڼل کیږي، خو اصل او نسب یې جلا دی. ځکه دوی د هغې ډلې تر کاڼانو زامن دي چې دوه سوه کاله مخکې یې په جګړه کې میړانه ښکاره کړه او دوی ته د پښتنو محکې او دریځ ورکړل شول.

د سیبوجنی د پښتنو نفوس (لومړی نقشه وګورئ) هم د شجرې له پلوه ګډ دي. سیبوجنی دوه غوره ځانګې لري چې سیبت خیل او جوته خیل دي. لومړی یې د بالول خیلو، سیانه خیلو او شمه خیلو په وړو ځانګو او دویمه یې د نظر خیلو، زنګي خیلو او رنزو خیلو په فرعي ځانګو ویشل شوې ده. بیلیو (۱۸۶۴) داسې ښودلې ده چې دغه خیلو نه د سیبت خیلو او جونه خیلو پاتې اولاده ده. سره د دې چې په ساختماني لحاظ دا موضوع سمه بریښي، خو له عنعنوي شجرې سره توافق نه ښکاره کوي او معلومات ورکونکي دا توان نه لري چې د یوه ګډ نسب د لرلو ادعا وکړي. هغه نظر چې دوی په دغه برخه کې وړاندې کوي او په تاریخي لحاظ سم دی، هغه دا دی چې جونه خیلو (په اصل کې شینواري) او بالول خیلو (له افغانستان څخه) په ګډه له یوسفزیو سره د سوات په نیولو کې مرسته کړې ده. په بدل کې دوی دواړو ته د سیبوجنی سیمه ورکړل شوه. په وروسته وختو کې بلول خیلو شمه خیل چې په اصل کې ترکاڼي او سیانه خیل (په اصل کې ستانه) د دې لپاره د ځان خواته راوبلل چې د جونه خیلو د ورځ په ورځ ډېریدونکي نفوذ مخنیوي وکړي.

دا خبره باید یاده کړو چې افسانوي شجرې د دې لپاره غوره شوي نه دي چې دغه ډول ټولې نیمګړتیاوې پټې کړي. سره د دې چې د یوسفزیو په نسبي جدول کې د پښتنو ټولې سیمه‌ییزې ډلې لکه چې په لاندې کرښو کې به یې بیان ګورو، داخلي دي، خو بیا هم د تانې د جمبل خیلو او د سیبوجنی بېلې بېلې ډلې که څه هم د

۲۹. وروستی بین‌المللي سرشمېرنې دغه شمېر اوس له شلو ملیونو څخه زیات ښیي(ژباړن).

پښتنو په شان بشپړ حقوق لري، په دغه جدول کې ورته ځای نشته. د دې په ځای چې شجرې د دوو پورتنیو استثنایي حالاتو په اساس تردید شي، داسې بریښي چې د پښتنو د دغې ادعا په اساس چې شجرې قطعاً ادغام نه مني او په منځ کې یې کومه برخه له منځه نه ځي، لاتائیدیږي.



دریم شکل

خو مور زیاتره د لویو نسبي ډلو فرعي ویش ته پاملرنه کړې او د هغو له لږ څخه هغه ډلې باید په تفصیل سره بیان کړم چې زما د څېړنې په ساحه کې واقع دي[۳۰].



څلورم شکل

۳۰. هغه شمېر چې لاندې یې په ورته اشاره وشي، زما او زما د معلومات ورکوونکو لخوا د یوه اټکل له مخې برابر شوي دي. د کلیو او کورونو شمېر د نقشو، سیمه‌ییزې کتنې، او د ځایي (بومي) خلکو په اټکل ولاړ دي. د مخکوالو او بزرګرانو تناسب د هغې سرشمېرنې له مخې چې په یوه یا دوو کلیو کې د ځایي خلکو د اټکل له مخې ترسره شو، موندل شوي دي. د هغو کسانو زیات شمېر چې دلته یاد شوي، د بالغو نارینه‌و په شمېر پورې اړه لري له یوې خوا د معلومات ورکوونکو لخوا په ډاډه توګه څرګند شوي او له بلې خوا د نارینه‌و شمېر د پلرنۍ نسبي چوکاټ له پلوه د څېړنې لپاره ډېر زیات ارزښت لري. د سوات د ټول دولت لپاره د هغه دولت د رسمي اټکل څخه زیات چې ټول نفوس یې (۵۵۰۰۰۰) تنه ښودلی دی، نور هیڅ داسې ارقام نشته چې د نفوس ټول ډولونه وښیي. نو له دې امله په متن کې ځای شوي ارقام یوازې د نومورو ډلو د اندازې ښودلو لپاره ورکول شوي دي.

په پورتني شکل کې تانې او د هغې د شاوخوا کلیو د پښتنو ننني ویش ځای شوی دی. تانه د خپل شاوخوا کلیو په ګډون (۲۰۰۰۰) تنه اوسیدونکي او یا (۵۰۰۰) تنه نارینه لري چې له هغو څخه (۵۰۰) تنه یې پښتانه او پاتې یې په دوی پورې پیلي دي. د سیبوجني د سیمې ټول نفوس (۷۰۰۰) تنه دي چې له هغو څخه (۱۸۰۰) تنه یې پښتانه دي.

نکبي خیل تر یوې اندازې ستره ډله ده چې د (۴۰۰۰۰) اوسیدونکو او یا د لس زره نارینه‌و افرادو لرونکې سیمه کنترولوي. له دغه لړ څخه (۲۰۰۰) د نکبي خیلو دپښتنو د نسبي ډلې غړي او پاتې یې په دوی پورې سیاسي پیلي شوي دي. غلي خیل د ویش په دریمه سطحه کې دوه سوه تنه نارینه لري چې پنځو یا شپږو کلیو د پښتنو خیل برابروي. د دغو کلیو د بالغو نارینه‌و ټول شمېر زر تنه دی. غلي خیل په ځلورو ځانګو ویشل شوی او هره یوه یې له شلو څخه پنځوسو پورې نارینه لري. د دغو ځلورو ځانګو هره یوه په زیاتو کورنیو ویشل شوې ده. په هره کورنۍ کې بالغ وروڼه او د دوی ماشومان او یا د تره بالغ زامن او حتی ځینې وخت د تره د زامنو زامن او د هغو اولادونه ژوند کوي.

د سوات د ناوې په تاریخ او اقتصاد کې یوازینۍ ستره ډله بابوزي (Babuzai) دي چې د (۵۰۰۰۰۰) په شاوخوا کې وګړي لرونکي سیمه کنترولوي. په دغه سیمه کې د پښتنو تناسب ډېر او زرو تنو بالغو یا نارینه بابوزیو ته رسیږي. دا کار او معروف ځانګې سره ګډې شوې دي نو له دې امله د بابوزیو لومړنۍ ځانګې ځلور دي: بامي خیل اکا، معروف خیل، اباخیل او برات خیل. د جوړښت له مخې معروف خیل د اکاخیلو له یوې ځانګې سره برابر دي. دغه ځانګې بیا په خپل وار سره په ډېرو نږدې نسبي ځانګو (بالغو وروڼو او سکه د ترو زامنو) سره چې په هره یوه وړه ځانګه کې یې شمېر نامعلوم دی، ویشل شوي دي.

نو له دې امله د پلرني نسب یوه بشپړه شجره د سوات د ناوې د پښتنو نږدې ټولې کورنۍ په ځان کې راغونډوي او داسې یو سیستم ځرګندوي چې په هغه کې ډلې او وړې ځانګې په یوه رسمي او خاص چوکاټ کې ځای شوی وي. هیڅ یوه داسې وسیله نشته چې د هغې له مخې په دغه سیستم کې پردی جذب شي. د یوه شخصي مقام په دغه سیستم کې په ځرګند ډول د پلرني نسب په واسطه تعریف او تعیینیږي. خو دغه عملیه برعکس کیدلی شي. یعنې دا چې هغه افراد چې مځکو لرونکو پښتنو په نسبي ډله کې پیدا شوي دي، ښایي خپل غړیتوب په ډله کې له لاسه ورکړي. دا پېښه هغه وخت کیږي چې هغوی د مځکې په ګډ ملکیت کې خپلې وندې له لاسه ورکړي. غړیتوب په قبیلوي مځکو کې د میراثي برخې لرلو تابع دي. که ځمکه له لاسه ووځي، نو برخه په میراثي ځمکه کې ورکه کیږي او یو فرد او یا پلرګنۍ د مځکوالو په نسبي ډله کې د خپل غړیتوب دریځ له لاسه ورکوي. دغه عملیه به په شپږم څپرکي کې د مځکې د کرنې په سیستم کې په جوته توګه بیان شي.

خو دغه مساله د یوه نسبي سیستم ظاهري جوړښت ته تغییر نه ورکوي د پلرني نسب شجره هر یو پښتون په یوه ثابت دریځ (موقف) کې په ځای دروي. داسې ویل شوي دي چې د سوات پنځمه برخه وګړي پښتانه دي. خو ځلور پر پنځه پاتې برخې نفوس هم په یوه عبارت په دغه سیستم کې ځای شوي دي. له ستانه‌و ځخه پرته نور ټول غیر پښتانه وګړي د یوې ډلې پښتنو سیاسي وابستګان دي. له دې امله په سیاسي لحاظ دوی له یوه پښتانه سره ترلې ګڼل کیږي او په نسبي شجره کې د دوی مقام له هغه سره مدغم دی. کله چې دوی چیرې سفر کوي، نو د خپل مشر پلرګنۍ د ځانګې نوم د خپلې قبیلې نوم په حیث یادوي او د هر ډول نورو اداري اهدافو لپاره دوی له خپلو حامیانو سره یوځای تصنیف کیږي. له دې امله د نسبي شجرې جدول داسې یو تسلسل لري چې په هغې کې ټول پښتانه او په هغو پورې ترلې کسان (وابستګان) یې د جلا ځانګو او ډلو لرونکي سلسلې (هیرارشي) په منځ کې په عین شکل په ځان کې شاملوي.

یوازې ببل ببل ستانه له دغه سیستم څخه بهر پاتې کیږي او خپل ځانته نسبي ډلې جوړوي. د دغه ډول نسبي ډلو ګډ ملکیت ځمکه نه ده، بلکې د دوی پلرني زیارتونه او د دوی بالذات واقعي نسب د هغوی ګډ ملکیت دی چې د هغو له مخې کولی شي د خپل لوړ مقام او خاص امتیاز غوښتنې ته اعتبار ورکړي او یا دغه ډول غوښتنه ورباندې ثابته کړي. سیدان باید یوه داسې نسب نامه وښیي چې د هغې له مخې د دوی پیژندل شوي نیکونه د حضرت محمدﷺ لور او زوم ته ورسیږي. د دغې نسب نامې اوږدوالی له (۲۵) څخه تر (۳۵) نسلونو پورې فرق کوي. هغه شجرې چې د سیمه‌ییزو پیژندل شویو ستانه‌و د اولادې ترمنځ اړیکې څرګندوي، زیاتره له شپږو څخه تر اتو نسلو پورې رسیږي او له دې څخه زیات اوږدوالی نه لري.

دغه ډول شجرې یوازې پخپله د ستانه‌و لپاره د ارزښت وړ وي، د دوی پیروانو ته خپلې نسب نامې غوره ګڼل کیږي.

هغه حالات او شرایط چې په هغو کې د پښتنو نسبي ډلې تنظیم شوي دي، د یو لړ نورو معلوماتو او موادو په وړاندې کولو سره به توضیح کړل شي. خو باید پردې ټکي باندې ټینګار وشي چې هغوی د سیاسي هدفونو لپاره په عادي ډول متحدې ډلې نه جوړوي، د مثال په ډول د سوات تاریخ په وروستۍ برخه کې هیڅکله سترې نسبي ډلې د جنګونو او یا د زور د استعمال په بل الت کې څرګندې شوې نه دي، د دوی اهمیت د مخکې د بیا ویش او د سیمه‌ییزو ټولنو په منځ کې د سترو غونډو د پرېکړو په برخه کې دی چې د سلا مشورو له لارې حاصلیږي.

څلورم څپرکی

همسایه‌توب، واده او خپلوي

په مخکې څپرکي کې درې اساسي سازماني چوکاټونه بیان شول چې د هغو له مخې د سوات وګړي په دریو ټاکلیو ډلو باندې ویشل کیږي: حوزوي چوکاټ، د میراثي فرقو چوکاټ او پلرنی نسبي جدولونه، مخصوصاً د پښتنو لپاره. په عمومي توګه ښایي وویلی شو چې د دغه هر یوه چوکاټ په منځ کې د یوه فرد دریځ د هغه د زیږیدنې د شرایطو په اساس ټاکل کیږي. دا خبره د دې سره سره چې جغرافیایي او ټولنیز تحرک او د نسبي ډلې د حقوقو د له منځه تللو امکان سیستم خړ پړ او بهاند (سیال) کوي، خو هر یوه فرد ته داسې معلومیږي چې هر یو پورتني چوکاټ تغییر نامنونکی دی. هغوی (چوکاټونه) داسې ډلې او کټګورۍ بیانوي چې هر وخت په دوه اړخیزه او متقابله توګه انحصاري دي. د سیاسي سازمان د تحلیل په ترڅ کې به دغه درې چوکاټونه داسې وګڼو لکه دمخه چې ټاکل شوی او جوړ شوی وي.

په دغه فصل کې موږ له یو لړ نورو اړیکو او مناسباتو سره سروکار لرو او دغه اړیکې سره د دې چې د یوه فرد د ژوند په پیل کې منځ ته راغلې وې، خو بیا هم ښایي د ده په شخصي اعمالو سره بدلون ومومي. دغه ډول اړیکې د ګاونډیتوب، انجمني یا مجمع ټولنیزې (Association)، خپلوۍ او واده اړیکې دي. هر یو فرد د پیدا کېدو له لومړۍ ورځې څخه د ګاونډیانو او خپلوانو د یو لړ ټاکل شویو او وضعه شویو اړیکو په منځ کې خپل ځای پیدا کوي، خو کله چې دی د ټولنې په ژوند کې داخلیږي، کولی شي په خپلو اعمالو سره د افرادو تصنیف اغیزمن کړي. د ده ملګرتیاوې د ګاونډیتوب خپل منځي اړیکې او د ده زیاتره د ژوندانه د غوره دودونو د ترسره کولو لپاره د سیمه‌ییز مجامعو یا انجمنونو (ټولنو) د خاصو مراسمو له لارې ټینګیږي. د پورتنیو یاد شویو چوکاټونو په ګډون د اړیکو دا ډول سیستمونه د سیاسي فعالیت بنسټ برابروي. خو په عین حال کې پخپله دغه سیستمونه د سیاسي پښنو او نقشو په اساس اغېزمن کیږي.

د تالتول انجمن یا مجمع (محلي ټولنه)

د اسلام دین د یوه فرد د ژوندانه په اوږدو کې د یو لړ دودونو ترسره کول لکه د زیږیدنې دود، ختنه، واده او د مړي تکفین او تدفین ضروري ګڼي.

د دغو دودونو، مراسمو او شعایرو یوه غوره برخه د هغو عامه او ولسي ماهیت دی چې د ډېرو علاقمندو ټولنیزو ډلو د غړو او استازو په ګډون سره سرته رسیږي. هغه کسان چې په دغو مراسمو کې ونډه اخلي، په سوات کې داسې متحدې مجامع، انجمنونه (محلي ټولنې) جوړوي چې د تالتول (Taltole) په نوم شهرت لري، مګر پخپله دغه مراسم د غم او ښادۍ په نامه یادیږي. زه به لاندې د دغو انجمنونو، مجامعو (محلي ټولنو) داخلي جوړښت د هغو فعالیتونو په ګډون چې په هغو کې ترسره کیږي، بیان کړم. د دوی سیاسي ارزښت د هغو د غړو ترمنځ له متقابلو اړیکو څخه منشأ اخلي.

په اصلي توګه دغه مجمع، انجمن (محلي ټولنه) د ګاونډیانو یو واحد دی چې زیاتره په هغه کې د یوې محلې ټول دایمي اوسیدونکي برخه لري په دغه مجمع یا محلي ټولنه کې د ښلو ښلو فرقو غړي راټولیږي او داسې افراد سره متحد کوي چې له یو بل سره د خپلوی هیڅ ډول اړیکې نه لري. دغه مساله د یوه جوت ارزښت سره تړلې ده. یو سړی باید د خپلې محلې په ټولو چارو کې خپل ګاونډیتوب او مثبته پاملرنه څرګنده کړي. د دودونو د عادي وجایبو او د خپلې ټولنې سره د قوي احساس د یقیني هویت ښودلو ترمنځ توپیر لیدل شوی دی. له دې امله که فرد د خپلې زیږیدنې له ځای څخه بهر په بل ځای کې میشت شي، د مثال په ډول که کوم نوی مځکوال سره د کار کولو له لارې په بل ځای کې ساکن شي بیا به هم د خپل پخواني انجمن (محلي ټولنې) د غړي په توګه پاتې شي، په حقیقت کې داسې فکر کیږي چې په دغه مجمع کې غړیتوب د پلرني نسب له پلوه لیږدي، په داسې حال کې چې په ساده ژبه وواینو په مجمع کې د سړي د کور شاوخوا کورنۍ شاملې دي. یوه مهاجره کورنۍ نوې محله د وخت په تېریدو سره د خپل کور په څېر ګڼي او د هغې د غړیتوب ټول وجایب په غاړه اخلي او له ښېګڼو څخه یې استفاده کوي.

دغه مسؤلیتونه او ښېګڼې عملي او تشریفاتي اړخونه لري، غړي باید د دغو مراسمو د تنظیمولو لپاره همکاري وکړي. همدا شان د هغو مراسمو د ترسره کېدو په وخت کې باید حاضر شي چې د نورو غړیو لپاره اجرا کیږي.

د دغو مراسمو ستر والی د هغه کس د کورنۍ له حیثیت او شتمنۍ سره اړیکې لري چې د هغه لپاره دغه مراسم ترسره کیږي، ستر مراسم د کورنۍ منابعو ته زیان رسوي نو له دې امله په دغسې وختونو کې د تالتول د غړو متقابله مرستې په دغه شان مواردو کې ډېر زیات د ارزښت وړ دي.

په خپله په زیږیدنه باندې دومره ډېر ټینګار شوی نه دی. یو ماشوم هغه وخت د ټولنې د فرد په حیث تبارز کوي چې د ده د ژوند په اوومه یا خلویښتمه ورځ د ده د ویښتانو د پرې کولو لپاره دیني مراسم په ځای کیږي. د ویښتانو له وزن سره برابر د سرو زرو په بیه خوارانو ته خیرات او صدقه ورکوي. دا مراسم د یوه پسه او یا اوزې په ذبحه‌کولو چې د محلې ټولنې د دیرشو یا خلویښتو تنو غړیو لپاره د اړتیا وړ خوراکي غوښه برابره کړلی شي تجلیلیږي.

په ختنه سوري (سنت یا هغه شی چې درست دی) کې هم زیات شمېر خلک راغونډیږي او په دغو کسانو کې د مجمع، انجمن (محلي ټولنې) د مربوطو کورنیو استازي شامل وي دغه عملیه (ختنه) د نارینه‌و لپاره ډېر ضروري شرط د اداء لپاره مذهبي پاکي حاصلیږي.

د واده دود په ځو پراوونو ویشل شوی دی، مجمع، انجمن (محلي ټولنه) یوازې د دغه دود وروستی دی ځکه چې په دغه ډول د لمانځه برخه یعنې هغه وخت چې ناوې د پلار له کور ځخه د زوم خونې ته وړل کیږي برخه اخلي. د واده مراسم د ناوې په کور کې د یو لړ خانګړو مقدماتي مراسمو ته اړتیا لري. یوه ډله خلک په خوشحالی سره د زوم د کور او حجرې په لور حرکت کوي او هلته تر یوې یا دوو ورځو پورې د خوښی مراسم روان وي د ناوې او زوم لخوا د مجمع یا محلي ټولنې له ټولو غړیو ځخه هیله کیږي چې په مراسمو کې حاضر واوسي هغه کسان چې د حاضریدو توان نه لري، باید په رسمي توګه اجازه واخلي او یو تن د خپل نماینده په توګه وټاکي د زوم د مجمع له ټولو غړیو ځخه هیله کیږي چې په خوږو، خدماتو او کارونو کې برخه واخلي.

د مراسمو د ستروالي له مخې جنازه له واده ځخه په دویمه درجه کې راځي د انجمن په غړیو باندې د جنازې د مراسمو اجبار د واده تر مراسمو هم زیات دي. سره د دې چې په دغه وخت کې د میلمه کولو او دعوت لپاره ډېر ټینګار نه وي، خو بیا هم د مړي د انجمن د غړیو لخوا د مراسمو برخه والو ته ترتیبات نیول کیږي. له دې امله د مراسمو په ترتیب کې مجامع یا انجمنونه د عملي او متقابلو مرستو دنده په غاړه لري د اړتیا وړ مراسمو د ترسره کولو په هره موقع کې چې فوري کمک لازم وي د انجمن نورې کورنۍ له مادي او هم د کار له لحاظه باید په مراسمو کې برخه واخلي. په دې وخت کې له ټولو غړیو ځخه هیله کیږي چې دغه شان مرستې ورکړي، خو د اړتیا وړ په برابري (مساوي) مرستې باندې ډېر ټینګار نه کیږي.

یوې شتمنۍ کورنۍ د خوارې کورنۍ په مراسمو کې تل له هغې وندې ځخه چې کمزورې کورنۍ دمخه ورکړي، زیاته وندې لرلې ده.

نایي یا ډم او د ده مېرمن (پنځم څېرکی وګورئ) په دغو ټولو مراسمو کې وندې اخلي دوی په حقیقت کې د ټول انجمن د خدمتګارانو په توګه ګڼل کیږي. دوی په ګډه سره مراسم او چارې تنظیموي. ډم د کور ځخه د باندې ټول فعالیتونه کنترولوي. ښځه یې د یوې واسطې په ډول د کور په دننه کې د یوازې شویو ښځو او نارینهو کړه وړه منسجم کوي ډم په هره یوه موقع کې د خپل خدمت په بدل کې د انعامونو او مشترکو سوغاتونو ځخه برخورداره کیږي. په همدا شان کله چې ملا ته ضرورت وي او کله چې هغه وجایب سرته رسوي هغه ته هم بخششونه او سوغاتونه ورکول کیږي. له دې امله دغه مجامع، انجمنونه (محلي ټولنې) دوه اړخونه لري: دوی د کوم یوه غړي په ژوند کې د ټولو همسایه‌ګانو د رسمي برخې اخیستنې د څرګندولو لپاره دي، دوی د متقابلې مرستې انجمنونه دي او داسې کسان لکه ډم د یوه عنعنوي مامور په حیث د مراسمو د اجرا لپاره ټاکي او دخپلو غړیو منابع راغونډوي. داسې معلومیږي چې دغه انجمنونه یا مجامع په دواړو حالتونو کې یو لړ جلا متحدې ډلې منځ ته راوړي، پښتانه زیاتره وخت دا ډلې همدغسې پیژني، څرنګه چې زیاتره ښځه او مېړه د پلار په محله کې ژوند کوي نو محلي انجمنونه زیاتره د سړیو له خوا د هغوی د همسایه‌ګانو او خپلوانو د ترکیب په صفت پیژندل کیږي.

دغه موضوع د پلرني نسب له ایدیالوژۍ سره ښه سمون لري او په دغه عمومي عقیده کې دا هم شاملیږي چې د تالتول غړیتوب د پلرني نسب له مخې میراث دی، خو دغه مراسم یوازې د پلرنۍ خپلوانو او همسایه‌ګانو علاقه‌مندي نه تشکیلوي. بلکې د زیږیدنې، ختنه، سوری، واده او مړینې مراسم د خپلوی د سیستم اصلي زړې او همدارنګه د هغوی د داخلي ژوند غوره پایې جوړوي، همدا شان د نسبي او سببي خپلوانو او همسایه‌ګانو ګډون په دغو پېښو کې ډېر زیات لیدل کیږي. د یوې انجلۍ واده کېدل مورنۍ نیا خوشحالوي او د یوه زوی د پیدا کېدو خبر ترور (د پلار لخوا) ته د خوښۍ زیری دی. له ټولو خپلوانو ځخه نه یوازې دا هیله کیږي چې په خوشحالۍ او غم کې علاقه‌مندي وښیي، بلکې باید عملي وندې په کې واخلي. له دې امله د بې‌خونده

همسایه‌توب لیږي‌والی د خپلوی د دغو کړیو په اساس له منځه ځي او د ژوند غوره دودونه د دواړو ډولونو مناسباتو د جوتېدو لپاره لاره پرانیږي. دغه اړتیا تل د پښتنو لخوا په یو لړ ښلو انجمنونو کې د غږیتوب له پلوه څرګندیږي. له یوه تن سره د خپلوی یوه ټاکلې اړیکه کیدلی شي په یوه شکل تاسو د یوې ښځې او یا نر د انجمن په غږیتوب کې شامل کړي. په مقابل کې دغه اړیکه د دوه‌ګونو مفاهیمو په توګه جوتېدلی شي «زه په غم او ښادی کې له ده سره ګډ یم».

۱. د مور ورور (ماما)	(Me Br)
۲. د ښځې پلار (خسر)	(Wi Fa)
۳. د ښځې د خور مېړه (سانډو)	(Wi si Hu)
۴. د زوم د ښځې پلار (د زوی خسر)	(So wi Fa)
۵. د زوی د ښځې د خور مېړه	(So wi si Hu)

د خپلوانو حیطه او حدود چې هلته «د غم او ښادی» په وختونو کې ښل ښل افراد ونډه لري، ډېر زیات توپیر مومي. ځینې اټکلي عوامل لکه د نږدې خپلوانو د ډلو اندازه او وسعت او یا د افرادو په منځ کې د ټولنیز والي د درجې له پلوه توپیر، د ښلو ښلو انجمنونو (محلي ټولنو) د غړو ترمنځ د یووالي په زیاتو محدودولو کې د غوره عواملو حیثیت لري. زما د خدمتګار کشمالي ښلې ښلې اړیکې د یوه مثال په توګه، پکاریدلی شي څکه په یوه وخت کې ما دا توان درلود چې په دغو انجمنونو (محلي ټولنو) کې د ده له ربښتونې ونډې اخیستنې څخه چې ده یې نومونه اخیستل، خپل ځان خبر کړم. ښایي د ده د خپلوی درجې پراخوالي له منځني حد نه زیات وي.



(۵ شکل) هغه انجمن (محلي ټولنه) چې کشمالي د خپلو نسبي او سببي اړیکو له مخې په کې ونډه اخلي.

پنځم شکل. هغه انجمن (محلي ټولنه) چې کشمالي د خپلو نسبي او سببي اړیکو له مخې په کې ونډه اخلي.

پنځم شکل هغه پنځه محلي ټولنې څرګندوي چې علاوه د هغوی د محلي جمعیت څخه دي چې په هغو پورې کشمالي او د ده کورنۍ ارتباط لري. د هغوی اړیکې له هرې هغې کورنۍ سره دي چې نسب یې د سببي خپلوانو له لارې تعقیبیږي او په پورتنۍ تابلو کې ښوول شوی دی. دی په هغو مراسمو کې چې په لاندې انجمنونو یا محلي ټولنو کې ترسره کیږي، ونډه اخلي. دغه واقعیت په تابلو کې هم لیدل کیږي.

خو په هغه اندازه چې دی د خپل انجمن په مراسمو کې برخه اخلي، په هغه اندازه د دغو انجمنونو یا مجامعو په مراسمو کې ونډه نه اخلي. په ټولو هغو مراسمو کې چې د ده د انجمن د غړو لخوا جوړیږي، له ده څخه هیله کیږي چې د هغو مراسمو په برابرولو کې ونډه واخلي او هم په هغو کې شامل اوسي خو دی له پورتنیو پنځو مجامعو یا انجمنونو سره د سوغاتونو په ورکړه کې برخه واخلي، لیکن د هغو د مراسمو په برابرولو کې هیڅ ډول مکلفیت نه لري. برسېره پردې له ده څخه هیله نه کیږي په هغو مراسمو کې ګډون وکړي، چې د دغو انجمنونو د ټولو غړو لخوا ترسره کیږي. د خاصو افرادو د خاصو کورنیو غړو د ژوند په غوره مراسمو کې چې په شکل کې ښودل شوی دی، ګډون کول اجباري دی. کله چې د دغو اشخاصو نږدې خپلوان مراسم جوړ کړي سړی او میرمن یې یوازې هغه وخت په هغه کې ګډون کوي چې په څرګنده توګه بلل شوي وي. د هغو کسانو په مراسمو کې چې له هغو سره اړیکه موجوده نه وي او یا په نورو فرقو پورې مربوط وي، د ګډون هڅه نه کیږي. له بلې خوا د ښځو د انجمنونو (محلي ټولنو) ټول غړي هم د ده د کورنۍ لخوا په جوړو شویو مراسمو کې ګډون نه کوي، یوازې هغه کسان له پنځو پورتنیو انجمنونو (محلي ټولنو) څخه ورته راځي چې له ده سره نږدې اړیکې لري. او د ګډون غوښتنه یې ترې کړې وي. په دې ډول له یوه بل څخه جلا سیمه‌ییز انجمنونه د هغو شبکوي اړیکو په ذریعه سره تړلي وي چې د هغوی د ټولو اعضاو د مور نسبي او سببي خپلوانو اړیکې ښیي. د هر یوه دود او مراسمو د چمتو کېدو په وخت کې یوازې د سیمه‌ییزې مجمع، انجمن (محلي ټولنې) غړي سره تنظیم کیږي. خو کله د مراسمو په وخت کې د خلکو یوه ډېره لویه ډله سره غونډیږي. چې ټول افراد یې له هغو کورنیو سره نږدې اړیکې لري چې مراسم جوړوي.

د یوې کورنۍ له مشر څخه هیله کیږي چې د ده دغه خپلوان په مراسمو کې ګډون وکړي: مور او پلار، وروڼه خویندې د میرمنې مور او پلار، د ده او د ده د میرمنې وروڼه او خویندې او متاهل کسان (په تېره بیا هغه لونې چې د واده په واسطه له محلي څخه تللې وي) د دغو حدودو څخه د باندې د نورو کسانو رابلل اختیاري کار دی، سره د دې چې د دغسې کسانو رابلل عام دي. ډېرې نږدې اړیکې زیاتره د غم او ښادۍ اړیکې دي، د بادار او خدمتګار او د حامي او د هغه تر حمایې لاندې شخص اړیکې هم دا شان ګڼل کیږي. هغه کسان چې په مراسمو کې ګډون ونه کړي او خپل استازي هم معرفي نه کړي او ګډون یې حتمي وي نو د ده دا عمل یوه مخامخ دښمني ښیي.

د دغو مراسمو سیاسي ارزښت په دې کې دی چې د غړو ترمنځ د متقابلې همکارۍ سبب ګرځي او د پرله پسې مراسمو د ترسره کولو په ترڅ کې د اړیکو ټینګوالی رامنځ ته کوي. د هغو ټولنیزو اړیکو ساحه چې د غم او ښادۍ د مراسمو د فعالیتونو په واسطه احتوا کیږي په رښتیانۍ توګه ډېره پراخه ده. د یوه لړ دغو مراسمو په ترڅ کې د یوه تن اړیکې د مخامخ پیوندونو په اساس د هغه د جمعیت د نورو ډېرو غړو سره زیاتیږي. د مثال په ډول یو بزګر د خپل مشر ډېر لیرې خپلوان د مراسمو په وخت کې ویني او له هغه سره ډوډۍ خوري. مشر د خپل دوست او دښمن له ملاتړ لاندې کسانو سره په یوه شکل مشخصې اړیکې ټینګوي. د دغو میلمنو په وړاندې د ډلې په متحد یووالي باندې چې میلمنو ته د ګډ کار په برخه کې مسؤل دي، ټینګار کیږي. د ډلې په نظر د یوه کس مقام او ارزښت د میلمنو د شمېر کړو وړو او د هغو د امتیازاتو له پلوه څرګندیږي د دغو مراسمو له لارې د برخې اخیستلو او یا نه اخیستلو له لارې د ده دوستي او دښمني جوتوالی مومي.

واده او د سببي خپلوۍ اړیکې ټینګول

دلته د واده ارزښت په دې کې دی چې په دغه وسیله سره د ښځې او میړه د کورنیو ترمنځ د اړیکو د ټینګېدو یوه لړۍ منځ ته راځي. د یو ډول شکمن ډیالوګ په ترڅ کې چې زما د پیشخدمت لخوا راته وړاندې شو، د دغو اړیکو څرنګوالی څرګندیږي: د سوات د اخوند زوی پاچا صاحب پرېکړه وکړه چې خپل ممتاز نیکه د

عزت د ساتلو لپاره خپل ځان د ټول سوات مشرۍ ته ورسوي. جمروز خان چې د بابو زيو يو ستر خان و د مرستې ژمنه ورسره وکړه. ورپسې پاچا وويل: د دې لپاره چې دغه ژمنه او قرارداد مشهود شي نو خپله خور دې زما ورور شيرين صاحب ته واده کړئ، چې مور د تل لپاره سره متحد پاتې شو. دغه کيسه په سياسي معاملو او قراردادو کې د واده ارزښت جوتوي خو دغه ځرګندونه له دې امله نيمګړې بريښي چې ورپسې پاچا او جمروز خان له يو بل سره مخالف شول. د افرادو د نورو اړيکو په ځپر واده هم د ژمنو او اړيکو له لرې ځخه يوازې يو تعهد برابروي.

د سوات پښتانه ځانونه په اسلام کې د حنفي مذهب پيروان بولي چې د ښځې په انتخاب کې ډېر لږ محدوديت ټاکي. د واده لپاره د عمر په برخه کې کوم قيد نشته او د ښځو د واده کولو اجازه ورکړل شوې ده، واده يوازې له هغو خپلوانو سره کيدلی نه شي چې د اسلافو د دريم پښت او د اخلافو د دريم نسل يا د پلار، نيکه، ورور يا خور يا د ماندينې اسلافو يا اخلافو ځخه وي. همدارنګه د طلاقې شوې ښځې اسلافو او اخلافو سره هم واده نه شي کيدلی. ناروا جنسي اړيکې هم ناروا او حرامې ګڼل شوې دي. يو سړی له داسې دوو ښځو سره هم واده کولی نشي چې يوه يې نر تصور شي او له بلې سره داسې پيوستون ولري چې واده يې ناروا وي. بالاخره د طلاق ځينې ډولونه د هماغې طلاقې شوې ښځې سره د بيا واده کولو په برخه کې ستونزې پيښوي يعنې که چېرې يوې طلاقې شوې ښځې د بيا واده کولو ځخه دمخه له يو بل سړي سره واده کړی نه وي، د خپل لومړي مېړه سره واده کولی نه شي.

له پورتنيو حالاتو ځخه پرته له نورو ښځو سره واده روا ګڼل کيږي. يو واده هغه وخت قانونيت پيدا کوي چې د ښځې او مېړه او يا د دوی د استازيو لخوا ايجاب او قبول او دغه ايجاب او قبول د دوو تنو شاهدانو په مخکې درې واره تکرار شي. يو لږ نور مسايل هم بايد د واده په وخت کې په پام کې ونيول شي په ټبره بيا د واده، وکالت، د لور (شيربها) او د برخه والو موقف، اصل او نسب.

له پخو نارينهو ځخه پرته، په ټبره بيا هغه وخت چې د دغو نارينهو لومړنی واده نه وي نور ټول ودونه د کورنۍ د مشرانو او خپلوانو په ذريعه ترسره کيږي، نه د هلک او انجلۍ په خوښه. په اسلامي شريعت کې د دغه کار لپاره جوت قانوني دليل موجود دی. ټول هغه نارينه او ښځې چې د بلوغ سن ته رسيدلي نه وي، د قانوني ولياتو لرونکي دي، چې د دوی له اجازې پرته واده ترسره کيدلی نه شي، له دې علاوه ولي د دې حق لري چې د دوی له خوښې نه پرته په دوی باندې له بلوغ ځخه وړاندې واده ومني. خو د سوات د پښتنو عرف له قانون ځخه وړاندې ځي، او په دغه برخه کې د افرادو قانوني حق ناځرګند پاتې شوی دی. چې ايا بلوغ ته د رسېدو په وخت کې د ولي لخوا د تحميلي واده حق له منځه ځي او که نه؟ همدارنګه د ولي حق د ښځې د ټول ژوندانه په اوږدو کې د هغې د ودولو په برخه کې او د نارينه له بالغ کېدو وروسته د هغه د ولي په لاس کې تر ډېرې مودې پاتې کيږي؟

له شرعي پلوه په واده کې هغه نارينه نسبي نږدې خپل ته د ولايت حق ورکول کيږي چې عاقل او بالغ وي. په حقيقت کې دغه واک په حتمي توګه د شجروي اړيکو په اساس د ټاکليو کسانو په لاس کې نه وي. د يوه کس د واده په باب ټولې پريکړې د ټولې ډلې د هغو مسنو افرادو لخوا کيږي چې په نومړي شخص باندې واکمن وي زياتره دغه پرېکړې د مور صلاحيت لرونکي تره يا د کورنۍ د سياسي حامي لخوا نيولی کيږي. البته دغه حالت تر هغه وخته پورې دوام کوي چې يو تن پخپله د يوې خپلواکې کورنۍ څښتن شي او پخپله د واده تصميم ونيسي.

دستانه صلاحیت که قانوني وي یا مشخص د ولور د عنعنې له مخې تعمیل کیږي. د ولور ورکړه د حنفي مذهب سره توپیر لري په اسلام کې مهر په نامه د پیسو د ورکړې ذکر شوی دی، او داسې یو بخشش دی چې د میړه او د هغه د کورنۍ لخوا ناوې ته ورکول کیږي. دغه ملکیت چې د ښځې لاس ته رسیږي د طلاق په حالت کې هم له هغې سره وي. د ښځې پلار ته دې د ولور هیڅ یوه برخه باید ورنکړه شي. دغه مفکورې او قضایي قوانین په وروستیو وختو کې د وهابي او نورو دغه ډول مذاهبو د پوهانو په لیکنو کې تائید شوي دي چې په ټهره بیا د هغو ځوانانو په نظر کې چې د لویدیځو اغیزو له مخې مدني شوي وي، دا مفکورې او قوانین په زړه پورې دي. خو تراوسه یې په رواجي دود باندې اغیزې لرلي نه دي.

د ولور ورکړه په هغو کورنیو کې چې د واده ترتیبات نیسي د زیاتو چنو وهلو سبب ګرځي. اوس ولور په پاکستاني پیسو تعیین او حسابیږي او قسماً په نغدي توګه ورکول کیږي ولور په دریو برخو ویشل شوی دی:

أ. د جواهراتو یو بخشش د میړه د کورنۍ لخوا ناوې ته ورکول کیږي چې د مهر په نامه یادیږي که څه هم دغه جواهرات د ښځې ملکیت ګرځي خو د میړه دلاسه نه وځي او د ښځې لخوا میړه ته د واده له مراسمو څخه وروسته ورکول کیږي. کله کله داسې هم لیدل شوي چې جواهرات د واده د مراسمو د ترسره کولو لپاره په عاریت واخیستل شي. هغه په ټاکلي وخت بېرته خپل ځښتن ته سپارل کیږي. له دې پرته مهر د کورنۍ ګډ ملکیت کیږي (دا به بیا ستا کور ته درځي).

ب. د واده لګښتونه په ټهره بیا خوراکي شیان او د نوي کور لپاره سامان لکه د خوب بستره او د اشپزخانې سامان.

ج. د انجلۍ لپاره مخامخ ورکړه (د نجلۍ د سر روپۍ).

په دې وروستیو وختونو کې د ولور د الغاء لپاره په دې دلیل هڅې شوي دي چې د پورتنیو دوو وروستیو ډلو ورکړې پر بناء چې د میړه لخوا ترسره کیږي. یوه برخه یې بېرته د انجلۍ د پلار حبیب ته لویږي. د کښته ځمکې اوسیدونکي مسلمانان داسې یو رواج لري چې د میړه لخوا د طلاق او یا دده د میرینې په وخت کې د ده ښځې ته یوځه ورکول کیږي؟ که د ښځې او میړه ترمنځ له واده وروسته ډېره موده ټهره شوي وي او دواړه له یو بل څخه راضي وي، نو له دغه ورکړې څخه سترګې پټیږي. دغه دود په سوات کې ځینې وختونه د پور شوي مهر پیچلي بڼه ګڼل کیږي.

د یوه غوره خان له خوا د ولور هغه تادیات چې د خپل یوه بزګر او مستخدم د واده په لګښتونو کې یې مصرفوي او ټول (٦٠) پونډو ته رسیږي، په نسبي توګه له اوسط څخه ټیټ دی.

أ. ولور: د (٢٠) پونډو په بیه جواهر.

ب. د واده مصارف: د واده لپاره (٢٠) پونډه زیږ غوړي، (٨٠) پونډه وریجې، (٤٠) پونډه اوړه، (١٠) چرکان، (٢٠) باره د سونګ لرګي او (١٦) پونډه د لاټین تیل.

ج. د انجلۍ د سر روپۍ د (٢٠) پونډه په انډول.

د ولور لوړه اندازه ډېر وخت تر (٥٠٠) انګلیسي پونډو او یا له هغې څخه زیاته وي. د فرقې په چوکاټ کې په پرتلیزه توګه د موقف په پام کې نیولو سره د واده په باب یو لړ محدودیتونه تر څېړنې لاندې نیول شوي دي (دریم څېرکی وګورئ) د خلکو په نظر دا به ښه وي چې یوه ښځه له خپل برابر یا لوړ کس سره واده وکړي. خو که یوه ښځه داسې سړي ته په نکاح ورکړای شي چې ټیټ اجتماعي موقف ولري دا شرم ناک کار ګڼل کیږي د کسب ګرو او نورو حرفه لرونکو لکه نایاتو، موسیقي غږونکو او نورو په منځ کې د نورو دلایلو په اساس یوه

ښځه له هم مسلک ډلې سره واده کوي. د دغه کار دلیل او ګټه دا ده که ښځه د میړه په مسلک پوهه وي نو کولی شي چې ورسره مرسته وکړي. په ټولو اجباري ودونو کې دغه دلایل او موضوعات ډېر زیات د پاملرنې وړ دي او زیات ارزښت لري. خو هغه وخت چې د سیاسي او نورو مقصدو لپاره د مخالفې فرقې یا مختلف موقف لرونکو افرادو ترمنځ د واده هیله موجوده شي، نو په دغه حالت کې دا غوره ګڼل کیږي چې ښځه یوه ممتاز او د لوړ مقام خاوند ته ورکړل شي. په دې ډول نو د ښځې کورنۍ کولی شي د میړه له کورنۍ سره د برابرۍ ادعا وکړي، په داسې حال کې چې د میړه کورنۍ یوازې د لوړتیا ادعا کولی شي.

له دې املې په واده کې د انتخاب لپاره داسې محدودیتونه موجود دي. په عمل کې د هغه معکوس دوه اړخیز ارتباط په اساس چې د ښځې موقف او د هغې د ولور ترمنځ چې د ښځې لپاره ضروري ګڼل کیږي موجود وي، یوه لویه ستونزه راپورته کیږي. په دې معنی چې په یوه مناسب ځای کې واده کول د میړه د کورنۍ لوړ مقام یو ځل بیا تائیدوي خو په عین حال کې د زیات ولور ورکول د میړه اقتصادي ژوند له کړاو سره مخامخ کوي. د ښځې د انتخاب په برخه کې یوازې دغه موضوعات په پام کې نه نیول کیږي. کیدای شي چې د یو واده ځخه سیاسي ګټې هم لاس ته راوړل شي. د میړه کورنۍ ته د یوې ښځې ښکلا، طبیعت او خټه ارزښت لري. په دغه لړ کې ښکلا او جنسي راکاږنه په خپل ذات کې د ډېر زیات ارزښت وړ ګرځي. همدا شان دا باید په پام کې ولرو چې یوه بدرنګه ښځه که څه هم د لوړې کورنۍ واده ګڼل کیږي. ځکه د دې د عیب په باب ښیي څه ګنګوسې یا غیبت واوریدل شي او له دې سببه ده ته چې دویم درجه جنس ورکړل شوی، ښایي موقف یې زیانمن شي او داسې هم کیدای شي چې د ده اړیکې د هغه له خسرګنۍ سره په تدریجي ډول بده وضعه ځانته ونیسي.

له دې ځخه پرته چې یو فرد د برابر موقف لرونکي ښځې سره واده خوښوي د دغو خلکو ترمنځ نورې هیلې نه معلومیږي او احصایې هم دا نه ښیي چې په عمل کې د واده د انتخاب په برخه کې بله کومه هیله په پام کې ولري. کله چې د ژوند ملګرې د خپلوانو، ډم (نایي) په واسطه انتخاب شي، نو ورپسې په رسمي توګه یو لړ مراسم په لاندې توګه په پرله پسې ډول پیل کیږي.

الف) د کوژدې مراسم: د مرکچیانو (خواستګارانو) یوه رسمي ډله د هلک د ولي په مشرتوب د انجلۍ کلي ته ځي او هلته د هغې د پلار یا ولي په حجره کې دوی ته ښه راغلاست او ستړمشي ویل کیږي او میلمه پالنه یې کیږي. د دغې لیدنې کتنې او ملاقات مقصد اټکل کیږي، خو تردې وخته پورې کومه پرېکړه شوې نه وي ښایي د یو لړ مراسمو له تېریدو ځخه وروسته د ماښام په شاوخوا کې پرېکړه صادره او د ولور یوه برخه ورکړل شي. وروسته د ملا لخوا د ایجاب او قبول (نکاح) مقرره ترسره کیږي پس له دې نو پیوند نه شلیدونکي وي او په شرعي توګه د نکاح په وسیله دغه دوه تنه پس له دې (میړه او ښځه) بلل کیږي او که له واده ځخه مخکې انجلۍ مړه شي، نو د هغې له کورنۍ ځخه هیله کیږي چې بله انجلۍ زوم ته ورکړي.

ب) خوړه: د هغو پرله پسې لیدنو کتنو په ترڅ کې چې هلک خپله راتلونکې خوښې او خسر ګوري، (نه دا چې خپله چنغله وویني) له ده ځخه هیله کیږي چې د ده کورنۍ د ولور پاتې برخه ورکړي. دغه راز په خانګړو وختو کې واړه نغدي او یا د کالیو په شکل سوغاتونه د ناوې کورنۍ ته وبخښي. دغه پراوونه په عمومي ډول د (پښې ارته) په نامه یاد او د ډېرې لیدنې کتنې د دورې په نوم یادیږي.

ج) پریکون: له مهر ځخه بغیر د ولور د پاتې برخې ورکړې ته وایي. دغه راز په دغه پراو کې د واده د مراسمو په ځای کولو نېټه ټاکل کیږي.

د) واده: له پلرني کور څخه د مېړه کور ته د ناوې د وړلو مراسمو ته وايي په دغو مراسمو کې ناوې په يوه ډولې کښينوي او يوه ډله بدرګه کوونکي چې ټول د مېړه کورنۍ ته منسوب دي د زوم تر کوره پورې ورسره ملګرتيا کوي. د مېړه په کلي کې تر يوې يا دوو ورځو پورې خوښي دوام کوي. خو ناوې د زوم کور ته په مخامخ توګه وړله کيږي. او هلته د خير دعا ورته کوي او په ګوښه توګه يې پريږدي. په معمولي توګه نکاح هغه وخت ترسره کيږي چې د دواړو خواوو خوښه وي او ښځه او مېړه دواړه د بلوغ منګ (سن) ته رسيدلي وي. څکه داسې ليدل شوي دي چې هلک په ناپوهۍ سره د کوژدې کولو له مراسمو وروسته خپله چنغله (نامزده) په قهر او کړکې سره طلاقه کړې وي. په اسلامي شريعت کې طلاق کول د هماغې ښځې سره د بيا واده کولو په برخه کې يوه مانع منځ ته راوړي. خو که د واده پراو په نامه کولو څخه اوښتی نه وي او يا د دواړو يوځای کېدو ته رسيدلی نه وي، نو په داسې حال کې طلاق د راتلونکي لپاره کومه ستونزه نه پېښوي. همدا شان که ناوې او زوم دواړه ماشومان وي ترهغه چې مور او پلار د نکاح د مراسمو د جوړېدو اجازه ورنه کړي، د واده د مراسمو تکميليدل شاته غورځي.

په عمومي توګه هلک دومره شرمناک وي چې په خپله د واده په مراسمو کې برخه اخيستلی نه شي. دی د خپل ملګري په کور او يا په ځنګله کې پټيږي. دی تر درېيمې شپې، يعنې تر هغو چې ټول ميلمانه تللي وي او نکاح بيا له سره پيل کيږي، کور ته نه راځي، کله چې دی جوتيږي نو په دغه وخت کې د نږدې ښځينه خپلوانو يوه مشره ښځه چې ترجيحاً د هغه پلرنۍ ترور وي زوم او ناوې ته د يوځای کېدو بستره برابروي او ترڅو چې يوڅو روپۍ هغې ته ورکړل شوي نه وي د هغوی له خونې ځخه نه وځي.

کله چې يوه ښځه واده شي نو هغه د مېړه د ډلې يو غړی ګرځي او د پلار او ولي واک يې مېړه ته ليږدي ښځه پس له دې د مېړه له اجازې پرته بايد له کور څخه ونه وځي. دغه راز ښځه معمولاً له پلرګنۍ څخه هيڅ ډول شرعي حقوق لاس ته وروړلی نه شي. په عادي توګه په ميراث کې ونډه نه اخلي او د مېړه په مقابل کې د پلار يا ورور څخه د ملاتړ غوښتنه کولی نه شي. له مور او پلار او د هغو له اولادې سره د هغې اړيکو ته درناوی کيږي او يو هوښيار مېړه هغې ته اجازه ورکوي چې له واده څخه دوه هفتې وروسته خپل پلرني کور ته ولاړه شي، خو که د مېړه اړيکې له خسر او خواښې سره سمې نه وي دی به هغې ته دغه ډول اجازه ور نه کړي. کله چې يوه ښځه مري، نو مړی يې معمولاً هغه مړستون کې خاورو ته سپارل کيږي چې د پلار په خيل (Khel) پورې يې ترلي وي. خو دغه دود په ببلو ببلو کليو کې توپير لري. پلرني کهول ته د ښځې د مړي ورکول د ښځې له خپلوانو او دوستانو سره يو له احترام څخه ډک عمل ګڼل کيږي.

په دې ډول د سوات په پښتنو کې کومې اړيکې چې د واده په سبب منځ ته راځي، ډيرې کمزورې دي. هيڅوک حتی ماندينه هم د واړه اړيکو په اساس په دواړو کورنيو (د مېړه او د پلار) کې همزمان حقوق لاس ته راوړلی نه شي. اړيکې په بشپړه توګه شخصي او هيجاني اړخ لري. له ټولو افرادو څخه هيله کيږي چې د مورنۍ او سببي خپلوانو د ژوندانه د ښه‌والي سره مينه ولري او دغه مينه لکه چې دمخه مو هم وويل د تالتول (محلي ټولنې) په فعاليت کې د برخې اخيستلو له مخې په رسمي توګه جوته کړي.

خو له بلې خوا پخپله د واده اړيکې ډېرې پياوړې دي. که څه هم د نر لپاره طلاق ډېر ساده دی، خو ډېر زيات شرم ګڼل کيږي او په حقيقت کې دغه کار ډېر لږ پېښيږي. کله چې طلاق منځ ته راشي نو داسې ګومان کيږي چې ښځې د مېړه له توان څخه د يوه جګ او زورور سړي سره ناروا روابط لرلي او د مېړه عزت يې په ډېره زياته اندازه زيانمن کړی دی. ځرنګه چې مېړه په ښځه باندې بشپړه واک لري نو له دې امله طلاق د مېړه مغلو بيت او کمزورتيا څرګندوي او د ښځې په پرېښودلو سره به يې صرف ګټه دومره وي چې د هغې د کار له لاسه

ورکولو په بیه به د هغې له نفقې څخه خلاص شي. له دې امله په پښتنو کې د طلاقولو لپاره په یوه اصطلاح هیڅ ډول دلیل موجود نه وي. په داسې حال کې چې د نه طلاقولو دلایل ډېر دي.

د دغه بیان له مخې د واده کولو سیاسي ارزښت جوتیدلی شي. په عمومي توګه د سببي خپلوۍ اړیکې د ملګرتیا او مرستې یو ډول اړیکې ګڼل کیږي. خو د نکاح اړیکې په اصل کې د هیڅ ډول غوره اړیکو او ګډو ګټو د منځ ته راتلو سبب نه ګرځي. د سیاسي واکمنو ډلو (په هغه کلیو کې چې د پښتنو او ستانه و واکمني (صلاحیت) په کې جاري وي) په منځ کې متقابل واده د یووالي او خواخوږۍ بڼه منعکس کوي خو د سببي خپلوۍ په سبب منځ ته راغلې اړیکې دومره پخې نه شمېرل کیږي. د دې په خلاف ښایي سببي اړیکې په سیاسي لحاظ د نورو قراردادي اړیکو په ټینګتیا کې مرسته وکړي. داسې هم کیدای شي چې د غم او ښادۍ مراسم د سیاسي اړیکو د پیاوړتیا د څرګندولو لپاره ښه دلیل وي، خو د سیاسي اړیکو د منځ ته راتلو سبب نه ګرځي. پښتانه له داسې کسانو سره نسبي او سببي خپلوي لري، چې له هغو سره هیڅکله ټولنیزه معامله ونه لري، کله چې سیاسي ډلې بدلون ومومي، دوی له دغو خپلوانو سره ځانونه متضاد ویني او په دغه وخت کې په عادي توګه په تالتول کې برخه اخیستل پای ته رسیږي، نو له دې امله سببي اړیکې د لیرې متحدینو سره د موجودو اړیکو د پیاوړتیا لپاره ټینګیږي. له بلې خوا په هماغه شان چې د منځني ختیځ په یو لړ خیل لرونکي ټولنو کې (بارت۱۹۵۳ وګورئ) لیدل کیږي، له نږدې سببي خپلوانو سره واده کول ډېر لږ ترسره کیږي. څو تنو پښتنو مشرانو د دغه کار دلیل په دې ډول څرګند کړ: دوی وویل چې د تره له لور سره واده کول د تربورونو ترمنځ د اختلاف د مخ نیوي وسیله ګڼل کیږي، خو دومره اغېزمنه وسیله نه ده. کله چې د لانجو او شخړو لپاره پاخه دلیلونه منځ ته راشي دغه ډول تربرونه د دې سره سره چې د دوی مېرمنې سره نږدې دي له یو بل څخه لیرې او پردې کیږي. ښه به دا وي چې لونې او خویندې داسې کسانو ته واده شي چې په سیاسي لحاظ بې ګټې سره ورته وي، څو له هغو سره یووالي او اړیکې لا ټینګې شي. په دې ډول کیدای شي چې له نږدې نسبي خپلوانو سره د تضاد په وخت کې یو سړی له سیاسي متحدینو څخه کار واخلي. سره د دې هم د دوو واکمنو ډلو په منځ کې زیاتره ودونه د تربرونو ترمنځ د سیاسي مقصد په نتیجه کې منځ ته راځي. داسې بریښي چې د دغه کار غوره دلیل د خپلو په منځ کې د پردي (پت) خوندي ساتل وي. څرنګه چې د ښځې له لارې ملکیت انتقال نه مومي، نو دغه ودونه د ملکیت په ساتلو کې کومه اغېز نه کوي د ټیټو فرقو ودونه هم همدغه شان ورته اړخونه څرګندوي خو لکه چې هیله کیږي په دغو فرقو کې د کورنیو دننه ودونه ډېر لږ لیدل کیږي. په ښلو ښلو فرقو کې د افرادو تناسب چې له کلي څخه د باندې او یا دننه ودونه کوي، د یوه کلي په دننه کې د یوې فرقې د غړیو د شمېر له مخې توپیر مومي کسب‌ګر یوه څرګنده استثنی شمېر له کیږي. خو دغه ډله یو لړ ځانګړي او اختصاصي فرقې لري. په دې ډول په هغو کلیو کې چې د زرو تنو اوسیدونکو په شاوخوا کې وګړي لري، د کلیو ترمنځ په سلو کې (۷۰) برخې ودونه د ډلې څخه د باندې واده ته د رجحا ورکولو معنی نه لري بلکې په ډېره ساده توګه دغه کار په کلیو کې په متعددو فرقو باندې د وګړو د تقسیم په نتیجه کې صورت نیسي. یو سړی یوازې له هغې ډلې ښځو څخه د انتخاب حق لري چې د ده فرقې ورته ټاکلې وي او د یوه کلي په داخل کې د مېړه نه لرونکو ښځو شمېر له دغې موضوع سره کوم ارتباط نه لري او همدغه ډول په دغه باب د کلي د باندې او یا دننه ودونو مفکوره د یوه پرنسیب په څېر بې مورده ده.



شپږم شکل

أ. له نږدې خپلوانو سره واده.
ب. د کلي په دننه کې واده.
ج. د کلي څخه بهر واده[31] دغه احصايي د خايي (مسکون) نارينه‌و د مېرمنو په باب دي.
د. د ج قطار د الزاوب قطارونو مجموعه د ج قطار په تناسب څرګندوي.

د سياسي سازمان لپاره د واده ارزښت په دغه ډول لنډيدلی شي: د واده ټرون (نکاح) په حقيقت کې په ښځه باندې د پلار اقتدار پای ته رسوي او د ښځې مېړه ته لېږدي، خو مېړه يا د ده د کورنۍ بل غړي ته د ښځې د پلارنۍ ډلې په ملکيت کې حقوق او وجايب نه ورکول کېږي. له دې امله سره د دې چې د نکاح پيوند پياوړی دی، بيا هم د سببي خپلوانو په منځ کې له يو بل سره د ژوند د غوره مراسمو په سرته رسولو کې يو جمعي حس ژوندی کوي، څو د يوه سړي خپلوان د خپلوی له مخې په اختياري توګه له هغه سره د مراسمو په ترځ کې ګډون وکړي.

په دغه ډول مراسمو کې د ونډې اخيستلو له پلوه يو سړی د دې توان پيدا کوي چې خپله ټولنيزه ساحه پراخه کړي او په يوه پراخه ساحه کې خپل د مينې ډک تماسونه ټينګ کړي دغه تماسونه ښايي ډېر ستر سياسي ارزښتونه ولري او په مراسمو کې حاضريدل يا نه حاضريدل ښايي د سياسي يووالي د څرګندولو لپاره يو رمز وي.

۳۱. ښايي د بيها او وريجو د کليو د پښتنو په سترو ډلو کې د شجرې او نسب نامې له مخې يو شمېر مېرمنې د ب له قطار څخه د الف قطار ته ولېږدي. د دغو اعدادو د تشريح لپاره د ٦٨ مخ متن او ٧١ مخ متن وګورئ.

پنځم څپرکی

د نابرابرۍ اړیکې او صلاحیت

تراوسه پورې ما داسې یو لړ ډلې جوړونې (ګروپ بندۍ) او مناسبات بیان کړل چې د سوات د ټولنیز سازمان لپاره اساسي اهمیت لري، خو هغوی د جوت سیاسي ارزښت او یا محتوی لرونکې نه دي. په دغو ډلو کې غړیتوب په عمومي توګه د خپلوۍ او استوګنې د بېلو بېلو بڼو له مخې ټاکل کیږي او هیڅ یوه یې د نننیو توپیرونو په اساس ښودل شوې نه ده.

کومې ډلې چې په دغه څېړکي کې بیانیږي، له پورتنیو ډلو څخه په دوو لحاظو توپیر لري: دغه ډلې داخلي توپیرونه لري او په هغو کې شاملیدل له یوه مشر سره د قرارداد له مخې صورت نیسي. دغه ډول خصلتونه (خصوصیتونه) د پښتنو د توپیر او تسلط له مفاهیمو سره ارتباط لري.

د همکارو افرادو ترمنځ د دندې (نقشونو) توپیر د پښتنو په نظر کې د یوې اندازې تسلط معنی افاده کوي. دغسې اړیکې د پښتنو په نظر د لوړو او ټیټو اشخاصو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو په څېر ګڼل کیږي. حتی په هغه وخت کې چې دا اړیکې په څرګند ډول ځانګړي او شخصي وي (د مثال په ډول یو منل شوی قرارداد چې مشروطه اقتصادي خدمتونه او ورکړې په کې شاملې وي) بیا هم داسې ګڼل کیږي چې د دوو شریکانو په منځ کې یو لوړ او بل ټیټ دی. دغه ډول اړیکې په عمومي ډول نابرابرۍ او غیر عادلانه بریښي. په دې ډول د یوې ډلې په منځ کې د وظیفې په اساس هر ډول توپیر د صلاحیت او قدرت په برخه کې هم توپیر منځ ته راوړی او د دغو ډلو ترمنځ اړیکې له یوه غوره او واکمن مشر سره د ځانګړو او فردي قراردادونو په څېر جوتیږي. په سوات کې هغه غوره ډلې چې دا ډول ننني جوړښت لري، دا دي: تولیدي واحدونه چې په اقتصادي قراردادو باندې ولاړ وي، هغه ډلې چې د کور کرایه نیولو یا اجارې له مخې منځ ته راځي. او د کار د ډلو په توګه یو ډول اداري دندې او خدمتونه ترسره کوي یا هغه تفریحي ډلې چې د هغوی موجودیت د نارینهو په حجره کې د غړیتوب له مخې څرګندې شوي دي، او دیني ډلې چې د یوه ستانه او پیر تر شاوخوا جوړې شوي دي. د دغو ډلو په لړ کې هره یوه یې ځانته یو واکمن او مقتدر مشر لري او په هغې کې غړیتوب د مشر او فرد ترمنځ د دوه ګوني او یا دوه اړخیز قرارداد په ترڅ کې منځ ته راځي.

زه باید په تاکید سره ووایم چې دغه قراردادونه له یو څه استثنی څخه پرته چې وروسته به بیان شي، په نورو مواردو کې ټول اختیاري او د طرفینو په خوښه دي. نه یوازې هر فرد د دې ازادي لري چې په قرارداد کې خپل

شریک وټاکي، بلکې دا ازادي هم لري چې په هر ډول قرارداد کې له داخلېدو څخه ډډه کړي. په بله وينا نه يوازې يو فرد دا حق لري چې تصميم ونيسي پلانکي حجرې ته لاړ شي او د پلانکي مذهبي مشر په پله ګام کيږدي. بلکې دی دا حق هم لري چې که يې خوښه نه وي هيڅ يوې حجرې ته لاړ نه شي او د کوم کس پيرو نه اوسي. ښايي د بزګرۍ، مزدورۍ، اقتصادي او کور د قراردادونو په باب دغه دليل معقول نه وي، ځکه يو سړی په هغه صورت کې چې ځمکه ونه لري، عملاً دې ته اړ کيږي چې د ژوند د تېرولو لپاره يو کور د يوه قرارداد په ترڅ کې لاس ته وروړي. خو په دغو ټولو مواردو کې بياهم دی ازاد دی هر ډول موجود قرارداد ته چې يې زړه وغواړي، ور داخل شي.

له دې امله په اوسنۍ څېړنه کې د دغو ډلو ارزښت بايد جوت وي ځکه هغوی د ازادو قراردادو پر بنسټ باندې ولاړ يې او غړيتوب يې اجباري نه دی. دوی داسې هر اړخيز سيستم نه لري چې په مستقيمه توګه د سياسي سازمان بڼه غوره کړي. خو دوی د خپلو قراردادو له مخې په خپله خوښه مشران تعريفوي او د مافوقيت او مادو نيت اړيکې ټاکي. له دغو اړيکو څخه مشران د سياسي منبع په توګه کار اخلي. زه به لاندې په تفصيل سره دغه ډلې په ښلو ښلو ډولو قراردادو کې د برخه والو د حقوقو او دندو په پام کې نيولو سره بيان کړم. دغه راز په قرارداد کې د واکمنو برخه والو پټ يا څرګند سياسي قدرت به تر څېړنې لاندې ونيسم.

اقتصادي قراردادونه[۳۲]

د سوات په سيمه کې هيڅ ډول سيمه‌ييزې پيسې نه ليدلی کيږي. کومې پيسې چې دلته په زياته اندازه چلېږي هغه د پاکستان تر ادارې لاندې سيمو پيسې يعنې پاکستاني روپۍ دي. سره د دې هم دغه پيسې د سوات په ناوه کې په زياته اندازه د اشياو د تبادلې په برخه کې ټولې اړتياوې بشپړولی نه شي. په ليږ کليو کې چې ضعيف مواصلاتي وسايل لري د پيسو لوټونه (نوټونه) ډېر لږ ليدل کيږي او زه دې ته اړ وم چې له پرمختللیو سيمو کې غله وارده کړم، او له هغو څخه د ژوند د اړتياو د ليږ کولو لپاره د تبادلې ديوې وسيلې په توګه کار واخلم.

خو سره د دې هم، په سوات کې د توليد او کار د ويش د پرمختللي نظام د ښه کار کولو لپاره پيسې غير ضروري دي. هغه واحدونه چې په اقتصادي نظام کې تبادله کيږي، اشيانه وي، بلکې خدمات دي او په کليو کې اقتصادي فعاليتونه په يو بل پورې تړلې متقابله خدمتونو او يا د جنس په جبرانولو پيچلي نظام کې تنظيم شوي دي. دغه نظام په جوته توګه د يوه هندي عنعنوي نظام يعنې د ججماني يو ډول جوړوي (وايزر، ۱۹۳۶ د مثال په توګه وګورئ).

د خدمتونو او يا د جبرانولو دوه اړخيز مناسبات د يو لړ فردي قراردادونو پر بنسټ باندې تنظيم شوي دي. د دغو اړيکو په اساس اقتصادي نظام په ډېره ښه توګه بيانيږي. د دغو اړيکو ډېر غوره ډولونه په لاندې ډول په شپږو برخو باندې ويشل شوي دي:

أ. بزګري او د مځکې د مزدورۍ قراردادونه.
ب. د بزګرانو او هغو ماهرانو ترمنځ مناسبات چې وسايل، ترانسپورت او داسې نور خدمات برابر وي.
ج. د يوه کسب‌ګر او ځانګړو رانيونکو يا مستهلکينو ترمنځ اړيکې.

۳۲. په دغسې يوه ټولنه کې چې سياسي آزادي ولري او زيات شمېر وګړي يې بېسواده وي، هيڅ دا ډول (قراردادونه) ليکلي بڼه خانته نه نيسي. حتی داسې قراردادونه په حقيقت کې په رسمي توګه د شاهدانو په مخ کې نه ترسره کيږي. سره د دې هم د اختلافاتو د پيداکېدو په وخت کې چې دعوا د کلي جرګې يا منځګړو ته وړاندې کيږي، شاهدان معمولاً موجود وي قرارداد په دې متن کې هغې موافقې ته ويل کيږي چې د دوو يا څو تنو شريکانو ترمنځ ترسره شوي وي چې په يوه مشخصه توګه د يو تعريف شوي فعاليت په ساحه کې يو له بله سره همکاري کوي.

د. د یو لړ خدمتونو د انجامورنکو او د دوی د مشتریانو ترمنځ اړیکې.
ه. خاوند او د هغه د شخصي خدمتګار ترمنځ اړیکې او بالاخره.
و. په سوات کې د حکمران او د ده د اداره کوونکو مخصوصاً پوځ ترمنځ اړیکې. چې په نهم څپرکي کې به بیان شي.

د الف او ب دوه چوکاټونه زمونږ د پاملرنې وړ ګرځي. ځکه غوره تولیدي ډلې د دغو قراردادونو پر بنسټ باندې دریدلې دي:

الف) ځمکه په ببلو ببلو طریقو سره په اجاره اخیستل کیږي. د مځکوالۍ نظام به لکه چې په دویم څپرکي کې په لنډه توګه ورته اشاره وشوه، وروسته بیان شي.

د ټول سوات د سیمو خاصه دا ده چې ځمکه د ډېرو لږو کسانو په لاس کې تمرکز لري. تر ټولو د پښتنو د فرقې له خوا ډېره ځمکه نیولی شوې ده[۳۳]. حتی د ځمکه لرونکو پښتنو په منځ کې ځمکه بالعموم د څو محدودو اشخاصو په لاس کې ده، نو له دې امله زیاتره پښتانه کوچني ځمکه لرونکي دي. په دې ډول وینو چې د مځکې لویه برخه د هغه چا په لاس کې ده چې په جسمي لحاظ په کار کې برخه نه اخلي. دوی بزګرانو ته د یوې ټاکلې او یا نا ټاکلې مودې لپاره د خپلو مځکو څخه د استفادې حق ورکوي او بزګران د خپل ژوند د ضروریاتو د تامین له تولید شوي محصول څخه یوه ټاکلې برخه اخلي.

څلور ډوله قراردادونه شته چې ترسره کوونکی یې په لاندنیو نومونو سره یادیږي:

۱) اجاره کوونکی: اجاره‌ګر د یوې ټاکلې مودې لپاره د ځمکې د مجموعي تولید د اټکل په اساس د خاوند ځمکه کري او د کال په پای کې هغه ته معینه اجاره ورکوي. اجاره‌ګر د حاصلاتو په برخه کې ټول زیان پر ځان مني او دا خپلواکي لري چې کرنه له خپلې هیلې سره تنظیم کړي او یا دا چې د خپلې غوښتنې سره سم دغه ځمکه بل یوه ته په اجاره ورکړي اجاره په عمومي توګه په جنس سره ورکوله کیږي.
۲) برخه خور: دغه ډول بزګر له سړې پرته د کرنې وسایل، ځاروي او تخم برابروي او په بدل کې یې د حاصلاتو یوه ټاکلې برخه اخلي. د حاصل دغه ونډه په ببلو ببلو سیمو کې د مځکې د متوسطې حاصل خیزۍ په اساس توپیر مومي. په غرنیو سیمو کې دغه بزګران له درې پر پنځه برخې (په پارونه Parona کې) څخه تر دریمې برخې پورې (په نالکوټ کې) حاصل لاس ته راوړي. په حاصل خیزو سیمو کې دغه ونډه څلورمې برخې ته رسیږي. ونډې تل په جنس ورکول کیږي. وروسته له دې چې درمند ټول شي څښتن کولی شي بزګر د ایستلو تصمیم ونیسي. د عنعنوي بنې له مخې د اجیر شوي بزګر حقوق د درمند څخه د مخه ټاکل کیږي. د مثال په ډول، ده ته حق ورکول کیږي چې د پخو شویو شولو په مځکو کې خپل ځانته شوتله وکري.
۳) کروندګر (دهقان): یو کارګر دی چې د مځکوال لخوا ورته تخم، یوه ټوټه مځکه، د کرنې اسباب او ځاروي چمتو کیږي او د خپل خدمت او هڅې په بدل کې د ټول حاصل پنځمه برخه لاس ته ور وړي. دغه ډول بزګر هم د اجاره‌ګر په شان په ځمکه باندې د دې سره سره چې مځکوال ده ته هماغه ځمکه له ډېرو کلو راهیسې د کښت لپاره ورکړې وي، د ملکیت حقوق لاس ته ور وړلی نه شي.

---

۳۳. زما په لاس کې موجودې احصایې یوازې د بابوزیو د برات خیلو په ځانګه پورې تړلې دي چې د سوات د سین غاړې یې د پنځو میلو په حدود کې نیولې او له هغه ځایه ځمکه د ختیځ خواته د غره تر لمنې پورې ساحه نیسي. په دغه ساحه کې لالایان Lalas غیر پښتانه مځکوال دي او د ډېر لوړ سټانه‌توب دریځ لري او د دوی تر کنترول لاندې سیمه د پښتنو د ۱۸۰ برخو په مقابل کې ۲۰ برخو ته رسیږي. د نورو سیمو په باب د اټکلونو له مخې داسې ځرګندیږي چې دا حالت د ناوې په زیاتو برخو کې شته دی. په ډېرو لوړو برخو کې د پیرانو او سټانه و د مځکې د مالکیت تناسب ډېر لوړ دی.

۴) فقیر: دغه لغت په پراخه اندازه د یوه وابسته فرد معنی ورکوي. خو په خاصه توګه د یوه داسې بیوزله شخص په معنی استعمالیږي چې د یوه مځکوال په شنډې او غیرحاصل خیزو مځکو کې کار کوي او د دغه کار او مزدورۍ په بدل کې پیسې او یا زیږ غوړي لاس ته ور وړي. دغه سړی په عمومي توګه د مزدور (نوکر) په نامه یادیږي. دغه کسان زیاتره په جلا توګه په غونډیو او غرنیو سیمو کې په کلیو یا کوډلو کې ژوند کوي (سرکلی = جګ او یا لیرې پراته کلي، بانډه = په غونډیو کې د استوګنې ځای). د ځانګړو مځکو اشغال او نیول ښایي ځانله میراثي بڼه غوره کړي. د خدمت اندازه ندرتاً ټاکلې شوې وي او زیاتره د مځکوال په اړتیاو او جبري قدرت پورې اړه لري. په دغه خدمت کې معمولاً د مځکوال د جوارو ټکول هم شاملیږي.

دغه باید ووایو چې بزګران او کارګران د غنمو د راغونډولو، د وریجو بزغلی د کښینولو او د وریجو د حاصل اخیستلو په موسمونو کې د مشخصې مرستې او لاس نیوي مستحق دي. په دغو وختو کې له مځکوال څخه هیله کیږي، چې تر خپل کنترول لاندې ټول کسان کار ته راوباسي او په تېره بیا د وریجو د بزغلیو د کښینولو په وخت کې له بهر څخه پردي کسان راولي او هغوی ته له خپلې بودیجې څخه د کار اجوره ورکړي. دغه تادیات په عنعنوي توګه د حاصل د وندې په پام کې نیولو سره ټاکل شوي دي: لو ګړي او درمند پاکوونکي ته څلوینښته برخه، د جوارو ټکولو ته (د ښځو کار) څلوینښته برخه حاصل او د وریجو د بزغلیو کښینولو ته په ورځ کې یوه روپۍ (یو شلنګ) د خوړو په ګډون ورکول کیږي.

د باغوانۍ په برخه کې د کار او دهقانۍ قراردادونه جلا بڼه لري. ځکه دغه کار د غنمو د کرلو په پرتله زیات مهارت ته اړتیا لري. هغه کسان چې د مېوو په باغونو یا د سبو په پټیو کې فعالیت کوي، په عمومي توګه د حاصل نیمایي یا دریمه برخه لاس ته ور وړي.

ب) د زراعتي تولید لپاره د مځکې او کار ترځنګ نور شرایط هم ایجابوي. یوې ډلې ځانګړو ماهرانو ته اړتیا ده چې زراعتي الات تولید کړي او هم هغه اسباب ترمیم کړي او ښه یې وساتي او همدا شان دوی د محصول د لیږدولو وسایل هم چمتو کوي. له حرفوي پلوه د دغو ستونزو په حل کې د سوات فرقه‌یي نظام څخه استفاده شوې ده او هم د یو لړ بېلو مؤلدینو او ماهرانو ترمنځ پیچلې اړیکې منځ ته راځي. په یوه تولیدي واحد کې لږ تر لږه مځکوال، بزګر یا کارګر، ترکان، پنس د پړي او تسمې جوړوونکي او کچر چلوونکي داخلیږي. په سوات کې دغه تولیدي واحد هغه څه ته ورته دی چې د صنعت په چارو کې ماهر ټولنپوهان یې «د کار جریان یوه هميشنی بڼه» بولي. په دې معنی چې د یوه سړي اړیکې له مرسته کوونکو ماهرانو سره مستقیمې دي د مثال په ډول سامان جوړوونکی په مستقیمه توګه د تولید واحد د نورو غړو اړتیاو ته ځواب وایي دلته بین البین استازي (اجنټان) لکه دکانداران، دلالان او د تیارو شویو شیانو زیرمه کوونکي نه لیدل کیږي. د تولیدي واحد د غړو ترمنځ متقابل تادیات د تولیدي واحد لخوا دمخه ټاکل شوي وي په تولیدي واحد کې مځکوال غوره دریځ لري او له ده سره د قرارداد له لارې هر فرد ته امکان پیدا کیږي چې په تولیدي واحد کې د ګډون حق پیدا کړي او هم د ده له لارې برخه والو ته مجرایي ورکول کیږي. د دغې ورکړې سم ترتیب په لاندې ډول دی.

یو کسب‌ګر، د مثال په ډول یو ترکان له یوه یا څو مځکوالو سره قرارداد کوي. او د دغه قرارداد له مخې دی د هغو ټولو وسایلو او اجزاو په جوړولو مکلف دی چې ترکانانو لخوا په عنعنوي توګه جوړیږي او مځکوال یې په خپلو مځکو کې د زراعتي تولید د دوام لپاره پکاروي. یعنې د یوه مځکوال لپاره هغه شیان د ترکان لخوا برابریږي چې بزګران په کرنه کې ورته اړتیا لري. په دې ډول د بزګرانو د کښت وسایل د ترکان لخوا چمتو کیږي. کله چې د یوه بزګر یوې (اسپار) د کښت په وخت کې د تیږې په واسطه ماتیږي، نو سره د دې چې یوه (اسپار) په بزګر یا مځکوال پورې تړلې وي، هغه ترکان ته د جوړولو لپاره وړل کیږي، ترکان د قرارداد له

مخې د هغې په جوړولو مجبور دی همدغسې ورته قرارداد له یوه پښې، پرې او تسمې جوړوونکي او له یوه کچر چلوونکي سره چې د حاصلاتو د لیږدولو په برخه کې مسؤلیت لري، ترسره کیږي. دغه ډول خدمتونه (د ترکاڼ او پښې څخه بغیر) په مستقیمه توګه متقابله نه دي. د واحد برخه وال یوه بل ته هیڅ ډول جنس په مستقیمه توګه نه ورکوي. بزګر ترکاڼ ته د یوې یا نورو شیانو د جوړولو له پلوه څه نه ورکوي، کچر چلوونکی له بزګر څخه د حاصل د لیږدولو له امله د کوم شي د ورکړې هیله نه لري او نه پښې ته کوم څه د نعلونو د وهلو له پلوه ورکول کیږي.

خو د درمند له تیارېدو څخه وروسته بزګر او یا کارګر او ټول برخه وال راشه شوي درمند ته رابولي یعنې په هغه ځای کې د واحد ګډون کوونکي راغونډیږي چې هلته پاک شوي غنم په پټې کې کوټ شوي وي. دلته د هر یوه ونډه د عنعنوي کچې له مخې د مځکوال لخوا په ساده توګه ورکول کیږي. په عمومي توګه حاصل په لیکه سره په مساوي وړو کوټونو ویشي. وروسته د مځکوال یا مشر یو ځانګړی مزدور یعنې ناظر له د لیو څخه تیریږي او په ځلورو برخو یوه برخه بزګر ته شلمه برخه کچر والا ته، ترکاڼ او خیرات په توګه ورکوي. د پرې اړ تسمې جوړوونکي ته په کال کې یوه ټاکلې اندازه غله ورکول کیږي په دې ډول د تولیدي واحد هر غړی له ټول حاصل څخه خپله ونډه اخلي او پاتې برخه یعنې ستره برخه حاصل مځکوال ته پاتې کیږي.

ښایي له بزګر او کارګر څخه پرته د نورو په برخه کې پورتنی ترتیب ډېر توپیر وکړي.

ښایي په مادیان Madyan کې یوه ډله مځکوال ترکاڼ او پښې ته د هغوی د خدمتونو په بدل کې یوه ټوټه ځمکه وټاکي. په نورو ځایو کې لکه په تانه او نالکوټ کې، د یوې قلبې غوایانو د کار او قلبې کولو له امله له سلو پوندو څخه تر دریو سوو پونډو غلې پورې ورکول کیدای شي. دا هم ډېر ځل لیدل شوي دي چې یوه ترکاڼ او پښې ته د یوې ابي ژرندې د ترمیم او فعال ساتلو د خدمت په بدل کې دا حق ورکړی شي چې ژرنده نورو کسانو ته د استفادې لپاره ورکړي او له خلکو څخه د غلې د میده کولو د اجورې شلمه برخه دوی واخلي. په دې ډول به له یوې خوا ژونده فعاله وساتله شي او له بلې خوا به د زراعتي الاتو د ترمیم او جوړولو کار ترسره شي (په نالکوټ او وریجو کې). کله کله داسې هم کیږي چې کچر چلوونکي ته د حاصل د وړلو د حق په بدل کې د تولید د ټاکلې اندازې په ځای د هر بار په مقابل کې یوه اندازه غله ورکوي (په تانه کې). د ورکړې دغه بېلې بېلې لارې د یو بل ځای نیوونکي او په اساسي توګه برابري ګټل کیدای شي.

ج) دغه ترتیبات یوازې د کرنې په ساحه کې ترسره کیږي. د ځانګړو مصرف کوونکو او حرفوي ماهرانو ترمنځ اړیکې د ورکړې دوه اړخیز مناسبات ایجابوي. له دې امله کله چې یو مځکوال او یا بزګر یوه کټ ته اړتیا پیدا کړي، نو دې ترکاڼ ته په مستقیمه توګه یوه اندازه جنس او یا پیسې ورکوي. ځینې شتمن خلک له ترکاڼ څخه بغیر نور کسب ګر چې معمولاً کلالان او ګنډونکي وي، د خپلې کورنۍ لپاره په کلنۍ توګه ټاکي او په هر کال کې د غلې یوه ټاکلې اندازه ورته ورکول کیږي چې دا ډول تنظیم او ترتیب په تېرو کلو کې ډېر عام و او نن ورځ داسې معامله زیاتره په بالمقطع توګه او د بېې پر سر د چنې وهلو په اساس کیږي.

د) خو له بلې خوا د شخصي خدماتو د بېلا بېلو اجرا کوونکو او د دوی د مشتریانو ترمنځ اړیکې د اوږدې نېټې د یو لړ قراردادونو بڼه خانته نیسي. ښایي دوی په داسې ماهرانو لکه جالهوانانو او دوبیانو پورې اړه ولري. خو معمولاً دا ډول کسانو کې ملایان او نایان هم شاملیږي. دوی د عنعنوي او میراثي اړتیا له مخې خپل عنعنوي خدمتونه ترسره کوي او په بدل کې ورته یو کلنی مزد ورکول کیږي.

یو امام د خپلې کورنۍ او خپل ځان د اړتیا د لیرې کولو لپاره ښایي په کال کې د غلې یوه ټاکلې اندازه (۸۰ پونده) له هغو کسانو څخه د یوې جوړې قلبې پر سر واخلي چې د لمانځه امامت ورته کوي (په وریجو کې) او یا یوه ټوټه څمکه د خپلو اړتیاو ترسره کولو لپاره د خپل خدمت په بدل کې واخلي (په ټانه، نالکوټ کې). په دواړو صورتونو کې د ده د احتیاج پیټۍ د ډلې د مځکوالو په غاړه لویږي. دی په بدل کې خلکو ته په عبادت کې لارښوونه کوي او د لمانځه په وخت او یا په نورو ټاکلو مذهبي ورځو کې ورته وعظ کوي. له بلې خوا دی د ژوندانه د غوره دودونو د اجرا په وخت کې برخه اخلي. د مثال په ډول د نوي پیدا شوي ماشوم په غوږ کې اذان کول، د کوژدې او نکاح ترلو او د مړي د جنازې د مراسمو د اداء کولو او د دعا کولو په وخت کې په دغه برخه کې د یادونې وړ دی. دی د نورو ماهرانو په ډول د مزد په مقابل کې شخصي خدمتونه هم ترسره کوي. دی د ټاکلیو ناروغیو د تداوۍ لپاره ټاکلي دعاګانې وایي. دی د روغتیا او یا د پیریانو او جنیاتو له زیان څخه د بچیدو لپاره تعویزونه کاږي. دی له سر څخه د خوځندې (حشری) په ایستلو سره لیونیان علاج کوي. همدا شان دی د بد نظر له پلوه پیدا شوي زیانونه هم لیرې کوي.

امام د ژوند تر پایه پورې ټاکل کیږي، او دغه موقف د پلرني میراث د خوندي کولو په توګه شمېرې. خو بیا هم لمونځ کوونکی جمعیت د دې حق لري چې که د امام خلف (په ځای ناست) تکړه نه وي، هغه ته ځواب ورکړي. نو په داسې حال کې چې د نوموړي کمزوري بیخي زیاته وي، د هغه ځواب کول او ایستل د ستانه لخوا هم تائیدیږي.

له امام څخه هیله کیږي چې په عادي توګه ټول وخت په جومات او جمعیت کې حاضر اوسي. خو بیا هم دی کولی شي د لنډې مودې لپاره د ډلو په منځ کې د ځینو لانجو د حل لپاره هغو ځایونو ته سفر وکړي چې لانجه په کې پېښه شوې وي. یا دا چې دی کولی شي د کال په یوه ټاکلې موده کې د خپل عاید د پیرودنې او یا د تبادلې لپاره بل ځای ته سفر وکړي. د ده د غیابت په وخت کې د ده یو مرستیال یا طالبان مربوطې چارې ترسره کوي.

یو ډم د یوې ډلې کورنیو لخوا په ګډه سره استخدامیږي. دی او مېرمن یې یو لړ عنعنوي خدمتونه کوي او د هغو په اساس په کال کې یوه اندازه غله د مزد په توګه اخلي. دغه اندازه په سړي سر باندې په هره کورنۍ له (۸) څخه تر (۱۲) پونده (په نالکوټ، پارونه، تانه کې او یا د قلبې په یوه جوړه غوایانو باندې چې په څمکه کې کار کوي، (۱۶۰) پونډه (په وریجو کې) ټاکل شوې ده، د ډم فعالیت په دوو برخو ویشل کیږي: د ږیرې خرهیل او د ویښتانو جوړول او هغه دندې چې د ژوند په غوره دودونو پورې اړیکه پیدا کوي. په ځینو ځایو کې ښایي دغه دواړه دندې بېلو بېلو کسانو ته ورکړای شي (په تانه کې). یو ډم ښایي د کورنۍ د نارینهو د سر ویښتان د کلنۍ ټاکلي مزد په بدل کې وتراشي، په داسې حال کې چې یوه ډمه چې په دغه ډم پورې اړه ونه لري، د هماغې کورنۍ د ښځو خدمت ترسره کوي او مېړه یې د مراسمو د ترسره کولو لپاره رابلل کیږي.

د ډم او د ده د مېرمنې دندې په مراسمو کې په لاندې ډول دي:
ډم د هرې زیږیدنې خبر د ډول په وهلو سره خپروي، ښځه یې د پیدا شوي ماشوم مور ته مبارکي وړاندې کوي او دوی دواړه نږدې خپلوان د زیږې په باب خبروي. د دغه کار په بدل کې دوی یو شمېر واړه سوغاتونه ترلاسه کوي.

ډم د ماشوم ویښتان په رسمي توګه په اوومه ورځ یا په ځلویښتۍ کې (د ویښتانو د لویدنې د چټکتیا په تناسب) په داسې حال کې پرېکوي چې ټول خپلوان رابلل شوي وي. د دغه کار لپاره داسې سوغاتونه اخلي چې بیه یې له شپږو څخه تر شلو روپیو پورې وي. د ماشوم ویښتان د سرو زرو د وړو ټوټو په واسطه تلل کیږي او د دغو سرو زرو په بیه خوارانو ته خیرات ورکول کیږي.

دی د ختنه کولو چارې سرته رسوي، په دغه وخت کې خپلوانو ته خبر ورکوي، د یوه ځاروي په قربانې کې مرسته کوي. د خوراکي شیانو په برابرولو او ایښودلو کې کومک کوي او دغه ټول کارونه د پرله پسې ډول وهلو په واسطه سرته رسوي.

د دغه کار د ترسره کولو لپاره ده ته پنځه روپۍ ورکول کیږي. دی او ماندینه یې دواړه د واده د ترتیباتو لپاره استول کیږي، او د خبرو اترو په بهلو بهلو پراوونو او قراردادونو د لمانځلو لپاره د متقابله میلمستیاوو په برخه کې مرسته کوي. دوی د واده مراسم او په واده کې د خوړو برابرولو چارې سرته رسوي. له ډوډۍ وروسته میلمانه ډم ته د سوغات په ورکولو کې ونډه اخلي.

دی ټولو ته د مړینې په باب خبر ورکوي او د جنازې په ترڅ کې تر ټولو حاضرینو زیاته صدقه لاس ته ور وړي.

دی ټول عمومي ډوله اعلانونه وروسته له دې چې د ډول په واسطه ټولو پاملرنه واړوي خپروي.

هـ) بالاخره په دې ترڅ کې د یوه څښتن (نایک) او ځانګړي مزدور (نوکر) ترمنځ اړیکې باید په پام کې ونیسو. کله چې یو سړی له بل تن څخه معاش یا ټاکلې مزدوري واخلي نو دی د هغه تن ځانګړی شخصي نوکر دی. د دې خبرې معنی دا ده چې په عمومي توګه دی د هغه تر واکمنۍ لاندې دی. د سوات په عنعنوي نظام کې داسې مسلکي اړیکې لکه په لویدیځ کې یوه ډاکټر او ناروغ ترمنځ چې خدمت کوونکی هیڅکله په هغه چا باندې چې ورته خدمت کوي د واکمنۍ ادعا نه کوي، نه لیدل کیږي. په دې ډول په سوات کې د والي تر واکمنۍ لاندې دی ترسره کیږي او د ختیځ طب لوړ رتبه طبیبان له ناروغانو څخه د مزد اخیستلو څخه ډډه کوي، مګر یوازې په خپله خوښه سوغاتونه مني.

له دې سره مشابه په سوات کې داسې یوه مفکوره هم نشته چې یو ټاکلی نقش د محدودې واکمنۍ سبب ګرځي. له یوه کسب‌ګر څخه چې د یوې لنډې مودې لپاره د یو چا تر استخدام لاندې وي، دا هیله هم کیږي چې هماغه کس ته شخصي خدمتونه هم ترسره کړي. د مثال په ډول ښایي ورته وویل شي یو ګیلاس اوبه راوړه، یا دا پیغام ورسوه او نور. هغه کسان چې د سوات دولت استخدام کړي ټول د سوات د واکمن یا حکمران مزدوران (د پاچا نوکران) دي. لوړ رتبه مامورین له دغه ډول اړیکو څخه ځان ژغوري، له دې امله دوی د اداري زیاتېدونکې بېرو کراسۍ څخه بهر پاتې کیږي. زما خپل موقف د زیاتو کسانو لپاره یوه معما او زما د نوکر لپاره یوه د علاقې وړ موضوع ګڼل کېدله. یعنې ما په ډاګه سره د یوه خپلواک سیاسي موقف ادعا کوله او له محلي عالي رتبه مامورینو سره مې ځان برابر شمېره نو له دې امله دوی تعجب کاوه ماسره د دې چې د پوهنتون څخه هم معاش ترلاسه کاوه څنګه د ناروې د پاچا د نوکرۍ له افتخار څخه ځان لیرې ګڼم.

هغه څوک چې په سوات کې ټاکلې اندازه معاش واخلي. نو خپله خپلواکي یې په حقیقت کې بایللې او له لاسه ورکړې وي او دی د یوه بل سړي په امر چلند کوي، له دې امله د هماغه سړي څخه ټیټ دی.

خو له بلې خوا دغه حالت، دی هغو اعمالو له مسؤلیت څخه هم خلاصوي چې انجاموي یې. ځکه هغه څوک چې ده ته امر ورکوي، هغه مسؤل دی. له دې امله که چیرې یو خان یو خوني سړي د قتل لپاره استخدام کړي، نو خوني یوازې په هغه وخت کې له خطر سره مخامخ وي چې قتل ترسره کوي کله چې قتل پای ته ورسیږي، نو ټول مسؤلیت هغه خان ته چې خوني ته یې پیسې ورکړې وې راجع کیږي او همدارنګه د زړورتوب ویاړ هم د خان کیږي. همدا ډول، بدي اخیستونکی خپله خپلواکي اعلانوي او د جرم مسؤلیت د بدي ورکونکي په غاړه لویږي.

نوکري په سوات کې يوازينی کار دی چې په يوه يا څو فرقو پورې محدود پاتې شوی نه دی. له پښتنو ځينې بغير نور ټول کسان هغه مناسب ګڼي. هغه ځوک چې نوکران استخداموي هرومرو د زياتې ځمکې لرونکی دی. نوکران په څو ډوله ويشل کيږي. ډېر لوړ رتبه يې د ملکيت اداره کوونکي (ناظر) ګڼل کيږي. ناظر د دې ترڅنګ چې څو نور نوکران يې ترلاس لاندې وي، د کهول نورې عمومي دندې هم سرته رسوي. له نوکر ځخه هيله کيږي، چې تل د بادار تر اختيار لاندې ژوند وکړي. دی بايد په پيغام پسې د تللو وړلو او که د خاوند ماندينې اشپزي ونه کړي، د پخلي، حجرې ته د خوړو د رسولو، د خاوند ستړيا په وخت کې د هغه د چاپيې کولو او په ټول وخت کې د هغه د حاضر باش دندې سرته رسوي. د خاوند او نوکر پيوستون ډېر نږدې او صميمي دی او حتی د وروڼو، ملګرو او پلار او زوی تر اړيکو د دوی اړيکې زياتې وي. داسې بريښي چې دا ډول اړيکې د پښتنو ترمنځ له ټولو هغو اړيکو څخه نږدې ګڼل کيږي چې پښتانه نارينه يې يو له بل سره لري. د نوکر او بادار اړيکې طفيلي Symbiotic دي: دوی نه يو بل سره نابرابر او يو د بل بشپړوونکي دي. د يوه سرنوشت او د ژوند دوام تر زياتې اندازې د بل يوه په کړو پورې تړلي دي.

ډيرې سترې او شتمنې کورنۍ ښايي ښځينه نوکراني يا د ماشومانو لپاره دايي يا د کورنۍ د ښځو لپاره خدمې هم ولرلې شي. دا ډول خدمې معمولاً په شاوخوا کې مخ لوڅې ګرځي. کله چې دوی زړې شي، نو په کورنۍ کې د لوړ مقام امتياز لاس ته ور وړي.

نوکرانو ته په عمومي توګه په کال کې يو څه جنس د معاش په ډول ورکول کيږي او معمولاً دا ورکړه د غذايې يوه ټاکلې اندازه وي. کله کله د ناظر مزدوري د ټول حاصل يوه معينه برخه تشکيلوي. څرنګه چې ناظران په ندرت سره ځانته د غلې ځانګړې ګدامونه لرلې شي، نو له دې امله داسې ګڼله کيږي چې معاش اخيستل د خاوند په ګدام کې د يوې معينې وندې لرلو حيثيت غوره کوي. له دې ځخه بغير دوی زياتره د خپل بادار سره يوځای او يا له هغه ځخه وروسته ډوډۍ خوري او کله کله سوغاتونه په تېره بيا د کليو په برخه کې لاس ته ور وړي. ناظران په ځينو خاصو وختونو کې لکه د هغو د زامنو د ودونو په موقع کې مالي مرستې لاس ته ور وړي. کله کله دوی د خپل بادار پوروړي شي، يا دا پېښه برعکس هم ليدل کيږي.

د دغو پوروڼو ځخه هيڅ ګټه نه اخيستل کيږي او اړيکې دومره نږدې وي چې د پور په زياتو اړخو باندې دومره تاکيد نه کيږي. د غلې په برخه کې د ثابت معاش په ځای ښايي نوکرانو ته خاوند په محله کې کور ورکړل شي او د خپلې کورنۍ اړتيا په برخه کې د خاوند په سوغاتونو تړلي اوسي.

بالاخره مريان (نارينه: انډيوال، ښځينه: انډيواله) په عمومي توګه د نوکرانو په ډله کې راځي. دوی د سوات د ناوې په زيات شمېر شتمنو کورنيو کې، په تېره بيا په سياسي لحاظ له متنفذو کسانو سره ژوند کوي. دغه کسان زياتره ښځې دي چې په دير يا باجوړ کې پلورل کيږي او يا له دغو ځايو ځخه د پنا وړونکو په توګه راځي ښايي خانان د هغوی يو شمېر د مينځې په توګه په حجرو کې د لوړ رتبهؤ ميلمنو د خدمت لپاره وګوماري. مګر دوی په جنسي لحاظ معمولاً د بادارانو په انحصار کې وي. که څه هم مينځې د يوه زنداني په توګه د خاوند د هيلو په مقابل کې د نورو خدمو په پرتله لږ مقاومت کولی شي، خو بيا هم په ورځيني ژوند کې دوی له نورو خدمو ځخه توپير نه لري. نارينه مريان ډېر لږو او زه د دوی د نقش او موقف په باب د باور وړ معلومات نه لرم.

له هغو پرته د بادارانو او نوکرانو ترمنځ اړيکې قراردادي دي او د دواړو خواو د غوښتنو له مخې فسخ کيدای شي.

نو د سوات د کليو اقتصادي سازمان ډېر پيچلی دی. په دغه سازمان کې يو لړ داسې ښکل ښکل قراردادونه شته چې نه يوازې په ځمکه پورې اړه لري، بلکې په خدماتو پورې هم تړلې دي او دغه اړيکې ښکل ښکل حرفوي ماهران

یو له بله سره تړي. دغه خصوصیت د سوات له فرقه‌یي نظام څخه راوځي او اقتصادي سازمان تر ډېرې اندازې د فرقې عملي نتیجه ګڼل کیږي.

د دغه نظام یو لړ خصوصیات د سیاسي سازمان لپاره ډېر زیات ارزښت لري.

څرنګه چې د سوات اقتصادي نظام غیر پولي دی، نو له دې امله له ځمکې څخه بغیر په نورو لارو کې د پانګې راغونډول ممکن نه دی، خو د مځکې حقوق اصلاً د پښتنو د فرقې په واکمنو سیمه‌ییزو خیلونو او په دویمه درجه په ستانه و غړو پورې اړه لري.

اقتصادي اړیکې زیاتره بزګري یا کسبګري د اوږدې نښې د قراردادونو په بڼه دي چې په هغو کې ورکړې څنډیږي او یا دریم کړی د ادعا له مخې ترسره کیږي.

په غوره تولیدي پروژه یعنې کرنه کې مځکوال د یوه مرکزي موقف په درلودلو سره د هغو زیات شمېر ماهرانو لپاره چې په تولید کې برخه اخلي ځارونکي ګڼل کیږي. او یوازې د ده له لارې کیدای شي چې دتولیدي پروژې برخه‌وال په حاصل کې وروستی ونډې لاس ته راوړي.

د استخدام کوونکي او استخدام شوي ترمنځ اړیکې (د خاوند او شخصي نوکر څخه پرته) ټولې خالص اقتصادي خصوصیت لري او په یوه ټاکلې قرارداد تړي له هغه چا څخه چې خپل مهارت او کار پلوري لوړ مقام لري او هم له دې امله چې په سیمه کې د وګړو د شمېر فشار زیات دی او د ټولو لپاره د استخدام شرایط برابر نه دي، نو په دې ډول دویمه ډله (استخدام شوي کسان، ژباړن) د چنې وهلو په یوه کمزوري موقف کې ځای نیسي او په حقیقت کې د دې هیله لري، چې قرارداد ترسره شي او هغه وساتي. له دې امله د قرارداد پای ته رسولو ګوابنی د مځکوال لپاره د یوې قوې وسلې په توګه هغه ته توان ورکوي چې په سیاسي لحاظ په قرارداد کوونکي باندې واکمني ټینګه کړي.

د کور د کرایه نیولو قراردادونه

د کلي د استوګنې کورونه په مځکوالو پورې تړلي دي او د دغو کورو شمېر د هر یوه مځکوال د مځکې د ساحې سره تناسب لري. په دې ډول نو د یوه کلي زیات شمېر اوسیدونکي په داسې کورونو کې ژوند کوي چې په نورو تړلي دي. د دغه حق په بدل کې دوی د کور خاوند ته یو څه باید ورکړي. همدارنګه له دې امله چې دوی د ده په ملکیت کې اوسي، نو سیاسي تابع او ملاتړلي هم ګرځي دغه اړیکې د «فقیر او کندری» په اصطلاحاتو کې نغښتې دي. نو په دې ډول وینو چې له یوې خوا اقتصادي اړیکې او د بزګرۍ قراردادونه مستقیمې سیاسي نتیجې نه لري، په مقابل کې د کور د کرایې په اجاره نیولو قراردادونه د خدمت او شیانو د ورکړې ترڅنګ د خاوند او د کور د اجاره کوونکي ترمنځ وړ سیاسي یا اداري اړیکې منځ ته راوړي د کور د کرایه کولو دغه دوه اړخونه یعنې سیاسي او اقتصادي خواوې به په راتلونکي کې په جلا توګه بیان شي.

د بل چا د کور د نیولو په بدل کې یو اجاره کوونکي باید کرایه (کلنګ – کندر) ورکړي. د دغې اجارې ماهیت تر یوې اندازې د اجاره کوونکي په موقف پورې اړه لري ښایي اجاره په پیسو جنس یا کار سره ادا شي. هغه کسان چې په کرنه کې کار نه کوي، (لکه د حرفوي او خدمت کوونکو فرقو غړي) په عمومي توګه یوه اندازه عاید لري او له دغه عاید څخه خپله اجاره د خدمت یا جنس یا دواړو په واسطه خلاصوي.

دوی له غره څخه په میاشت کې یو بار لرګی د خاوند د کورنۍ لپاره راوړي. دغه راز له دوی څخه هیله کیږي چې د خاوند لپاره د سفر خدمت ترسره کړي او هم خپل او د خاوند کور ترمیم کړي. دوی د زراعتي فعالیت د ستونزې لرونکي وخت په اوږدو کې باید له مزدورۍ څخه پرته او یا په ډېره لږه مزدورۍ مرسته وکړي. له

دې امله دوی د کار د ډلو په توګه په ساختماني چارو او یا د کرنې د ډېرو کارو په وخت کې تنظیم کیږي. بالاخره دوی په زیاترو کلیو کې په پرله پسې توګه په میاشت او یا کال کې د کور خاوند ته یوه اندازه د غوا غوړي ورکوي.

د کور خاوند په اجاره‌ګر باندې د یو لړ نورو حقوقو لرونکي دي چې د اړیکو د تاکید په ماهیت باندې رڼا اچوي. اجاره کوونکي د خپلې لور د واده په وخت کې د دې سره سره چې هغه د جمعیت په دننه یا بهر کې واده کیږي، د کور خاوند ته یوه څه معینه اندازه فیس د جنس یا پیسو په توګه ورکوي، (د مثال په ډول په پرانه کې شپږ روپۍ، دوه پاوه غوړي، لس پاوه وریجې، یوه چرګه د کور خاوند ته ورکول کیږی). سره د دې چې دغه فیس د اجاره کوونکي لخوا په حقیقت کې هغه د زوم او پلار لخوا ولور د یوې برخې په توګه برابریږي. د کور خاوند همدا شان دا حق لري چې په اجاره کوونکي باندې د حقوقي مؤسسې، د کلي د جرګې او بالاخره د سوات دولت لخوا د اینښودل شویو جریمو دریمه برخه ځانته وګرځوي.

دا باید ووایو چې هغه ډله چې د کور له خاوند سره د ګډو ګټو په اساس منځ ته راځي په ساحوي لحاظ ډېره منظمه ډله نه وي. پښتانه مځکوال په عمومي توګه یو لړ خورې ورې مځکې لري. همدا شان ښایي دوی په ښلو ښلو کلیو کې کورونه ولري. د هر کلي په داخل کې د یوه مځکوال کورونه په عمومي توګه په یوه محله کې پراته وي. خو ښایي د همغې محلې په څنډو کې ټیت و پرک واوسي. دا حالت له دې امله هم دی چې د ویش د سیستم په اساس (٦١مخ او له هغې وروسته وګورئ) د یوه مځکوال د مځکې حقوق، په ټاکلو نېټو له یوه ځای څخه و بل ځای ته لیږدي. په دغو وختو کې اجاره‌ګر چې په هر ټاکلي وخت کې هماغه مځکوال ته عین مکلفیت لري، یوازې د (مځکوال) له لارې یوه ټولنیزه ډله جوړوي. دوی یوازې هغه وخت د یوې متحدې ډلې په توګه شته والی موندلی شي چې مځکوال د دوی د تنظیم توان ولري او دا وغواړي چې دوی د یوه ګډ کار لپاره چمتو کړي. له دې امله دا ډله (اجاره کوونکي) چې له یوه فرد یا یو لړ مشرانو سره د قرارداد له مخې منځ ته راځي، نو په ساختماني لحاظ له هغو ډلو سره ورته دی چې په زراعتي تولید کې ونډه اخلي.

د کور اجاره کوونکي هیڅکله دا حق نه لري چې د مځکوال یا د کور خاوند سره قرارداد وکړي. خو داسې ګڼل کیږي چې دوی په دغو قراردادونو کې د لومړیتوب حق لرلی شي.

د اجاره‌ګر سیاسي مکلفیت په دغه ډول وضاحت سره بیانیدلی نه شي. د هغه عدالت، امنیت او محافظت په بدل کې چې د خاوند لخوا ورته برابریږي، هغه باید د ده حقوقي واک او قدرت ته وفادار او مرستندوی واوسي او د هغه احترام وکړي. په رښتیاني ژوند کې د قراردادو دواړه خواوې هیڅکله د دغو اهدافو په سرته رسولو باندې قادر نه دي. د پښتنو په یوه کلي کې هیڅ یو مځکوال د اجاره‌ګر د امنیت ضمانت کولی نه شي او ډېر شمېر د عدالت خاوندان دي. همدا ډول د اجاره‌ګر سیاسي وفاداري هغه چاته زیاته وي چې دوی ته د چټې وهلو په وخت کې ډېره ګټه رسولی شي. ډېره زیاته ګټه رسونکي هغه څوک دي چې د دوی امنیت تامین کړي او زیات پاداش ورته ورسوي. اجاره‌ګران ډېر ځله د کور خاوند د حقوقي صلاحیت په باب ملایانو او ستانه و ته مخ اړوي، په دغه برخه کې له هغو څخه پوښتنه کوي.

په دې سبب به د سیاسي اړیکو محتوی یوازې د ټولو سیاسي غوښتنو او نه غوښتنو په چوکاټ کې چې د پښتنو د کلي سازمان جوړوي، رابرسېره کیږي. په دې برخه کې کوم هغه حقایق چې په دې ترڅ کې باید ورته پاملرنه وشي، هغه د کور د خاوند او د کور د اجاره‌ګر ترمنځ د سیاسي پیروی ایدیال دی چې د دوی ترمنځ د اساسي پیوند د جز په توګه کار کوي. د کور خاوند له اجاره‌ګر څخه د کرایي غوښتنه کوي او اجاره‌ګر د خپلې خوښې د نو یو قراردادونو ازادۍ له مځکوالو څخه غواړي.

د نارینه‌و حجره

د نارینه‌و د حجرې جوړښت هغو جوړښتونو ته ورته دی چې مخکې یاد شول. هره یوه حجره یو مشر لري. د حجرې د غړیو اړیکې له دغه مشر سره دي (نه د حجرې د خلکو سره) چې ډله جوړوي.

حجره د پښتنو د فرقې خاصه ده او د سوات د ناوې یوازې په هغو سیمو کې چې پښتانه په کې میشت دي، موجودیت لري. د سوات د ناوې زیاته برخه د پښتنو تر سلطې لاندې ده. حجرې په هغو سیمو کې چې د ستانه و یا د هغو د اولادې لخوا اداره کیږي، وجود نه لري. په هغو ځایو کې چې حجره وي، نو هغه هرومرو د نارینه‌و په ورځني ژوند کې غوره اغیزه لري. په عین حال کې حجره د یوه کلوپ، لیلیې، میلمستون او د مراسمو او تشریفاتو او د خوړو ځای ګڼل کیږي. حجره د پښتنو د سیاسي ژوند د زیاتې برخې د فعالیتونو ځای دی. نو له دې امله زموږ د دغې څېړنې په چوکاټ کې یو خاص ارزښت لري. خو په سوات کې د حجرو د ډولونو د زیاتوالي په سبب د هغو د هر ډول بیان پیچلتیا منځ ته راوړي.

د فزیکي جوړښت له مخې د هغوی یو شمېر بنې له یو بل سره تقریباً لږ یا زیات ورته والی لري. په عمومي توګه لس یا پنځلس فوټه لوړ دیوالونه یوه سرخلاصي منځنۍ حویلی (انګړ) چاپیره کوي. د دغې حویلی په یوه یا دوو ځنډو کې ځلور کونجې کوټې داسې ودانې شوي دي چې چت یې په ښکلیو او حک شویو (کیندل شویو) ستنو باندې ولاړ دی. د دغو کوټو چت د مخې خواته راوتلی وي چې برنډه جوړوي. حجرې ته د ننوتلو په لار کې یوه یا کله کله دوه یا درې حکاکي شوي دروازې چې د ډبرې یا اوسپنې په واسطه ټینګې شوي او بندیدلي او قفل کیدای شي. نو په دې ډول له خونې ځخه په اسانتیا سره دفاع کیږي. که چیرې د غونډۍ پر سر وي، نو ګرد چاپیره دیوالونه یې نه جوړوي او انګړونه او کوټې یې په ازاده فضا کې پراته وي او د ناوې لور ته یې مخه خلاصه وي. په حجره کې لږ تر لږه دوه یا درې کوټې موجودې وي. په یوه لویه کوټه کې د ژمي د اور بلولو لپاره ځای موجود وي. بله کوټه یې د توشکو، بالښتونه او بڑستنو لپاره او یوه وړه کوټه د قدرمنو میلمنو لپاره هم په حجره کې موجوده وي چې هغوی هلته استراحت وکړي او خواړه وخوري. حجره معمولاً په کوچنیو کټونو، ډول ډول اضافي بڑستنو رنګا رنګ سترو بالښتونو او یو لږ هغو وریښمینو بیچاونو (روجایي ګانو) سره ښکلې کوي چې مخصوص حاشیې لري. ویل کیږي چې دا بیچاونې (روجایي) د ډېرو زیاتو وړړو او کټملو له اضرار ځخه مخنیوی کوي. په پرمختللیو ځایو کې یو شمېر اروپایي ډوله ځوکۍ او د چای د خوړلو مېزونه هم په حجره کې شته دی.

د پښتنو تر واک لاندې په هر یوه کلي کې دا ډول یوه حجره موجودیت لري. په هغو سیمو کې چې د پښتنو پر سلیزه (فیصدي) په کې زیاته وي، ډېر لږ داسې کیدای شي چې په یوه محله کې له یوې حجرې ځخه زیاتې حجرې موجودې وي. په هغو ځایو کې چې پښتانه لږ وي او هر یو پښتون هم یو ستر مځکوال وي، نو په دې یوه محله کې د هغو دلایلو له مخې چې وروسته به ځرګند شي، د حجرو شمېر زیاتوالی مومي. خو د هغه بیان له مخې چې لاندې به وړاندې شي، داسې فرض شوی دی چې په هره یوه محله کې یوه حجره موجوده ده او هر یوه حجره د یوه داسې مشر لخوا اداره کیږي چې په حجره کې د شاملو مځکوالو سیاسي مشر وي.

په حجره کې یوازې نر بالغ کسان غړیتوب ترلاسه کولی شي. هر ډول ماشومان یعنې هلکان او انجونې حجرې ته د ننوتلو اجازه لري، خو باید هلته ارام په یوه ګوټ کې له لارې ځخه لرې کښیني. که یو زیات شمېر ماشومان حجرې ته د راتګ میلان وښیي. نو دوی ته معمولاً اجازه نه ورکول کیږي. که ځه هم رسمي منعه کول نشته، خو بیا هم ښځې د شرم د احساس له مخې دروازې ته له ننوتلو ځخه منعه کیږي کله چې د نارینه د نشتوالي په وخت کې یوه خدمه د خوړو د وړلو لپاره حجرې ته ننوځي، نو په دروازه کې دریږي او په خجالت

سره په دروازه کې غږ کوي چې د يوه تن پام جلب کړي. ټولو نارينه‌و په مخ کې د حجرې دروازه خلاصه وي چې غواړي هلته ولاړ شي.

يوازې په حجره کې حضور هيڅکله داسې معيار کيدای نه شي چې يو تن دې د حجرې د شاملې ډلې همیشنی غړيتوب ترلاسه کړي. که موضوع داسې وي، نو دا پوښتنه رامنځ ته کيږي چې د کوم معيار په بنسټ باندې په حجره کې د پرله پسې شته والي او له هغې سره د اړيکې له مخې د يوې همیشنی ټولنيزې ډلې تعريف کيدای شي؟ دغې پوښتنې ته د حقوقو او وجايبو د ټاکنې په ترڅ کې ځواب ورکول کيدای شي. ځوک کولی شي چې د حجرې له ودانۍ څخه د ميلمستياو او مراسمو ترسره کولو لپاره استفاده وکړي؟ او ځوک د هغې په جوړولو او ترميم کې ونډه اخلي. دغو پوښتنو ته يوازې يو ځواب بسيا کيدای نه شي. ښايي د حجرې په ودانولو او ترميمولو کې د يوې محلي ټول اوسيدونکي برخه واخلي (سنګوټا)، يا به د دغو خلکو له منځ څخه د مځکوالو په واسطه دا کار ترسره شي (بيها) يا به ښايي د هغه عايد په واسطه چې د څړ ځايونو څخه د استفادې په سبب له کوچيانو څخه اخيستل کيږي (اوديګرام) او يا به يوازې د يوه مشر په واسطه (تانې) دا چارې مخې ته يووړل شي. ښايي بسترې، بالښتونه او داسې نور شيان د مشر لخوا برابر شي (سنګوټا او بيها). يا دغه شيان ښايي د محلې له ټولو کورونو څخه لاس ته راشي (اوديګرام، په پخوانيو وختو کې بيها). د ميلمنو لپاره خواړه د مشر له کوره (تانې) يا د مشر تر څارنې لاندې د ټولو مځکوالو لخوا (بيها) يا په فردي توګه د هغه چا لخوا چې ميلمه راولي سنګوټه، رونيال برابريږي. د ميلمستياو او مراسمو د ترسره کولو په وخت کې د حجرې څخه د استفاده کولو په برخه کې د مشر غير رسمي اجازه بايد اخيستل شوي وي. په دې شرط چې د هغو کسانو له هيلو څخه مخالف نه شي چې مشر د هغو د خوشحالولو هيله‌مندی لري. په داسې حال کې به مشر او نور ټول حاضرين د ميلمستيا له مفکورې څخه د دې سره سره چې ورکوونکی يې ځوک دی، ملاتړ وکړي.

تراوسه پورې ما له داسې ډلې څخه خبرې وکړې چې د نارينه‌و له حجرې سره اړيکه لري او داسې يوه متحده ډله چې د يوه پيژندل شوي پر نسيپ له مخې منځ ته راغلې او د ګډو حقوقو او وجايبو لرونکې ده. خو دا د دغې موضوع يوه خوا څرګندوي. بله خوا په خپله مشر دی چې د يوه اداره کوونکي فرد په توګه پر پاتې حاضرينو باندې سياسي تسلط لري. کله چې مشران د يو بل له حجرې څخه کتنه کوي، نو د دوی دغه ليدنه کتنه د هغوی ترمنځ په څرګنده توګه يو سمبوليک (رمزي) يووالی څرګندوي. که يو سړی تل د بل چا د حجرې لور ته تګ او راتګ وکړي، نو له دغه عمل څخه هرو مرو په سياسي لحاظ د ده تابعيت له هغه مشر سره جوتيږي. دا خبره چې وايي (دی زما په حجره کې کښيني) دا معنی ورکوي چې پلانی په سياسي لحاظ مادون (لاس کوزی) دی. د خطر په وخت کې نارينه د مشر حجرې ته د غونډو لپاره ځي او د ځو شيبو لپاره هلته کښيني او په دې ترتيب د هغوی سياسي وفاداري هغه ته يو وار بيا تائيديږي. دا چې مشر خپلې حجرې ته د تګ او راتګ لپاره نارينه هڅوي او په حجره کې د دوی د استفادې وړ ټول امکانات برابروي او لګښتونه يې په غاړه اخلي، نو د هغه لخوا د دغو کسانو څخه د ګټې اخيستلو امکانات د پوهېدو وړ دي له مشر سره د دوی د مخکښو اړيکو څخه پرته، د خان ګټې دا ايجابوي چې دا ډول ممکن ملاتړ خپل ځان ته راوکاږي.

د دې سره سره يوه حجره د سياسي وفاداری او هڅونې د يوې وسيلې په پرتله د نارينه‌و ترمنځ د ملګرتيا د ټينګولو په برخه کې او هم د يوه کلوپ په څېر چې په هغه کې د فردي مراسمو د ترسره کولو لپاره پراخه امکانات موجود دي، زياته د ګټې وړ ده. همدا شان حجره د نارينه‌و داسې يوه ډله څرګندوي چې په يوه ملکيت کې سره ګډوي او له دغه ملکيت څخه د ورځنۍ استفادې په برخه کې ګټه اخيستل کيږي. په عين حال کې د حجرې غړيتوب د کلي په سازمان کې يو عنصر دی او د ټولو هغو ظاهري عناصرو نتيجه ده چې د افرادو ترمنځ اصلي سياسي يووالی او تصنيف څرګندوي.

داسې ډېر لږ پېښيږي چې د نارينه‌و حجره په بشپړه توګه له نارينه‌و څخه خالي وليدل شي. هره ورځ په حجره کې يو زيات شمېر کسان راغونډيږي. د دغې غير رسمي ډلې غړيتوب په زياته اندازه بدليدونکی دی او د هغې شمېر تل څېړپاند (نوساني) وي. يو واده والا سړی په دې مسخره کيږي چې د خپل تفريح او هوسايۍ وخت په کور کې له ښځې سره تېر کړي. د لوړو رتبو کسان چې د تفريح لپاره زيات وخت لري، په نسبي توګه د خپل وخت زياته برخه په حجره کې تېروي. کارګران او بزګران تر لمر لويدو پورې په حجره کې نه ليدل کيږي.

په سهار کې د حجرې ازدحام لږ وي ځکه چې کار په لوړه اندازه جريان لري او مځکوال په عمومي توګه د خپلو کارونو د ځارنې لپاره په کروندو کې ګرځي او يا د غرو په لمنو او سيند کې ښکار کوي او يا د بېلو بېلو نورو کارونو په ترسره کولو بوخت وي.

يو شمېر نارينه له غرمې څخه مخکې د بريځرد ډوډۍ خوړلو لپاره حجرې ته راځي (له لسو څخه تر ۱۲بجو). خو له بلې خوا بزګران د غرمې ډوډۍ په کروندو کې خوري. په حجره کې له ډوډۍ خوړلو او هغه دغه ويلو غيبت کولو، څخه وروسته يو شمېر کسان په حجره کې استراحت کوي. د ميلمنو د عدم موجوديت په حالت کې مشر د استراحت لپاره کور ته ځي. له غرمې وروسته د حجرې ګرد چاپېره او کونجو کې د کټو دپاسه سړي ويده وي او د مچانو د مخنيوي په مقصد يې خپل ځانونه په شړۍ يا خادر کې تاو کړي وي. خپله کمپله يا بړستن په زور کله کله يو سړی څنډې او خپله بستره ټکوي يا د خپلې بسترې ځای د هوا د تازه کېدو او يا د لمر څخه د ليرې کېدو لپاره بدلوي، يا ښايي له برنډې څخه يو ګيلاس اوبه له منګي څخه واخلي. ډېر لږ شمېر په خپلو منځو کې پس پسی کوي. ځينې ضمني کارونه لکه د کب نيولو د جال د کړيو ټرل، د وړو سامانونو جوړول او يا د پړي ټرل هم ښايي د ورځې په اوږدو کې په وقفوي توګه ترسره شي.

د غرمې له درې نيمو يا څلورو بجو وروسته غوره او مستعد کسان په حجره کې د هندوستاني ډوله چای د څښلو لپاره چې په هغه کې شيدې او چای له خوړې سره يوځای ايشول شوی وي د خپلو مزدورانو سره راغونډيږي. له هغې وروسته يو شمېر تيت پرک کيږي، يو شمېر پاتې او يوه ډله رانغوځي. بزګران له پټيو وارسيږي. هغې والا خپلې هټۍ تړي او د لمر لويدو په شاوخوا کې د هغو ټولو کسانو اکثريت په حجره کې راغونډيږي چې په عمومي توګه حجرې ته تګ او راتګ کوي. ځينې کسان د شپې ډوډۍ په حجره کې خوري او يو شمېر د دغې ډوډۍ لپاره موقتاً کور ته ځي. بزګران او کسبګر د خپل ورځني کار په باب راپور ورکوي، په غوره سياسي او اقتصادي خبرو باندې بحث کيږي او د راتلونکې ورځې د چارو په باب پرېکړې نيول کيږي. د شپې په ټولو وختو کې د حجرې نندارچيان را دروميږ. د شپې په تيار غوڼې کېدو سره دا ډول متقابل اعمال زياتره تفريحي اړخ پيدا کوي. سه‌تار او منګی ډګر ته راوځي. ډېر ځوان کسان سندرې بولي او يا نکل ويونکي د خپلو اوږدو فولکلوري کيسو او نکلونو د ويلو په ترڅ کې يو په بل پسې نوبت نيسي. هغه کسان چې ويده کيدل غواړي پرله پسې وروسته له دې چې توشکې او بالښتونه سره ويشل کيږي، د خوب ځای ته دروميږ. زياتره په شريکه توګه په يوه بستره باندې ويده کيږي. زياتره وخت که يو سړی له دغه ويش څخه پاتې کيږي، نو ويش په يو څه جنجال سره بيا پيل کيږي او ورو ورو فعاليت له منځه ځي. ښايي يو نه ستړې کيدونکی نکل ويونکی نکل ته تر سهاره پورې دوام ورکړي.

حجره د نارينه‌و د ليليې په توګه تر زياتې اندازې د استعمال له پلوه توپير لري. مجرد نارينه د متاهلو نارينه‌و په پرتله زيات په حجره کې ويده کيږي او همدارنګه د پښتنو د فرقې نارينه د نورو فرقو[۳۴] له نارينه‌و څخه زيات

۳۴. په داسې مواردو کې فرقه (کاست) کوم څرګند مفهوم نه لري، خو د ژباړې د امانت ساتلو په لحاظ په خای پاتې شوه.

په حجره کې اوسي معلومات ورکونکی له دغه مطلب سره موافق و چې په پخوانيو وختو کې زياتره نارينه په حجرو کې ويده کيدل. دا چې نارينه په حجرو کې د ليليې په حيث ويده کيږي، علت يې دا دی له شځو سره د نږدې کېدو له امله شرم لري او له بلې خوا دوی نه غواړي چې زامن يې د خپل مور او پلار د خصوصي ژوند په باب معلومات لاس ته راوړي.

دغه ډول شرم په ډېره سختۍ سره د جنګيالو پښتنو د فرقې په منځ کې احساس کيږي او دغه موضوع شکاره کوي چې ولې د دغې فرقې نارينه په حجرو کې ويده کيږي. په دغه برخه کې زيات توپيرونه موجود دي. له هغو کليو څخه نيولې چې په حجرو کې يې مسافران ويده کيږي (رونيال) تر هغو کليو چې په حجرو کې يې ټول ميشته نارينه شپه تېروي (منګوړه)، دا څرګندوي چې په دويم حالت کې دغه خصوصيت د ټولې کښتنۍ سيبوجنۍ خاصه ده او دا سيمه په سوات کې ډېره زياته محافظ کاره سيمه ګڼل کيږي. دلته ټول نارينه په حجره کې پريوځي، يوازې مشر په شکاره توګه د شپې لخوا کورته د خپلو ماندينو د ليدلو لپاره ځي، په داسې حال کې چې ټول نور کسان په پټه سره د شپې خپل کور ته د خپل شځو د ليدنې لپاره وځي.

د هغو ټولو کسانو ترمنځ چې په حجره کې راغونډيږي، په ټولنيز لحاظ توپير موجود دی او دغه توپير په څرګنده توګه د حجرې د فعاليتونو په ترڅ کې څرګنديږي. خو سره د دې هم په حجره کې له داسې مواقعو څخه ډډه کيږي چې په مستقيمه توګه يوه خطي رتبوي طبقه بندي وښيي. پخپله مشر او د ده خيل يعنې پښتانه په عمومي توګه د حجرې په منځ کې زياتره په اروپايي ډوله څوکيو باندې کښيني، په داسې حال کې چې نور کسان په کټونو يا په مځکو باندې په پلټيو وهلو (چارزانو) سره د مشر او د ده د همقطارانو تر شاوخوا کښيني. د ډوډۍ د خوړلو په وخت کې لومړی پښتانه په ډوډۍ خوړلو پيل کوي او هغه څه چې ترې پاتې کيږي، نورو ټيټ رتبه کسانو ته ايښودل کيږي. کله چې پښتانه د يوه ګيلاس اوبو غوښتنه وکړي، نو د هر يوه ټيټ رتبه سړي لخوا ورته برابريدلی شي.

د خطاب اصطلاحات هم يو پرتليز مقام او موقف (دريځ) څرګندوي. همدا ډول، د معاشرت او اداب ښلا ښل ډولونه هم د نابرابرۍ د موجوديت شکارندوی دي.

د دريځونو (موقفونو) د توپير په باب پورتنی بيان شايي په ځانګړي جوړې (جفت) پورې اړه پيدا کړي او يا دا چې په ټولو حاضرينو چې په دوو يا دريو ډلو باندې ويشل شوي وي، ارتباط ولري. د زيات پيچلي تفوق د ډولونو له شوډلو څخه ډډه کيږي. معمولاً چای په دوو چاينکو کې راوړل کيږي. او څو پيالې ورځخه ډکوي او په عين وخت کې افرادو ته ورکول کيږي. برخوال په څو حلقو کې راغونډ او هر سړی چې په هره يوه حلقه کې وغواړي، د مقام او څوکۍ د په پام کې نه نيولو سره، هلته کښيني.

د حجرې يو لړ ستراتژيکې نتيجې لکه دا چې د يوه مشر لپاره په يوه مضبوطه ودانۍ کې د يوه لړ تل چمتو کسانو د يوې ډلې په لاس کې لرلو ارزښت په واضح توګه څرګندې دي. يو لړ نورې نتيجې او نقشونه به يې وروسته بيان کړو. حجره د يوه تفريحي مرکز په توګه د افرادو ترمنځ او حتی د رتبوي مراتبو د سلسلې (رتبوي هيراريش) د مخالفو قطبو ترمنځ د زياتو تماسونو د ټينګولو له امله هم ارزښت لري. د لوړ او ټيټ رتبه‌و کسانو ترمنځ ازاده راکړه ورکړه صورت نيسي. د مراتبو هغه سلسله چې په حجره کې منعکس کيږي، هيڅکله د تفاهم مخه نه نيسي. د پښتنو په هغو کليو کې چې حجرې موجودې وي، امکان نه لري چې داسې يو نخبه قشر وده وکړي چې له خلکو او پرګنو څخه جلا واوسي. د دغه ډول نخبه کسانو له ډلې څخه هر يو په خپله حجره کې له خپلو ملاتړو او متحدينو سره په تماس کې وي او د پښتنو د ټولو ټولنيزو سازمانو په شان دلته هم د موقف (دريځ) له لحاظه د برابرو کسانو ترمنځ د اړيکو په خلاف د نابرابرو کسانو سره په اړيکو باندې ټينګار شوی دی. له دې امله د حجرې سازمان تفريحي بڼه يوه داسې ډله څرګندوي چې د يوه مشر مشرتوب (رهبري) يې

منلې وي او په محلي سويه له ټولو فرقو څخه منځ ته راځي. د دغې ډلې ترمنځ ټولنيز فعاليتونه ډېر لوړ او د غړيو ترمنځ تماس زيات وي.

د يوه کليوال اړيکي د يوه پښتون سره چې دهغې له مخې افراد د نارينه‌و حجرې ته پرله پسې تګ و راتګ کولی شي او د حجرې د شاملې ډلې غړيتوب حاصلوي، يو غير رسمي قرارداد ګڼل کيږي. د هغو امکاناتو او ګټو په بدل کې چې د غړيتوب په ترڅ کې يې يو کليوال لاس ته راوړي، بايد د مشر جاري قدرت ته غاړه کيږدي. په دې ډول نوموړی کليوال د خپلې ناخرګندې سياسي خپلواکی يوه برخه له لاسه ورکوي له دې امله يوه سړي ته به ګرانه وي چې په يوه وخت کې د څو حجرو د ډلو غړی واوسي. زياتره وخت داسې موقفونه او شرايط رامنځ ته کيږي چې بايد په هغو کې انتخاب وشي. له بلې خوا څخه يوه سړي ته هيڅ ډول داسې مجبوريت نه پېښيږي چې د کومې يوې حجرې غړی شي. د کليو زيات شمېر اوسيدونکي دې ته ترجيح ورکوي چې ناپيلې او غير متعهد پاتې شي.

ستانه او د دوی پيروان

د کلي يوه ډله اوسيدونکي له دې امله د نارينه‌و د حجرې له ډلې څخه ځانونه ګوښه کوي چې د يوه ستانه او پرتو شاوخوا ډلې سره د يوځای کېدو په سبب د ستانه باور لاس ته راوړي. دمخه وويل شول چې د حجرې (مشرتوب) د پښتنو يو امتياز دی او د ستانه توب له موقف او مقام سره موزون نه ګڼل کيږي سره د دې هم د ستانه و تر شاوخوا داسې ډلې راتاو شوي دي چې د حجرې له ډلو سره په ساختماني لحاظ برابرې دي. د يوه ستانه پيروان د ځانګړو مرتاضانو (رياضت کارانو) سره د ديني زده‌کړې د يو لړ قراردادي ډوله مناسباتو په ترڅ کې تشکيل مومي ستانه په خپل کور يا په يوه سيمه‌ييز جومات کې د يوه تعليمي مرکز په پرانيستلو سره دغه تيت او پرک معتقدين د يوې ډلې په توګه سره تنظيموي. په لاندې برخه کې به دغه ډول ديني اړيکې په تېره بيا د سياسي فعاليتونو په ارتباط وڅېړم خو زه به په دې تاکيد وکړم چې د ستانه د پيروانو او د نارينه‌و د حجرې د ډلو ترمنځ هيڅ ډول تضاد نشته، په داسې حال کې چې په عملي توګه به دا ناممکنه وي چې په عين حال کې يو تن د دوو حجرو غړی واوسي. داسې کوم مانع نه ليدل کيږي چې د يوې حجرې غړي د ستانه له مريد کېدلو څخه منعه کړي. خو د شخصي غوښتنو له مخې زياتره نارينه يوه ډله پر بلې باندې ښه ګټي.

په دغه برخه کې د دې بحث د تشريح کولو لپاره به دا ضرور وي چې د پښتنو له نظره د پاک موقف په مفهوم پوه شو، ځکه د همدې مفهوم په اساس دی چې مريدان يو ستانه او پير ځانله انتخابوي او د هغه لار تعقيبوي. په سوات کې د نسبي ډلو داسې کټګوري هم شته چې د مقدس (پاک) موقف ادعا کوي. په دوی کې د ډيرې لوړې رتبې والا سادات يا سيدان موجود دي چې د حضرت محمدr اولاد دي. ډېره ستره متشکله ډله ميانګان نومېږي چې د پښتنو لخوا په پراخه مفهوم سره د هر يوه مقدس شخص په اولادې اطلاقيږي. خو که په غور سره وکتل شي، د ستانه و له ټاکلي درجې څخه پرته په نورو پاتې کسانو باندې دغه اطلاق په مشکل سره کيدای شي. امکان لري چې مقدس موقف په تقوا سره لاس ته راوړل شي. د هرې فرقې يو غړی ښايي مذهب ته ځان وقف کړي لکه فارسي صوفيان او هندي تارکيان. هغه کسان چې د يوه ستانه تر روزنې لاندې دغه لار تعقيبوي، د شيخ يا مريد په نامه يادېږي او د يوې خاصې درجې په لاس ته راوړولو سره د پيرۍ مقام ګټي. که چېرې پير په يوه شکل سره خپله فرقه بدله کړي وي، نو اولاده يې د يوه ستانه د اولادې په توګه تصنيف کيږي. که چېرې يو ملا په بري سره د يوه مذهبي لارښود په توګه رول په غاړه واخلي او خپلې ديني او اخلاقي زده‌کړې د خپلې زمانې له ټولنيزو ستونزو سره تطبيق کړي، ښايي دی د يوه ستانه په توګه وګڼل شي، دغه شان کسان (زياتره وخت د فقير په نامه يادېږي چې د بې‌ملکه او وقف شوي سړي په معنی راځي) او اولاده به يې د يوه ستانه په توګه تصنيف شي.

په هره يوه دغه کټګورۍ کې غوره افراد د «زبرګ» «بزرګ» په نامه يادېږي چې لغوي معنی يې ستانه دی. د خپل بيان د اسانۍ لپاره له دې څخه وروسته د ستانه لغت د ټولو هغو کسانو لپاره استعمالوم چې مقدس موقف ولري (که نومیالی وي او که نه) خو «ستانه» په دغه مفهوم د پښتنو د ميا د کلمې سطحې معنی ده چې په زياته اندازه د هغو کسانو لپاره استعمالېږي چې د ديني علومو معرف نه لري. د ستانه و د خاصو نومونو په باب بايد يو يادښت چې په لاندې کې يادونه ترې شوې ده، زيات کړو. څرنګه چې يوه پاخه سړي يا هغه چاته چې د صلاحيت مقام ته رسيدلی وي، د هغه نوم اخيستل سپکاوی ګڼل کېږي. له دې امله سياسي لقبونه يا نور اعزازي او له ځان څخه د يوه نسل مخکې نسبي نومونه ورته استعمالېږي. دغه موضوع د ستانه و په باب چې په ښلو ښلو حلقو کې په ښلا ښلو نومونو يادېږي، هم د تطبيق وړ ده د پښنو او افرادو د نومونو د اخيستلو په وخت کې به زه ښايي له معياري او کله کله د مستعارو نومونو څخه استفاده وکړم.

د سوات ستانه و ته زياتره د سيمه‌ييزو خلکو لخوا درناوی کېږي. دغه خاص موقف او قدرت له دريو منابعو څخه لاس ته راځي: د هغو (ستانه و) د مقدسو پلرونو د قبرونو تملیک چې د زيارتونو په توګه ورځخه ګټه اخيستل کېږي. د عنعنوي خير غوښتونکو او سلاکارانو په توګه د دوی نقش، او بالاخره د خپلې اخلاقي پاکي او قانوني معلوماتو د لرلو له پلوه د دوی د ديني مشرتابه د ادعا په سبب.

د سوات پښتانه خپل ځانونه ډېر سخت سني پښتانه ګڼي او دغو وروستيو وختو کې زياتره د وهابي متعصبينو د نظر تر اغېزو لاندې راغلي دي. د زيارتونو دودانولو، تزئين او د يوې واسطې په توګه هغو ته دعا کول هغه موضوعات دي چې د هغو په باب څرګند معيارونه د بدلون په حال کې ګڼل کېږي. په عمومي ډول دغو عنعنوي عملیو ته د پوهې او انتقادي نظر خاوندان په کرکه ګوري او هغه له دين څخه ناوړه ګټه اخيستنه شمېري. په داسې حال کې چې د ټيټ ټولنيز دريځ خاوندان په تېره بيا ښځې په دغو موضوعاتو باندې کلکه عقيده لري.

اساساً زيارت د نامتو سپيڅلي سړي د قبر څخه جوړېږي سره د دې چې زيارت عادي قبر وي. خو له نورو قبرونو څخه لوی وي او په وړو تېرو، ځلاندو شيشو او په ځلاندو ټوټو او خاورينو لوښو باندې سينګار شوی وي. په زيارت کې د تيلو څراغ موجود وي او دغه څراغ زياتره وخت په مقدسو شپو کې تر سهاره لګېږي. زياتره زيارتونه چې له هندسي پلوه برابر نه دي، ساتل کېږي.

د زيارتونو ارزښت په دې کې دی چې زيارت کوونکی د زيارت کولو په وخت کې ديني ثواب ګټي او هغه څوک چې په هغه ځای کې ښخ وي د هغه رضا ځانته حاصلوي. دغه ثواب په داسې حال کې د چا په نصيب کېږي چې د زيارت ساحې ته ننوځي او خيرات ورکړي. د دغه ثواب اندازه په هغه فعاليت پورې اړه لري چې يو زيارت کوونکي يې د زيارت کولو په ترڅ کې له خپل ځانه څرګندوي. ثواب هغه وخت زياتيږي چې د اوارې لارې په ځای د ټيټو او جګو لارو څخه ځان ورته ورسوي. د اسلامي تقويم په اساس ځينې ورځې او مياشتې د نورو ورځو په پرتله د زيارت کولو لپاره غوره ګڼل شوي دي. د زيارتونو اهميت يوازې هغو وليانو ته په درناوي کې نغښتی نه دی چې هلته ښخ شوی دی. پښتنو په دغه باب ځانله ځانګړې تجربې ذهنيت را لاس ته کړی دی. د زيارت اهميت هغه وخت څرګندېږي چې له هغه څخه کوم کرامت او نتيجه څرګنده شي. کله چې داسې نتيجې ترې ولېدله شي، نو هغه وخت زيارت يو غوره زيارت ګڼل کېږي. ويل کېږي چې د بيها د کلي په لويديځه خوا کې يو زيارت د يوه ولي له مرګ څخه زياته موده وروسته کشف شوه. يوه شيطانه وزه د يوه قبر په خوا کې څرېدله او له قبر څخه يې ټوپ وواهه او يو تی يې له قبر سره ولګېد، تی يې وپرسيد او سمدلاسه ناروغه شوه. بالاخره وزه ډېر ژر ورځخه مړه شوه. د کلي اوسيدونکي پو شول چې په دغه قبر کې

یو قدرت موجود دی او باید ډېر زیات درناوی یې وشي. نن ورځ دغه قبر د سیمه‌ییزو خلکو د هیلو د ترسره کولو او د ښځو د امیدوار کېدو او ځارویو د بلاربېدلو لپاره ډېر غوره زیارت ګڼل کیږي[۳۵] همدا شان د تاپې په کلي کې د یوه ستر ولي په قبر باندې یو ستر زیارت شته چې د ده کرامت او ولایت د ده له مرګ ځخه زیات وخت وروسته معلوم شو. دی په یوه نا اشنا غریب مړستون کې و چې د یوه مقدس سړي لخوا یې هغه وخت قبر کشف شو چې له قبر ځخه شغلي پورته کېدلي. له بلې خوا په سوات کې دوه نور غوره زیارتونه هم شته چې یو یې د پیر بابا په بونیر او بل یې د سیدو بابا (د سوات اخوند) د سوات په سیدو شریف کې پروت دی. دغه زیارتونه دواړه د داسې کسانو قبرونه دي چې په ژوندانه کې ډېر ستر کسان وو. سره د دې هم د پیر بابا (سید علي ترمزي) اعمال او مقام په خلکو کې لږ پاتې دی او په عمومي توګه یې زایرین دومره نه یادوي.

د وژل شویو کسانو (شهیدانو) قبرونه پرته له دې چې د وژل کېدو کیفیت یې څرګند شي، په عمومي ډول د وژل کېدو په ځای کې پراته دي او کله کله د زیارت بڼه ځانله نیسي او پرته له کوم توپیر ځخه هغو ته درناوی کیږي. داسې عقیده موجوده ده چې شهید کسان لاتراوسه زمونږ په منځ کې پاتې دي. خو د انسان له سترګو ځخه پټ دي. د سیمه‌ییزو خلکو نران او ښځې له زیارتونو ځخه د شخصي حاجتونو لپاره د دعا او زاریو په برخه کې ګټه اخلي. د مثال په ډول ناروغیو، نا امیدواری، نیستۍ او د بدمرغۍ په صورت کې له زیارت ځخه د مرستې غوښتنه کیږي. د دغو دعاګانو او غوښتنې په وخت کې د زیارت په لکړه او یا شاوخوا ونو او بوټو باندې جنډې تړل کیږي. د اړتیا وړ سمبولیک سوغاتونه لکه (د ماشومانو کوچنۍ زانګوګانې او یا د خاورو ځخه جوړې شوې حیواني ځېرې) هلته ایښودل کیږي او د قبر دپاسه د غرځنیو او یا د غرنیو وزګوړو ښکرونه ایښودل کیږي. داسې بریښي چې د دغو اعمالو د ځرګندولو یا مستند کولو لپاره منظم عقیدوي نظام نشته. له زیارتونو ځخه د بیه لرونکو او هغو شیانو د خوندي ساتلو لپاره استفاده کیږي چې وړل یې ګران وي (لکه لرګي، واښه، د کرنې وسایل، غلې دانې) ډېر لږ کسان دا جرات کوي چې د غلا لپاره په دغه پاک حریم باندې تعرض وکړي. دغه عمل یوازې جرم نه دی، بلکې ګناه هم ده. له دې امله هغه شیان چې په زیارت کې ایښودل کیږي، نسبتاً خوندي دي.

تر یوې اندازې ارزښت لرونکي زیارتونه د یوه متولي (مجاور) تر تملیک او ساتنې لاندې وي. دغه سړی کیدای شي یو بالغ کس اوسي. ښه به دا وي دا سړی د مرحوم ستانه (ولي) د منسوبینو یا له خپلوانو ځخه وي. هغه وخت چې زیارت کوونکي زیارت ته راځي، مجاور په زیارت کې حاضر وي. دی هغه خیراتونه او نذرونه چې زیارت کوونکی یې راوړي، ټولوي. کله چې د زیارت عاید زیات وي او همدا شان د یوه مرحوم ستانه منسوبین هم په شهر کې ډېر اوسي. نو ښایي دوی زیارت په نوبت وساتي او یا عاید یې په منځ کې سره ووېشي. ویش زیاتره د تنزیل د پرنسیپ په اساس ترسره کیږي، یعنې د خپلوانو ډله خپله ونډه په عاید کې د هغه نسب له لارې لاس ته راوړي چې دوی د هغې ادعا کوي. په دې ډول د یوه پلار د څو زامنو ونډه د تره زوی د ونډې سره یو شان پرتله کیږي. د ژوندیو ستانه و ارزښت په دغه حقیقت کې نغښتی دی چې دوی د زیارت د سپیڅلو کسانو د ساتونکو په توګه د الله Y او انسانانو ترمنځ د واسطې حیثیت لري. دوی د احترام وړ کسان دي او له دوی سره سلا مشوره کیږي او خوشحالي او رضایي لاس ته راوړل کیږي. زیات شمېر داسې کسان شته چې نسب یې پیژندل شوی دی، خو هیڅ ډول پلرني زیارتونه نه لري.

ټولو مقدسو او سپیڅلو کسانو ته د نسب د سپیڅلي مقام له مخې درناوی کیږي. هر سړی حتی مشر هم اتاق ته د ستانه رانوتلو په وخت کې باید له خپل ځای ځخه جګ شي. د دغه ډول دریځ (موقف) لرونکي کسان تقریباً د پښتنو په ټولو کلیو کې پیدا کیږي. دوی د خپل سپیڅلي میراث او د اخلاقو او قوانینو په باب د پوهې

۳۵. دا تشې افسانې چې شرعي اعتبار نه لري د پښتنو په سیمو کې زیاتې دي، ژباړن.

لرلو په سبب له سیاست څخه جلا د خلکو په منځ کې په عنعنوي توګه د منځګړیو او سلاکارانو په توګه ژوند کوي. دغه رول هغه وخت جوتیږي چې د سپین لمنو په توګه په جګړه مارو ډلو په منځ کې د روغې جوړې لپاره ګرځي. خو دا امتیاز د دې مانع نه ګرځي چې په نورو وختونو کې دوی وسله له ځان سره ونه ګرځوي. په نال کوټ کې زما میلمه پال چې په عمومي توګه د نال کوټ د پاچا په نامه یادېده اوسیدو، ماته په دغه باب داسې بیان وکړ او د خپل ژوند د غوره پېښو څخه یې له دغو دوو[۳۶] څخه د یوه انتخاب ماته راوښود او حتی د جګړې په وخت کې یې د یوه بد لیدل په بل باندې یاد کړل.

له سیمه‌ییزو ستانه و څخه هیله کیږي چې له خپل لوړ مقام څخه د سولې د ټینګښت په برخه کې استفاده وکړي او د دغه کار په بدل کې د پښتنو له خیل څخه دوی ته مځکې ورکول کیږي. د جګړې په وخت کې د ستانه و کورونه د پناه‌ګاه حیثیت لري. پنځوس کاله مخکې د تانې د دوو ګوندونو ترمنځ جګړه کې دغه قانون تر پښو لاندې شو او شپږ تنه مشران د ستانه و په کور کې تعقیب او ووژل شول. په یوه بیت کې دغې پېښې ته دا ډول اشاره شوې ده:

چې شپږ خانان پرې نه خلاصیږي، دغه میا ته سرای چا ورکړی دی؟

یعنې کله چې دغو ستانه و د شپږو خانانو مرسته ونه کولی شوه، نو ځمکه چا ورته ورکړې ده. بالاخره ستانه او دیني علما د روحاني مشرتابه له لحاظه د یوه موقف (دریځ) لرونکي دي چې د هغه څخه په استفادې سره دوی کولی شي په ځینو وختو کې خپل عملي فعالیتونه او مشرتوب پیل کړي. د لویدیځو علماو په نظر ډېر غوره فعالیت یې جهاد دی چې باید د یوه مقدس فرد لخوا پیل او تائید شي. دغه فعالیت د هغه اړو دوړ سره برابر ارزښت لري چې د سیاسي مشرانو په مقابل کې د ملایانو او ستانه و لخوا د هغوی د زغم نه کولو ناوړه استفادې په وخت کې په کار اچول کیږي. په دې ډول دغه هماغه ارزښتونه او مفاهیم دي چې د سپیځلي مقام لرونکي افرادو قدرت او صلاحیت ورځخه لاس ته راځي. د ستانه و او غیر ستانه و ترمنځ د اړیکو ځرنګوالی دصلاحیت د ډول او بڼې له مخې توپیر مومي. دوه ډوله اړیکې یې دا دي: د منځګړي یا سلاکار او د هغه پیرو ترمنځ، او یا هغه اړیکې چې د یوه لارښوونکي مجاهد او د عقیدې د پیروانو یا سپاهیانو ترمنځ موجودې دي.

د سوات نامتو اخوند (مړینه۱۸۹۸م) سره د دې چې په ۱۸۶۳م کال کې یې د امبیله په مقدسه جګړه کې برخه واخیسته، خو پاتې عمر یې د سلاکار او پیر و (مرید) د اړیکو د ټینګوونکي په بڼه تېر کړ. تقریباً د ده د ژوندانه په وخت کې بریالي سیاسي مشران د ده مریدان وو. په ډېرو وختو کې د ده سلا په غوره ډول عملي کېدله او د ده ستره سپیځلتیا د مریدانو د بریالیتوب ضامنه وه. د ده په مرسته د بابوزیو یو بې‌ارزښته مشر د مالک بابا په نامه ډېرو لوړو درجو ته ورسید او له خپلو زامنو سره د سوات د ناوې په غوره برخه باندې واکمن شو.

عنعنوي کیسې دا خبره بیانوي چې د ملک بابا پیروان د هغه د ژوند په لومړیو وختو کې د ده د سیالانو یعنې جوله خیلو په پرتله لږ و او د اودیګرام له کلي څخه پاس چې د ده ګوند په کې ژوند کاوه، کلابند شو. ملک بابا په دې بریالی شو چې د شپې په محال وتښتي. په پټه د غرو له لارې د اخوند د مشورې لپاره سیدو ته ورسید او له هغه څخه یې وپوښتل چې څنګه به وکړای شي چې د خپلې ټولې کورنۍ د وژل کېدو او په جګړه کې د ناکامۍ له شرم څخه ځان خلاص کړي؟ اخوند ده ته دعا وکړه او ورپسې یې ورته وویل: «ته سبا ته چې د روژې د مبارکې میاشتې لومړۍ ورځ ده، باید یو غوایي حلال کړي او خپل جنګ ته دوام ورکړي، هر څه به سم شي». ملک بابا وکولی شول چې بیا کلابند شوي کلي ته ځان ورسوي او لکه چې اخوند ویلی و، شپږ میاشتې وجنګید او د حلال شوي غوایي په خوړلو سره یې دا نېټه تېره کړه. په دغه وخت کې د مقابل ګوند خواړه خلاص شول. ملک بابا هغوی ته خواړه ورکړل. یوه یا دوه ورځې وروسته دغه خواړه هم پای ته

۳۶. وسله او سپینه لمن، ژباړن.

ورسيدل. دوی له خپل ځان څخه وپوښتل چې ولې موږ له دغه سړي سره چې موږ ته خواړه راکوي وجنګيږو؟ په دې ډول دوی يوې سوله‌ييزې پربکړې ته ورسيدل. د دغسې ښو سلامشورو له لارې د اخوند شهرت زيات شو او د ده بريالیو پيروانو د خپل نفوذ لاندې ساحه پراخه کړه. په دې ډول د اخوند شهرت زيات شو. اخوند له غوره مشرانو سره د ده دوه اړخيزو اړيکو څخه په استفادې سره وکولی شول چې په ټوله ساحه باندې نفوذ ټينګ کړي او ده ته يې دا موقع ورکړه چې د خانانو سياست تر کنترول لاندې راولي او حتی تر خپل قدرت لاندې ټاکلې سيمې د يووالي لپاره يې هڅه وکړه. د اخوند موقتي بريالیتوب د دې سبب شو چې د ده لمسی د اوسني سوات د دولت په جوړېدو باندې بريالی شي او خپله واکمني يې په دغه اساس باندې ټينګه کړه.

په همدغه شان ورته اړيکې په سيمه‌ييزو او کوچنۍ سويه د ستانه و او سيمه‌ييزو مشرانو ترمنځ او هم د کم نفوذه پاک لمنو اشخاصو او د کليو د اوسيدونکو په منځ کې ليدل کيږي د پښور تر اداري لاندې سيمو کې له دغو اړيکو څخه په اوسنيو سياسي انتخاباتو کې دمانګې د کلي پير استفاده کړې ده.

د پير او مريدانو ترمنځ اړيکې په بشپړه توګه اختياري دي او د مريد د هڅو په ترڅ کې منځ ته راځي. له پير څخه د دودونو، اخلاقو او په بشپړ ډول دعملي او دنيايي موضوعاتو په برخه کې سلا مشوره اخيستل کيږي. دی په عين حال کې د يوه امام او قانون پوه په حيث دنده ترسره کوي. د هغې نړۍ له منځګړيو سره د ده قرابت او په دغه دنيا کې د هغه د سلاکارۍ اغيزې، پرهيزګارۍ او له شريعت سره د ده پوره اشنايي د دې سبب ګرځيدلې چې دوه ګونې نقش ولرلی شي. څرنګه چې دی له لوړ رتبه يا ټيټ رتبه دواړو ډلو کسانو سره په تماس کې وي او د انساني شخصيت تحليل په پوره اندازه ورته معلوم وي، نو له دې امله دی خپلو مريدانو او پيروانو ته چې د سياسي لوړتيا غوښتونکي وي او يا يوازې او يوازې د خپلې کورنۍ د ملکيت د ساتنې په مينه وي، دېرې اغيزمنې او له هوښيارۍ څخه ډکې سلامشورې ورکوي.

د لرې سپيځلتيا لرونکو پاک لمنو کسانو په شاوخوا کې ښايي د اسلامي جهاد د نظريې او د غازي لپاره د زياتو برکتونو د موجوديت په اساس يو موقتي سازمان منځ ته راشي چې په هغې کې دی ونډه لري. زياتره د ملايانو له خوا برابريږي. د دغې لارې د بريالیتوب لپاره په سيمه کې زيات کړکيچ ته اړتيا ده چې په دغه کړکيچ کې يو سړي د زيات زړورتوب ننبې څرګندې کړي او په دې ډول د نورو جنګيالیو لپاره ډاډ منځ ته راوړي. نو له هغه وروسته به د زړورتوب پيل کوونکی په ډېر شور او څوږ کې ډوب شي. تر هغه چې دا کشاله روانه وي. دی به ښه ژوند وکړي او ډېر قدرت به ولري. کله چې دا موضوع خلاصه شي، نو دی بلې سيمې ته ځي او هلته بيا له سره همدغه کيسه پيل کوي.

د شمال لويديځو ايالاتو په باب د برتانيا په نشريو کې د دغه ډول متعصبينو فعاليتونو او د سيمې ستونزو د زياتو او اور لګولو په برخه کې موضوعات بيان شوي دي (د مثال په ډول بارتن ۱۹۳۹، ۱۰۵ -۱۱۱ مخونه او نور وګورئ) په حقيقت کې دغو کسانو له هغو تضادونو څخه استفاده کړې لکه د هند د عيسوي حکومت او مسلمانانو ترمنځ چې موجود و. د سوات، باجوړ او مومندو په سيمه کې د ترنګزيو حاجي او زوی يې پاچاګل د الينګار فقير، ملامستان يا سرتور، ملاپوونده او سنډ کې ملا په دغه کتګورئ کې شاملیږي[۳۷] او په موقتي توګه يې په ډېرو سترو ډلو باندې بری حاصل کړی دی. په دې ډول ملامستان د دې توان پيدا کړ چې په ملکنډ کې (۱۲۰۰۰) او له هغه سره يوځای (۸۰۰۰) تنه نور په چکدره کې (پارلماني اسناد ۱۹۰۱) په ۱۸۹۷ کې تنظيم کړي چې دا نېټه په لاندينې سوات کې د دغو دوو برتانوي بندرونو له جوړېدو څخه لږه وروسته وه. له دغه سره ورته کسانو لکه په تېرا کې سيد اکبر او په وزيرستان کې فقيرايپي په نورو سرحدونو کې زيات شهرت

۳۷. دا د امپرياليستي عناصرو خاصه ده چې ستر ملي اهداف او ستر ملي اشخاص چې د دوی د شومو اعراضو په ضد مبارزه کوي، دغسې توجيهه کوي او حقايق په نيرنګونو سره پټوي، ژباړن.

گټلی دی. د ویش په وخت کې د برتانوي هند د قواو یوه ډېره اندازه قوه د دغو متعصبینو د ایسارولو لپاره برابر شوې وه. د خپلو نیکونو د سلا په خلاف د پاکستان اداره کوونکو تصمیم ونیو چې خپله قوه له دغو ځایو ځخه وباسي او ځینې چونې وړانې کړي د دغو اقداماتو په ترڅ کې د دغو متعصبینو فعالیتونه لږ شول او نفوذ یې کم شو. په جوته توګه دوی ته د کافرو د حکومت موجودیت دا زمینه برابره کړه چې د خلکو په سترو ډلو باندې قدرت پیدا کړي چې دا حالت معمولاً د قبیلوي نظام تر تسلط لاندې د صلاحیت او واکمنۍ بل سیستم ځرګندوي. د دغو مقدسو مجاهدینو په لړ کې یوازینۍ سړی چې اوس هم ډېر نفوذ لري، فقیر ایپی دی چې دا وخت جهاد نه تبلیغوي، بلکې د ناسیونالیزم ملاتړ کوي او د وزیرو په غرنۍ سیمه کې د پښتونستان لپاره په مبارزه بوخت دی، د افغانستان او هند لخوا یې ملاتړ کیږي[۳۸].

له نړیوال سیاست سره دغه راز اړیکې هیڅکله د پښتني مذهبي مشرانو لپاره نوې نه بریښي. دوی له زیاتې مودې راهیسې په بین المللي کشالو کې د خپل نقش اعجاز په سترګو لیدلی دی. د دوی د ستراتیژیکې پوهې د اندازه کولو لپاره لاندنۍ لیک چې که څه هم دومره موثقه اطلاعاتي منبع به نه وي، بیا هم یو په زړه پورې دلیل ګڼل کیږي. دغه مکتوب د ۱۸۹۷م کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه د برتانوي قوې لخوا په قبیلوي سیمه کې د سید اکبر نومي مذهبي مشر په کور کې پیدا شو چې د ده د یوه ملګري ستانه لخوا راغلی و:

«عدن چې د برتانیا تر لاس لاندې یو بندر و، له هغو ځخه د دغه ځای سلطان نیولی دی. د سویس کانال چې د هغه له لارې د برتانیا قواوې په شلو ورځو کې رسیدلی شوای، هم د سلطان لخوا ونیول شو. اوس برتانوي قواوې هند ته د رسیدو لپاره شپږو میاشتو ته اړتیا لري». (پارلماني اسناد ۱۹۰۱).

په دې ډول د مسلمانو او عیسویانو ترمنځ له تضاد ځخه پرته هم ښایي د سپیڅلو کسانو د تبارز لپاره زمینه برابره شي. د کرمې د ناوې د اورکزیو په منځ کې ستر روحاني مشر محمود اخوندزاده په خپل ټول ژوند کې د برتانیا په مقابل کې خپله بې‌طرفي وساتله.

د کرمې سیمه د سني او شیعه د دواړو ډلو مسلمانانو د موجودیت له امله بیساری ځای دی او دغه اختلاف په دغه ځای کې اخوندزاده ته چې یو متعصب سني دی، زمینه برابره کړه. حتی د ترنګزیو حاجي چې په دوستانه توګه د برتانوي اداره چیانو په خاطرو کې د «سرحداتو پانې سمندري مرغی» په نامه یاد شوی، د داسې یوه اختلاف له مخې یې خپل دریځ (موقف) پیاوړی کړ چې د مسلمان او کافر ترمنځ له اختلاف ځخه ډېر لږ و. ده د ساپیو او کندهاریو، په جلا جلا خیلونو باندې (ښایي په اصل کې به د پښتنو ځخه دمخه و. ویلي ۱۹۱۲) هغه وخت تسلط پیدا کړ چې هغوی یې د خپل ترکاني مشر د خار د خان په مقابل کې د دفاع لپاره تنظیم او راپاڅول (بارتن۱۸۳۹، ۱۰۸مخ وګورئ). میاګل ګلشاه زاده عبدالودود د سوات د اخوند لمسی هم د سوات د دولت د جوړولو په وخت کې همدغه پلمه په پراخه اندازه په کار واچوله. د دیر نواب د سوات د ناوې په لور خپلو فتوحاتو ته دوام ورکاوه او میاګل له دغه بحران ځخه د خپل قدرت د ټینګولو او خپلې غوښتنې د ثابتولو لپاره استفاده وکړه. په حقیقت کې حالات داسې و چې د ده په شان مشر ته بلنه ورکړل شي او ده دوه سیالان د جعفرشاه او سنډکی ملا په نامه لرل. د سوات د دولت له ټینګولو وروسته د ده لومړنی اقدام نه یوازې د هغو مخالفینو خارجول و چې له ده سره یې مخالفت درلود، بلکې ټول سپیڅلي شخصیتونه یې چې بالقوه مخالف و، هم وایستل. دلته باید یوه ډله غازیان په انګلیسي کې دهندوستان متعصبین یاد شوي دي، هم یاد کړو (بارتن۳۹مخ او له هغې وروسته) دغه ډله د سید احمد بریلي پیروان دي چې وهابي نظریې یا عقیدې لري. دوی (۱۳۰) کاله وړاندې د سوات او سند دریاب ترمنځ سیمه کې د یوه ټولګي په حیث موجودیت پیدا کړ.

۳۸. دغه د محقق خپل نظر دی. فقیر ایپي د عمر تر آخره پورې هم د انګریزانو او هم د هغوی د ګوډاګیانو پاکستاني مارشیلانو په خلاف همیشه جهاد پرمخ بیولی دی، ژباړن.

دوی په اصل کې غیر پښتانه او وداوارو سیمو لخوا یې په مالي لحاظ ملاتړ وشو او د شمېر په خلاف د خپل ننني مذهبي دسپلین له مخې یې بیساری نفوذ پیدا کړ. دغه جمعیت د سکانو د ظلم په مقابل کې د مسلمانانو د یوه قهر امیزه نهضت په توګه منځ ته راغی. خو د دغه جمعیت زیات عمر له برتانوي هند سره په مبارزه کې تېر شو او په هغه وخت کې دغه جمعیت د سوات په تاریخ کې د دغې ناوې د مذهبي مشرانو په مرسته غوره رول لوبولی دی. د مثال په ډول د جعفر شاه په واسطه چې دمخه ورته اشاره وشوه او په سیمه کې یې د صلاحیت او قدرت ادعا کوله. دوی په سیمه کې د جګړو د پیدا کولو له امله د برتانوي افرادو د لیږلو موجبات هغه ځای ته برابر کړل. دغه جمعیت لومړی په سیتانا کې میشت و. خو د برتانیا د یوې ډلې جزایي افرادو د حملې په واسطه د سند د ناوې شمال لور ته د سماستا سیمې ته لاړل. د دوی اوسنی مشر شهزاده برکت الله دی. د سوات د دولت له جوړېدو وروسته د سوات په ناوه کې د دوی نفوذ پرله پسې لږ شوی دی. اجازه راکړئ چې زه د دغه څېرکي موضوعات بیا له سره راغونډ کړم. ما یو لږ ډلې د خپل فعالیت په ټاکلي ساحه لکه تولید او تفریح کې بیان کړي او هم مې دیني څېړنې، د دوی متداوم غږیتوب او نامشخصې سیاسي دندې تر څېړنې لاندې ونیولې. خو دغه ډلې له هغو ډلو څخه چې په دویم او څلورم څېرکي کې شرحه شوې توپیر لري او هره یوه یې د ننني صلاحیت د نظام لرونکې ده. دغه ډلې د یوه لارښود او ټیټو خلکو ترمنځ د متقابل قرارداد له مخې منځ ته راځي. په دې ډول دوی د یوه لارښود موقف ټاکي او هغه ته خاص قدرت ورکوي چې په سیاسي لحاظ له دغه قدرت څخه کار اخلي. په راتلونکو څېرکیو کې به هغه لاره بیان کړو چې د هغې پر بنسټ باندې مشران له خپلو دغو موقفونو (دریځونه) څخه د خپلو سیاسي ملاتړ و د برابریدو لپاره استفاده کوي. لومړی دا ضروري ده چې دغه لار د سیمه‌ییزو ټولنو د عمومي سازمان په بیانولو سره سره څرګنده کړو.

شپږم څپرکی

د ځمکې مالکیت او په سیمه‌ییزو ټولنو کې سیاسي اړیکې

تراوسه پورې د سازمان غوره پرنسیپونه او اصول بیان شول. دغه اساسات له خپلوې (فرقي، واده، نسبي ډلې)، اقتصادي ژوند (اقتصادي قراردادونه، کور اجاره)، تفریح (د نارینه‌و حجره)، دیني سنن (د ژوند د غوره مراسمو غونډې) او دین (د ستانه و مریدان) څخه منشا اخلي. خو دغه پرنسیپونه د سوات د ټولې ناوې د ټولنیزو اړیکو په پیچلي شبکه کې راغونډ شوي دي او سوات ناوه له بهرنۍ نړۍ سره نښلوي. په مخکنیو بحثونو کې د دوی د هر یوه شرحه په جلا توګه تر ممکنه حده وړاندې شوې ده، په ټولنیز ژوند کې، د هغوی د ارزښت د ښودلو لپاره باید په سیمه‌ییز چوکاټ کې د دوی خپل منځي اړیکې بیان شي. له ځمکې سره اړیکې د دغه ډول پوهې لارښود برابروي، ځکه سیمه‌ییز ټولګي ټول په ګډه سره د ژوند د دوام لپاره په ځمکه باندې تکیه لري، د سیمه‌ییزو ټولنو د سازمان یو تحلیل باید د ځمکې د مالکیت د سیستم له سریزې وروسته ترسره شي.

لکه چې دمخه مو واضحاً وویل په سوات کې ځمکه د څو محدودو کسانو په واک کې ده او د هغې زیاته برخه ملکیت د پښتنو په لاس کې دی او تل و. د سیمو په زیاته برخه باندې د نفوذ ادعا ټوله د پښتنو د نسبي خپلونو او ډلو لخوا کیږي. کله چې د یوه پښتون مځکوال څخه وپوښتل شي چې څومره ځمکه لري، نو دی له څو ټاکلیو ونډو (برخو) څخه ښایي یادونه وکړي او یا ښایي دی به د برخې اندازه او ارزښت په روپیو او پیسو وښیي او دا هغه اصطلاح ده چې د مغولي مالیې ټولونو له نظام څخه سرچینه اخلي. په دې ډول ښایي ځواب یوه نیمه برخه، یا دوه روپۍ او شپږ پیسې وي. په یوه روپۍ کې د پیسو شمېر د سیمو په پام کې نیولو سره ۲۴، ۳۲ او ۶۴ دی. د برخې او روپۍ سره برابره ساحه په بېلو بېلو سیمو کې توپیر لري. خو په یوه سیمه کې تقریباً ثابته وي.

خو یوه برخه سره د دې هم په فت مربع سره ښودل کیدلی نه شي. په یوه برخه کې د یوې ټاکلې پر سلیزې (فیصدی) په اساس بېل بېل ډولونه ځمکې لکه للمي، د مصنوعي خړوبې لاندې ځمکې، په طبیعي خړوبې لاندې ځمکې (دلدلزار)، دیوال لرونکي باغونه او په کلي کې د کورونو ځمکې شاملې دي (دویم څپرکی وګورئ).

څرنګه چې په دغو ډولو ځمکو کې د ځمکې نوعیت توپیر پیدا کوي نو له دې امله د یوې ارزیابۍ په ترڅ کې ځمکه په خورې او ترخه باندې جلا کیږي. په دې ډول ښایي یوه ساحه ښایي وړه وي، خو سمسورتیا لري. په دې ډول په مناسبه توګه ځمکې باید د ارزښت له مخې مساوي وي او د ښلو ښلو ډولو ځمکو د یوه برابر انتخاب څرګندوی وي. نو ځکه که یو سړی دوه برخې ولري په تقریبي توګه د بل تن چې یوه برخه لري دوه واړه حاصل اخلي.

د ځمکې هر واحد د پښتنو د نسبي سترې ډلې د پراخه ملکیت د یوې برخې په توګه څرګندیږي دغه ملکیت د دفتر په نامه یادیږي. د هر یوه تن دفتر د هغه ونډه ده چې په خپله میراثي ډله کې یې لري. په دې ډول د نسبي سازمان او د ځمکې د حقوقو ترمنځ یو ډول اړیکې موجودې دي.

په پخوانیو وختو کې دا ډول اړیکې له هغه څه څخه چې نن ورځ معمول دی، نږدې وې.

تر دایمي پرېکړې پورې چې د سوات د اوسني حکومت والي دیرش کاله وړاندې صادره کړه، د دغه ځای ځمکې د یوه متناوب سیمه‌ییز نظام له لارې چې شیخ ملي منځ ته راوړی و، په ټاکلو وختو کې بیا ویشل کیدلی. هر یوه مځکوال د ځمکې یو ټاکلی ملکیت نه، بلکې په ټوله سیمه باندې د یوې ټاکلې پر سلیزې حق درلود. د دغه نظام ډېره ساده بڼه د یوه صنعتي شرکت اسهامو (ونډو) ته ورته وه چې هیڅ یو شریک د فابریکې په ټاکلې برخه باندې ملکیت نه لري. همدا شان، د پښتنو د یوه نسبي واحد ګډ ملکیت په څو مساوي ونډو، یعنې ۸۰، ۱۱۲، ۱۲۰ برخو باندې چې د غړو ترمنځ ویشل شوي، جلا شوي دي، هر یوه غړي ته د خپلې ونډې سره سم د ځمکې ښل ډولونه ورکول کیدل، خو ده دا ځمکه د تل لپاره له ځان سره نه ساتله هیڅ یو ویش په بشپړه توګه عادلانه نه دی.

د ونډو د بشپړ مساوات لپاره په ښلو ښلو سیمو کې د ټاکلیو نښتو یعنې د ۴، ۵ او ۱۰ کلو لپاره یوه ټوټه ځمکه د یوې ډلې په اختیار کې وه. د دغو نښتو په پای کې دغه ټوله ځمکه بیا ویشل کېده. په دې ډول په یو اوږده وخت کې د سیمې ټولو خلکو له عین حقوقو څخه د وخت په لحاظ برابره ګټه اخیستی شوه[۳۹].

په پښتنو کې په عمومي توګه دغه نظام د ویش د سیستم په نامه یادیږي. او په (۱ نقشه کې) له یوولسو سیمو څخه په هره یوه سیمه کې جاري و (سره د دې چې په ۱۹۲۵م. کې د باربوزیو ځمکه په همیشنی توګه په درېیو سیمو ویشل شوې وه) هره یوه دغه سیمه د پښتنو د یوې نسبي ډلې دفتر و، د سیبوجني نه قبیلوي سیمې څخه غیر چې بیا هم همدا سیستم یې تعقیباوه دغه نسبي ډلې په هماغه شان چې په (لومړي نمبر نقشه کې ښودل شوی) یو د بل سره تړلی دی او د خپلو حقوقو د اثبات لپاره د سوات فتحې ته اشاره کوي.

د یوې نسبي ډلې د برخې په چوکاټ کې دوباره ویش صورت نیوه، په دې ډول د نکبی خیلو (درېیمه ګڼه، شکل وګورئ) په سیمه کې تقریباً زر تنه ونډه لرونکي موجود وو، ځمکه د نکبی خیلو د دوو ښاخو په منځ کې په نسبتاً برابره توګه ویشل شوې وه یوې برخې د مرستیالې درې په ټوله برخه او بلې برخې د سوات د سین په اوږدو کې موجودیت درلود. د دغې سیمې په حاصلولو کې د دوو خیلونو ترمنځ نوبت مراعات کېده، هرې یوې لس کاله په مرستیاله ناوه کې تېروال او ورپسې لس یا پنځلس کاله د دریاب غاړې ته لیږدل. هر یوه دغه برخه په درېیو وړو برخو چې د دغو نسبي ډلو د اصلي دوه ګونې نسبي ویش سره مناسبې وې، ویشل شوې وه.

۳۹. دغه سیستم په نږدې ختیځ کې د موشه له سیستم سره نږدې والی لري (پتی،۱۹۴۹) او د پښتنو په برخه کې دغه سیستم د بادن پاول (۱۸۹۶) لخوا په زیات تفصیل سره شرحه شوي دي.

د ځمکې دغه واحدونه د پچې په واسطه ټاکل کېدل. د هر یوې دوه ګونې برخې په منځ کلي یا یو شمېر کلي دریمو برخو ته ورکول کېدل او د دغو سیمو په منځ کې افرادو یوه ټاکلې ځمکه د خپل ملکیت په توګه د بیا ویش تر نېټې پورې په واک کې لرله.

د ویش له کړۍ ځخه یوه اندازه ځمکه د باندې د خاصو هدفونو لپاره پرېښودل کېدله. دغه ځمکه پخوا او اوس هم د سیرې په نامه یادیږي او ځلور ډوله ده: هغه ځمکه چې د جومات د اړتیاو د برابرولو لپاره وقفیږي، هغه ځمکه چې ستانه و او مصلحینو ته ورکړل شوې وې، هغه ځمکه چې د قبیلوي ملکیت ځخه وتلې او په همیشنۍ توګه په ستانه او د ده په اولاد پورې اړه لري، هغه ځمکه چې په موقتي توګه د خدمتونو په بدل کې غیر ځمکوالو لکه ترکان، پښې ته ورکړل شوې ده، هغه ځمکه چې یوه مشر ته د هغه د خدمتونو په بدل کې چې ټولنې ته یې کوي، ورکړل شوې ده. د ځمکې دغه ډول سوغاتونه د نسبي ډلې ملکیت کوچنی کوي، خو د افرادو په عنعنوي وندې کې بدلون نه راولي. په دې ډول هر وخت چې یوه هدیه ورکول کیږي، د هر یوې وندې ارزښت په ګډ ملکیت کې لږیږي او کمښت په برابره توګه ویشل کیږي.

د ځمکې د ملکیت اوسنې نظام په ښه توګه د ځمکې د دغه پس منظر په مقابل کې د پوهېدو وړ دی. هغه څه چې نوي پېښ شول، دا و چې د سوات د نوي جوړ شوي حکومت والي اعلان وکړ چې د ځمکې وروستی ویش همیشنی دی. عنعنوي نظام په ساده توګه په یوه ټاکلي وخت کې ځای په ځای ودرید او دغه پېښه په زیاترو سیمو کې د (۱۹۲۰) او (۱۹۳۰) کلو په موده کې منځ ته راغله. د ځمکې ټول ډولونه او ویش د پخوا په شان دی او همیشنی ویش دومره نږدې دی چې زیاتره خلک فکر کوي چې د دوو ویشونو ترمنځ یوه اوږده وقفه راغلې ده، نه یو بنیادي بدلون.

د تاپې سیمه د سوات له دولت ځخه بهر پرته ده خو تر زیاتې اندازې یې دغه حالت (همیشنی ویش) تعقیب کړی او له نیمایي ځخه په زیاتو ځمکو کې یې همیشنی ویش ترسره شوی دی. د دغه تمایل دلیل د هغو نارنج لرونکو باغو سره مینه ښودل دي چې په زاړه نظام کې امکان نه لري. د للمې ځمکې زیاته برخه اوس هم په ځلور کلنو وقفو کې بیا ویشل کیږي. په ټول سوات کې د شولو ځمکه د سیند په اوږدو کې د نیز (سیلاو) له خطر سره مخامخ ده او د موقتي ملکیت په اساس تر اداري لاندې ده.

د ملکیت د مفهوم لپاره دغه نظام ډېرې غوره نتیجې لري، د سوات پښتانه د خصوصي ملکیت په باب پرمختللی فکر کوي. هغه څوک چې د ځمکې خاوند دی، په هغه ټولو کسانو صلاحیت لري چې په دغه ځمکه کې اوسیږي. دی کولی شي هرچاته چې وغواړي هغه په اجاره ورکړي، کولی شي هغه شاړه پریږدي، ویې پلوري یا یې چاته وبخښي د سوات د والي له مالیې ځخه پرته نور هیڅوک په دغه ځمکه باندې د حقوقو لرونکی نه دی (دغه حالت د ملکنډ په ایجنسۍ کې نشته) خو په عنعنوي نظام کې د ځمکې د مالکیت حقوق په یوه ټاکلې ځمکه باندې د ټاکلي وخت لپاره و، همیشنی پانګې هماغه مجرده وندې وه. د یوې وندې لرل دا معنی ورکوي چې په نسبي جرګو کې یو سړی د ګډون حق لري او له یوې سیمې ځخه بلې ته له دغو حقوقو سره لېږدي. یوازې د نسبي ډلو غړي دا شان وندې لري. په دې ډول هغه وخت چې دغه نظام جاري و، ځمکوالو کولی شول د ویش تر نېټې پورې د ټاکلې ځمکې له حقوقو ځخه ځان وباسي، خو د وندې انتقال یوازې د نسبي ډلې ځخه په منځ کې کېده اوس هم یو پښتون باید خپله ځمکه د نسبي ډلې ځخه بهر ونه پلوري، خو دی کولی شي خپله ځمکه وپلوري په دغه ډول خرڅلاو کې د تل لپاره حقوق له لاسه ورکول کیږي. پلورونکي د بلې برخې ځمکې ادعا کولی نه شي، ده خپله میراثي وندې له لاسه ورکړې ده، خو پیرودونکي یوازې ځمکه حاصلوي نه په جرګه کې برخه درلودل، نو د پښتنو په اصطلاح ځمکه له دفتر (میراثي ملکیت)

څخه (سیری) د ناپښتون کس ملکیت) ته بدله شوې ده. اوس دغه ډول حرکت شته. خو دومره پیاوړی نه دی او د پښتنو نسبي وحدت لا جاری دی. که چیرې یو غړی خپله ځمکه نسبي غړي او یا سیری ته له لاسه ورکوي، نو په همدې شان په نسبي ډله کې خپل حقوق له لاسه ورکوي، او په ځمکه کې هیڅ ډول حقوق نه لري، په نتیجه کې د ده اولاده د پښتنو په نسبي ډله کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي.

په ټاکلیو وختو کې د ځمکې ویش یو ډول اداري ماشین ته اړتیا ایجابوي. یو چوکاټ او یو لړ قوانین ضروري بریښي. په سوات کې دغه رسمي چوکاټ د جرګو د مراتبو د یوې رتبوي سلسلې چې د ځمکې لرونکو واحدو سره متناسبه وي، غوره کوي. دغه ډول غونډه هم په خپله د یوځای کېدو او هم د ګډون کوونکي ډلې په اساس د جرګې نوم اخلي. په پراخه معنی سره، دغه کلمه یو لړ سلا ورکوونکي لیدنې کتنې ته راجع کیږي. په خاصه معنی سره د ویش په هر یوه پیژندل شوي واحد کې د ونډه لرونکو یعنې (د پښتنو د نسبي ډلې یوې برخې د کهولونو مشرانو) په لیدنو کتنو اطلاقیږي. په دې توګه په هر یوه جمعیت کې که شمېر یې هر څومره وي، د ټولو پښتنو ځمکوالو یوه جرګه موجوده ده په دغه جرګه کې یوازې هغه کسان د خبرو حق لري چې د دفتر لرونکی وي دوی د جمعیت د ټولو افرادو او د هغو کسانو ساتونکي او حامیان دي چې د دوی په ځمکه کار کوي. لکه څنګه چې په نهم څپرکي کې به هم وښودل شي متحدې سیاسي ډلې د دغو جرګو د کنترول لپاره د خپلو غړیو هڅې تنظیموي. خو په خپله جرګه هیڅکله د متحد فعالیت د واحد په توګه تبارز نه کوي. د مشاجرو هدف موافقې ته د رسیدلو امکان یا د دواړو خواو د مصالحې لارې موندل دي د هر یوې پرېکړې او موافقې د عملي کېدلو په باب د سترو متحدو ډلو د غړیو مسؤلیت له خپل ځان سره د مرستې په برخه کې باقي پاتې کیږي. جرګه د یوې سیاسي موسسې په توګه د لویدیځ پارلمان ته ځای یوه پانمونجوم Panmunjom ته ورته ده. په دې ډول د جرګې موسسه د یو لړ قوانینو په حیث تعریف کېدلی شي چې د مجامعو اعمال اداره کوي. د سیاسي موسسې په حیث د جرګې نقش د سیاسي ډلو د سیاسي تشکیل له تحلیل ځخه وروسته ترسره کیدای شي.

په لنډ ډول د سوات هره یوه غوره سیمه د یوسفزیو د یوې نسبي ډلې لخوا کنترولیږي. د دغو سیمو حوزوي ویش د پښتنو د نسبي نظام له ویش او خیلونو سره او په هغو کې د جرګو له رتبوي سلسلې سره مطابقت لري. خو هیڅکله د ځمکوالو فرعي ډله له یوې خاصې سیمه‌ییزې ساحې سره اړیکه نه پیدا کوي. پښتنو د هرې سیمې په نیولو کې نوبت نیولی او د فتحې په نتیجه کې هرې یوې له هغې څخه ګټه اخیستې ده. سره د دې چې په وروستیو دیرشو کلونو کې دوی په دایمي توګه میشت شوي دي بیا هم د اکثرو وګړو او د پښتنو ترمنځ اړیکې کمزورې او نظامي اشغال لاهم دوام لري. د دغه پس منظر په اساس کیدای شي چې دنورو سازماني عناصرو په نقش باندې پوه شو. په سیمه کې ببل ببل با قدرته پښتانه د سیال او رقیب حیثیت لري. دوی په ګډه سره د ځمکې یوه داسې ډېره حاصلخیزه برخه کنترولوي چې د ډېر پرمخ تللي او بییز نظام په اساس باندې ثابت حاصل ورکوي. په تیوریک لحاظ د یوه پښتون ګټه له دغو دوو لارو څخه زیاتیږي، د یوې سیمې ټول پښتانه ښایي یوځای شي او د ځمکې نه لرونکو خلکو څخه د زیات زراعتي حاصل په غوښتلو سره هغوی استثمار کړي. یا یو فرد کولی شي د ځمکې یوه پراخه ساحه تر لاس لاندې کړي او په دې ډول د نورو ځمکه‌والو په قیمت خپلې ګټې زیاتې کړي. له دغو لارو څخه دویمه لار چې په عمومي ټوګه عملي کیږي، د افرادو ترمنځ د اړیکو څخه عبارت ده چې پورته یې بیان وشو.

د دغې ستراتژۍ په غوره کولو سره ځمکوال کولی شي چې د نورو ځمکوالو پیروانو له یوه جمعیت سره یوځای ګډې ګټې او علایق د خپلو رقیبو ملاکانو په مقابل کې ترلاسه کړي. له بلې خوا په عمومي توګه د ملګرو ځمکوالو ترمنځ اړیکو وده نه ده کړې. ودونه زیاتره د خپلوانو ترمنځ یا له کلي څخه بهر ترسره کیږي.

په حجره کې د غړيتوب او د ژوند په مراسمو کې د برخې اخيستلو له مخې د ټولو فرقو د افرادو ترمنځ اړيکې ټينګيږي. د کور اجاره او حرفوي قراردادونه د ځمکو نه لرونکو سره د اړيکو د ايجاد سبب ګرځي. يوازې ګډ نسب چې په پخواني سيستم کې په ځمکه باندې د ګډو حقوقو سبب کېده، د يوې سيمې ځمکوال سره يوځای کوي.

نو په دې ډول په ځرګنده توګه د ځمکې يو همیشنی ويش د نسبي زاړه نظام د ماتولو سبب ګرځي. دغه موضوع په حقيقت کې ښايي هغه وخت چې د سوات والي د خلکو په اسکان باندې تائيد کاوه، د هغه غوره هدف و. دغه مناقشه ښايي د پنجکوړې او باجوړ په ناوو کې چې له سوات سره په اقتصادي لحاظ ورته والی لري ليکن د ځمکې د مجدد ويش نظام نه لري، د نسبي نظام په ماتېدو سره زياتره د دغه حقيقت تائيدوونکي وي. دلته د ۱۹ او ۲۰ پيړۍ په اوږدو کې زيات شمېر وړې فيودالي ساحې د يوه بل په ځای راغلي دي.

په حقيقت کې په ګډ ډول د يوه جمعيت د زيات استثمار نقش د ځمکوالو لخوا عملي بڼه نه لري. ځمکې نه لرونکي خلک د (وخوره مه مره) د حقير ژوند په سرحد کې ژوند کوي او که په حجره کې د مشرانو ميلمه‌پالنه چې په واقعيت کې د هغوی تادیه شوی تکس دوی ته ښرته ورکول کيږي، ورسره نه وي، ښايي د دوی ژوند له دغې سطحې څخه نور هم کښته وای. له بلې خوا ځمکوال د ځمکه نه لرونکو په پرتله په شمېر کې ډېر لږ دي. که دويمه ډله د دوی په مقابل کې سره لاس يو کړي، نو خپل موقف به د يوې ډلې په صفت ونه ساتلی شي. يو پښتون ځمکوال د ځمکه نه لرونکي سره د يوځای کېدو او د هغوی په ځای راغونډولو سره خپل موقف ساتي.

د ځايي (بومي) کليوالو لپاره چې بزګران، کسبه‌کاران او نور په کې شاميږي، پښتانه ځمکوال پر هغوی د يوه غير ضروري پيټي په توګه معلوميږي. دغه کليوال خپل ځان ته د ژوند په غوره مسايلو کې د خپلوی د اړيکو او ټولنو لرونکي دي. دوی په خپله د اقتصادي نظام د دوام لپاره د کار کولو توان او مهارت لري. دوی خپل ځان ته کورونه جوړ کړي او بايد هغه وساتي، دوی له پښتنو څخه د اوبو لګولو په نظام او کرنه باندې ښه پوهيږي.

د پښتنو ستونزې دا دي چې ځنګه د کليو په اوسيدونکي کې خپل ځانونه نامتو وساتي او د اوسيدونکو زيات شمېر ځان ته راوکاږي، په تېره بيا د ويش په سيستم کې چې پښتانه په ناځاپي توګه له لسو کلو وروسته د زرګونو ناآشنا کسانو سره چې دوستي او دښمني يې معلومه نه وي، مخامخ کيږي. په ځواب کې ويل کيدای شي چې هغوی دا خلک د ځمکې د ټول ملکيت د ادعا په اساس دې ته اړوي چې تېر قراردادونه بيا ورسره نه وي کړي. د ځمکې نه لرونکي خلک داسې سياسي سازمان نه لري چې له يو بل سره متحد شي او ځمکې اشغال کړي، بلکې دا خلک د مزدورانو د يوه سمندر په څېر دي چې تنظيم او انسجام نه لري. زه به په راتلونکي ځېرکيو کې دا وښيم چې پښتانه ځمکوال په کومو لارو چارو سره دغه افراد په متحدو ډلو کې د خپلو هدفونو لپاره تنظيموي، خو دا به بهتره وي چې زه لاس ته راغلې نتيجې اتکل کړم او د سيمه‌ييزو ټولنو او سياسي سازمانونو ترمنځ اړيکې په لنډ ډول وښيم. د غوره مشرانو فعاليتونه د سيمه‌ييزو ټولنو په منځ کې د صلاحيت محورونه منځ ته راوړي. دغه محورونه د دغو سيمه‌ييزو ټولنو ټولې خواوې يا يو څه برخې نيسي. که مورِ (د سمندر استعماري) ته دوام ورکړو وينو چې يو ځمکوال په سياسي لحاظ د نامنسجمو کليوالي خلکو له سمندر سره مخامخ کيږي او د کليوالي اوسيدونکو په سمندر کې هغه د خپل قدرت او صلاحيت ټاپو جوړ وي او دغه ټاپو هڅه کوي چې خپله واکمني د سمندر په څنډو باندې پراخه کړي. نور ځمکوال هم داسې ټاپوګان منځ ته راوړي چې کله يې د صلاحيت په حدود کې له اداري وتلې فاصلې وي. په بله وينا مشران د ځمکوالو په منځ کې په رسمي توګه ټول جمعيت د يوه منظم سياسي سازمان لاندې نه راولي. دا موضوع له حقيقت سره چې په تېرو ځېرکيو کې مو د ځمکوالو او د کليو د اوسيدونکو ترمنځ د اختياري قراردادونو په برخه کې وښود، سمون پيدا کوي.

اجازه راکړئ چې په دغسې چوکاټ کې د بې ځمکو خلکو مفکورې څرګندې کړم. په څرګنده توګه هر یو کلیوال د یوه انتخاب یا ښوونې تصمیم باید ونیسي. ښایي دی له یوه مشر سره ټول قراردادونه ترسره کړي او په دې ډول د مشر په «ټوپو» پورې وټړل شي. یا ښایي دی په هیڅ یوه مشر پورې ځان ونه ټړي او په بشپړه توګه د صلاحیت له ساحې څخه د باندې واوسي. هر یو تصمیم په څرګنده توګه ځینې امتیازات او نیمګړتیاوې لري. په لومړي حالت کې یو کلیوال د غوښتنو تابع ګرځي، خو په مادي لحاظ ګټه کوي او همدا شان ساتنه یې کیږي. په دویم حالت کې دی د مادي امتیاز د لاسه ورکولو په قیمت سره د بل چا له کنترول څخه ازادیږي، خو خپل ځان باید په خپله له تیري څخه وژغوري.

په حقیقت کې زیات شمېر کلیوال یوه منځنۍ لاره ټاکي او په دې اساس له ځمکوالو سره یو لړ ممکن قراردادونه ټړي او په نتیجه کې د مشرانو د نفوذ په ساحه کې اوسي، خو له هغو سره په یوه لیکه کاملانه دریږي. هر ډول قراردادونو ته داخلیدل د زیاتو عواملو تابع دی چې په هغو کې شخصي غوښتنې او د ځمکوالو پیشنهادونه شامل دي. د دغو تصمیمونو د اساساتو تحلیل زیاتې ستونزې منځ ته راوړي، خو باید په یاد ولرو چې د کلیو زیات شمېر اوسیدونکي ډېر خوار دي. هغه حقوق چې دوی له دغو قراردادونو څخه لاس ته راوړي. په یوه کرونده کې د کار له حق، په یوه خونه کې د ژوند او د یوه سړي د کور او شته د تهدید په وخت کې د مرستې د غوښتنې او داسې نورو مرکب دی. دغه حقوق دوی ته زیات ارزښت لري. په مقابل کې دوی د خدمت کولو امکان په لاس کې لري.

په دغه ډول سازمان کې د تنظیم په برخه کې هر یو ځمکوال کولی شي د یوې ډلې ملاتړو په راس کې ځای ونیسي. خو دا چې ځمکه‌وال هم سره ویشل شوي دي، هر یو د خپلو رقیبانو په مقابل کې ملاتړو ته اړتیا لري. د مشرانو لخوا د ملاتړو د زیاتولو هڅې د ډلو ترمنځ نارامي او همدارنګه د ډله‌ییز نظام د دسپلین اړتیاوې منعکس کوي. اوسنۍ څېړنه هغه سیاسي نظام تر تحقیق لاندې نیسي چې په هغې کې مشران د صلاحیت لرلو او د هغه د دوام توان پیدا کوي.

اووم څپرکی

د مشرانو ملاتړ کوونکی او صلاحیت

د مشرتابه عمومي بیان

کله چې پښتانه د سیاسي پېښو په باب بحث کوي او یا په سیاسي فعالیتونو باندې فکر کوي په دغه وخت کې دوی طبعاً د خلکو د داسې جوتو صف بندیو په موجودیت خبر وي چې د تضادونو او ټکرونو په وخت کې د متحدو واحدونو په توګه یو موټی او تنظیم کیدای شي. خو پښتانه ما غوندې د دغو ډلو د منظم غړیتوب لپاره د کوم څرګند اصل په پام کې نیولو باندې قادر نه و. داسې عبارتونه لکه: «زما نسبي ډله یا تبر»، «زما ټولنه»، «زما فرقه» او حتی «زما حجره» څوک نه اوري، بلکې په داسې حالاتو کې اشاره تل د «پلاني او پلانکي ګوند» ته کیږي، د ډلو فعالیتونه د هغو د مشرانو د کړو وړو له مخې سنجول کیږي، د ټکرونو او تضادونو په برخه کې د پښتانه له بیان څخه به یو سړی داسې فکر وکړي چې دا ټکرونه به د دوو ترمنځ جګړې وي. یو بیان مې چې د ترجمان له خولې څخه ټکی په ټکی اخیستی، په لاندې ډول وړاندې کیږي:

«محمد افضل خان، تاج محمد خان، امیر خان او د بیها ملک څلور خانان وو چې د دیر نواب یې په لر سوات باندې د یرغل لپاره دعوت کړ. دی د هغو مرستې ته راغی او دوی په سیبوجني او شامیزایي باندې مسلط شول. بله د دارمي خان ډله وه، دارمي خان او پادشاه (چې وروسته د سوات د دولت بنسټ ایښوونکی شو) هم د یرغل تیاری نیوه. کله چې دوی یرغل وکړ د تاج محمد خان وراره، خان بهادر صاحب د تاج محمد خان په مقابل کې یاغي شو او له بادشاه سره ودریدل، خو دغه کار یې هغه وخت وکړ چې نواب شړل شوی او تاج محمد خان کمزوری شوی و. خان بهادر صاحب په کراره یو کلی په بل پسې ونیو او د لارې په اوږدو کې یې هرڅه چې ومونډل لوټ او تالا یې کړل. څلور پخواني خانان دیر ته وتښتیدل، خو یو څه وخت ېږته راستانه شول. ډوډۍ ټوپک ضبط شول، منقوله شتمني یې واخیستله شوه خو میراثي ځمکه یې له هغې برخې پرته چې خپلواکي یې دعوا کوله، ېږته ورکړل شوه.

په ژښتيا چې په دغو جګړو کې په زرګونو کسان او سلګونو غوره مشران بوخت وو. له ځلورو پخوانيو خانانو څخه هيڅ يو ښه ترڅه سوات ته ستون نشو، خو د هغوی په سلګونو ملاتړ کوونکو دا کار وکړ (سره د دې چې د دوی زيات شمېر ملاتړو د تښتې په لومړي پړاو کې له هغو سره ملګرتيا ونه کړه او و نه تښتيدل) او د ضبط شويو ټوپکو شمېر زرګونو ته ورسېد. کله چې له متحدو ډلو څخه خبرې کيږي، نو زما اشاره به هغو ډلو ته وي چې د يوه مشر يا د يو شمېر هم رتبه او برابرو مشرانو تر لاربښوونې لاندې د عمل د يووالي توان ولري. د مين د تعريف له مخې (مين ۱۸۶۱) متحدې ډلې بايد د خپل مشر غړی د مړينې او ژوند څخه پرته پرله پسې مقاومت وکړي او خای په خای پاتې شي، دا خبره د بحث لاندې ډلو په باب سمه ده، خو په بشړه توګه امکان نه لري چې د مړينې او جلا کېدو په وخت کې به په پرسونل کې بدلون راشي، خو د مشر مړينه يو بحران منځ ته راوړي او هغه دا چې د جانشيني د مسالې پر سر باندې جګړې ډېر ځله د ډلې په محوه کېدو تمامېږي.

د ګډ حقوقي مسؤليت هغه معيار چې فورتيس (Fortes) (۱۹۵۳، ۲۵، ۲۶ مخونه) يې د خيلونو په مبحث کې چې متحدې[۴۰] ډلې ګڼل کيږي، کارولی دی په نيمګړی توګه د تطبيق وړ بريښي. ځنګه چې پرله پسې عمدتاً صلاحيت لرونکي غړي ټاکي نو مسؤليت هم په همدغه شان د رتبې په اساس باندې ويشل کيږي. د ډلې هغه ملاتړ کوونکي چې د مشرانو په لاس د الې (ګوډاګي) حيثيت لري د لږ مسؤليت لرونکي وي او حتی د خپلو کړو وړو په برخه کې هم د ډېر کم مسؤليت خاوندان وي. مسؤليت يوازې د هغه نقش په اساس وي چې په پرېکړه کې ادا کول ورته راجع وي خو په عمل کې يې ځوک منلی نه شي، نو له دې امله د ډلې غړي په حقوقي مسؤليت کې د واک په اندازه ونډه اخلي.

په پښتنو کې اساساً دوې ډلې سياسي مشران موجود دي چې ما په ترتيب سره مشران او ستانه بللي دي.

مشران به ښايي ډېر نومونه (لقبونه) ولري، خو په ټولو کې عام نوم يې خان دی. دغه نوم ښايي د هر يوه ځمکوال لپاره د خطاب او د درناوي ښودلو د يوې اصطلاح په څېر استعمال شي. دغه راز کله کله د خان نوم ځيني کسانو ته د شخصي نوم په حيث ورکول کيږي. د اړتيا په وخت کې د دې لپاره چې يو مشر له سياسي پلوه له نورو مشرانو څخه ښل شي، نو د درناوي له مخې هغه ته د تاپې د خان «د جنګي کلا مشر» نوم اخيستل کيږي، کله کله د مشر په خای د ملک نوم هم ښايي واخيستل شي. دا نوم په نورو پښتنو کې هم ډېر استعمالېږي او په بشړه توګه د پلرګنۍ (خيل) مشر ته ډېر دود دی. خو په سوات کې د ملک د اصطلاح استعمال د ورکښدو په حال کې دی ځکه چې داسې اشخاص يوازې د پلرګنۍ (خيل) د مشر حيثيت لري. ښايي د ملک دريځ (مقام) تر خان کښته وي خو د درناوي په سبب د خان کلمې ډېر استعمال دغه توپير له منځه وړي او ډېر ځله د ملک خای د خان نوم نيسي. په نتيجه کې د ستر واک او امتياز خاوند مشر ته چې په يوه ارته سيمه يا ولايت باندې صلاحيت ولري، د نواب نوم ورکول کيږي. د مثال په توګه د ډېر نواب د باجوړ ښل ښل واړه نوابان او د امب (Amb) ولايت نواب په دغه برخه کې د يادونې وړ دی. د ټولو مشرانو دا عمومي دود دی چې دوی يو ډول پلرګنۍ (خيل) نوم خپل ميراث ټاکي يا ګڼي، د پښتنو په فرقه کې د خپل غړيتوب دعوا او د دفتر لرونکي ځمکوال په حيث په سيمه کې د نفوذ او شهرت لرلو په اساس د تسلط ادعاوې کوي. ستانه کورنۍ هم ښايي يو يا څو نومونه ولري، په معمولي توګه پيربابا يا پاچا رواج لري چې د خطاب په وخت کې ورته صاحب ډېر استعمالېږي. د صاحب لقب ځيني وختونه مشرانو او د امتياز خاوندانو ته هم راتللی (ويلی) شي. د ستانتوب (دوليتوب) د مرتبو او درجو نوم لکه سيد، اخوندزاده او ميا هم د ستانه لپاره د لقب په توګه کارول کيدای شي. په دغو ښلو ښلو نومو باندې د درجه بندۍ موافقه شوې نه ده. له سياسي پلوه متحدې ډلې د مشرانو د کړو وړو په نتيجه کې منځ ته راغلي دي. هره يوه دغه ډله، له داسې کسانو څخه جوړه شوې ده چې

۴۰. متحد ډلې په ځينو پښتنو کې د ونډو په معنی هم راځي، زياتره ونډو نه د نسبي ډلو په شکل وي، ژباړن.

یو مشر د شخړې او تضادونو په وخت کې د هغوی د سمبالېدو توان لري. د دغسې ډلو حدود ټاکل شوي نه دي یوازې د مشر سره د اړیکو په وخت کې دهغوی حد موندل کیدای شي، د متحدو ډلو ټینګوالی د مشر په واک پورې تړلي دي. دغه واک له بېلو بېلو لارو څخه لاس ته راځي. ښایي غړي د پخوانیو موافقو په بنسټ د یوه ټاکلي مشر ملاتړ وکړي. مشر د دوی ملاتړ او مرسته د سوغاتو او ژمنو په بدل کې جلبوي د غړیو ملاتړ د مشر د اخلاقي یا ديني ښېګڼو او پت (حیثیت) درلودلو له مخې تړلاسه کیدای شي. دغه شان د دوی ملاتړ او مرسته په زور سره هم غوښتل کیږي.

د ملاتړ کوونکو لومړني تعهدات هغه دي چې د کور کرایي او حرفوي قراردادونو لپاره یې کوي. په دغه ډول اړیکو کې مشر داسې بڼه او دریځ لري چې د خپل کنترول د ټینګولو لپاره د ښېګڼو د بندولو ګواښې وړاندې کوي. له بلې خوا ملاتړ کوونکي دا هیله لري چې د مشر د بریالیتوب په ترڅ کې خپله ګټه لاس ته وروړي. د سوغاتو د ورکړې توان ډېره شتمني غواړي. اساساً دا شان قدرت د ځمکې د کنترول څخه لاس ته راځي د ملاتړ کوونکو راکاړ نه د مخامخ قوي په کارولو سره نیمګړي بریښي، ځکه دا کار ډېرو قوي ملاتړ کوونکو ته اړتیا لري. کله کله د سیال د رتبې او پت د لږولو (کمېدو) لپاره تروریزم اغېزمن ثابتیږي.

د سوات په ډېرو برخو کې د ډلو په مناسباتو کې دا شان ضروري یووالی نشته چې افراد له سیاسي پلوه ورته بشپړه غاړه کیږدي. له دې امله داسې عامل نه لیدل کیږي چې د یوه مشر تر شاوخوا تاو شوي غړي له بل مشر سره د تعهداتو او اړیکو څخه وژغوري. په ټېره بیا که مشران سره اتحاد او یووالی ولري یا هغوی د مشر او ستانه په بېلو بېلو ډلو پورې تړلي وي. له دې څخه پرته هیڅ یو داسې مخکینی دلیل نه لیدل کیږي چې د هغه له مخې یو سړی هرومرو له یوه ټاکلي مشر سره ځان تړلی وبولي. له دې امله د مشر دریځ (موقف) خوندي (مصوون) نه وي، نو د ده ملاتړ کوونکي له دې پرته چې دی خبر کړي ښایي ډېر او یا کم شي، ځنګه چې مشران له یو بل سره تل په سیالۍ کې دي نو د دوی د صلاحیت منابع د شخړې (تضاد) په حالت کې په ښکاره توګه څرګندیدای شي. ځمکه د مشر او ملاتړ کوونکو لپاره د ژوند لومړنی وسیله ده چې لاس ته راوړل او نیول یې د دواړه لپاره په زړه پورې شمېرل کیدای شي د ځمکې مالکیت مشر ته دا توان ورکوي چې په ده پورې تړلیو کسانو باندې واکمني (صلاحیت) وکړي. زر (سره زر) په عمومي توګه د شتمنۍ او بډایۍ څرګندوی دي چې د سوغاتونو او بډو په برابرولو کې تر ډېره استفاده کیږي او په نورو باندې صلاحیت او لاس بری ورځخه لاس ته راځي.

کوم هغه شی چې وروسته به یې بیان وشي او زه یې په دغو شجرو او تضادونو کې تحلیل غواړم هغه شخړې او اخ و ډب نه دی چې د قانون په مرسته حل کیږي بلکې سیاسي تضادونه دي. دغه تاکید زما د معلومات ورکوونکي له عقایدو او نظریاتو سره توافق لري. همدغه راز دغه شان تحلیل په ځانګړې توګه په عملي (حالاتو) کې هم حقیقت لري ځکه چې د دغه ډول نښتو نتیجه د مشرانو د سیاسي ژوند په تعیینولو کې قاطع نقش لوبوي. ملاتړ کوونکي هغه مشران لټوي چې د دوی لپاره ډېرې ګټې او مصوونیت برابر کړي د دغه دلیل له مخې دوی په داسې مشر پسې ځي چې خپله شتمني او د نفوذ ساحه یې په بریالیتوب سره پراخه کړې وي او لا هم وده ورکوي. له بلې خوا ځخه هغه مشر چې په دفاعي حالت کې وي، د هغه ملاتړ کوونکي ته د بریالي مشر او د هغه د ډلې وده او انکشاف په پرله پسې توګه ازار ورکوي د دې فشار او شرایطو په اساس دوی هڅه کوي چې کمزورې مشر پریږدي او بل چیرې ځپل مصؤنیت او ساتنه ولټوي. په دې ډول مشران د سیالۍ او رقابت په ډګر کې له یو بل سره په مبارزه او جګړه بوختیږي. نو د سیاسي صلاحیت د ساتلو او خوندي کولو لپاره یوه بریالۍ شخړه په کار ده ترڅو د صلاحیت دریځ وساتل شي.

د مشرانو د صلاحیت منابع

د خان یا مشر لقب له دې پرته چې د احترام لپاره پکاریږي د رسمي مقام د لرلو معنی نه افاده کوي د داسې پیژندل شویو دریځونو او موقفونو تسلسل وجود نه لري چې د بریالیو صلاحیت غوښتونکو لخوا ډک شي. د خان نوم او لقب یوازې په نورو باندې د صلاحیت د غوښتنې لپاره استعمالیږي. دا د لارښوونې او مشرۍ لپاره د یوه سړي د هیله‌مندۍ یوه اصطلاح او عبارت دی. مشران د ملاتړ کوونکو د ډېروالي لپاره له یوه بل سره سیالي او رقابت کوي. په ملاتړ کوونکو (رعایاو) باندې د صلاحیت او قدرت چلولو اصلي یا اړي وسایل د معیشت د منابعو کنترول، د شتمنۍ ویش د کورنۍ د پت د خوندي کولو په برخه کې د دفاع په وخت کې زړورتیا ښودل او په ځینو ساحو کې د ټلګرۍ د نظام په نوم یوه سازماني طرحه ګڼل کیږي. په سوات کې ځمکه د ټول سازماني نظام بنسټ جوړوي. له حاصل او ګټې پرته چې د ځمکې ځښتن یې د اجارې له مخې حاصلوي، محض د ملکیت په اساس هم دی په زیات شمېر خلکو باندې د صلاحیت او کنترول توان پیدا کوي. د سوات ټول خلک په یوه او بله بڼه په ځمکه باندې مخامخ ټرلي دي، بې‌ځمکې وګړي له ځمکوالو سره د ځینو قراردادونو پر بنسټ باندې له ځمکې سره اړیکې پیدا کوي. د دغې قرینې له مخې دوه ډوله ځمکې تصور کیږي چې یوه د استوګنې لپاره او بله یې د کرنې ځمکه بلل کیدای شي. په دې ترتیب استوګنځی چې کوټې یې بولي د کلي په سیمه کې د یوه کور انګړ او لږ تر لږه ځلورو دیوالونو ته ویل کیږي. د کوټې ټبرونه (دستک) ځانګړی لیږنده شتمني ده چې د کور د بدلیدو په وخت کې یې له ځان سره وړي. هره کورنۍ په دغه ډول ځانته هرو مرو یو استوګنځی لري. هغه ځوک چې د خپلې ځمکې ځښتن نه وي، نو د یوه قرارداد له مخې داسې یو کور په کرایه یا اجاره اخلي. دغه قرارداد کرایه نیوونکی یا اجاره اخیستونکی له ځښتن سره داسې اړیکو ته اړ کوي چې کرایه نیونکی خپل ځان په ځښتن پورې ټرلی وګڼي، دغه راز د دغو اړیکو له مخې صلاحیت هم چلولی شي. په بله وینا په اداري مقصدونو کې هم دی د ځښتن ملاتړ کوونکی بلل کیږي. خو د ملاتړ او اطاعت اړیکې منحصرې نه دي، بلکې اجاره کوونکی کولی شي چې د کور خاوند په نیوونکي باندې اغېزمن سیاسي نفوذ ولري. دغه شان د کرنې (زراعتي) ځمکه هم د کور په څېر یوه سیاسي وسیله بلل کیږي. که څه هم د ځمکې د اجاره نیولو په ټرون کې د هیڅ ډول سیاسي ملاتړ غوښتنه په کاریږي. خو څنګه چې اجاره کوونکی د خپل ژوند د بقا لپاره ځمکې ته اړ دی، نو ځمکوال د اجاره دار د شړلو د واک له حق څخه په ګټې اخیستلو سره په هغه باندې نفوذ ټینګوي. له دې امله د ځمکې مالکیت د سیاسي نفوذ لپاره مستقیمه منبع ګڼل کیږي. د ځمکې په شتمنۍ او ملکیت کې ډېروالی هرو مرو د سیاسي صلاحیت زیاتوالی خرګندوي. ربښتیانی خبره دا ده چې د صلاحیت د حالت او یا د لوړتیا د موقف د هر ډول خوندي کولو (مصؤنیت) لپاره د ځمکو پراخه ملکیت ضروري بریښي. د سیاسي وړاندې تګ په باب د مشرانو سیالي او رقابت د ځمکې په کنترول کې په ډاګه لیدل کیږي. په دې معنی چې که یو مشر زیاته ځمکه پیدا کړي، نو په سیاسي ډګر کې تر نورو سیالانو او رقیبانو وړاندې تلای شي، ځمکه په ځلورو لارو لاس ته راوړل کیږي: د میراث له لارې، د سیاسي خدمتونو بدل کې، په پیرودنه او په زور یا په ډارولو سره. دغه ځلور لارې یو څه بیان او شرحه غواړي. د یوه سړي غیر منقوله شتمني د هغه د ډېر نږدې نسبي لاندینیو خپلوانو ته په میراث او میراث رسیږي. زوی، پلاره لمسی، نیکه، ورور، تره، وراره، د تره زوی. د یوه سړي موجودیت په نوموړیو ډلو کې د هغه څخه وروستي نسل کسان د میراث د برخې څخه محروموي. د مثال په ډول که چیرې د یو پلار ورور (تره) او د ورور ځلور زامن موجود وي. نو تره ټوله شتمني اخلي. نو په دې ډول ځمکه یوازې د وروڼو ترمنځ ویشل کیږي، د دوی په منځ کې دا ویش تل مساوي دی او هر یو ورور پرته له دې چې مشر دی یا کشر، یوشان برخه وړي. ځینې وخت ښایي د پښتنو د ځمکوالو یوې نسبي ډلې یوه ځانګه یوازې یوه مشر ته غاړه کیږدي او هغه د خپل لارښود په څېر وپیژني په داسې مواردو کې مشر ته د هغه د خدمتونو په بدل کې د یوه

مشر په صفت يوه ټاکلې برخه ځمکه ورکول کيږي، دا ځمکه د پرګۍ سيرۍ (پګړۍ سرۍ)، (Pargai Siri) په نامه يادیږي[41]. د مشر په ژوندانه کې دا ځمکه د هغه ځانګړې شتمني شمېرل کيږي. خو د ده له مړينې وروسته يې پاتې شوي کسان په خپل منځ کې سره نه ويشي، بلکې هغه چاته بښپړه ورکول کيږي چې د مړه شوي مشر په ځای د مشر دريځ غوره کوي. د پګړۍ ملکيتونه ځرنګه چې د ډېرو وارثانو ترمنځ نه ويشل کيږي، خو د خاني سيمو (Khanates) په جوړښت کې هستي جوړوي. مګر د سوات په ناوه کې دا ملکيتونه د زمينداری نظام په منظمه بڼه نه دي. . .

په سوات کې ځمکه يوه نادره منبع ده چې زيات شمېر هيله‌مند او ليوال رانيوونکي لري. په بله وينا دلته ځمکه يوه نادره منبع ګڼل کيږي. په نتيجه کې د ځمکې د بشپړې پلورنې په حالاتو کې يې بيه ډېره لوړه ده. د غير منقول ملکيت په پيرودنه کې خلک زړه نا زړه وي او تعلل کوي ځکه د ځمکې پلورل د لوړ دريځ له غوښتنې ځخه د صرف نظر معنی افاده کوي. سره د دې هم مشران او لويان کله کله پيسو ته دومره اړتيا پيدا کوي چې د خپلې ځمکې يوه برخه مجبوراً په داسې اميد پلوري، خو ورسره جوخت دا هيله موجوده وي چې ګونډې وروسته يې بيا لاس ته ور وړي. د دغو معاملاتو د حجم تعيينول ګران کار دی، ځکه دواړه ډلې په عمومي توګه په احتياط سره چوپتيا غوره کوي. خو بالاخره ځمکه په زور يا دوکه سره لاس ته راوړل کيږي. په دې مورد کې ډېری پيژندل شوې لارې په دې سيمه کې شته.

په هغو ځايونو کې چې استوګنځي دايمي بڼه ځانله غوره کړې ده ستر ځمکوال پرله پسې توګه هڅه کوي چې د کمزوري ګاونډي په ځمکه باندې تيری وکړي. دا ډول تېری په کراره او تدريجي صورت سره وي، خو دا کار په يوه پاخه تاکتيک سرته رسول کيږي او هغه هم د پټيو ترمنځ پولې (برېد) له منځه وړل او هغه په خپل پټې کې ګډول دي. دغه پولې د يوه کوچني ديوال په واسطه سره په نښه شوي دي. د وريجو په اوبه شويو ځمکو کې دا ديوال له يوه فوټ ځخه په لږه اندازه پراخوالي سره د اوبو د درولو او د شولو وړاندې پټيو ته د رسيدو د لارې په ځير په کار اچول کيږي. د اوبو لګولو په ساده او طبيعي ډول کې پټي په عمومي توګه واړه دي او د «ويش» يا «برخه» نظام د دې سبب کيږي، چې ملکيتونه په ډېرو زياتو ټوټو وويشي. د هغه ټول حدود او اوږدوالي په ځنګ کې ځمکه لاس ته راوړل شي، د يو نسل په تېريدو سره د بل سړي له ځمکې ځخه د اراشکونه يوې زياتې اندازې ځمکې ته رسيږي. د دغه ډول ځمکې لاس ته راوړلو د تکتيک نهايي ګټه دا ده چې د هغه د سرته رسولو په وخت کې کوم بحراني عکس العمل نه ليدل کيږي. پښتانه ځمکه لرونکي په پرله پسې توګه د دغه تېری کلکه ځارنه کوي.

ځنګه چې د سوات په پښتنو کې د ځمکې د شتمنۍ (ملکيت) لپاره کومه سروې او ارضي ثبت وجود نه لري. نو د ځمکو ټولې دعواوې د شاهدانو لخوا تثبيت کيږي. د ځمکې برېد د منځګړيو او د جرګو په پرېکړه سره ټاکل کيږي د اوسني تاريخ په اوږدو کې ډېره ځمکه لاس ته راوړل شوې او پلورل شوې ده. د زياتو پټيو او کروندو په باب د متضادو حق غوښتونکو په اساس باندې ابهام وجود لري. د دغو ادعاو اثبات ښلا ښلو وختونو ته حواله کيږي. دغه مساله د مشاجرې لپاره يوه پراخه حاصل خيزه ساحه رامنځ ته کوي او په دې ترڅ کې مشران د خپل کم ځمکو پيروانو د ادعاوو په اساس د خپل ځان لپاره ترې ګټه اخلي. مشر د يوه قرارداد له مخې د بل سړي د دعوا حل په جرګه کې او يا منځګړي له لارې په غاړه اخلي او د بري ژمنه ورسره کوي. د دغو مرستو په بدل کې مشر له دعواګير سړي ځخه د هغه د نيمايي ځمکې برخه په پټه توګه غواړي چې په لږ ځه وروسته وخت کې به يې مشر ته هرو مرو ورکوي. کوچنی دعواګير په دغه معامله کې کوم شي له لاسه نه ورکوي بلکې د پورتني ترتيب له مخې لږ تر لږه د ځمکې نيمايي ترلاسه کوي. له دې ځخه پرته غواړي چې

۴۱. په زياتو پښتنو کې د (مشرانې مشرانه) په نامه يادیږي، ژباړن.

د زورور مشر سره په اړیکو ټینګولو کې په راتلونکي کې نورې ګټې هم لاس ته وروړي. نو یو (متنفذ) مشر له خپل نفوذ څخه په ګټې اخیستلو سره کولی شي چې هم خپله او هم د خپلو ملاتړ کوونکو څمکه او ملکیت پراخه کړي. د ګټې غوښتلو دا لار نن ورځ ډېره دود ده. بالاخره زورور مشران په ګوابښ یا زور سره خلک دې ته اړ کوي چې څمکه په دوی باندې وپلوري او یا د څمکې له دعوا څخه لاس واخلي. دغه لار په څنډن وخت کې ډېره دود وه، خو تر اوسنیو شرایطو لاندې دومره زیاته غوره نه بریښي. سره د دې هم ما وکړای شول چې دا ډول ګڼ شمېر مثالونه راټول کړم. په زور یا ګوابښ سره څمکه لاس ته راوړل هرو مرو د دښمنۍ سبب ګرځي، څکه زیاتره د لرې څمکې لرونکي دې ته چمتو وي چې د څمکې نه د سر په ورکولو سره دفاع وکړي، نه دا چې زورور ته یې پریږدي. د څمکې په زور سره نیولو ساده لار د هغه د مالک مخامخ وژل او ورپسې د هغه د شتمنۍ قبضه کول دي. د څمکې خرڅلاو په اجبار یا په پټه او له خپل حق څخه تېریدل عیب نه ګڼل کیږي. خو بیا هم دغه کار په داسې ډول ترسره کیږي چې څوک ورباندې پوه نه شي او ولسي (عامه) نظریات د کمزوري خوا په ملاتړ سره ونه څرخي. د عنعنوي محدود ویش په نظام کې دغه شان پټه معامله ممکنه نه ده.

د معلومات ورکوونکي په حواله یوه نامتو مشر د څمکې زیاته برخه په یوه ځانګړې طریقه لاس ته ور وړه. په دې ډول چې هغو نورو مشرانو ته په بیا ځای په ځای کېدنه کې د مخکې خوښونې (انتخاب) لومړی چانس ورکړ. خو له هغو څخه چې څه پاتې کېدە هغه یې ټوله خپله برخه کې ګټله. نو په دې ډول د ده برخه هیڅکله اندازه شوې نه وه. نو په دې ډول د څمکې د ملکیت موضوع د زیاتو لانجو سبب ګرځیدلې ده. دا ډول لانجې او ټکرونه د شر په نوم یادیږي. که په دغو حالاتو کې کمزورې خوا غاړې اېښودلو او له خپلو حقوقو څخه تېر نه شي، نو هغې ته دوی لارې پاتې کیږي، چې دواړې یې ډېرې زیانمنې شمېر کیدا شي: یوه یې انتقام یا دښمني ده چې ښایي د هغه په خپله مړینه سره پای ته ورسیږي. بله یې دا چې کوچنی څمکوال ځانونه متحد کوي او زورورو خانانو ته غاړه ږدي او د دوی مرسته هڅوي چې په دغه حالت کې هم ښایي د بشپړې ماتې سبب وګرځي. د دعواګیر کوچنی څمکوال هوډ (تصمیم) او د مشرانو پرېکړې چې دی یې مرسته غواړي، ټولې سیاسي بڼه لري چې په نهم څپرکي کې د سترو سیاسي ډلو په بیان کې څرګندیدای شي. له دې څخه د مشرانو د تجاوز لپاره یو اعظمي حد ټاکل شوی دی، او هغه دا دی چې د دوی د دښمنانو شمېر دومره باید زیات نه وي چې د هغوی د ملاتړ له قوت څخه یې زور زیات شي.

د دغو حدودو په منځ کې مشران په کلکه هڅه کوي چې د څمکې شتمني پراخه کړي. د مشرانو له نظره د څمکې پر سر لانجې او تضادونه ګټه لري، ځکه په دغه وسیله دوی له پښتنو څخه پرته د نورو ملاتړ کوونکو ځانګړې (شخصي) ګټې په سملاسي توګه په خپله خوا راکاږي او د خپلې شتمنۍ د زیاتولو او خوندي کولو لپاره دوی له ځان سره ملە کوي که د مشر په نامه تېری وشي، نو د دوی حقوق هم تر یرغل لاندې راځي، که د هغو شتمني پراخوالی وومومي، نو د دوی بالقوه ګټې هم په هماغه شان ډېریږي. د څمکې پر سر لانجې او جګړې په څمکوالو پورې مربوط ټول بزګران او اجاره والان د شخړې میدان ته د ګډو ګټو لرونکو ډلو په څېر راغونډوي. دغه راز دغه جګړې ټول کلیوال په ډلو سره ښلوي او د یوه مشر ډېر ږدې ملاتړ کوونکی ټاکل کیږي دا تضادونه مشر ته دا توان ورکوي چې خپل ملاتړ کوونکی په هغو حالاتو او ځای کې چې د دوی ګډې ګټې موجودې وي، سره یو موټی او متحد کړي.

له دې امله په څمکه باندې د مالکیت حقوق د سیاسي قدرت د صلاحیت یوه مخامخ او غوره سرچینه ګڼل کیږي. دغه راز څمکه د بډایي او پانګې بنسټ دی چې دا پانګې د پښتنو ترمنځ د لانجو دویمه منبع بلل کیدای شي چې د صلاحیت د تحلیل په برخه کې تر کتنې لاندې نیول کیږي.

که څه هم د سوات خلک تر اوسنیو وختونو پورې تر ډېرې زیاتې اندازې د غیر پولي اقتصاد په بنسټ باندې ژوند تېروي، خو بیا هم له پخوا څخه را په دې خوا له پولي سکو سره بلد شوي دي او تر یوې ټاکلې اندازې پورې یې د تبادلې په وسیله دغه وسیله کې لاس درلود. د ناوې په تل کې کروندګر ډېر ځله د یوې کولو په وخت کې باختري سکې رابرسېره کوي. کمکیان او زلمي په یوه شان د سترو خزانو د موندنې خوبونه ویني. لږ تر لږه د مغولي وختو راهیسې د میداني سیمو پرله پسې حکومتونو قومي مشرانو ته د بخشش او بډو په نامه او همدا شان یو څه بهرنۍ سوداګرۍ دا ډول منابع پراخې کړي دي. له دې امله د سرو زرو سکو سره له ډېرې پخوانۍ زمانې راهیسې د بدلولو د وسیلې او د ارزښت معلومولو د مقیاس په څېر پېژندګلوي شوې ده سره د دې هم، د یوه پخواني متل له مخې هر ډول وړ لیږنده شتمني ته د سرو زرو نسبت ورکول کېده د مشرانو واک او زور په دا ډول شتمنۍ او بډایۍ پورې مخامخ اړه لري او دوی خپل کالنۍ عاید د خپل موقف د پیاوړتیا لپاره په کار اچوي او خپل ملاتړ کوونکي په ډېرو لارو یعنې بډو، اجوره ورکولو، سوغاتونو او میلمستیا سره ډاډه کوي. د دغه ډول کلتوري راکړې ورکړې ارزښت باندې به خامخا هغه وخت په ښه توګه وپوهیدل شي چې د هغو سیاسي اغېزه درک کړو.

د خدمتونو د ترسره کولو په بدل کې اجوره ورکول د راکړې ورکړې د شریکانو ترمنځ نابرابري ښیي. (پنځم څېرکی وګورئ) ځکه چې د هغه چا مسؤلیت چې د خدمتونو د ترسره کولو لپاره څه تادیه کوي او د هغه سړي چې د څه په مقابل کې یو کار یا یوه چاره بشپړوي، یو شا نه دی.

د سوغات ورکولو په بدل کې برابر سوغات ښرته ورکول د هغه اغېزه شنډوي او د سوغات ورکوونکي صلاحیت په اخیستونکي باندې نه ښیي. سوغات ورکول د دې لپاره پکاریږي چې د ملګرتیا اړیکې او یوه اندازه برابري څرګنده کړي او د سوغات اخیستونکي لپاره د سوغات ورکوونکي او اخیستونکي ترمنځ د موقف له مخې نا انډولي، ښکاره کوي، خو سره د دې هم سوغات ورکوونکي، اخیستونکي د بشپړ منت لاندې راوستلی نه شي او سوغات اخیستونکی د سوغات ورکوونکي اوامرو ته داسې مسؤلیت نه لري لکه څنګه چې د بډو، اجورې یا معاش ورکولو په حالت کې دا ډول منت لیدل کیږي.

اساساً میلمه پالنه د سوغات ورکولو یو ډول ګڼل کیږي (خو په دغه ډول کې سوغات په ګډه سره په یوه دسترخوان باندې خوړل کیږي. په شریکه ډوډۍ خوړل د یووالي مفهوم څرګندوي. ډوډۍ خور تر یوې مننې (احسان) لاندې کوربه ته درناوی کوي او د اړتیا په وخت کې د هغه ملاتړ وي. هغو کسانو چې له چا سره په ډوډۍ خوړلو کې ګډون کړی وي او د ستونزو په وخت کې له هغه ځان وسپموي، نو دا کار سپکه ګڼل کیږي او که له هغه سره ملاتړ وکړي د ستاینې وړ ګڼل کیږي. خو په هغو کسانو باندې چې د چا د میمله پالنې درناوی ونه کړي هم دومره بندیزونه او قیدونه ایښودل کیدای نه شي او د دسترخوان شریکې له مخې چې کوم یووالی او وفاداري څرګندوي زیات ټینګښت هم باید ونه لري.

داسې بریښي چې د سوغاتو او میلمه‌پالنې په پرتله بډې او معاش ورکول د واک غوښتنې د ملاتړ په برخه کې ډېر غوره بلل کیدای شي. بډې او معاش داسې اړیکې منځ ته راوړي چې سرته رسول یې ګران او خطرناک وي. له بلې خوا څخه سوغاتونه او میلمه‌پالنې د سیاسي پیروانو د زیاتېدو لپاره ډېر زیات اهمیت لري د دغې خبرې دلیل د نوموړو دوو عناصرو د حجم د زیات والي له څېړنې او بررسۍ څخه څرګندیږي. د دغه ټکي د څرګندولو لپاره دې ته اړ یو چې د مشر د عاید منابع او اندازه تر ازموینې لاندې ونیسو. دا منابع ډول ډول دي. د سیاسي دریځ له امله عایدات، د مشر په واک کې د لرې څېړنې او څمکو عواید او د ده د خپلو کرنیزو څمکو عواید په کې شامل دي. د هغه عاید لپاره چې د مشرتابه د دریځ (موقف) په اساس باندې لاس ته

راځي، ملاتړ کوونکی (پیروان) ډېر اهمیت لري. د لیرو او شاړو ځمکو لپاره حکومتونو له پخوا ځخه راهیسې مشرانو ته مخامخ مرستې ویشلي دي. د تانې دوه مشران هر کال ځانته (۱۵۰۰) روپۍ او دریم یې (۳۰۰۰) روپۍ اخلي. کله چې له (۱۹۰۰م) کال ځخه وړاندې دا ورکړه منځ ته راغله، د مشر لپاره د پیسو دومره بهرنی ستر عاید ډېر زیات ارزښت لرونکی و. کله چې په (۱۹۲۶م) کال کې سوات د برتانوي هند لخوا په رسمیت وپیژندل شو، نو ټولې بهرنۍ مرستې مخامخ د دغه ځای د واکمن په نامه ورکړل شوې دي او په دې توګه د دیر نواب ته هم ورکړل شوې او ورکول کیږي، د دیر نواب په کال کې (۵۰۰۰۰) روپۍ د مرستې په نامه اخلي. د سوات واکمن دغه مرستې او نورې پانګې د مرستې په توګه په هغو مشرانو باندې ویشي چې د ده ملاتړ کوي. د هر یوه مشر د کالنۍ مرستې ونډه د هغه په نفوذ او اهمیت پورې اړه لري نو په دې ډول د مرستې اندازه له (۲۰۰) ځخه تر (۳۰۰۰) روپیو پورې توپیر مومي. دغو ټاکلیو مرستو د زاړه نظام چې په هغه کې د سړي په سر مالیه ټولیدله او یاد مشر په سیمه کې د کاروانو د تېریدو په وخت کې د کاروان ساتنې یا بدر کې په نامه پیسې اخیستل کیدې، ځای وینو، د مثال په ډول، پخوا به د لرګیو سوداګرو کله چې چارتراش او د ونو لرګي د سوات په سیند کې لیږدول، نو د مشرانو تر لاس لاندې سیند غاړې ځخه د تېریدو په وخت کې اړ وو چې هغوی ته په اوبو کې د لرګیو وړلو د حق په نامه یوځه ورکړي. د بابوزیو د اکا معروف او برات خیلو مشرانو ته په کال کې (۶۰۰۰) روپۍ ورکول کیدلې. په عنعنوي توګه دوی د سوات د دولت په خیر له خپلو رعایاوو ځخه ناغې اخیستلې چې دا عاید د دخل بلې منبع ده، په عنعنوي نظام کې لکه ځنګه چې نن ورځ په تانه کې رواج لري، واکمن مشران دا ډول ناغې د عامه یا سیاسي اهدافو لپاره په کار اچوي په داسې حال کې چې د سوات په دولت کې له رعایاوو ځخه د هرې یوې ټولې شوې ناغې یوه برخه مشرانو ته رسیږي.

د لیرو پرتو ځمکو او ځړ ځایونو عاید په نا منظمه توګه مرسته کوي. خو کله کله د مشر د عمومي عاید په برخه کې ډېره غوره ونډه جوړوي. ځنګلونه او غرونه د عایداتو یوه منبع ده. ځکه مالوال پوونده دې ته اړ وي چې د ځړ ځایونو ځخه د ګټې اخیستلو په بدل کې حقوق ورکړي. دغه راز دوی خپل مالونه د غنمو او شولو د ریبدلو ځخه وروسته په پټیو (ډونو) کې پیایي خو د کروندو ځښتنو ته د دغه کار په مقابل کې یو څه حقوق ورکوي. دا ورکړې د میښو په شمېر دا ډول حسابیږي: (۲۰) پسونه مساوي (۴) غوایان مساوي (۱) میښه. که څه هم هغه پوونده چې د حکومت تر اداري لاندې سیمو ته ځي او په ژمي کې پیسې ګټي، نو د دوی ورکړې زیاتره په پاکستاني روپۍ وي. خو بیا هم په عمومي توګه د ویلي شویو کوچو (زیرو غورپیو) ورکړه دود ده. د دغو ورکړو او عایداتو ویش او په هغو کې د مشرانو ونډه د هر یوه دفتر (د شیخ ملي د ویش له مخې، ژباړن) د سترواليې د اندازې په تناسب ټاکل شوې ده. سره د دې دا ډول عایدات یوه داسې مالي صندوق ته چې د مشرانو لخوا برابر شوي، ورکړل شوي دي.

په نتیجه کې مشر د یوه کلي د ستر ځمکوال په توګه د خپلو ځمکو د حاصلاتو ونډه راغونډه وي. په یوه کلي کې کوچني مالکان یا مشران ډېر وي. خو بیا یو کوچنی مشر دومره قدرت لري چې په بري سره د واک غوښتنه وکړي: له هغو وړو مشرانو سره چې زه مخامخ شوم، هیڅ یوه یې هم له پنځو تنو کروندګرو ځخه لږ نه درلودل. دغه کروندګر د دوی په ځمکو کې کار کوي او له دې لارې ځخه د ځان او د خپلې کورنۍ معیشت تامینوي. دغه کسان یوازې د حاصلاتو پنځمه برخه د کار په بدل کې لاس ته ور وړي او وربانديې ژوند کوي. پاتې حاصل د ځمکې د خاوند حق دی. په بله وینا د یوه کوچني مشر عاید او محصول تر یوه متوسطه الحال اجاره دار شل واره زیات دی.

لوی مشران له دې لس برابره زیاته او حتی ځینې یې له دې ځخه زیاته ځمکه لري.

د غوره مشر او اجاره‌دار ترمنځ له کرنې ځخه د کلني عايد په منځ کې ډېر زيات توپير موجود دی. د لو په وخت کې په زياته اندازه غلې دانې د مشر په گونځي (گدام) کې زيرمه کيږي. دا شتمني زياتره د غلو دانو په ځېر چې د تبادلې او ورکړې واحد دی، پاتې کيږي. خو د سوات د ناوې په ځينو برخو کې چې مواصلاتو په کې زياته پراختيا موندلې د دغې غلې زياته اندازه د پيښور د غلو په بازارونو کې پلورل شوې ده. زما د کتنې په وخت کې د نورو غوره مشرانو له لرې ځخه مې يوه پيژندگلوي د غلو دانو له پلورلو ځخه (۵۰۰۰۰) پاکستانۍ روپۍ (۵۰۰۰ پونډه) عايدات درلودل. خو د صادراتو دا ډول پرمختگ اوسنۍ بڼه لري او دومره ډېره پخوانۍ سابقه نه لري. د سوات زياتره زراعتي توليدات د ننۍ تبادلې په نظام کې په دوران اچول کيږي. او په سيمه کې لګيږي.

نو په دې ډول د يو مشهور مشر په اصطلاح دا ډول له منځه تلونکي او غير له منځه تلونکي شتمني ځانله برابروي چې د هغه د کورنۍ د مدللو ضروریاتو د رفع کولو لپاره سل ځله زيات وي.

زيات شمېر کليوالي نفوس دا ډول عايدات نه لري. د سوات په ناوه کې ګڼ شمېر خلک راغونډ شوي دي او په ځمکه باندې فشار ډېر زيات دی. د وګړو ډېره ستره برخه يوازې خپله ورځ چلوي او د «وخوره مه مره» په سطح کې ژوند کوي. د زېرېدنې اندازه نسبتاً لوړه ده، خو په همدغه شان د کوچنيانو د مړينې اندازه هم اوچته شمېرل کيدای شي. پښتانه مور او پلار په دې پوهيږي چې ډوډۍ د کوچنيانو د مړينې د اندازې د جګوالي علت د خوړو نيمګړتيا او لږ والی دی. دغه راز د دوی بې‌وزلي او غريبي د دې سبب کيږي چې ونه کړای شي هغو ته وړ کالي، درمل او تعويزونه ورسولی شي. شتمنې کورنۍ په دا ډول کړاوونو نه اخته کيږي. د خويندو او وروڼو (کوچنيانو) ډلې د شتمنو په منځ کې ډېر زيات پراخوالی لري.

د دغې پورتنۍ بڼې بيان زما د خپلو ادراکاتو او د معلومات ورکوونکو د بيانونو پر بنسټ باندې ولاړ دی. په خوارو کورنيو کې په متکرر ډول د خويندو او وروڼو (کوچنيانو) داسې وړې ډلې ليدل کيږي چې د عمر توپير يې شل کاله اندازه کولی شو. په هغو ځايونو کې چې ماته د معلوماتو د لاس ته راوړو زمينه برابره شوې، په خوارو کورنيو کې مې د اميدوارۍ او زېرېدنې زيات شمېر حالتونه وليدل. خو په ځنګ کې يې د ګڼ شمېر ماشومانو او کوچنيانو مړينه ډېره زياته ده. د شتمنو کورنيو د منسوبو مردلو (خويندو او وروڼو يا کوچنيانو ډله) ستروالی زياتره د ډېرو ښځو د کولو (د زوجاتو تعدد) په نتيجه کې شمېرل کيږي، خو معلومات ورکوونکی په دې ټکي متفق وي چې د کوچنيانو د ډلې ستروالی د خوړو په ښه والي پورې زياته اړه لري. د سوات د پښتنو په اصطلاح په دنيا کې خلک په دوه ډوله ويشل کيږي يوه ډله يې ماړه او بله ډله يې وږې خلک دي. شتمن خلک په خپلو کندوانو کې دومره خوراکي مواد لري چې د نيستمنو کورنيو غړي د کال په اوږدو کې تغذيه کولی شي. دا سبب دی چې مشر له خپلې اضافي شتمنۍ ځخه نه يوازې موقتي سوغاتونه او ميلمستياوې برابروي، بلکې هغه په رښتيا سره کولی شي چې د خپلو ملاترو په ژوند کې غوره مرسته وکړي. که دغه ډول مرستې د ځه مودې لپاره جريان وموميِ، نو په حتمي توګه خوار خلک د خپلې کورنۍ اقتصادي بنسټ پر هغه دروي. نو د دغو مرستو د امکان له منځه وړل خوار سړي لپاره د غوره خطر سبب ګرځي.

نو په دې اساس د سوغاتونو او ميلمستياوو اهميت د مشر د سياسي واکمنۍ او صلاحيت د سرچينې په توګه بايد وپيژندل شي. سوغاتونه او ميلمستياوې داسې بالقوه وسيلې دي چې د هغوی پر بنسټ باندې نور خلک کنترول کيږي. د دې کار علت دا نه دی چې سوغاتونه او ميلمستياوې پوروړي ايجادوي بلکې اصلي علت يې دا دی چې په دې ډول د دغو مرستو په دوام باندې نيستمن خلک خپله اتکا ټينګه ساتي. د سوغاتونو د پرله پسې جريان اړتياوې او تابعيت منځ ته راوړي او د پرې‌کولو ګواښ يې په خوارانو باندې د صلاحيت

پخه وسیله شمېرل کیږي. د معاشونو او بڼو ورکولو په خلاف چې هغوی د ورکوونکي (مشر یا خان) په اوږو مسؤلیت او پیټي ږدي. میلمستیا او سوغات ورکول په پیروانو باندې د مشر سیاسي صلاحیت بې‌له دې چې مشر د دوی د عمل مسؤلیت په غاړه ولري پراخوي.

د سوغاتونو او میلمستیاوو غوره ځای د نارینه وو حجره ګڼل کیږي (اووم څېرکی وګورئ) په واقعیت کې ډېرو خلکو ته د سوغاتونو رسیدل د هغه اغېزه لاهم زیاتوي، په دې ډول د زیات سوغات ورکوونکي په توګه د مشر خصلت په بهر کې مشهوریږي او په دې اساس خلک د هغه د حجرې د لیدو او د ده سره د ملاقات کولو شوقمند ګرځي[۴۲].

که څه د قرآن‌کریم په دستور د صدقې او خیراتونو ورکړه د ډېرو مشرانو او لویانو په حجرو کې دود ده، خو سره د دې هم نن ورځ د سوات په حجرو کې د دوامداره شتمنۍ توزیع او ویش نسبتاً لږ لیدل کیږي. دا کار د دوی د سیاسي او مذهبي ارزښت په برخه کې هم مرسته کوي. افرادو ته د یوه ډول باارزښته شي د سوغات ورکولو دود ډېر زیات دی. د معلومات ورکوونکو په قول د نارینهو په حجرو کې د ډېرو زیاتو سوغاتونو ورکړه جاري وه زما معلومات راکوونکي وویل چې یو وخت په تېرو زمانو کې د بابوزیو جمروز خان د خپل کمیس لمن له روپیو څخه ډکه کړه او هغه یې په پریمانه توګه د حجرې په ټولو حاضرینو باندې په موټو وویشلې. له بلې خوا میلمستیاوې تراوسه پورې هم په ډېره زیاته اندازه رواج لري. ټولو مسافرو میلمنو او اړو (محتاجو) خلکو ته خواړه ورکول کیږي. میلمستیاوې او خیراتونه چې په هغو کې وریجې، چرګان، ژیړ غوړي او شلومبې باب دي، وږیو خلکو ته ورکول کیږي. نوموړي کسان د لویو لوښو (تلبر یا ښانک) چاپیره ناست دي او دا خواړه خوري د ډوډۍ لپاره د راغونډو شویو خلکو په شاوخوا واړه هلکان ګرځي راګرځي. کله چې لویان د ډوډۍ خوړل بس کړي، نو دوی په پاتې شویو خوړو باندې راټولیږي او ښانک څټي.

ما د دې توان پیدا نه کړ چې د مشر د کورنۍ په اقتصادیاتو او د حجرې د میلمستیاو په باب مفصل معلومات راغونډ کړم. خو سره د دې هم څنګه چې د حمل او نقل مشکلات زیات دي. نو غنم به زیات مقدار صادریدای نه شي، نو معمولاً په سیمه‌ییزه توګه تولید شوې غلې په کلیو او په زیات مقدارسره په حجرو کې مصرفیږي.

هغه ډلې چې د میلمستیاو په نتیجه کې په مشرانو باندې غوندیږي له سیاسي او اقتصادي پلوه هغه وخت ارزښت لري چې مشر د سیاسي فشار لاندې راشي او یا دا چې عاید یې له عادي سطحې څخه کښته وغورځي. په دغه حالت کې دحجرې میلمستیاوې او میلمه‌پالنې د دې په ځای چې لږې شي، تر پخوا زیاتیږي. که داسې امکان ولري چې ځوک د خپلې اصلي شتمنۍ په خرڅلاو باندې په ډېر زیات څرګند ډول تبصره ونه کړي، نو له دغې معاملې څخه لاس ته راغلې پیسې د میلمستیاو د سطحې د لوړ ساتلو لپاره لګول کیږي. زما د څېړنې په وخت کې د زیات شمېر مشرانو لخوا دغه پورتنۍ شرایط منعکس شوي دي. د دغو مشرانو له لږ څخه یو هم د یوه پخواني قدرمن مشر زوی دی. دی په خپله ډېر زیات نومیالی دی. خو په غیر عادي او فوق العاده توګه جریمه کیږي. دغو حالاتو سره سره نوموړی مشر د سیمې تر ټولو مشرانو زیاته میلمه‌پالنه کوي. په وروستیو لسو کلونو کې هغه د حجرې د میلمنو د خوراکې لپاره پراخه ځمکې پلورلې دي. ما د دغه سیاست په باب له

۴۲. د مشرانو د سیاسي فعالیتونو او دحجرې د مؤسسې ترمنځ د اړیکو دا نظریه د پېښور په ګاونډي سیمه کې د بدلون د راتلو په نتیجه کې لاپیاوړې شوې ده. په هغه سیمه کې چې پخوا یې ټولنیز نظام د سوات اوسني نظام ته ورته و (لفنستون،۱۸۳۹، دویم ټوک ۲۷ – ۲۸مخ) د برتانیا تر ادارې لاندې د ملکیتونو ټیټدل او پولیسي سیستم د د ې سبب شو چې په پرله پسې توګه جایدادونه خوندي وساتل شي او ځمکوال دې ته اړتیا پیدا نه کړي چې سیاسي برې ولري. په عین حال کې د پولې اقتصادي نظام په منځ ته راتلو سره لیږنده (منقول) شتمني په پیسو واوښته. دغو شرایطو د پېښور شاوخوا صمیمي حجرې له مخې ځخه وایستلې. سره د دې چې په سوات کې په عملي ډول دا ډول تغییرات دومره زیات ژور تللي نه دي، خو بیا هم د لارو په اصلاح او د امنیت په تامین سره دا ډول تغییرات هلته راتلونکي دي.

ده سره خبرې وکړي. دی په دې پوه و چې د ده دا ډول چلند کلنی عاید په لوړه پیمانه راټیټوي او په دې توګه بحران لاپسې کړکیچن کوي. له بلې خوا ده وویل «که زه له حجرې څخه خلک ودروم نو به هم لا ژر خپله خمکه له لاسه ورکړم. یوازې دغه قدرت کولی شي چې د دښمنانو لاس لنډ کړي». د وریجو Vorejo په کلي کې د زرګرانو او کچروالاوو زیاتې ډلې د ځمکوالی په څېر ژوند کوي چې دا یو بل ښه مثال کیدای شي. د وړو ځمکوالو دا ډله هغه وخت منځ ته راغله چې د دغه کلي مانکیخیلو مشرانو د میلمنو د اړتیا وړ خوراکي لپاره خپلې ځمکې پرله پسې وپلورلې او د عایداتو اندازه یې لږه شوه خو په بدل کې یې سیاسي دریځ ګټلی دی. د مشر میلمه‌پالنې په حجره کې د هغه د ملاتړ و او پیروانو لپاره د خوراکي موادو یوه منبع ده او دغه کار هغوی ټول د مشر تابع ګرځوي، دا ځکه چې د دغو ډېر زیات شمېر عادي میلمانو له ډلې څخه یو ګڼ شمېر یې له وړیا خوړو څخه پرته د مشر په حجره کې ورځ نه شي تېرولی. سره د دې دغه راز مشر د پریمان او افراطي خرڅ له امله شهرت ګټي او خپل ځان داسې جوتوي چې د خپل جایداد او د ګټور تنظیم توان لري. او په دې توګه هغه د یوه مطلوب مشر په څېر ځان د حیثیت او عزت څښتن ګرځوي. نو د هغه ملاتړ کوونکي په ډله‌ییزه توګه د ده په دیره کې راټولیږي او د ده سیاسي قدرت او صلاحیت زیاتوي. د نفوذ د ګټلو په ترڅ کې هیله لري چې خپله ځمکه پراخه کړي او زیاته شتمني ترلاسه کړي او په دې ډول تر پخوا زیات نفوذ او ملاتړ پیدا کړي. په عین حال کې د ده د ملاتړ کوونکي ډلې یووالي د ګډ دسترخوان د لرلو په اساس تحکیم او ټینګوالی مومي. او د دوی یووالی په یوه دسترخوان باندې د کیناستلو له امله نور هم پیاوړی کیږي. ځکه چې په یوه دسترخوان کیناستل په معنوي توګه دوی د یوه بل په ملاتړ مکلف کوي. نو د ګډو ګټو خاوندان حتی کله د متضادو ګټو خاوندان لکه اجاره داران، پوونده، هټیوال او کارګران د بهرني فشار په اساس د یوې داسې ژوند بښونکې ټولنې غړي ګرځي.

پت او له پت ځخه د دفاع په سبب تضادونه

د شتمنۍ او ځمکې لرلو په څنګ کې مشر باید دعزت او احترام څښتن وي دی له خپلو رعایاوو او ملاتړو سره داسې اړیکي لري چې هره یوه خوا کولی شي پخپله اراده سره هغه وشلوي. نو په دې ډول هر پښتون نارینه له یو شمېر مریانو پرته ازادي لري چې په هر وخت کې بل مشر سره د خپل سرنوشت د ټاکلو لپاره یوځای شي او د هغه په مزدورۍ او پیروۍ کې ځان نیمکرغه کړي او زیاته ګټه لاس ته راوړي. ښایي یو خوار سړی د مشر په سوغاتو او میلمستیاو باندې «خپل وخوره مه مره» ژوند تېر کړي. خو که یو نوی مشر ده ته د زیاتې ورکړې وعده ورکړي او د هغه شته د لومړي مشر څخه زیات وي، نو دا سړی هرو مرو د پخواني مشر څخه خپل علایق پریکوي همدا شان یو شتمن مشر به ډېره ځمکه ولري، خو که له نورو مشرانو او سیالانو سره د سیالۍ په ډګر کې خپله ځمکه له لاسه ورکړي، نو په دغسې حالت کې د ځمکې د لږیدو په صورت کې شتمن مشر د ملاتړو سره د اجارې قراردادونه هم نشي کولی. نو په دې سبب د هغه نفوذ د ده پر ملاتړو باندې کیږي. یو سړی نه یوازې خپل مشر ته د شتمنی، ځمکې او میلمستیا له پلوه ارزښت ورکوي، بلکې د مشر په انتخاب کې په سختو او بحراني حالاتو کې هم د هغه پوخوالی تر کتنې لاندې نیسي. نو په دې ډول د حیثیت او وقار پیچلی عامل د قدرت یوه ستره منبع او غوره وسیله ده چې د هغې له مخې سیاسي صلاحیت غوښتونکي ملاتړ په ځان راغونډولی شي. ټولنیز موقف د دوو متضادو قطبونو یعنې د عزت او شرم له ارزیابۍ څخه وروسته ټاکل کیدای شي. میړنتوب او بې‌پروایي چې د روغې په ځای د افراط او شدت پلوي وي، د مشر په زړه پورې شخصیت ګڼل کیږي. کله کله غیر معقول مګر همیشه زړورتوب په دغه ډول شخصیت کې برخه لري. ټول مشران دا شان لوړ صفتونه نه لري، خو د دوی اعمال د دغو خصلتونو په ارتباط تر قضاوت لاندې نیول کیږي. هر خومره چې دوی د پورتنیو معیارونو په تناسب خپل اعمال وښیي نو په هماغه اندازه ملاتړ صلاحیت او قدرت لاس ته ور وړي.

په دغه معنی پت یا عزت د سیاسي واک غوښتونکو لپاره د نور هر یو هغه انسان لپاره چې ځانله احترام لري، د ډیرې پاملرنې وړ موضوع ده. له پت څخه دفاع کول د یوه سړي د مشرتابه لپاره د ازمایښت ښه وسیله ده. د چا پت ته په سپکه کتل دومره ستره لانجه منځ ته راوړي لکه چې د یوه سړي خمکه خوک تهدید کړي. پښتانه پت یوې داسې ځانګړې موضوع ته مربوطوي چې هغه د مېرمنو او خویندو له ناموس څخه دفاع کول دي. نو څکه ښځه په عمومي توګه د تضادونو او ټکرونو منبع ده. په حقیقت کې هر ډول سپکاوی او سپک عمل یا حالت چې یو پښتون وربانديې د شرم احساس وکړي هرو مرو د پت څخه دفاع کول ایجابوي. خو په دې شرط چې دی په همیشنۍ توګه د دې غوښتونکی وي چې پت دې خوندې وساتل شي.

په ساده ښه د پت د دغو قوانینو څېړل ګران کار دی. یقیناً عزت او پت د صلاحیت منبع ده. خو د پښتانه په نظر د صلاحیت دا منبع له نورو منابعو څخه لکه د ځمکې ملکیت او شتمني د مفهوم له لحاظ توپیر لري. تر یوې اندازې پورې دا امکان موجود دی چې یو سړی، سره له دې چې شتمن وي، خو د پت په برخه کې نیمګړتیاوې ولري. نو دغسې حالت په جدي توګه په سیاسي صلاحیت باندې ډېر تاثیر کوي. په پرله پسې توګه د دا شان نیمګړتیاو په باب تبصرې کیږي لکه چې وایي: «هغه به شتمن وي خو ښځینه دی».

د پت او شرم مفاهیم په ځانګړو کړو وړو او په دې پورې اړه لري چې له یوه حالت سره څنګه معامله کیږي. نه په خپله د حالت په شرایطو پورې دغه مطلب د تېرو اتلانو د کارنامو په بیان کې په ښه ډول څرګند شوی دی. یو جوت مثال یې د جمروزخان د یوه پلوي لخوا د جمروزخان په باب دغه بیان دی: «ده به د سبا ناري په وخت د غوایې یو لړمون خوړ، کله چې به یې د کوم چا قدرت زیاتېدو خواته پام واوښت، نو به یې خپلو سړیو ته ویل: ګورئ! تاسو څنګه زما خدمتګاران یاست، فلانی وګورئ چې خپل قدرت او نفوذ زیاتوي! بله ورځ به په بازار کې دا اوازه ګډه شوه چې هماغه فلانی سړی وژل شوی دی». د خلکو په پیژندلو کې غني خان هم همدغسې یو مثال درلود (۱۹۴۷).

په دغه برخه کې به مور پت او شرم د سیاسي داوطلبانو او دعوا کوونکو د نسبي وړتیا د معیارونو په حیث تر کتنې لاندې ونیسو. د ځمکې او شتمنۍ په څېر د مشرۍ هغه لوړ صفتونه چې د پت په برخه کې شامل وي او یا پت ګټل کیږي. زیاتره د ټکر او تضادو په حالاتو کې هم جوتیږي. له پت څخه د دفاع کولو بریالی لاره داسې غچ اخیستل ګټل کیږي چې د اصلي سپکاوي سره برابر او یا له هغې څخه هم زیات وي چې په دې ډول د سیال یا رقیب سره بیا برابري پیدا او په هغه باندې لوړوالی ترلاسه شي. لکه چې مو د ځمکې پر سر د تضادونو او ټکرونو په بحث کې وویل، دلته مور د ټکرونو او تضادونو په قانوني اړخ باندې خبرې نه کوو، بلکې د هغو له سیاسي خواوو سره سروکار لرو نو په دې توګه د ځان ساتنې او قتل دا لاندې بحث چې د پښتنو په اصطلاح د پت او شرم موضوع بلل کیږي، له همدغسې سیاسي اعمالو سره اړیکه پیدا کوي.

د خپل شرم او پت د خوندي ساتلو لپاره د غچ اخیستلو ښه د یوه چا عزت ته د سپکاوي د رسولو په درجه، د یوه تن د ملکیت د نیولو یا د یرغل کولو، ټکولو او یا په سختو حالاتو لکه وژنې پورې اړه لري په بله وینا د سپک شوي سړي لپاره دا ضروري ګټل کیږي چې له خپل ځانه څخه ډېر زیات قوت وښیي. ښایي غچ اخیستل په خپله د سپک شوي سړي لخوا یا د ده لپاره د ده د ملاتړو لخوا ترسره شي. د پت او شرم ساتنه په هغه اندازه چې په خپل لاس سره ډېره ښه ځای کیږي، د ملګرو او متحدینو په لاس امکان نه لري. کله چې سپک شوی سړی د خپل عزت د ساتنې لپاره په ښه توګه د غچ اخیستنې موضوع سرته ورسوي، نو دا څرګندوي چې دی د خپلو ګټو د ساتنې لپاره وړ توان لري. داسې یو سړی د زیات شمېر لخوا د مشر په توګه ګټل کیږي او په دې قادر وي چې د دغو ملاتړ کوونکو اطلاعت او احترام ترلاسه کړي، ځکه چې ملاتړ کوونکی په ده باندې

باور لري چې دغه مشر هم د هغوی ګټې او هم خپلې ګټې ساتلی شي.

د غلا د جبران په مقابل کې د مال اخیستل، د مثال په توګه د غویانو ترلاسه کول، معمولاً د عادي خلکو لکه د بزګرانو او پوونده‌و کار دی. دغه ډول وړوکی جبران د مشرانو درناوی او عزت په ځای کولی نه شي.

یوه پیړۍ پخوا چې غلاوې او داړه‌ماري زیاته وه او د لیرې کسانو ترمنځ د ننۍ ورځ په شان اړیکې نږدې او منظمې نه وې، نو د غلا د یرغمل ترهغه وخته پورې ساتل کېده چې ادعا شوی ملکیت ادعا کوونکي ته ېږدې سپارل کېده یرغمل د داسې سړي سره اړیکه لري چې د هغه په مقابل کې یو ځوک ادعا کوي او داسې ګڼله کیږي چې د هغه خپلوان به د مال د ېږدې ستنولو په پرنسیپ باندې زور واچوي. د عزت د ساتنې او دفاع اساسي لاره د وینې غچ اخیستل او یا بدل ګڼل کیږي د بدل اخیستل د ټکر حالت ته د «پښتو» نوم ورکړل شوی دی دغه موضوع د دښمنۍ ډېر حاد حالت دی، خو تر اوږدې نښتې پورې د ټولنیز غوښ احتزاز نه پرته، کوم ډول عمل ته اړتیا نه لیدل کیږي. د وینې ناحل شوې دښمني کلونه کلونه دوام کوي، خو په هره یوه نسل کې له یوې یا دوو وژنو څخه زیات څه نه پېښیږي (په ضمیمه کې دویمه قضیه وګورئ).

د دښمنۍ عوامل ډېر زیات دي ځکه چې د هر ډول بې‌عزتۍ وروسته مناسب کار (غچ اخیستونکي وژنه) د یوه سړي د عزت د ساتلو لپاره وړ عمل ګڼل کیږي. په لومړي پړاو کې د وژل شوي سړي کسات نه اخیستل د مقتول د کورنۍ د پت لپاره یو تور داغ دی. دغه غچ اخیستل هغو وژل شویو ته نه راجع کیږي چې په یوه جوته جګړه کې له منځه تللي وي. (جنګ، نهم څېرکی وګورئ)، بلکې د هغو حالاتو په مقابل کې بې‌عزتي وشي او دغه کار د نورو د خبرتیا له امله په ټولو کې اوازه خپره کړي، نو په دغه حالت کې د هغې ښځې خپلوان، میړه، وروڼه او زامن یې د دغه سپکاوي د لیرې کولو لپاره د هغه سړي څخه غچ اخلي چې دوی ته یې سپکه رسولی وي. له دې څخه علاوه په نښته کې د یوه چا زیات ټپي کول او په یوه چا برید ډېره سپکه ده او د وژلو تر سرحده پورې غچ اخیستل ایجابوي (ضمیمه دریمه قضیه) او هر بل عمل چې سپکاوی وګڼل شي د پښتنو د پت د قانون سره سم د وینې د بدل بشپړ تجویز کوي.

قانوني چلند له دغې عنعنې سره په ځینو برخو کې توپیر لري. د اسلامي قوانینو په اساس لکه څنګه یې چې د سوات قبیلوي جرګې یا دیني عالمان یې تفسیر کوي. د قصاص په توګه غچ اخیستل یا د زنا په برخه کې وژنه، چې دواړه زنا کوونکي دې باید ووژل شي، منلې شوې ده، په نورو حالاتو کې د وینې غچ اخیستل په قانوني توګه جواز نه لري، که دغسې قضیې د سوات نسبي جرګو یا د سوات حکمران ته وړاندې شي، هغه څوک چې د دښمنې ته لاس اچوي، ښایي جریمه (ناغه) شي. خو د ده حیثیت بیا هم د ده دښمني د عمل له مخې چې د عزت ساتنې لپاره یې کوي، ښایي لوړ ولاړ شي.

د یوه مړي غچ اخیستلو مسؤلیت یا امتیاز د هغه چا په غاړه دی چې میراث یې ورته پاتې شوی وي. که چېرې په ځینو دلیلونو سره د مړي میراث خور د غچ اخیستلو په برخه کې ناکام پاتې شي، نو دغه کار ښایي د مړي یو نږدې نارینه خپلوان چې د پلار لخوا یې د تره زوی او یا بل نږدې ځوک وي وکړي یا پرمخ بوځي (ضمیمه لومړی قضیه وګورئ) دا به سمه یا ضرورت نه وي چې ووایو د وژل شوي سړي مورني خپلوان د وژنې له سپکاوي څخه نه اغیزمن کیږي یا په پتمنه او بریالي غچ اخیستنه کې برخه نه اخلي. ښایي ماما په شخړه کې ونډه ولرلی شي، ځکه د ده حجره د هغو کسانو د ساتنې (د پټونځي) په توګه پکاریږي چې غواړي د وینې بدل څخه ځانونه بچ کړي. خو دغه ځای یوازې د پټونځي او ساتنې په توګه ټاکل کیږي، ځکه چې ماما په دښمنۍ کې برخه نه لري. که د ده په حجره باندې د انتقام اخیستلو لپاره برید وشي، ښایي دغه کار د غچ اخیستونکو لپاره د دښمنانو شمېر زیات کړي په هغو حالاتو کې چې یو سړی ونه وژل شي، خو سپک کړ شي، نو په دغه

سپکاوي کې د ده ټول خپلوان شاملیږي او له سپک شوي سړي سره په یوه شان د سپکاوي د لرې کولو په برخه کې درېږي (د مثال په ډول، د ضمیمې پنځمه قضیه وګورئ).

په همدغه شان د یوې پېښې د نتیجو مسؤلیت د ډېرو کسانو په غاړه دی. په خپله د عمل ترسره کوونکی او هغه څوک چې د عمل د اجرا پلان جوړوي تر ټولو زیات مسؤل ګڼل کیږي. خو څرنګه چې د سپکاوي عمل د یوه سړي ټول خپلوان خفه کوي او همدا شان د سپکاوي د لرې کولو لپاره د وژل شوي سړي د غچ اخیستلو لپاره ګومارل کیږي او غچ اخلي، نو د ده د عمل مسؤلیت هم د ټولو نږدې خپلوانو په ګډون سره کمیږي. د مسؤلیت ویش تر یوې اندازې د عمل د ماهیت له مخې توپیر پیدا کوي او داسې بریښي چې په اوسني نسل کې له بدلون سره مخامخ شوی دی. عمومي تمایل دا دی چې غچ اخیستنه یوازې د سپکاوي په مقابل کې د وژنې په خلاف تنظیم شي. په ټهره بیا غچ اخیستنه یوازې د سپکې رسوونکي لوري ته په مخامخ توګه مسؤل سړي ته ور اوړي او دغه حالت هغه وخت تحقق مومي چې د سپکې رسوونکي خپلوان د سپک شوي سړي خپلوان ونه لمسوي او هم په ښکاره توګه په سپکه کې ځانونه شریک او دغه سپکه تائید نه کړي. سره د دې هم مورِ (ضمیمه دریمه قضیه وګورئ) وینو چې یو تره د وراره لخوا د بل چا د تېي کولو د سپکاوي څخه د راپیدا شوي عکس العمل په مقابل کې خپل عجز په ښکاره توګه اعلام کړ. خو سره د دې هم د وراره له مسؤلیت څخه یې ځان خلاص نه کړای شو. د قتل په موضوع کې ټول مسؤلیت قاتل ته راجع کیږي. خو د ده پلار، ورور، زوی او تر یوې اندازې تره او پلرنی‌تربور په دغه مسؤلیت کې شامل او د قاتل په ځای نیول کیږي، په ټهره بیا که قاتل له لاسه وتلی وي، د مثال په ډول که له ملک څخه تښتیدلی وي.

معلومات ورکوونکي له دې خبرې سره موافق و چې په پخوانیو وختونو کې د قاتل او د هغه د خپلوانو په منځ کې د قتل مسؤلیت په مساوي توګه ویشل کېده او زیاته پراختیا یې درلودله. خو دغه تمایل په وروستیو یوه یا دوو نسلونو کې اوښتی په خپله په قاتل پورې محدود شوی دی. دغه حالت په هغه ځای کې لیدل کیږي چې میراثي ډلې خپل رواجي او حرفوي رول او نقش له لاسه ورکوي او یا په هغه قانوني اصولو کې موندل کیږي چې تر اداري لاندې سیمو په محاکمو کې شته. سره د دې هم د سوات د پښتنو په نظام کې د پلرګنۍ د ټولو ښاخو په منځ کې د مسؤلیت افقي ویش او پراختیا ناآشنا بریښي.

له دغه بیان څخه په څرګنده توګه پوهیدلی شو چې د سوات په پښتنو کې د وینې د بدل په دود کې د برابرۍ غچ اخیستنې اصل مراعات شوی نه دی، یعنې دا به ضرور نه وي چې د رسیدلي ضرر د انتقام لپاره د غچ اخیستونکي ګوزار د ضرر رسوونکي له ګوزاره سره یو شان وي. ما د غچ په برخه کې هیڅکله د برابرۍ او عدالت نظر اوریدلی نه دی. خلک زیاتره له دې سره مینه لري چې یو سړی د خپل ټولنیز شخصیت له ټولو بنو څخه دفاع وکړي. د ضمیمې په لومړۍ قضیه کې لیدل کیږي چې غچ اخیستلو د سپکاوي تر عملیې تېرۍ کړی او له قاتل څخه د بریالي غچ اخیستلو څخه وروسته ژوبله ډله بیا هم خپل غچ اخیستل لا پسې زیاتوي او د قاتل د ملکیت محوه کولو ته لاس اچوي، چې په دې ډول د قاتل خپلوان مطیع او د سولې ټینګولو ته اړتیا ووینې.

د کوهستان په شاوخوا سیمه کې یوه ډېره فوق العاده وضعه پېښه شوې وه او هغه دا چې په یوه غچ اخیستنه کې د یوه په مقابل کې دوه تنه ووژل شول. لومړۍ غچ اخیستنه د وژل شوي سړي د یوه ډېر لیرې خپلوان په واسطه په داسې حال کې ترسره شوه چې د مقتول زوی له سیمې څخه بهر و، خو کله چې نوموړی بېرته خپل ځای ته راستون شو، نو د مقتول د نږدې خپل په توګه یې بیا هم د غچ اخیستلو حق ځانته روا وګانه (بارت ۱۹۵۶، ۴۵مخ) دا ډول غچ اخیستل په خپله بریالیتوب ګڼل کیږي ځکه چې دغه عمل ته د زورور لخوا په فوق العاده

توګه د هغه د پت څخه د دفاع په غرض اقدام کيږي. نو په دې ډول سپک شوی خپل حيثيت بيا په ځای کوي. د سوات سياسي لوړتيا غوښتونکي پښتانه د سپکاوي د لیرې کولو لپاره د پيسو بدل نه مني. پيسې نه شي کولی د زيانمن شوي شخصيت بيا را اوچت کړي. حتی دا کار د قاتل لوړتيا ته نوره زياته مرسته رسوي. بزګران او پناه وړونکي د وينې په بدل کې پيسو ته غاړه ږدي. مشران د خپل سياسي دريځ د ساتلو او د خپل پت د ارزښت له مخې دې ته اړ دي چې غچ واخلي. د انتقام او غچ اخيستلو په وخت کې تل هڅه کيږي چې رقيب او سيال د امکان په صورت کې په بشپړه توګه تر اطاعت او تسليمۍ لاندې راوستلی شي. که داسې کار اسان نه وي نو غچ اخيستل د اصلي تاوان په اندازه وي. سره د دې چې دا به عدالت نه وي، خو دغه برابري په موجود سياسي قدرت کې توازن څرګندوي او په دښمنۍ کې اوربند منځ ته راوړي چې دواړو خواو پت په کې خوندي وي.

په دې ډول د يوه خاص اعتبار او حيثيت لرل د يوه مشر د سياسي صلاحيت يوه ارزښت لرونکې منبع ده. د مثال په ډول د خپل پت او ګټو د ساتلو په برخه کې اعتبار ګڼل، په تندي، تشدد، زړورتوب او مېرانه کې نامتوالی د يوه مشر لپاره د صلاحيت په برخه کې پکاريږي دا چې يو مشر په خپله د غچ اخيستلو په برخه کې لږه وندې اخلي، ښايي دا دومره تفاوت ونه لري. حقيقت دا دی چې همدا مشر په خپله يوه قاتل ته د قتل د اجرا لپاره پيسې ورکوي او هغه ټول ګواښونه چې د زياتو خلکو لخوا ده ته د غچ اخيستلو له پلوه متوجه کيږي، د ده زړورتيا ته اړتيا پيښوي، چې دغو فشارونو لاندې په زړورتيا ژوند وکړي. دغه پرله پسې ګواښونه د ده سياسي مهارت لوړوي او د ده د سياسي توان لپاره د يوه معيار په توګه پکاريږي. له دې امله د پت څخه د دفاع په سبب دښمني د سيالانو او رقيبانو نسبي توان او قدرت څرګندوي. هغه څوک چې په دغه دښمنۍ کې د خپل پت او عزت د ساتلو له مخې بري ته رسيږي، نو هغه به هرو مرو د يوه پياوړي او زورور مشر او د يوه لارښوونکي مهارت له ځانه وښيي. بې له شکه داسې يوه تن ته به درناوی ډېر وي او زيات خلک به د ده د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د ده حجرې ته مخ وګرځوي. د ده شهرت، د ده د ملاتړ کوونکو او هم په خپله د ده لپاره د حمايې يوه وسيله کيږي. دا هم د منلو وړ ده چې مشران دې ته اړ شوي دي چې له سيالانو او رقيبانو سره په دغه شان اړيکې ټينګې کړي. هغه مشر چې وغواړي له دې څخه تېر شي، نو هرو مرو د ملاتړ کوونکو لخوا په ده باندې ډېر زيات فشار واردیږي. که چيرې دی له خپل پت څخه دفاع ونه کړي، نو خپل حيثيت زيانمن کوي او په دغه کار سره دی په ځان کې د کمزورۍ نښې څرګندوي. د ده سيالان او رقبيان په دغسې حالت کې ژر تر ژره خپلې ګټې د ده او د ده ملاتړ کوونکو په زيان مخې ته وړي. ده د ملاتړو او په خپله د ده ګټې به له نابودۍ سره مخامخ شي ځکه چې د ده ارزښت د يوه حامي په توګه د هغه له غچ اخيستونکي حيثيت سره متناسب وي او زياتره تاوان په خپله ده ته رسيږي، نه د ده ملاتړو ته. نو له دې امله د ده خپلې ګټې او ځانته احترام کول او همدا شان د هغه د ملاتړو منفعت ټول په ده باندې حکم کوي چې د يوه موقف پيژندونکي، عزت ساتونکي، جنګيالي او لوړتيا غوښتونکي مشر په توګه وړ نقش ترسره کړي.

د اجباري حمايت اصل

د مشرانو د صلاحيت هغه منابع چې تراوسه پورې موږ بيان کړي دي، هيڅ يوه يې د افرادو په يوې محدودې او ټاکلې ډلې باندې حاکميت نه ورکوي. د مشر اجاره‌داران، بزګران او نور وابستګان يوازې هغه وخت متحدې ډلې جوړولی شي چې د ده په واسطه دغسې تنظيم وموميِ. د دغسې ډلې افراد يوازې د مشر سره د اړيکې له لارې په خپلو منځو کې سره يووالی پيدا کوي او هم څوک نه شي کولی دغه افراد له نورو ځمکه‌والو سره د اړيکو له ټينګولو څخه منعه کړي. په همدغه شان د مشر د سوغاتونو اخيستونکی او هغه کسان چې دی خوښوي او يا د ده د صلاحيت د منلو لپاره دوی تر ګواښ لاندې راولي، ټولې محدودې او ټاکلې ډلې نه جوړوي. د يوه مشر سياسي اغيزې يو خاص شکل نه لري او د هغه حدود يوازې هغه وخت څرګنديږي چې

د خاصو ټکرونو په وخت کې تر ازمويني لاندې راغلې وي. سربېره پردې، د حوزوي سازمان په شکل کې د ډلو لپاره اساسي چوکاټ وجود لري (دريم او څلورم څېرکی وګورئ) حوزوي سازمان په دې دلالت کوي چې د محلو په شکل کې يو لړ محدودې او خاصې ډلې تنظيم شوي دي چې په هغو کې د محلي اصلي او فرعي ويش د مراتبو د سلسلې په اساس يو له بل سره ضم او ګډيږي. په دغو واحدونو باندې د واکمنۍ حقوق د ځمکې د مالکيت له لارې په موقتي يا هميشنۍ توګه د پښتنو د نسبي ډلو د مراتبو سلسلې ته سپارل کيږي. خو د مشرانو حقيقي سياسي صلاحيت چې پورته بيان او تحليل شويو خپلواکو منابعو څخه راوخي، د دغو مراتبو د سلسلې چوکاټ کې ځای شوی نه دی. د ساحوي چوکاټ په ارتباط سياسي صلاحيت او مادونيت داسې يوه شبکه جوړوي چې نظام سره ورته والی لري چې د خپلوۍ او خيل شبکې په واسطه منځ ته راځي مګر د خيل د شبکې څخه پيچلې وي. (فورتيس۱۹۴۵، ۱۹۴۹) يو مشر ښايي د خپلې محلي څخه بهر په خلکو باندې د زياتو متفاوتو منابعو له مخې صلاحيت ترلاسه کړي، خو په عين حال کې ښايي په خپله محله کې په هيڅا باندې صلاحيت ونه لري. برسېره پردې ښايي د ده سياسي قدرت چې د خلکو د کنترولو له لارې يې لاس ته راوړی وي، ولوکه خلک هر چيرې اوسي د محلې په دننه کې د ده د نفوذ او د مشرتابه لپاره لاره سموي. محلي او کلي د اداري واحدونه جوړوي، خو د سياسي صلاحيت منابع له دغو واحدونو څخه تر ډيرې اندازې خپلواکې دي.

په دغه برخه کې د سازمان هغه يو اصل څېړو چې د سياسي صلاحيت د پراختيا او حوزوي سازمان ترمنځ تر يوې اندازې موافقت ايجادوي چې د اجباري حمايې اصل يې يو مثال دی. کوم نظام چې له دغه اصل څخه راوخي په پښتو کې د ټلګرۍ (يا ډلګرۍ) په نامه يادېږي. دغه نظام پخوا په زياته اندازه مروج و، خو تل داسې بريښي چې له هغه څخه هميشه د يوې ممکنې وسيلې په توګه کار اخيستل شوی دی. داسې معلوميږي چې دا ډول عنعنې د سوات پښتنو په ټولنيز جوړښت کې هيڅکله د يوه اساسي اصل په څېر ګڼل شوې نه دي. په اوسني وخت کې دغه نظام د سوات د ناوې د سيبوجني د سيمې خصوصيت دی. همدا شان، د معلومات ورکوونکو په حواله د سيند (اباسين) حوزې د کارنا په ناوه کې هم دغه نظام ليدل کيږي.

که په ساده ژبه ووايو دغه نظام د ځمکه لرونکو لپاره د حرفوي ماهرانو د استخدام په برخه کې د قرارداد د ازادۍ پر محدوديت باندې ولاړ دی. د ټلګرۍ د نظام له مخې د محلې ځمکوال دې ته مجبور وي چې داخلي محلې له پېښې، ترکانې، ډم او نورو سره چې د محلې د مشر لخوا ګومارل کيږي حرفوي قراردادونه وکړي.

په نتيجه کې نه يوازې د هر يوه ځمکوال ملکيت، بلکې ټوله محله د يوه توليدي واحد په توګه منځ ته راځي. وظايف ويشل شوي او ټاکل شوې وي او په ټول واحد کې انسجام منځ ته راځي ځکه ټول ځمکه لرونکي بايد د کار د ټاکلې قوې په تهيه کولو کې ونډه واخلي او په يوه ورکشاب او ترانسپورتي وسايلو باندې ترلې اوسي. له بلې خوا يو شريک ډم ته مراجعه کول او په هغه باندې اتکا درلودل د دې سبب ګرځي چې د محلې غړي د دودونو او مراسمو په ترسره کېدلو کې د يوې ډلې په څېر موجوديت پيدا کړي. د دوی ډلهييز ژوند اساساً د نارينهو په حجره کې چې د مشر لخوا اداره کيږي، تمرکز لري او د حجرې او د هغې په څارنه پورې ترلې چارې د غړيو په منځ کې د برابر اصل له مخې ويشل کيږي. د يوې محلې اوسيدونکي ځمکوال له دې امله په يوې نسبي ډلې او يوې فرقې پورې ترلې وي د صلاحيت د سيستم او نظام په ترڅ کې د کليوالو له عين ډلې سره اقتصادي اړيکې لري او دودونه او مراسم يې هم په دغې ډلې پورې مربوط دي او په يوه حجره کې له نورو کليوالو سره کښيني. د ټلګرۍ نظام د حرفوي او قرارداد په بېلو بېلو تحليلي ساحو کې توافق منځ ته راوړي او داسې يوه کلکه شبکه جوړوي چې په اقتصادي لحاظ خپل ځان بسيا (متکي) په حوزوي لحاظ يو له بله نږدې (نغښتی) او محدوده وي.

د دغه نظام ارزښت په دې کې دی چې د یوې محلي د مشر دریځ د هماغې محلي د نورو ځمکوالو په مقابل کې اغیزمن کوي. په غیر انحصاري او غیر محدود نظام کې د هر سړي د حرفې او تعهداتو لپاره بېلې بېلې لارې خلاصوي او په دې اساس د خپلې وفاداري او مادونیت اړیکې هر لوري ته غځوي. یو ځمکه لرونکی ښایي یو داسې پښې وګوماري چې ده د خپلو دودونو د محلي ټولنې غړی نه وي او ښایي دغه پښې د خپلې محلي ځخه بهر د بل یوه مشر په حجره کې چې په نسبي لحاظ د هغې له مشر سره اړیکه نه لري، معاشرت ولري. په داسې حال کې چې کروندګر ښایي د یوه سړي کور په کرایه واخلي او د بل سړي سره کار وکړي او احتمالاً د دریم تن په حجره کې کښیني. په دې ډول ځمکوال کولی شي چې په ځینو داسې کسانو باندې واکمني او صلاحیت ولري چې هغوی په بشپړه توګه د هغه مشر له تابعیت ځخه آزاد وي چې ځمکوالو هغه ته خپله لوړه اعلان کړې وي او مشر دې ته اړ دی چې په هغې دریمګړې ډلې باندې صلاحیت ټینګ کړي چې د ده له کنترول ځخه لرې شوی وي. په ټلګري نظام کې دا ډول ګډوډۍ محدودې شوې دي. د حجرې مشر په دغه نظام کې د خپلې محلي رئیس او د دودونو د ترسره کولو د ټولنې غوره ځېره ده. د دغو موسسو له لارې دی کولی شي هغه بزګران او ماهران کنترول کړي چې د ده لخوا په خپلو مسلکي وظیفو کې استخدام شوي نه وي. دی کولی شي د خپلو ځمکوالو یا رانودکار د قوې په کنترول سره په هغو باندې داسې صلاحیت ټینګ کړي چې په غیر انحصاري نظام کې یې د اټکل هیله هیڅکله کیدلی نه شي. د صلاحیت هغه اندازه چې مشر د خپلې کورنۍ او یا پلرنۍ مشر د خپلې کورنۍ او یا پلرنې ملکیت او په هغه پورې د مربوطو کسانو له کنترول ځخه په استفادې سره یې لري تر یوې اندازې د خپلې مشرۍ لاندې ټولې محلي کنترولو ته پراختیا ورکوي او د محلي د ټولو ځمکوالو د مشر په توګه ډګر ته راوځي.

لکه چې پورته وویل شول د ټلګرۍ نظام په پخوا وختو کې ډېره زیاته پراختیا درلودله خو د وروستیو شلو کلونو په دوران کې په پرله پسې توګه له یوې سیمې ځخه بلې سیمې ته یې د ورک کېدلو لمن خوره شوې ده، دغه بدلون د بابوزیو، نکبي خیلو او نورو مشرانو د خبرو او لیدو کتو له لارې رامنځ ته شو او لکه چې دوی په عین وخت کې په یو غړ موجود انحصاري نظام ځخه د وتلو ژمنه وکړه او د هغه محدودیتونه یې کم کړل. له دې امله په یوه شان د ټولو مشرانو د صلاحیت او واکمنۍ لړیدل په یوه وخت کې متناسب و او هیڅ یو مشر په خپلو سیالانو او رقیبانو باندې بری ونه موند. دغه نهضت تر یوې اندازې پورې د سوات د حکمران لخوا پیل شو. ده په هغو مشرانو باندې فشار واچاوه چې مقاومت یې کاوه او د ده له خوا د دغه اصل د بدلون ملاتړ د دغه کار تطبیق اسان کړ. نن ورځ یوازې د سیبوجني او شامیزي غوره مشران د دغې انحصاري قاعدې تطبیق ته دوام ورکوي. په داسې حال کې چې د تاپې مشران سره د دې چې د سوات د حکمران د کوم ډول کنترول لاندې هم نه وي، بیا هم دا کار نه کوي. نو په ساده توګه دغه بدلون یوازې د سوات د حکمران د هوډ (تصمیم) نتیجه نه ده، بلکې د هغې عوامل ډېر پیچلي دي. ځرنګه چې دغه عوامل یو تاریخي ډوله ماهیت لري، نو دلته یې په جوتی دی. د دغه نظام له مخې د ډلو لنډه توګه بیانوو.

د پوځي دفاع لپاره د ټلګرۍ نظام د غیر انحصاري نظام په پرتله ظاهراً لوړتیا ځرګندوي. په ټلګري نظام کې محلي داسې متحدې ډلې درلودلې چې مرکزي مشرتوب یې درلوده او په حجرو کې ډېرې اسانتیاوې تامین وي او په پخوا وختونو کې یې سنګر لرونکې برخې نه درلودې. په غیر محدود یا غیر انحصاري نظام کې د ټکرونو د پېښیدو په وخت کې د همسایه ګانو اتحاد اتوماتیکه بڼه لري او د اولس دفاع په جوته توګه د نارینه وو په یوې واحدې ډلې پورې اړه نه پیدا کوي. د سوات د مرکزي دولت او په ملکنډ کې د سیاسي نماینده ګي لخوا د امنیت په تامین سره د دغه پوځي سازمان ارزښت ټیټ شوی دی.

د سوات د صلاحیت لرونکي په نظر د غیر انحصاري نظام ښېګڼې جوتې دي. د دغه نظام له مخې د ډلو پیوستون ما تېرې او د مشرتابه مقام لپاره د کلکو او ثابتو سیالانو او رقیبانو موجودیت تضمین کوي. مرکزي کنترول په سیمو کې د دغه شان رقابتونو او سیالیو په زیاتېدو سره ټینګیږي او مرکز ته د دغو چارو د ترسره کېدو لپاره د حمایې غیر انحصاري نظام پراخه زمینه برابروي.

د هغو مشرانو نظر چې د دغه نظر بدلون په تطبیق کې یې غوره ونډه لرلې ده، تراوسه پورې جوت نه دی. د انحصاري نظام پرېښودل د دې سبب ګرځي چې له یوې خوا د بهرنۍ دنیا په مقابل کې د مشرانو قدرت لږ شي، له بلې خوا په دغه کار سره د مشر د دریځ کمزورۍ کیدل د هغه د ملکیت مصونیت ته هم تاوان رسوي. خو ځرنګه چې د ورته سیالانو په مقابل کې معمولاً نسبي او پرتلیز دریځ ته ډېر پام اړول شوی دی، نو له دې امله دا ډول ځرګندونې ښایي دویمه درجه ارزښت ولري. له انحصاري نظام څخه ګوښه کېدل مشر ته دا توان ورکوي چې په ازاده توګه خپل تصمیم ونیسي. په ټلګري نظام کې دمشر د مسؤلیت ساحه معلومه وي او دی مجبور دی چې د خپلې محلي غړې په خپله حجره کې وساتي، که داسې نه وي، نو دوی ناراضه کېږي او خپله وفاداري د مشرۍ یو بل دعواګیر ته ځرګندوي. له بلې خوا په غیر انحصاري نظام کې اقتصاد او موثریت خپل اعظمي حد ته رسېږي او یو مشر ازادي لري چې د خپلې خوښې سره سم د ملاتړو د مساعد حد شمېر وټاکي او په هغو کې هغه کسان ځان ته وساتي چې د ده په نظر وړ ښکاري. دی هر وخت کولی شي چې له خپلو ملاتړو سره قرارداد فسخه او یا بیا کوم وخت چې دی افرادو ته اړه پیدا کړي، له هره ځایه چې یې زړه وغواړي، انتخاب کړي. سره د دې هم د دغو بدلونونو په پالیسۍ کې یو څه محدودیتونه شته او هغه دا چې مشر چې په بې‌ثباتۍ سره مشهور شي، په سختۍ کولی شي ډېر پیاوړي او وفادار ملاتړي پیدا کړي. سره د دې هم، غیر انحصاري نظام د ما نور لپاره ډېره زیاته ازادي برابروي.

د ټلګري دود د یوه مشر موقف پیاوړی کوي او تر یوې اندازې د واکمنۍ او حاکمیت په شبکه کې اسانتیاوې راولي، سره د دې هم دا نظام د مشر او د هغه د ملاتړو ترمنځ په اساسي اړیکو کې اغېزمنتوب پېښولی نه شي.

د یوه مشر د ملاتړو عامه بڼه

داسې فکر کېږي چې په یوه سیاسي نظام کې د یوې ډلې مشر د باندنیو (بهرنیو) په مقابل کې د یوه متحد واحد منعکس کوونکي او استازي په توګه بریښي. ما هڅه کړې دا څرګنده کړم چې د سوات د پښتنو یو مشر غالباً د یوې هستۍ او مرکز حیثیت لري چې د هغه په شاوخوا کې د متحدو ملاتړو کوونکو ډله او د سیاسي نفوذ ساحه جوړېږي. د ساحې استعاره دلته داسې استعمالېږي چې له یوې خوا د ټاکلو حدودو نشتوالی او له بلې خوا د مشر د صلاحیت د شدت کموالی د هغه له وقف شویو ملاتړو څخه نیولی تر ډېرو لرو پیروانو پورې ښیي. هر یو سیاسي داوطلب د ځان لپاره همدغه شان د نفوذ ساحه پیدا کړې ده. د یوه مشر ملاتړ او پیروان معمولاً د خرګندو عمومي او مشترکو بڼو له مخې پېژندل کېږي.

له مشر سره ډېر نږدې او په هرحال کې په ده پورې تړلي کسان د ده د کورنۍ غړي لکه د ده زامن، د ځمکو ناظر او د ده یو یا دوه نږدې خدمتګاران او ساتونکي دي. دغه کسان ښایي هیڅ یو یې بل سیاسي مشر ته وفاداري ونه لري. سره د دې ښایي چې زامنو ته د دې لپاره یو څه ځمکه وټاکل شي چې دوی ته د جلا جلا کورنیو د جوړولو توان ورکړي، خو سره د دې هم د یوه سړي جایداد تر هغه چې ژوندی وي، نه ویشل کېږي. له پلار سره د زامنو د سیاسي هویت ارتباط د پلار په ټول ژوند کې موجود وي.

د یوه مشر د ملاتړو مجموعه د هغه د حجرې له کیناستونکو څخه جوړېږي. دا ډله له یو بل سره د تل ملاقات کوونکو ملګرو متحده ډله ده چې په اقتصادي لحاظ یو بل سره مربوط او په زیاته اندازه په مشر باندې تړلي

دي. حتی د دغو کسانو په منځ کې له مشر سره د پيژندګلوی او ارتباط او هم د ده د جزاګانو او مکافاتو له امله چې د هغه له مخې مشر خپل صلاحيت ټينګوي. ډېر زيات توپيرونه موجود دي. په دغه ملاتړ کې زياتره د ده بزګران او قراردادي کار کوونکي (ترکان، کچروالا او نور) دي چې د ده د حمايې له لاسه وتلو څخه اندېښمن وي. همدغسې هغه جلا جلا کسان هم د ده ملاتړ ګټل کيږي چې د خپل ژوند د تېرولو لپاره د هغه په ميلمه پالنه باندې اتکاء لري. همدا شان، د ده ملاتړي هغه نور ځمکوال او د ده نسبي خپلوان دي چې د ده په شان د لوړ مقام څښتن نه دي. او خپل ځان ته د ځمکې او جلا ملاتړو د لرلو حقوق لري، دا ډله په پرله پسې توګه د ده په حجره کې جوتيږي چې دا عمل د دوی اړيکې او سياسي تابعيت له مشر سره څرګندوي. خو دا ډول اړيکې او اتحاد زياتره د يو اړخيز تړون بڼې سره ورته والی لري، که څه هم دا اتحاد برابرو کسانو ترمنځ نه وي.

له دغو پورتنيو څرګندو شويو ملاتړو څخه پرته يو مشر په ځينو نورو کسانو باندې هم صلاحيت لري، د مشر ځينې داسې بزګران او حرفوي قراردادیان چې تل د ده په سياسي فعاليتونو کې ځانونه نه ګډوي او دې ته ترجيح ورکوي چې د ده له حجرې څخه د ميلمستياو دلاسه ورکولو په بيه لرې واوسي. سره د دې هم په اقتصادي لحاظ له مشر سره تړلی دی او مشر په خپل وار په دوی باندې ځينې وظايف ږدي. يعنې مشر هيله من وي چې د اړتيا په وخت کې د دوی ملاتړ د لاس ته وروړلو توان ولري. په همدا شان ښايي د ده د کور کرايه اخيستونکي يا اجاره‌داران د ده له حجرې څخه د باندې واوسي... بيا هم مشر په دوی باندې د سياسي تابعينو په څېر څرګند قانوني حقوق لري او د هغوی د شړلو قدرت په لاس کې لري. په هغو سيمو کې چې د ټلګرۍ اجباري نظام رواج لري، ټول داسې کسان په يوه محله کې متمرکز وي او په دوی باندې د مشر لخوا د وظايفو اېښودل هم درانه وي، له دې څخه پرته دغه نظام د ده د ملاتړو د شکل په برخه کې دومره زيات توپير نه څرګندوي.

بالاخره د يو مشر د نفوذ د ساحې په څنډو پيښکو کې داسې ډلې خلک ژوند کوي چې په هيڅ ډول له ده سره مخامخ اړيکې نه لري، د مثال په ډول د ده په محله کې د يوه بل ځمکوال داسې بزګران هم ژوند کوي چې هيڅکله د هغه د نارينه‌و حجرې سره په تماس کې نه وي. د يو ډول منځګړيو اړيکو پر بنسټ مشر کولی شي چې په دغو خلکو باندې نفوذ او صلاحيت ټينګ کړي او که داسې نه شي، نو هغوی ته په وروستۍ مراجعه کې له قوې يا ګواښ څخه کار اخلي چې دوی ېېرته خپل صف او کتار ته راوکاږي.

له محلې څخه د باندې مګر د هغې سره نږدې په څېرمه سيمو کې يو مشر ښايي ډېر لږ شمېر داسې تابعين ولري چې له ده سره مرستيال اوسي. دا ډول تابعين ښايي هغه محدود کسان وي چې د بڼې او تجارتي شرکت له مخې له ده سره اړيکې لري. مشر له زياتو خلکو سره اتحاد يې جوړوي. خو دغه اتحاد يې هيڅکله د يوه حق په معنی د ده صلاحيت په دغو خلکو باندې په مستقيمه توګه نه ږدي. دغه ډول اړيکې به وروسته بيان شي.

که څه هم په يوه محله کې معمولاً يو غوره مشر ژوند کوي، خو دا ضرور نه ده چې د ټلګرۍ نظام لرونکو سيمو څخه بهر دی داسې وي. په يوه محله کې له يوه څخه زيات مشران موجود دي. په دې ډول په بابوزيو کې «د سنګوټي» محله د دوو داسې غوره مشرانو لخوا تر کنترول لاندې ده چې له يو بل سره اړيکې نه لري. همدا شان د تانې په هره يوه لويه محله کې زيات مشران موجود دي. په دغسې حالاتو کې هر يو غوره مشر ځان ته حجره لري. يوازې د نکبی خيلو په «وريځو» کې دوه مساوي مشران چې د تره زامن دي له يوې ګډې حجرې څخه استفاده کوي، دا يو استثنايي حالت دی ځکه چې د خپلوانو په منځ کې سياسي بيلتون راغلی نه دی. يو غوره مشر بايد ځانته خپله حجره ولري، او د دې توان پيدا کړي چې خپل مينه‌وال په ځان پورې راغونډ کړي. هغه ملاتړ چې په حجره کې د راغونډيدو له لارې ترلاسه کيږي محدودوي. يو سړی ممکن چې په يوه وخت کې

د زیاتو مشرانو بزګري وکړي او یا ښایي چې دیوه مشر په اجازه کور کې کینې، خو د بل مشر حجرې ته تګ او راتګ ولري. خو دا امکان نه لري چې دی په یوه وخت کې د دوو حجرو د ډلو غړیتوب ترلاسه کړي: ښایي د یوه مشر د حجرې کسان له نورو مشرانو سره دویمه درجه اړیکې ولري. یا دا چې دغه کسان ښایي مخصوصاً د اقتصادي اړیکو په واسطه له نورو مشرانو سره تړلي اوسي. نو له دې امله تر زیاتې اندازې د هغوی صلاحیت ته غاړه ږدي. خو په سیاسي حالاتو کې د هماغه مشر صلاحیت قدامت لري چې په حجره کې ورسره اوسي.

په ځرګنده توګه به دا بې‌مفهومه وي چې په دغه شان نظام کې د «یوه مشر د صلاحیت» په تعریف کولو پسې هڅه وکړو. په سوات کې مشرتوب داسې یو مجرد مقام نه دی چې له پرله پسې متصدیانو څخه ډک شي. د دې پرخلاف، د یوه مشر صلاحیت په هغه اختیار او واک پورې اړه لري چې دی یې په هره یوه ټاکلې وخت کې په فردي توګه له ملاتړو څخه ترلاسه کړلی شي. دغه حاکمیت له ملاتړو سره د اړیکې له مخې توپیر مومي. په داسې حال کې چې زیات شمېر مشران تر ډېرې اندازې په ملاتړو او خپل رعیت باندې نفوذ لري، خو بیا هم یو مشر خپل برابر سیال د ملاتړو په منځ کې تر انتقاد لاندې نیولی نه شي. همدا شان، په ملاتړو باندې د مشرانو لخوا د حکم کولو اندازه په عمومي توګه توپیر مومي. دغه توپیر د یوه مشر د صلاحیت لوړوالی د حکم کولو په برخه کې منعکس کوي. په همدې ډول کله چې ما د ځینو وړو مشرانو په ملګرتیا د اشنایي لپاره د یوې حجرې کتنه کوله، د مشر یو پخواني بزګر چې په حکومتي سیمو کې د یوه کال کار له کولو څخه وروسته راستون شوی و، په ډېر درناوي سره د مشر لیدنې ته وړاندې شو. دغه سړي خپلې ډېرې ګټلې پیسې په یوه لاسي ساعت باندې ورکړې وې او دغه ساعت یې په ډېر ویاړ سره خپل مشر ته د سوغات په توګه وړاندې کړ. مشر وویل: «دا به ماته ستا سوغات وي» ورپسې یې دا سړی رخصت کړ. مشر کولی شول د ساعت د بیې په مقابل کې د یوه درجن ساعتو پیسې دغه سړي ته ورکړي. خو د سړي دا عمل اصلاً له دې امله ارزښتناک و چې د ټولو حاضرینو په مخ کې یې په ملاتړو باندې د ده غوښ کنترول وښود. له دې امله په سوات کې تر مشرانو لاندې د کلیوالو سازمان یو نغښتلی نظام نه دی چې ټول په کې احتوا شوي وي نو هر یو مشر خپل ځانته د صلاحیت یو مرکزي ټاپو جوړوي چې دغه ټاپو د کلیوالو په نامنظم سیاسي سمندرګي کې د حجرې په شکل څرګندیږي. له دغه مرکز څخه د ده صلاحیت په لږ‌ډونکي شدت سره بهر ته پراختیا مومي. ښایي د دغه مشر او د هغه بل مشر د صلاحیت د ساحې ترمنځ یوه خپلواکه سیمه موجوده وي. د عنعنوي بیا ویش په نظام کې دغه ډول ټاپوګان موقتي اړخ لري، ځکه چې د مشر صلاحیت له نوي مهاجرت څخه وروسته نوي کیږي. داسې نظر شته چې د دایمي استوګنې په حالت کې دغه نظام په زیاته اندازه پیاوړی شي. خو بیا هم دغه تمایل (که رښتیا موجود وي)، د ځانګړو مشرانو په سیاسي ساحه کې د زیاتو بدلونونو په اساس شکمن او ځپل شوی دی.

اتم څپرکی

د ستانهؤ قدرت او پیروان

د هغو روحاني نسبو افرادو وړتیا او دریځ (موقف) او له پیروانو او مریدانو سره د هغوی اړیکې وړاندې په (پنځم څپرکي) کې بیان شوي. د دې لپاره چې مورږ د ستانهو په پراخه سیاسي صلاحیت او د نفوذ په منابعو باندې پوه شو. نو په دغه برخه کې دوی تر پخوا باید زیات تر څېړنې لاندې ونیسو. دغه بیان د روحانیونو د ډلې د ډولونو د زیاتوالي له مخې چې په کې د ستانه د موقف کټګوري او د ستانه وو په ټولنیز نقش کې بالنتیجه بدلون وینو، زیاته پیچلتیا پیدا کړې ده. امکان لري چې غوره ستانه د عیني نسبي لړۍ د جز په توګه د مرموزو صوفیانو او یا د مشرانو تر صلاحیت لاندې کلیو کې د وړو ځمکوالو په څېر ژوند وکړي. ښایي دوی د داسې کلیو مشران او صلاحیت لرونکي وي چې زیاته برخه یې ستانه وي. خو دغه کلي د پښتنو د نسبي ډلو د سیمو په منځ کې پراته دي. یا ښایي دوی د ټولو سیمو سیاسي واک په لاس کې ولري.

د سوات حکمران هم په دغه وروستۍ کټګورۍ پورې اړه لري او ده خپلو لوړو اداري څانګو کې په زیاته اندازه له ستانه وو څخه په استفاده کړې ده. په دې ډول د ستانه وو دریځ په ساده توګه بیاښدلی نه شي. سره د دې چې د بهرنیو شرایطو له مخې ستانه ډېر مشخص ټولنیز تعبیرونه او داسې لارې لري چې په هغو کې ستانه د دغو مختلفو شرایطو په اساس سیاسي نفوذ لاس ته راولي. خو بیا هم دوی اساساً ورته ګڼل کیږي. نو زه به په همدې سبب لومړی د نفوذ د حاصلولو دا شان لارې بیان کړم. ورپسې به هغه بدلیدونکي بڼه تر څېړنې لاندې ونیسم چې ښایي د دوی پیروان یې غوره کړي.

د ځمکې کنترول

زیات شمېر ستانه یو څه ځمکه لري، خو ځینې یې ډېر ستر ځمکوال دي. په ځمکه کې استحقاق درلودل استحقاق لرونکي ته د افرادو په یوه ډله کې د صلاحیت حق ورکوي او د یوه صلاحیت لرونکي سیاسي شخص په څېر یې په خپلو کړو وړو کې مستحق ګرځوي. په همدې وسیلې سره دی له نورو څخه په اقتصادي لحاظ خپلواک کیږي او په دغه برخه کې د مربوطو افرادو په ډله باندې دریځ او صلاحیت پیدا کوي. ځمکه ده ته دا ګټه هم رسوي چې په سیاسي اړخ کې تړې کار واخلي. بالاخره د ځمکې هغه برخه چې ستانه یې په لاس کې لري، دوی ته ستراتیژیک امتیازات ورکوي.

لکه چې څرګنده مو کړه (شپږم څپرکی) هغه ځمکې چې ستانه یې په لاس کې لري (سیری) له هغو ځمکو ځخه چې د پښتنو د نسبي ډلې په واک کې دي (دفتر) په جلا کټګوري کې راځي ځکه چې دفتر په عنعنوي توګه د ځمکې «د بیا ویش» تابع دی او په همدغه سبب د بیا ویش د مربوطو موضوعاتو په برخه کې ځښتن ته دا حق ورکول کیږي چې په عمومي غونډو کې ونډه واخلي. په مقابل کې (سیری) په همیشنۍ توګه په خاوند پورې اړه لري. د دغه شان ځمکې خاوند ته دا حق نه ورکول کیږي چې په دغو غونډو کې خبرې اترې وکړي. که څه هم د سیری د ځمکې ملکیت او استحقاق د هغه خاوند ته د تابعیت بشپړ حقوق نه ورکوي. خو بیا هم د دغو ځمکو ملکیت په لاس کې درلودل تر یوې اندازې خاوند ته په هغې باندې د میشتو خلکو په مقابل کې خپلواکي او صلاحیت وربخښي. د کور د اجارهکولو یا کرایه کولو په اساس هغه خلک چې د یو چا پر ځمکه باندې اوسیږي، د هغه سیاسي پیروان ګرځي. تر هغو پورې چې یو ستانه د ځمکوال په حیث اوسي، نو دی خامخا سیاسي نقش ته اړ کیږي. سره د دې چې ستانه او پښتانه په یوه کلي کې ژوند کوي او ستانه د ځمکوالو جرګو ته تللی نه شي بیا هم دوی کولی شي د خپلو پیروانو د حامي په توګه کار وکړي. له دغه بیان ځخه ځرګندیږي چې د غوره نسبي ډلو او مشرانو په نظر ستانه له سیاسي چوکاټ ځخه بهر دي. خو سره د دې هم لاندې به وویني چې ستانه د نورو ځمکوالو په شان ځمکې او د اجارې یا کرایې لپاره کورونه لري او هغه ځوک چې د دوی کورونه په کرایه نیسي دې ته اړتیا لري چې د پښتنو ځمکوالو د اجاره کوونکو په ځیر یې د خاوند لخوا حمایت وشي. ځکه داسې خلک نه شي کولی چې د پښتنو له مشرانو ځخه د ملاتړ هیله وکړي.

ښایي یو ستانه د میراث، سوغات پیرودنې او یا د فتحه کولو په واسطه ځمکه لاس ته ور وړي. د ستانه وو ملکیت د حنفي شریعت د میراث د احکامو تابع دی، په دومره توپیر چې میراث یوازې نارینه وړي زامن برابره ونډه په میراث کې اخلي او بیا نږدې او لرې خپلوان د میراث ځخه برخه اخلي. هغه ځمکه چې ستانه ته په میراث رسیږي د پلار د ځمکې په اندازه او د هغه د وروڼو په شمېر ټرلې ده چې په میراث کې شریکان دي. کیدلی شي چې د میراث په کار او مقرراتو کې له چل ځخه کار واخیستل شي. د ځکندن د وخت سوغات د جایداد په دریمې برخې پورې محدود دی. خو په نورو وختو کې روغ سړی کولی شي د سوغات په اساس خپل ځان له ټول ملکیت ځخه خلاص کړي. په غوره او مخکښو ستانه وو کې دا دود هم شته چې یو پلار د خپل عمر په پای کې یوه منلي زوی ته د یادونې وړ سوغاتونه ورکړي. د ستانه وو په منځ کې دغه سوغاتونه د مشرانو د پارګې سیرۍ عمل ته ورته دی (د ستانه وو لپاره د ځمکې د زیاتوالي معمولي لار هغه سوغاتونه نه دي چې د منځګړي په توګه د خدمت کولو په بدل کې یې په ټبره بیا له پښتنو ځمکه لرونکو ځخه اخلي. د سترو مشرانو د لانجې حل کول د دې سبب کیږي چې سوله ټینګوونکو او روغه راوستونکو افرادو ته زیاتې ځمکې ورکړای شي. د ویش په نظام کې دغه ډول ورکړه د هغې سترې غونډې موافقې ته اړه ده چې په هغه کې ټول برخوال ځمکه لرونکي په ویش کې د برخې لرلو د حق له مخې په یوه لویه جرګه کې راغونډیږي ترڅو چې هغه ځمکه چې د عام ویش یوه برخه جوړوي ستانه و ته وسپارلی شي. د دغو شتو سره سره بیا هم هغه ځمکې چې ستانه یې واک په لاس کې لري، له دغه شان بخششونو ځخه منځته راغلي دي.

همدا شان، د پښتنو د ویش نظام ستانه وو ته د ورکړل شوې ځمکې موقعیت هم تر اغیزې لاندې نیسي. د سایرینایکا بدوین (Sycenaica Bedou in) (ایوان پر یچارد۱۹۴۹) د نسبي ډلې په شان د ستانه وو ځمکې ټاکلي حدود لري او په عادي توګه د رقیبانو او سیالو ډلو ترمنځ دا تمایل موجود دی چې د ویش په وخت کې د سولې د دوام لپاره ستانه وو ته ورکړل شوې ځمکې د ډلو د ګډ حد او پولې په منځ کې وټاکل شي. نو په دې ډول منځګړي ته هغه ځمکې ورکول کیږي چې د دواړو ډلو د ګډې پولې په اوږدو کې پرتې وې. په دغه صورت کې منځنۍ ځمکې د هغو ډلو تر د حایل (بفر Buffer د سیاحې حیثیت ځانله غوره کوي چې یو

له بل سره يې اړيکې خړې پړې وي. دغسې دريځ په سايرينايکا کې د هغو سوغاتي ځمکو خاصه ګڼل کيږي چې سانوسي Sanusi) ته وربخښل کيږي. د دغې موضوع په برخه کې ايوان پريچارد داسې لارښود کوي چې د منځګړيو په باب داسې نتيجې ته ورسيږي: دغه ډول کسان د عمر تر پای پورې له قبيلوي نظام ځخه چې ورپورې تړلې نه دي، د باندې اوسي. د سوغاتي ځمکو د موقعيت په باب د پښتنو د ويش په نظام کې ځينې نور ملحوظات هم شته، په دغه ترڅ کې بيا د بېلو ځمکو ستراتيژيکي ګټې، د خاورې حاصل خيزي او له ميشتو اجاره کوونکو سره د اړيکو ټينګول د يادونې وړ دي. له دې امله ستانه وو ته داسې ځمکې ورکول کيږي چې خاورې يې کمزوري، دفاع يې ګرانه، ستراتيژيک موقف او دريځ يې ټيټ او غالباً هغه و چې ځمکې وې چې د ويالو په وروستۍ ځنډه کې موقعيت ولري. ستانه وو ته هغه کلي ورکول کيږي چې د وګړو د کنترول او يا د توپوګرافيکي، اقتصادي او کلتوري اړخو له پلوه ستونزې لري. دغه ملحوظات په ښه توګه جوت دي او په هرځای کې ستانه وو ته د ورکړې وړ ځمکې په ترڅ کې په پام کې نيول کيږي. پښتانه هڅه کوي چې د بيا ويش په وخت کې د ويش وړ ځمکې واحدونو ترمنځ په تقريبي ډول د برابرۍ راوستلو لپاره هغه ټوټې صورت سره له دواړو خواوو ځخه توګه ورکول کيږي په متناسب ځمکې چې ستانه وو ته د سوغات په نظر کې ونيسي. په دې ډول د ستانه وو ځمکې د سيمې د بيا ويشل شويو ساحو په بېلو بېلو برخو کې تيت او پرک پاتې دي. په نتيجه کې ستانه او مشران په زياتو سيمه‌ييزو ډلو او جمعيتونو کې يوځای ژوند کوي او دواړه د سيمه‌ييز سازمان او ټولنيز ژوند غوره برخه جوړوي.

د ځمکې د لاس ته راوستلو دريمه لار د هغې پيرودل دي. په دغې طريقې سره ښايي د ځمکې ملکيت پراختيا پيدا کړي. خو ځرنګه چې د زياترو ستانه وو اقتصادي حالت کمزورى او د ځمکې بيه ډېره جګه ده، نو له دې امله دغه لار ډېره غوره بريښي. په همدې شان ځرنګه چې ستانه د تشدد او په چا باندې د جبر کولو صلاحيت نه لري او هم له دې امله چې په دوى باندې د زياتو پاکو او عادلو کسانو په حيث پرې باور کيږي او په دغه صفت سره مشهور دي، نو د مشرانو په ځېر په زور سره د ځمکې نيولو له تکنيک ځخه کار اخيستلى نه شي.

په نظامي توګه فتحه کول سره د دې چې اسان نه بريښي، خو بيا هم په پخوانيو وختو کې د ځمکې د لاس ته راوړلو د يوې ارزښتمندې وسيلې په توګه ګڼل کېدله. د دغه ډول ځمکې په باب د يادونې وړ فتحې له اوس ځخه اته (۸) يا يوولس (۱۱) نسله پخوا د غوره ستانه وو لکه اخوند صادق بابا او ميان باقي بابا په مشرۍ سرته ورسيدې او د هغو په ترڅ کې د کوهستان ګاونډي خلک مسلمان شول. دغو ستانه وو د جهاد د مشرانو په توګه د کفارو په مقابل کې د مسلمانانو د لښکرو لارښوونه په غاړه لرله. مګر اسلام يو سياسي، شرعي او حقوقي، اخلاقي او روحاني ائين دى، نو له دې امله ستانه وو ته د غازيانو د لښکر د قوماندې په لاس کې لرلو او د کوهستانيو د مسلمانولو په سبب دا زمينه پيدا شوه چې په فتحه شويو ځمکو باندې حکومت وکړي. په دې ډول د اخوند صادق بابا ځينې اولادې په پاسنۍ سوات (د مدیان او تيرات د کليو په شاوخوا حوزو) کې د ځمکوالو په توګه جوت شول (دويمه نقشه وګورئ) د ستانه وو يوې بلې سترې ډلې په همدغه وسيله سره د سند (اباسين) په ناوه کې دا لپورې په سيمه او د کوهستان د سرحد په نورو کليو باندې کنترول ټينګ کړ.

د دغو غزواتو په ترڅ کې د پښتنو د قبيلوي ځمکو تر شا د داسې ځپلواکو سيمو شپول (کمر بند) جوړ شو چې اختيار يې د ستانه و د اولادې په لاس کې و. په ځينو نورو وختو کې ځينو وړو پوځي ماجراجويانو هڅه وکړه چې د پښتنو په حوزه کې هم د ستانه توب د صلاحيت ټاپوګان[۴۳] رامنځ ته کړي. په ډېرو غرنيو سيمو کې د ستانه توب د صلاحيت دغه ډول واړه ټاپوګان بريالیو روغه راوستونکو او مصلحينو ته ورکړل شوى نه دى، بلکې ځينې يې په غوځه توګه په زور نيول شوى دى.

۴۳. ټاپوګانو کلمه د استعماري په توګه راغلې او بيان يې ترمخه وګورئ، ژباړن.

ډېر لږ پښتانه د ناوو ترمنځ د غرنيو برخو په دغه ډول ټاپوګانو کې ليدل کيږي. دغه کلی په عمومي توګه يوازې له باندې ځخه تر کنترول لاندې دی او داسې مستعمراتي کلی دی چې يوازې په اجباري توګه او يا دا چې په بيګاري ډول سره ترې کار اخيستل کيږي. (پنځم ځپرکی وګورئ) دغه شان کلی په خاصه توګه د ستانه وو د يرغل او فتحې لپاره مناسب وو.

د مثال په ډول د بابوزيو په حوزو پورې مربوط د جميل په ناوه کې پارونه او د هغې تر شاوخوا واړه کلي د پير بابا د اولادې (پنځم ځپرکی وګورئ) د يوې وړې ډلې لخوا په (۱۹۰۰م) کې ونيول شول. دغه ډله افراد پخوا د جميل په ستر کلي کې پښتنو تر صلاحيت لاندې اوسيدل خو له صلاحيت لرونکو پښتنو سره د دوی اړيکې تر زياتې اندازې وشليدې او بالاخره دغه کشاله په تشدد باندې پای ته ورسيدله. مشر ستانه او د هغه درې تنه وروڼه مات شول او دوی له ځپلو کهولونو سره يوځای د هماغه جميل په حوزې پورې مربوطې ناوې په پاسني برخه کې دريو ټاپوګانو ته په شا لاړل. دلته دوی د پخو برخو (برجو) لرونکې يوه مرکزي چونې جوړه او د دغه ځای ځينې پوونده او بزګران يې سره يو موټی او مسلح کړل او د اشغال کوونکو په توګه تر هميشنی کلابندی لاندې پاتې شول. شل کاله وروسته هغه وخت چې د سوات د دولت په تاسيس پورې شخړې روانې وې، د جميل ستانه او مشران له بادشاه (د سوات واکمن) سره ودريدل. بالاخره په دغو نيولو شويو ځمکو باندې يوې پرېکړې سره ورسيدل او د ځلورو ستانه و د اولادې کنترول ته يې دا ځمکې چې د دوی پلرونو نيولې وې، پرېښودلې.

په دغو بېلو وسيلو سره ستانه وو په ځمکه باندې د مالکيت حق پيدا کړ او د هغې په نتيجه کې يې د ځمکوالو په ځپر مسوليتونه په غاړه واخيستل او ځينې وختونه يې سياسي خپلواکي او لوړ صلاحيت ترلاسه کړ. د دغه شان ملکيتونو موقعيت او توزيع د ستانه وو د سياسي دريځ لپاره په ډېره زياته اندازه مرسته کوي. نو په دې ډول د فتحه شويو حوزو د باندنی برخې د جمعيتونو مشران د مثال په ډول، د پاسني سوات د ناوې اخوند خيل د يوه غوره پښتون مشر په ځپر د مقام لرونکي دي. د پښتنو د خيلونو تر نفوذ لاندې حوزو د هغو کليو مشران چې د ستانه وو په لاس کې لويدلي دي، په عمومي توګه د پښتنو سره ورته دريځ لري. خو د دغو مشرانو د نفوذ ساحه ډېره محدوده ده. ځکه چې د ځمکوالو په جرګو کې شامل نه دي، خو له بلې خوا، د دوی اړيکې له رعاياوو سره د اخوند خيلو له ساحې پرته چې د پښتنو د ويش په شان موقتي دی، دايمي ګټل کيږي. د ستانه زيات شمېر چې د وړو ځمکوالو حيثيت لري په داسې کليو کې ژوند کوي چې د مشرانو تر نفوذ لاندې دی. خو حتی په دې حالت کې هم دوی په بشپړه توګه بې ګټې او بې امتيازه نه دي. دوی به ښايي په جرګه کې خبرې ونه کړي، خو په ځمکو باندې د دوی مالکيت دايمي بڼه لري. له ټولو کليوالو سره، که د دوی خپل تابعين دي او که د نورو اجاره‌والا او معامله والا دي د دوی اړيکې ورسره همیشنی او شخصي دي. له لاس لاندې کسانو سره د دوی روابط د ويش په نوبتي وقفو او ليږديدنو باندې اړه نه پيدا کوي. حتی له ديرش کاله هميشني ميشته کيدنې وروسته هم دغه توپير په وضاحت سره احساسيږي او په هغه جمعيت کې چې پښتانه په هغوی کې لا پرديو متنفذينو په توګه ګټل کيږي، ستانه په کليوالو کې د خپل نفوذ اړيکې پراخه کوي او په دې ډول پر ستانه وو باندې اعتماد زياتيږي او په نتيجه کې دوی د خپل موقف د لوړولو لپاره هڅې ته اړتيا نه لري. ستانه د خپلو ځمکو د توزيع له بڼې ځخه نوري زياتې ګټې هم اخلي. د پښتنو ځمکې د هر يوه ويش په وخت کې تل د ويش د واحد په ساحه کې پرتې وې او د دوی ټول کورونه معمولاً يوازې په يوه محله کې موقعيت لري. له بلې خوا ستانه حتی په هغو محلو کې چې د پښتنو مشرانو تر نفوذ لاندې وې هم په دغه شان حدودو کې مقيد نه دي. د دوی ځمکې او همدا شان د هغوی پيروان د بېلا بېلو مشرانو تر نفوذ لاندې ساحو په منځ کې خواره پراته وي او د هيڅ يوې محلې د مشر په لورينه او پيرزوينه پورې تړلې نه دي. تر ټولو غوره

دا ده چې د دغه ويش او توزيع بڼې (تيت او پرکوالی) امتيازات له هغو سره چې په کې صلاحيت لري ګډيدلی شي. نو له همدې امله د نالکوټ پاڅا په عين حال کې چې د خپل کلي مشر دی، په ځينو نورو کليو کې هم د ځمکو ټوټې لري او د ګاونډيو مشرانو د حجرو په غړيتوب کې شاملو کليوالو باندې خانګړی نفوذ لري، په داسې حال کې چې د مشرانو له مخامخ کنترول ځخه لرې ګڼل کيږي[۴۴]. دغه شان کنترول په زيات شمېر تيت او پرک پيروانو باندې چې په ډېرو خانګړيو ډلو (جمعيتونو) ويشل کيږي ستانه ته داسې ستراتيژيکي ګټې لري چې هغه ته د پيروانو د ډېر ښه استثمار زمينه برابروي. دغه موضوع لاندې څېړل کيږي.

منځګړي (منصفان)

د ستانه وو دريځ دوی ته د منځګړيتوب د نقش ترسره کولو خاصه وړتيا ورکوي. که څه هم هر يو پتمن سړی دغه ډول نقش ښايي ترسره کړي خو ستانه د دغه کار لپاره غوره ګڼل شوي دي او په لانجو کې د دوی د منځګړيتوب وظايف دومره رواج شوي دي چې د خاصو معياري کړنلارو په اساس له دوی څخه سترګې پټېدلی نه شي د مثال په ډول، که يوه کمزوري ډلې د دې توان ونه لري چې د وينې غچ واخيستلی شي. نو دښمنانو ته خپل اطاعت او معذرت وړاندې کوي هغه سړی چې په زياته اندازه له دغې موضوع سره اړيکه پيدا کوي، بايد د يوه ستانه مرستې ته لاس وغځوي. ستانه او نومورې سړي يوه بخترده او مقدسه شپه تاکي او په دغه وخت کې دواړه د دغه سړي د دښمن حجرې ته ورځي. د ستانه موجوديت د نومورې د سرامن تضمينوي، پرته له هغې ښايي په مخامخ توګه وويشتل شي. همدا شان ستانه د يوه استازي په حيث د اطاعت شرايط پيشنهاد وي، په دغو شرايطو کې تاوان نه راځي، خو تقريباً په غوڅه توګه سوبمنې ډلې ته د ماتې شوې لخوا د يوې ښځې (سوره، په اس سوره ښځه) واده کول په کې شاملېږي. د سولې د ښېګڼو، د پرېکړې د معقوليت او د فاتح له پت او حيثيت سره د خپل لويښت (بزرګواري) د مرستې د يادولو په باب د يوه ستانه د قناعت ورکولو قوه د بريالېتوب امکانات برابروي.

چېرې چې د ټکر او مخالفت په وخت کې «يو ستانه» د منځګړي په توګه ټاکل کيږي. نو دريځ يې هم په هماغه شان دی. ښايي مخالفې ډلې له دې سره موافقه وکړي چې خپل موضوعات منځګړي ته واچوي. يا ښايي چې مظلومه ډله. يوه ستانه ته مراجعه وکړي او له هغه څخه د سيال په مقابل کې د عادلانه او بې‌طرفانه پرېکړې هيله ولري او په دې توګه خپل دريځ پياوړی او سيال يا رقيب روغې جوړې ته اړ کړي. ستانه بايد هغه شواهد له سره را غونډ کړي چې د ټکر حالت او د اخته کسانو عمليات يې منځ ته راوستلی دی.

مور دلته د ستانه وو د هغو اصولو څېړنو سره علاقه نه لرو چې هغه د پرېکړو په ترڅ کې کار ځينې اخلي. خو يوازې دومره مينه ورسره لرو چې د سياسي دريځ لپاره ځومره دوی له دغو اصولو څخه استفاده کوي. کله کله ستانه د منځګړيو يا منصفانو په توګه د هغې ډلې په وکالت په غونډه کې وينا کوي چې هغه د خبرو له حق څخه بې‌برخې شوي وي. يا دا چې کله د دواړه خواو څخه پورته په خپل معنوي مقام کې ځای ونيسي او د يوه

۴۴. د ستانه وو تر کنترول لاندې په يوه واړه کلي کې ما د يوه ستانه د اقتصادي او کورنۍ ژوند د بشپړې څېړنې اجازه بيا موندله چې دی د «الف» د کلي څخه د «ل» تر کلي پورې لاندې ځمکه او پيروان لري:

الف) دوه کارګران چې د ده د کور اجاره والا هم دي، ده ته (څلور په پنځه) برخې حاصل ورکوي.

ب) دوه اجاره والا چې په همدغه شان د ده د کور اجاره والا هم دي ده ته د حاصل (دوه په دري) برخې ورکوي.

ج) هغه ځمکې چې دوی يې په خپله کړي او په دغه کار کې ورسره يوځای مزدور مرسته کوي.

د) د مشروطه ورکړې او بيګار د کار په مقابل کې يو اجاره والا.

هـ) د کور يو اجاره والا.

ر) د کورېو اجاره والا.

ل) د هځوونکي ورکړې او د بيګار د کار لپاره دوه اجاره والا.

له دغو نهو تنو څخه دوه تنه يې د ده په خپل کلي کې ژوند کوي او پاتې يې د ده د اقتصادي ګټو او نفوذ د پراختيا لپاره کار کوي.

قانوني حكم او د جرم او مسؤليت د ټاکونکي صلاحيت والا په توګه موقف غوره کوي. په دواړو حالاتو کې د ګوند يا ګوندونو د چارو د کنترول لاړښوونه ټاکل شوی ستانه ته پريږدي. په دغه حالت کې له ستانه سره د دوی اړيکې د بشپړ اطاعت په اساس وي، ځکه د دوی ټول سرنوشت يوازې د ده په لاس کې وي له بلې خوا، دی د خپلې پرېکړې په برخه کې ډېر زيات واک لري. دی کولی شي په عرفي يا شرعي اصولو سره لانجې حل کړي. ځکه شريعت د مدني قانون په خلاف د مسايلو او د پرېکړو بڼه لري او په مقدسو متنونو کې[45] د قضاياو ډېر حالتونه موجود دی. همدا شان دی کولی شي چې د پښتونولی په اساس او يا د عدالت د منطقي اصولو له مخې لکه عدالت او برابري په مساله باندې بحث وکړي. په بله وينا ستانه په بشپړه توګه د دې توان لري چې د عين دريځونو په اساس باندې د بېلا بېلو لارو په غوره کولو سره د ډېرو پرېکړو د سرته رسولو په برخه کې ډېرو مختلفو نتيجو او فيصلو ته ورسيږي[46].

له بلې خوا ستانه د خپلې پرېکړې د عملي کولو لپاره تاسيساتي او قانوني وسايل په لاس کې نه لري په يوه دعوا کې شاملې ډلې سره د دې چې د ستانه حاکميت ته غاړه ږدي. خو هيڅکله دې ته نه مجبوريږي چې د هغه پرېکړې عملي کړي، تاوانې شوې ډله هم په هغه صورت کې چې زوروره وي، زياتره وخت دغه پرېکړې نه مني. د زور وړې ډلې مشر په دغه کار سره د عامه وو ملاتړ له لاسه ورکوي او دی به داسې خپل خان معرفي کړي چې ګواکې بې‌ديانته سړی دی. نو ځکه په ده باندې به ځوک ويسا (اتکا) ونه کړي. خو ستانه د منځګړي او مصلح په صفت يوازې همدغه قيود په نامنونکي ډله باندې ايښودلی شي او دی تر هغه وخته پورې ناکام ګڼل کيږي چې دواړه ډلې د پرېکړې منلو ته غاړه کيږدي. کيدلی شي چې د دغو معلوماتو په اساس د منځګړتوب د نقش له مخې د ستانه سياسي نفوذ بيان کړو. د ستانه ستونزه دا ده چې د يوې پرېکړې په برخه کې لږو ډېر د يوې يا بلې ډلې په ګټه سره موقف او دريځ غوره کړي. که چيرې د ده لخوا پيشنهاد شوې پرېکړه ونه منل شي، نو سره د دې چې د هغه ديني وړتيا او حيثيت هيڅکله نه زيانمن کوي. خو په دغه کار سره يې سملاسي سياسي نفوذ کميږي. مشران تر هغه وخته خانونه د ستانه ملګري ګڼي چې هغو ته کار وکړي او تر هغه وخته پورې يې د خان متحد بولي چې پرېکړه يې د موضوع په باب اغيزمنه وي. د ستانه سياسي نفوذ په دې پورې اړه لري چې دی تر کومې اندازې پورې د يوې لانجې يا ټکر حالت روغې جوړې ته راوستلی شي چې د ده د دغه کار له مخې په مخکنۍ پرېکړه باندې قضاوت کيږي.

نو په دې ډول سره ستانه د يوه مصلح په توګه له خپل نقش څخه د سياسي ګټې اخيستلو په برخه کې بايد ډېر عوامل په نظر کې ونيسي او په رښتيا سره بايد ډېر هوښيار واوسي. دغه حالت د دې سبب کيږي چې د دوی يو شمېر نور دغه نقش اورول غوره نه کړي. يوه غوره ستانه داسې ووايل: «زه يو ساده سړی بريښم، ژوند مې ساده دی. خو اه! هغه کارونه چې زه يې کوم!» هغه فتوا چې يو ستانه يې صادروي. بايد د ځينو قواعدو او ارمانونو په اساس عادلانه وښودل شي. يو ستانه بايد د ابتکاري پرېکړو د سرته رسولو او د خلکو د پت او شرم د ساتلو

۴۵. يعنې به شريعت کې دمخه د مسايلو د حل لارې ښوولی شوې دي، ژباړن.

۴۶. دغه دوې مسألې نوموړې اصول بيانوي:

الف) د دوو وروڼو د «الف» او «ب» په نامه يوه ټوټه ځمکه باندې سره ميراثي حقوقو دعوا وکړه، الف دغه ځمکه په خپلو پلرنۍ تره زامنو باندې خرڅه کړه. ب د الف ځمکې ونيولې. پرېکړه: د ب عمل ناسم و، ځکه هغه ځمکه چې ده قبضه کړې وه، د مناقشې وړ ټوټې سره بشپړه يو شان نه وه. د الف خرڅلاو هم ناسم و، ځکه د اخيستونکي په توګه لومړنی حق ده خپل ورور ته ورکړی نه و. دې واړه ډلې د پرېکړې لپاره راوغوښتل شوې.

ب) يو سړی له خپلو درېيو زامنو سره په يوه نا ويشلي ملکيت باندې اوسيدل. ټولو زامنو وادونه درلودل. يو زوی مړ شو او دې ماشومان ترې پاتې شول. وروسې يې پلار هم مړ شو او دوو وروڼو په خپل منځ کې ځمکه سره وويشله، يتيم لمسي د ځمکې دعوا وکړه. پرېکړه: د قرآني شريعت په اساس يتيم لمسی له ملکيت څخه بې‌برخې کولی شي.

په لومړی مساله کې د ب عمل مطالعه او محکوم شو، ځکه ده د لانجې وړ ځمکې څخه زياته ځمکه د خپلې ګټې لپاره نيولې وه. په دويمه مسأله کې د شريعت له اصولو څخه استفاده وشوه، پرته له دې چې د هغې ناوټ او نامناسبو نتيجو ته پاملرنه وشي.

په برخه کې ماهر واوسي. هغه کسان چې دی ټاکي او له ده سره سلا کوي، باید واقعبین او نیک باوره وي. دی کولی شي داسې لارې چارې په کار واچوي چې له مسؤلیت څخه ځان وژغوري. د مثال په ډوله د ستانه وو یو کلی چې د دیر او سوات ترمنځ سرحدي پولې ته نږدې پروت دی او د دغه کلي مشران د دیر په ګاونډیو ساحو باندې روحاني نفوذ لري. کله چې د ده پرېکړه د دیر د ډلو په ګټه تمامه شي، نو دی د سواتیانو د غلي کولو لپاره وایي چې دی باید کله کله د سواتیانو په خلاف کار وکړي، دا د دې لپاره چې د دیر د خلکو په منځ کې یې نفوذ زیانمن نه شي. که چیرې د ده پرېکړه د سوات په دننه کې د کومې ډلې په تاوان تمامه شي، نو وایي چې ده یوازې په همدغه وسیله سره تاسې د صلاحیت لرونکي او غوره مشر له پنجو څخه خلاص کړي. که چیرې د ده دغه خبرې کومه ګټه ونه رسوي، نو ناري کوي! «دا اسلامي شریعت دی، لاړ شئ او له خپل ملا څخه پوښتنه وکړئ!» ما اوریدلي دي چې دغه ډول تکنیکونه په څرګنده توګه تنظیم او برابر شوي او همدارنګه د موضوع په مواردو کې څرګنده شوې ده.

که چیرې دغه ډول پرېکړې او فیصلې د یوې قوې په واسطه ملاتړ نه شي، نو ډېر ژر یا وروسته له اعتبار څخه لویږي. لازمه قوه د زیات شمېر منابعو څخه لاس ته راځي. ځینې داسې ضروري قواوې په خپله له وضعې څخه منشا اخلي. کله چې یو ستانه د دوو لږ یا ډېر څه د برابرو ډلو ترمنځ د یوې روغې جوړې پیشنهاد کوي. دواړې ډلې د پرېکړې په برخه کې له خپل ځان څخه د دفاع لپاره میلان ښیي. په راتلونکي کې د ستانه ښه نیت او پیرزوینې لپاره هیله‌مندي او هغه په پام کې نیول یوه اجباري قوه ګڼل کیږي. هغه سړی چې د ستانه پیرزوینه او ښه باور یې په برخه وي، نو هغه د ستانه د بې‌طرفۍ غوښتنه کوي او هیله لري چې د یوې ګټورې پرېکړې د برابرولو په برخه کې خپل وس ونه سپموي. دغه ډول پیرزوینې د عامه قدردانۍ او درناوي په اساس ملاتړ شوي او حتی که د ستانه د فتوا ارزښت هم دومره جګ نه وي. خو بیا هم د هغه اطاعت کیږي. دغه راز د ده فتوا په مخامخ ډول هم حمایت کیږي. هغه وړوکی مشر چې په مخامخه توګه په لانجه او کشاله کې شامل نه وي، نو دی دا فرصت پیدا کوي چې د ستانه لخوا پیشنهاد شوې پرېکړې په خوا زور واچوي. د دغه ملاتړ په بدل کې دی هیله لري چې په راتلونکي تضادونو (ټکرونو) کې به ستانه له ده سره مرسته وکړي. د ستانه وو او مشرانو دغه نږدې دریځ د دوی ترمنځ یو شان‌والی هڅوي.

خو که چیرې ستانه په خپله کم پوځي قوت هم ولري سره د دې چې دا کار به دومره اغیزمن نه وي، خو د ده دمانور ساحه ډېره پراخوي. د نالکوټ پاچا چې کله کله به زما کوربه و. د «روحاني دریځ او زور» څخه د استفادې د اړتیا په برخه کې یوه ځرګنده نمونه ده. د ده د کړنلارې د ښودلو لپاره دغه مثال راوړو. له دوو بېلو ډلو څخه دوو مخالفو کسانو وغوښتل چې له چا سره د هغو دوو ډلو په سرحدي برید باندې وګوري، چې د دوی ترمنځ روغه وکړي. یو سړی لکه چې ورته هدایت ورکړ شوی و، یوازې او بې‌له وسلې راغی، بل یې له خپل ځان سره د ملاحظې وړ وسله واله ډله راوسته. بې‌وسلې سړی د پاچا تر شاه خپله پناه ونیوه، بلې‌ډلې ورو ورو د دوی خواته ځانونه رانږدې کړل او هغوی یې محاصره کړل. غوښتل یې چې هغه د پاچا په مخ کې ووژني او په دې ډول پاچا دې ته اړ کړي چې ووایي ګواکې د دې سړي وژنه د ده په امر سره وه او یا دا چې د خپل عزت د خوندي ساتلو لپاره پاچا دا ومني، چې په دغه کار کې غولیدلی دی. خو پاچا ګوتې په خولې کړې او خپلې ډلې ته یې شپیلۍ (شپیلاک) وکړ چې څو ساعته مخکې په هغه ځای کې پټ ناست وو چې د غونډې لپاره ټاکل شوی و. دوی راپورته شول او د روغې ماتوونکي یې سره راټول کړل. دوی خپلې وسلې په ځمکه کښېښودلې او له پاچا څخه یې بخښنه وغوښتله. نو پاچا د دوی له ټکر څخه په ښه وسیله مخنیوی وکړ او لانجه یې پای ته ورسوله.

د یوه ځمکوال په حیث د ستانه د ځېره خورو او وابستګانو وړه ډله د هغوی د شمېر له تناسب ځخه لوړه د ارزښت لرونکې ده، ځکه دوی کولی شي چې د یوه مصلح په توګه د ستانه د نقش ملاتړ وکړي، د ځمکې او همدا شان د ملاتړو کنترول چې په ټولنه کې د ستانه ځان ځاني ګټې د هغو له امله سرته رسیږي، په منطقي لحاظ د ده د بې‌طرفه منځګړیتوب د نقش سره سمون نه پیدا کوي او ورسره متضاد بریښي، خو په عملي سیاست کې دا د ستانه توب د منځګړتیا لپاره ضرور او زیات ارزښتمند بریښي چې وابستګان په خپل کنترول کې وساتي.

برسېره پردې دا مو هم وښوولە چې د ستانه و ځمکې په تیت او پرک ډول پرتې او د بیا ویش نظام د ځانګړو واحدونو په حدودو کې قید شوی نه دی. نو ځکه په داسې حال کې د یوه مشر وابستګان داسې بریښي چې د هغه په محله یا هغو کلو کې چې د ده له محلې سره اړیکه لري راغونډیږي او په همدې سبب د ده سیاسي نفوذ د بیا ویش د واحدونو د مراتبو د سلسلې په محلو کې چې د ده له محلې سره اړیکه د ستانه وو وابستګان تیت او پرک دي. ستانه تر مشرانو لږې ځمکې لري، نو ځکه لږ وابستګان کنترولوي. خو سره د دې د دوی د ارتباط او نفوذ لاړې تر مشرانو ډېرې زیاتې پراخې دي. ستانه په یوه ډېره پراخه ساحه باندې د خپل مخامخ سیاسي نفوذ شبکه پراخوي. په داسې حال کې چې د ځمکې مشرانو ته د پوځي او اداري نفوذ لپاره یوه پخه هسته برابروي. د ستانه وو ځمکې دوی ته دا توان ورکوي چې منځګړتوب، اطلاعاتو ټولولو او د سیاسي چارو په برخه کې په زیاتو ډلو باندې خپل نفوذ ټینګ کړي.

د پرهېزکارۍ او سپیڅلتیا په سبب اعتبار درلودل

د یوه ستانه سیاسي صلاحیت د سپیڅلتیا او پرهېزکارۍ ځخه هم حاصلیږي چې دغه سپیڅلتیا دوی د وړ او مناسبو اعمالو په واسطه لاس ته راوړي هماغه شان چې دغه اعتبار د مشرانو لپاره عزت ګټي، نو په همدغه ډول دا د ستانه وو لپاره د صلاحیت یوه خپلواکه منبع هم جوړوي، دا شان باور د هغو لویو صوفیانو په برخه کې په ځرګنده توګه جوتیږي چې د سوات په ناوه کې کله کله راپیدا شوي دي. له هر ډول ملکیت ځخه سوا او یا پرته له دې چې یو ستانه د ملاتړ و ډلو په مشرانو پورې په فزیکي لحاظ تړلی اوسي. کلیوال ورته ډېر زیات احترام او درناوی ځرګندوي او د وخت په تېریدو سره پراخه نفوذ لاس ته ور وړي. په سیاسي لحاظ د غوره ستانه وو لپاره په ژوندانه کې د سپیڅلتیا او پاکۍ په سبب د اعتبار شته والی دوی ته د صلاحیت داسې یوه منبع ده چې په نورو منابعو باندې وړاندې والی لري.

د سوات اخوند چې په باجوړ کې په یوه فرعي نژادي ډله کې پیدا شوی دی، په خپله یو پوونده وو او پرته له کوم ملکیت ځخه په (۱۸۱۶م) کال کې سیاسي ډګر ته راووت او په (بیکي) کې چې د سند (اباسین) په غاړه یو کلی دی میشت شو. دی «په پرله پسې توګه دولس کاله ځیله و، شپه او ورځ یې الله Y ته عبادت او زاړی کولې، یوازې یې سابه خوړل کله یې چې نفس پاکي او تزکیه په برخه شوه، نو د ده روحاني قدرت ډېر زیات لرې خور شو او په لنډه موده کې یې په زرګونو تنه مریدان شول. . .»، (ذبیح۱۹۵۴، ۵مخ) نو په دې ډول د پرهیزګارۍ له پلوه د اعتبار او حیثیت لرل، نه یوازې د معنی له مخې د ستانه توب دریځ له نورو بنو ځخه جلا دی او یا دا چې د صلاحیت ګټلو له نورو منابعو ځخه ځانګړی انعکاس او نفوذ لري، بلکې هغه د یوه ستانه د دریځ یو جلا بڼه ده چې د کلیوالو پښتنو لخوا په خاصه توګه ارزیابي کیږي او په یوازې ډول په خپله د سیاسي صلاحیت د ادعا لپاره د یوه بشپړ بنسټ په توګه کفایت کوي[۴۷].

۴۷. دا خو جوته په چې ټول د اخوند په ځېر بریالي نه وو، زما د ځېړنې په وخت کې یوه ستانه ډوله صوفي چې خپل ځان یې بیر باله، هڅه کوله چې د غرونو په یوه کلي کې خپل ځان لوړ وښیي.
د یوه مرید په حواله «ده خپل ځان ګوښه کړ او په روژه نیولو یې پیل وکړ، ډېر زده کوونکي یې خانته پیدا کړه او زیات شمېر محلي کلیوالو په راتګ ورته پیل وکړ. یوه ورځ ورته یو لیونی ګوجر شپون راغی، مګر نورو زده کوونکو په پیر باندې اعتراض وکړ، چې دغه چټل او

د کړو وړو او کارنامو له پلوه د یوه ستانه حیثیت او اعتبار په هغو معیارونو سره ارزیابي کیږي چې هغه د مشرانو په باب په کار اچول شویو معیارونو څخه بشپړ توپیر لري. هغسې اعمال لکه د کلک تشدد او ویرې اچونې خرګندول، د مشرانو د عزت د زیاتېدو په برخه کې ښایي اغیزمن وي، خو د یوه ستانه په باب همدغه وړ نه بریښي او په زیاته اندازه د ده حیثیت ته زیان رسوي. دا هم د دې معنی نه لري چې یو ستانه د نر سړي یا مېړه په حیث وګڼو، چې دغه نوم په عمومي توګه د مشرانو د تائید لپاره په کاریږي او په مقابل یوه مشر ته د ښځې نوم اخیستل سپکاوی دی خو ستانه وو ته دغه نوم ورکول یې ربطه کار دی یا په بله ژبه د موضوع سره هیڅ وړ نه ښکاري.

د ستانه توب په رښتیاني خوی کې اعتدال، پوستوالی، پرهیزګاري، جسماني خوندونه هېرول او د عادي ژوند له وړو او ټیټو وجوهاتو څخه ځان ژغورل دي. همدا شان د ستانه په خصلتونو کې دانایي او حکمت، تعقل او د ولایت او ستانه توب په قواوو باندې کنترول لرل شامل دي. له دې امله یو ستانه هڅه کوي چې په لاره ورو ولاړ شي، پوست مګر په ډېر وقار سره باید وغږیږي، دوی پاکو سپینو جامو ته ترجیح ورکوي د نورو ټولو مسلمانانو څخه په زیاته اندازه روژه نیسي او یا نوره پرهیزګاري کوي. د مثال په توګه د سوات پاچا له حکومتي کارو څخه له ګوښه کېدو وروسته ټول کال روژه ونیوله. د مشرانو امتیازات هم په دغه ډول خوی کې ځای نه لري او حتی میلمه پالنې ته هم ارزښت په کې ورکړل شوی نه دی، یو ستانه باید اړو خلکو ته خیرات ورکړي، خو دې ته مایل وي چې د هر وار ورکړه یې لږه وي، نو ځکه زیاتره وخت د «میا سړی» اصطلاح په عمومي توګه ټینګ او سخت (ممسک) سړي ته استعمال شوې ده.

هغه ویره چې له ستانه وو څخه د کلیوالو په زړونو کې شته، د ستانه وو له پوهې او مافوق قدرتونو څخه په دوی کې پیدا شوې ده. زیاتره خلک په دې عقیده دي چې که چیرې دوی کوم ستانه ووژني، نو هرو مرو په دوی باندې بلا نازلیږي او ښایي مړه شي، د دوی ویره هغه وخت ډېر زیاتیږي چې ستانه د خوښیو د غونډو په پوچو مجلسونو، په حجره کې د برخې اخیستلو، جشنونو او نورو کې ګډون نه غواړي او په تجوید کې اوسي. بالاخره په دوی باندې د کرامت او روحاني قدرت د درلودلو زیات باور او عقیده پیدا شوې ده. چې هغه د تعویز ورکولو او د ناروغیو د شفا کولو او نورو توان لري، ځینې پاخه متقي ستانه په داسې اسرارو او پټو قدرتونو څوک نه خبروي چې په دوی کې موجود دي او دغه شان حالت غوره کول د دوی حیثیت او عزت لاپسې لوړوي.

د سوات د پښتنو د تصوفي او روحاني نظریو په اساس د اسرارو خوندي ساتل او نه ښکاره کول د ستانه وو د زهد او لوړې سپیڅلتیا لپاره یوازینی مدرک کیدای شي. یو ستانه باید مقدس شیان چاته څرګند نه کړي.

ستانه د یوه سم او مناسب عمل او چلند په درلودلو سره ښایي د پاکۍ او سپیڅلتیا اعتبار وګټي، دغه ډول حیثیت او اعتبار د دوی د خبرو ارزښت د ټولنې په پرهیزګارو او ډېرو ساده خلکو کې ډېر لوړ وي او په دې

ناولې سړی دلې پرې نږدې او ویې شړي. خو پیر دوی ته ځواب ورکړ چې دی باید همداسې کسان هم سمې لارې ته راواړوي او هغوی ته زده‌کړه ورکړي. یو وخت دغه شپون په ځنګله کې ویده ورباندې پیریان کیناستل، له خوبه چې پاځېد، نو هر څه یې بدل شوي وو. هېښوونکي او عجبه‌چارې یې کولې، کانګې (قی) یې پیل کړې او نور یې په پښتو خبرې کولې نه شوی، یوازې د پیریانو په ژبه غږیده. خو پیر په ده پوه شو چې د یو سم دیني فرد په توګه یې روزلی او په مینه زده‌کړه کوي» دغه سیالي او رقابت د یوه معلوم او ثابت پیر په طبعه ښه نه ایسي‌ده. د ده له څرګندونې څخه داسې جوتیږي. «پیر د پیښور له سیمې څخه دولس کاله دمخه راغلی و او د خپلې پرهیزګارۍ په وجه په درنه سترګه ورته کتل کېده». د ده مېرمنې ته هم د ښځو لخوا احترام کېده. ده خپلې یوه جوړه لونې محلي مشرانو ته ورکړې. له څه مودې وروسته د ده مېرمن مړه شوه او ده وغوښتل چې د هغې په ځای د یوه مشر لور خانته واده کړي. د مشر د کورنۍ یو زلمی په دغه انجلۍ باندې مین او هغه وتښتوله. نو په دغه حالت کې پیر ناڅاره غلی کیناست او په لوړه ګاللو سره یې د زاړه لیونې ګوجر سره په روحاني خبرو کولو وخت تېراوه». (دا بیان د میشته ستانه او ولي دی، ژباړن).

سبب د دوی له سیاسي نفوذ سره مرسته کوي. له دغه اعتبار څخه د ګټې اخیستلو په اساس یو خوږ ژبی ستانه په بشپړ ډول له یوې خوا د سترو ځمکوالو د نفوذ په مقابل کې د ټولنې نظریې اغیزمنې کوي او کلیوال د هغوی په مقابل تنظیموي او له بلې خوا پخپله د ځمکوالو په منځ کې هم په دې ارتباط چې د دوی فکرونه اړوي یا د ګناه په لور د تللو په تهمت سره دوی ته ګواښ کوي هم نفوذ لري. د سوات پاچا چې په خپله یو ستانه دی، د دغسې قدرت په سیاسي ارزښت او د هغه په اصل باندې ښه پوه دی چې ستانه یې د ځمکې له لرلو څخه پرته لري او اتکا یې یوازې په خپل اعتبار او حیثیت باندې کړې وي...

د ستانه د ملاتړو عامه بڼه

د صلاحیت د پورته یادو شویو دریو منابعو او همدا شان د سوات د کلیوالي رغاونې (سامان) په اساس د یوه خو غوره ستانه و سیاسي صلاحیت پیچلې او خو اړخیزه بریښي او په ښه توګه داسې ګڼله کیږي چې په یو لړ متمرکزو سیمو باندې د پراختیا په حال کې دی. د یوه ستانه د صلاحیت هسته په خپله د ده خپلوان او په ده پورې تړلي کسان جوړوي. ستانه تر پښتنو زیات د عمر پوځوالي ته ارزښت ورکوي، په دې ډول چې په دوی کې د ورونړو او تره زامنو په جمله کې یو سپین ږیری سړی معمولاً د سیاسي مشر په توګه ګڼل کیږي او په نورو باندې صلاحیت لري. د ځمکې د قراردادونو او د کورونو د اجاره یا کرایه کولو له لارې هم یو مشر د پیروانو په یوې وړې ډلې، په بزګرانو او د کسبګرانو په فرقې باندې نفوذ ټینګوي. دغه بزګران یا کسبه‌کار خلک د هغې وړې نسبي ډلې په ځمکه ژوند او کار کوي چې ستانه د هغو د مشرتوب مقام لري. لکه چې دمخه مو وویل د دغې وړې ډلې سیاسي پیروان او ملاتړ په عمومي توګه تیت او پرک پراته دي چې په دې ډول یو ستانه د ښلو ښلو ډلو او ټولنو په غړیو باندې صلاحیت لري.

د ده د صلاحیت بله سترہ ساحه د خورو ورو پیروانو ټوله سیمه ده چې دا سیمه د یوه ستانه لپاره د هغې برخې وروستۍ مرستیاله پوله جوړوي چې دی په کې د سولې راوستونکي او روغه جوړه کوونکي په توګه په منظم ډول فعالیت کوي. په دغه ساحه کې هم د ده مریدان شته چې له ده سره په سیاسي دیني او روحاني موضوعاتو کې سلا کوي او په مذهبي جشنونو کې کله کله د ده لیدنې ته ورځي.

د ستانه اړیکې له مریدانو سره همیشې ګڼل کیږي. په دغه سیمه کې له غوره پښتني افرادو سره د خپلوی له لارې د ده اړیکې زیاتره پخې شوې دي. د نالکوټ پاچا اولاده د سیبوجني له مشرانو سره اړیکې لري او د دغو مشرانو په حوزه کې چې په (۷ ګڼه) شکل کې لیدل کیږي، د صلاحیت یو ټاپو جوړوي.

د داسې ودونو ترسره کول او اړیکې د خلکو ترمنځ ټولنیز تماسونه د سیمه‌ییزې ټولنې (انجمنو) په مراسمو کې د برخې اخیستلو له لارې او هم د لیدنو او کتنو په واسطه د خپلوی دغه شان اړیکې زیاتوي، په دغه پراخه ساحه کې چې د ستانه د فعالیت حوزه ده، ښایي کله د نفوذ لمن د نورو کسانو د صلاحیت برخو ته وروغزیږي. په دې ډول کیدای شي چې په یو شمیر کلیو یا ناحیو کې خو غوره ستانه د نفوذ او صلاحیت په برخه کې په رقابت او سیالي بوخت شي. ډېر زیات ستر ستانه په عمومي توګه په یوه پراخه سیمه باندې صلاحیت لري، میاګل عبدالودود چې ورپسې د سوات پاچا شو، د دولت له جوړولو څخه وړاندې د ټول سوات په ناوه کې د اوسني دولت له سیمې څخه ډېر د باندې یې ملکیت او ګټې درلودلې.

بالاخره د یوه ستانه شهرت او اعتبار له هغې سیمې څخه د باندې وځي چې دی په کې په منظمه توګه فعالیت کوي. دا د هغه د نفوذ پراخه حدود او همدا شان د ده د ساحې بالقوه پراختیا څرګندوي. د پاکې او پرهیزګارۍ په سبب د ده شهرت او اعتبار د نویو ملاتړو او پیروانو د جذب عامل ګرځیدلی او په هغه ساحه کې د ده د منځګړیتوب د منل کېدو لپاره لاره اواروي چې د ده له صلاحیت څخه بهر وي.



اووم شکل

دغه شان اعتبار د ده د خپلې سیمې د خلکو په منځ کې په عمومي توګه پراخیري، او د ده مریدانو او پیروانو ته داسې واک ورکوي چې د ده په ګته له هغو کسانو سره خبرې وکړې چې له ده سره مخامخ اړیکې نه لري.

یو ستانه د سیاسي مشر په توګه د صلاحیت په دریو واړو متمرکزو ساحو باندې نفوذ ټینګوي، خو د ده ارزښت په نسبي توګه د هغې لویې ټولنې د جوړښت له مخې توپیر مومي چې دی د هغې یو غړی ګڼل کیږي. په هغو سیمو کې چې د ستانه و سترې نسبي ډلې په خپلواکو ساحو باندې صلاحیت لري، په سیاسي او اقتصادي پیلیو کسانو باندې مستقیم کنترول د ډیرې داخلي مرکزي هستۍ لخوا زیاته توسعه مومي او د نفوذ پراخه سیمه ځانله دویمه درجه ارزښت غوره کوي. په دغسې حالاتو کې د یوه ستانه د پیروانو جوړښت یا اړیکې اساساً له مشرانو سره ورته دي. په هغه حوزه کې چې ستانه د پښتنو له مشرانو سره په یوه سیمه کې ژوند کوي د هغوی صلاحیت د دویمې درجې د صلاحیت په ساحه کې په ملګرو، خپلوانو او د مریدانو په سترو ډلو باندې د سلاکارانو په خو سره د دې هم دغه صلاحیت په ښه توګه څرګندیږي.

ستانه د پیروانو په دغه هسته باندې د مخامخ کنترول څخه عاجز وي، نو دوی کولی شي یوازې د شهرت په واسطه د صلاحیت په دریمه ساحه باندې تکیه وکړي.

نهم څپرکی

ټرونونه او سیاسي اتحادیې

د سوات د سیاسي نظام دغه بیان ځانله د ترکیبونکو اجزاو د یوه پرمختلونکي سنتیز بڼه غوره کړې ده چې په وروستیو دوو ځپرکیو کې د مشرانو تر شاوخوا هغه تاو شوی سیاسي ملاتړ او پیروانو د تشکل تحلیل ته لاره پرانیزي چې متحدې سیاسي ډلې جوړوي. په دغه سنتیز کې دویم غوره ګام د سوات د ناوې د هغو وړو ډلو ترمنځ توافق یا ضدیت دی چې د نوموړې ناوې اصلي سیاسي رغاونه (سازمان) جوړوي، په دغه برخه کې د دوه اړخیزې سیاسي حمایې د اړیکو ډولونه له یوې خوا د بیان وړ بریښي او له بلې خوا، د هغه د رغونې د وضعې د ډولونو ځپړل ضروري دي چې د مشرانو ترمنځ ضدیت جوتوي.

آزاده خوښونه (انتخاب) او قرارداد د سوات د سیاسي رغاونې غوره بڼه جوړوي چې په کښته سطحو کې د رغاونې لپاره اساسي ګڼل کیږي او همدا شان د پراخه سیاسي ډلو خصوصیت څرګندوي په دې ډول سیاسي رغاونې په مستقیمه توګه د کوم یوه چوکاټ څخه چې مخکې بیان شول، راوتلی نه دي، بلکې دغه رغاونې په خپله یو چوکاټ دی چې په څرګنده توګه په یو لړ سیاسي ټرونونو او قراردادونو ولاړه ده. سره د دې هم دغه سیاسي ډلې ظاهراً د نورو ټولنیزو حقایقو د په پام کې نیولو څخه پرته منځ ته راغلي نه دي او د رغاونې د تشریح کولو په وخت کې په بڼه توګه جوته کیږي. یو سړی باید هغې لارې ته نظر واچوي چې په هغې کې دا شان حقایق غوره شوي انتخابونه اغېزمن کوي.

په بله وینا تراوسه پورې مخکښ بیان دا جوته کړې ده چې د سازمان یو ظاهري چوکاټ په حوزه او نسب باندې اتکا لري او له بلې خوا د سیاسي کنترول زیات شمېر کوچنۍ هستې د ځانګړو مشرانو او د هغوی د ملاتړو څرګندونه کوي. په سیاسي لحاظ هغه ډله چې له یوه مشر او د هغه د ملاتړو څخه جوړه شوې وي، غړی یې سره تړلې او د یوه واحد په توګه د سیاسي مقصدونو لپاره فعالیت کوي.

زه به اوس هغه سیاسي رغاونه (سازمان) تشریح کړم چې د دغو ډلو لخوا داسې یو قراردادي چوکاټ په منځ کې وده کوي چې د حوزوي او نسبي واحدونو او د هغو د مربوطو ولسي جرګو د مراتبو د سلسلې په واسطه مشخص کیږي. په عملي توګه لیدل کیږي چې دغه وړې متحدې ډلې په دوو سترو سیاسي ګوندونو کې سره

تنظیم شوي دي. دغه دوه ګوندونه د وړو ډلو د مشرانو ترمنځ د یو لړ ټرونونو په نتیجه کې منځ ته راځي. په هر یوه ګوند کې تقریباً د هرې یوې سیمه‌ییزې ټولنې غړي موجود دي او ستانه او مشران د لارښوونکو په حیث په خپل منځ کې لري. زما مقصد دلته دادی چې د ګوندونو جوړیدل، د دوی سیاسي فعالیت او هغه لاره بیان کړم چې د هغوی په ترکیب کې حوزوي او نسبي چوکاټونو ټاکلې ساختماني بڼې منعکس شوي دي.

هغه اساسي ارتباط چې دغه ستر سازمان وربانديې تړل شوی دی، ټرون ګڼل کیږي. په سوات کې د دوو سیاسي مشرانو ترمنځ دغه ټرون یوه قراردادي موافقه ده چې د هغې له مخې دواړه د خپلو جلا جلا ګټو د ساتلو لپاره د یو بل ملاتړ کوي. دغه قرارداد د باندې کسانو په مقابل کې یو سیاسي ائتلاف دی. یو مشر له هر یوه بل سړي سره د دغه شان قرارداد په کولو کې ازاده دی. دی د کوم یوه کس ملاتړ کولو ته اړ نه دی. (سره د دې چې پلار او سکه وروڼو ته د وفاداری د ښکاره کولو هیله تري کیږي)، دی دا وعده هم د خپل سازمان څخه پرته چاته نه ورکوي چې د فلاني سړي یا ډلې په ضد راولاړ شي. هغه صف بندۍ (تصنیف) چې په وړاندې څېرکیو کې بیان شوې اساساً په یوه یا څو لحاظو سره د نابرابرو کسانو ترمنځ موجودې دي، د هغوی سیاسي قدرت د ګډې مرستې له شریکو ګټو او د مشرانو لخوا په پیروانو باندې د قیدونو د ایښودلو له لارې منځ ته راځي. د هغه ټرون پوخوالی چې دلته بیا نړدي، له ډېرې منبع څخه راوخي او په دغه ټرون کې ټول برخوال د سیاسي مشرانو په توګه دي چې اصلاً له یو بل سره برابر او په کومه بله ګډه مؤسسه کې فعالیت نه لري. هیڅ یو نه شي کولی چې په بل باندې بندیز ولګوي. د دوی پیاوړتیا په هغو متقابله ستراتیژیکو ګټو کې نغښتې ده چې دوی یې له اړیکو څخه لاس ته راوړي. که چیرې د هر یوه شریک په نظر کې دغه ګټې ونه لیدل شي، نو هیڅ بهرنی قدرت نه شي کولی دوی له دې څخه منعه کړي چې اړیکې سره وشکوي او ټرون ختم کړي. په بله وینا په سوات کې ټرون یو سیاسي قرارداد دی. د دغو اړیکو غوره بڼه هغه یو حد ګڼل کیږي چې د هغه له مخې سیاسي یووالي د مفهوم په لحاظ د اتحادیې او شریکې ګټې له نورو قرینو څخه ممتاز شوی دی. د برابرو کسانو ترمنځ سیاسي یووالی د نورو ډولونو مناسباتو لکه ګډ میراث یا خپلوي، په جرګه کې د ګډون غړیتوب، حوزوي نړدیوالی او نورو په څېر پوره څرګنده بڼه نه ده. دا قراردادي موافقې یوه جلا موضوع ګڼله کیږي چې له دې املې د خوښونې (انتخاب) فردي ازادي په کې نغښتې ده. د سازمان نور اصول هغه وخت وړ ګڼل کیږي چې افراد یې د هوډ کولو په وخت کې هغوی په پام کې نیسي. یو شمېر دغه اصول ډېر سراتیژیک موارد لري، په دې سبب د هغه انتخاب ډولونه اغیزمن کوي چې افراد یې د څرګندولو اسره کوي، لکه چې لاندې به وښودل شي. خو د سازمان هیڅ یو بل اصل د رغاونې او جوړښت په لحاظ د سیاسي یووالي له اړیکو سره یوشان ګڼل کیدلی نه شي.

د نسبي والي (پرتلیزتوب) نیمګړتیا دویمه بڼه ده چې د سوات په سیاسي سازمان کې د یووالي او تضاد اړیکې مشخصوي. په هغو ټولنو کې چې سازمان په زیاته اندازه ځانګیزه بڼه لري او لکه چې سوات هم په دغه ډول کې راځي، نو دلته تل د سیاسي یووالي یا سیاسي تضاد نظام عادي بریښي، په داسې حال کې چې ټولې ډلې د بهرني ګواښ په صورت کې سره یووالی پیدا کوي، په دننه کې د خپلو داخلي تکرونو له املې پاشلې وي، (ایوانزپریچارد په فورتیس او ایوانزپریچارد کې ۱۹۴۰، ۲۸۱- ۲۸۴).

په سوات کې د ټرونونو خصوصیت له دغې بڼې څخه جلا ګڼل کیږي. یعنې سره د دې چې په یوه سیمه‌ییزه ټولنه (انجمن) کې افراد له یو بل سره رقابت او سیالي لري. خو دغه سیالي له کنترول څخه نه وځي. په هر یوه حالت کې پرته له دې چې څوک له چا سره تضاد لري، ټرون بیا هم ټرون ګڼل کیږي، یعنې پرته له دې چې ټرون مات شي، یو مشر په دې مقید نه وي چې له چا سره په کوم حالت کې تضاد واقع شي او یا بل حالت کې د چا سره یووالی وښیي. دا به د یوه ټرون او اتحادیې په منځ کې د تعهداتو له څرنګوالي څخه جوت شي.

د تړون اړیکې د یو بل د ملاتړ کولو د قراردادي ژمنې په اساس منځ ته راځي چې په تېره بیا دغه ملاتړ په عمومي غونډو یا د قوې د استعمال په وخت کې ترسره کیږي کله چې د یوه سړي حقوق یا امتیازات تر ګواښ لاندې راشي نو دا وخت دی خپل متحدین رابولي او دوی مجبور دي چې د ده د ګټو د خوندي ساتلو لپاره له خپل نفوذ څخه کار واخلي او د ده سیالان او رقیبان له دعوا کولو څخه منع کړي. که په دغه توګه بری لاس ته ورنه شي نو دوی باید په وسله وال قوت سره د هغه ملاتړ وکړي. په همدغه شان دا سړی هم باید د خپلې ډلې یا ملاتړو د حقوقو په خوندي ساتلو کې د مرستې لاس وغځوي په پاسنۍ ناوه کې د دولتي سازمان له موجودیت څخه وړاندې او په کښتنۍ ناوه کې لاتراوسه پورې ټول پوځي عملیات د دغو اتحادیو او تړونونو له لارې ترسره شوي دي. د دولت د موجودې سیمې په منځ کې پوځ او امنیتي قوه په فزیکي لحاظ ډېر پاخه سازمانونه ګڼل کیږي. خو سره د دې هم تر نن ورځې پورې هیڅ یوه ستره سیمه‌ییزه ډله د متحدینو د ډلې په څېر د قوې د استعمال په ترڅ کې سره تړلې او نښتې نه ده. که چیرې د یوې ټوټې ځمکې پر سر د دوو تنو ترمنځ شخړه منځ ته راشي، نو دا وخت یوازې د دوی متحدین دي چې د مرستې لپاره رادانګي، نه د ده پلرګنۍ خپلوان یا کلیوال رعیت او نور. په همدغه شان، د عمومي غونډو په جریان کې د یوه سړي متحدین مجبور دي چې د هغه دفاع وکړي، ضمناً متحدین په عمومي توګه د ډلې د تاکتیکي ګټو په برخه کې خپلې هڅې سره یوځای کوي.

د پت د خوندي کولو پر سر شخړې د تړون له ساحې څخه بهر ګڼل کیږي. د پښتو په اساس د وینې بدل او غچ اخیستل یوه شخصي موضوع ګڼله کیږي او ستړې متحدې ډلې ټپلې په کې مداخله نه کوي. دغه شان شخړې د دوو تنو ترمنځ راځي او د یوه سړي پت یوازې د ده په واسطه او زور سره خوندي کیدلی شي.

د تړون په اساس جوړې شوې ډلې د یو بل په مقابل کې په یوه پراخه اندازه تضاد سره په عمومي غونډو کې ګډون کوي چې له (۳۰۰۰۰) څخه زیات اوسیدونکي کنترولوي او دغه متضادې ډلې په زرګونو جنګي افراد په تودو شخړو کې د مقابلې لپاره پکار اچوي دوی په هره یوه سیمه کې په لیږ یا ډېر شدت سره له یو بل سره په لانجه بوختې دي. په هره یوه جمعیت کې ناحل شوې او همیشنۍ لانجې او دښمنۍ موجودې وي. په دې ډول تړونونه او اتحادیې د موقتي وخت لپاره نه وي، بلکې د هغو د غړو ترمنځ په پرله پسې توګه د اوږدې مودې لپاره اړیکې په ځای پاتې کیږي. له دې امله په دغو اتحادیو کې یو تسلسل باید موجود اوسي. یو سړی نه شي کولی په یوه وخت کې د دوو ګوندونو سره چې په خپلو کې تضاد ولري، مرسته وکړي او دواړو ته وفاداري وښیي. برخه‌وال تړون ته په دې ارزښت ورکوي چې د هغه له مخې هر غړی تل باید په اجباري توګه د بل غړي ملاتړ وکړي. که چیرې وفاداري شکمنه او ویشله شي، نو په داسې حال کې به ښه دا وي چې له یوه سره متحد او بل پرېښودل شي. په دې ډول وینو چې د سیاسي فعالیت د چټک مخ ته تللو، د مواصلاتو د پراخه شبکې او تماس نیولو او د تضاد د شدت په سبب د سیمو ترمنځ تضاد او ډلې جوړونې همیشنۍ وي. له دې څخه علاوه د ګاونډیو سیمو ډلې ټولې سره همغږ‌یتوب غوره کړي، چې په دې ډول دوه ګوندیز متنفذ واکمن نظام منځ ته راځي او د یوسفزیو د سیمې ټوله ساحه نیسي. نو له دې امله په ټولو وختو کې همیشني ګوندونه موجود دي او د متحدو ډلو په څېر دوام کوي او د سیاسي سازمان غوره او اصلي چوکاټ جوړوي. د تړون د پرېښودلو او یا عقد کولو رسمیات ساده دي. خو څرګنده بڼه لري او معمولاً د یوې ګډې میلمستیا په ترڅ کې له یو لړ پټو او ژورو خبرو وروسته په عمومي ډول اعلانیږي.

په دې ډول کله چې د برات خیلو او بابوزیو د یوه ناځرګند متنفذ مشر متحدین د برات خیلو له سیمې څخه بهر د ځینو پېښو له امله کمزوري شول، نو دا وخت د برات خیلو د څلورو کلیو ټول ځمکوال په تېره بیا دوه تنه له ده څخه وګرځیدل او د هغه له رقیب او سیال سره چې د او دیګرام رشیدخان دی، د یوه تړون په ترڅ کې یوځای شول دغه تړون په هغه ګډه میلمستیا کې چې جوش شوې هګۍ او چای په کې شامل وو د وړو

مشرانو په حضور کې منځ ته راغی. په دغه میلمستیا کې رشید خان په ډاګه وویل چې دی به د شاملو کسانو ګټې خوندي وساتي. په مقابل کې حاضرینو د ده د ملاتړ ژمنې وکړې. د ټرون پربښودل تردې اسان دی، یعنې د ټرون فسخه غوښتونکی مشر د محلي متنفذ مشر حجرې ته چې پخوا ورسره په ټرون کې شامل و، خپل یو خدمتګار استوي. خدمتګار د حجرې په دروازه کې مشر ته غږ کوي چې زما بادار ټرون ماتوي. له دغې خبرې وروسته دی ځغلي.

د یوه پاخه ټرون اړیکې معمولاً داسې دي چې د هغو په اساس تګ او راتګ یوځای ډوډۍ خوړل او میلمستیا، ګډ ښکار کول او د کب نیولو سفرونه زیات موجود وي. همدا شان، د تاکتیکونو د څېړنو لپاره ضروري غونډې جوړیږي او په مناسبو وختو کې متحد عمل کوي. دغه اړیکې زیاتره وخت د ننني ودونو له مخې نورې هم ټینګې شوي، یعنې د ټرون مشران په خپلو منځو کې ودونه کوي او هم د دوی ملاتړ له یو بل سره د ښځو راکړه ورکړه زیاتوي. په دې توګه زما ملګري اورنګزیب خان چې د منګورې اوسیدونکی دی او د نیکبی خیلو په وریجو د خپل نږدې متحد خور یې (د خور زوی) چې په هغه نږدې وختونو کې مړ شوی و، زما د استوګنې په وخت کې د خپل خدمتګار د زوی لپاره د وریجو د خان د یوه وفادار ناظر لور وغوښتله. دواړو مشرانو په ګډه سره هڅه وکړه چې د ناوې ولور یوه اندازه راټیټ کړي ترڅو چې د هلک کورنۍ د هغې د ورکړې توان ولري.

د یوې ښځې ورکړه په خپله د ملګرتیا یوه بېلګه ده. له دې څخه علاوه د خپلوۍ اړیکې د مراسمو ترسره کولو د ټولنې له لارې ټولنیز تماسونه زیاتوي. سره د دې هم ترڅو چې د دوو متضادو ډلو ترمنځ جګړه دوام ونه لري، کیدای شي چې د هغو ترمنځ واده وشي. د ټرون د اړیکو او د خپلوۍ د مناسباتو ترمنځ جوت ارتباط نه لیدل کیږي. خو د خپلوۍ اړیکې د ټرون کوونکو ترمنځ ټولنیز تماس ټینګوي. زما په عقیده که له سیاسي ټرونونو سره هغه ودونه مرتبط وګڼو چې تر ټرون پخوا شوي وي، نو زه په ټینګه سره په دې شکمن یم چې هغوی غوره مثبتې اړیکې وشمېرم.

د ټرون د اړیکو په پراختیا کې د خړ پړتیاو پیدا کېدل. په رقیب او دښمن باندې د لوړتیا د پیدا کولو لپاره قراردادي ډلې منځ ته راځي چې د هغوی د ټرونونو په ترڅ کې دغه ډلې په ګډه توګه یو دوه ګوندیز متضاد نظام جوړوي په دې ډول د افرادو د تصنیف د بڼې له مخې د دوی ترمنځ ساختماني ټینګتیا په ښه توګه جوتیږي. د یوه سړي اصلي متحدین هغه کسان دي چې دی ورسره رقابت او سیالي ونه لري. د یوه چا د صلاحیت او قدرت د منابعو لږ څخه زیاتوالی ښایي دا وښیي چې څوک د ده رقیب یا سیال او څوک یې بالقوه متحدین دي.

د مشرانو او نورو پښتنو بالقوه قدرت زیاتره د ځمکې له کنترول څخه لاس ته راځي. د ځمکې په واسطه دوی د کور پر اجاره یا کرایه نیوونکو، حرفوي قرارداد لرونکو بزګرانو او نورو متعلقینو باندې کنترول ټینګوي. د هغو ګټو په اساس چې دوی یې له دغې لارې لاس ته ور وړي، کولی شي میلمستیاوې او سوغاتونه نورو کسانو ته ورکړي او په دې ډول د خپلو پیروانو شمېر ته پراختیا ورکړي. له دې څخه علاوه مشران د خپل پت څخه د دفاع له لارې، په تېره بیا د وینې د غچ د اخیستلو په واسطه یو څه قدرت لاس ته ور وړي. خو دغه شان فعالیت په زیاته اندازه شخصي موضوع بریښي او د ټرون له ساحې څخه بهر ګټل کیږي. زیاتره شخړې د حاصل او ځمکې پر سر وي. په دغو حالاتو کې تل متحدین د مرستې لپاره رابلل کیږي. یعنې دغه راز شخړې د ځمکې پر حقوقو، د کروندو په پولو، د اوبو لګونې په حقوقو، حاصلاتو ته د زیان رسولو، د میراث د ویش او نورتي عنعنوي ویش په ترڅ کې پېښیږي که چیرې د ځمکې د مالکیت په ارتباط دغه موضوع وګورو، نو لیدل کیږي چې دا ډول شخړې زیاتره باید د ډېر نږدې کسانو ترمنځ ډېرې عقدې او تضاد پیدا کړي. د ځمکې

پر پولو، د اوبو لګولو پر حقوقو او د حاصلاتو لپاره د زیان اړولو په سبب شخړې هرو مرو د ګاونډیانو په منځ کې پېښیږي. په داسې حال کې چې د ځمکې د مالکیت، میراث او نوبتي ویش پر حقوقو باندې شخړې باید د پلرني اولادې او خپلوانو ترمنځ وي.

د ځمکې د مالکیت نظام د بیا څېړنې او بیا کتنې څخه څرګندیږي چې د ګاونډیو ځمکو خاوندانو او نږدې خپلوانو او تربرونو ترمنځ داسې تمایل لیدل کیږي چې عیني افراد واوسي. عنعنوي ویش د یو اړخیز نسب څانګیزې طرحې سره یوازې وړاندې ځي. سیمې په سترو نسبي ډلو پورې تړلي وي او د سیمو فرعي ساحې د نسبي ډلو د اصلي ترکیب کوونکو څانګو په منځ کې ویشل شوي وي. د دغو څانګو نورې فرعي وړې څانګې په خپل وار سره ساحې په خپلو منځو کې سره ویشلي (شپږم څېرکی وګورئ) او همدارنګه ورپسې د دغو وړو څانګو مربوطې ډیرې وړې څانګې کوچنیو ساحو کلیو په خپلو منځو کې سره ویشلي دي. په دې ډول د یوه کلي د سترواليو او د هغو د مربوطو ونډو په اساس چې د ذیدخیلو پښتنو تر تصرف لاندې دي ښایي د لسو څخه تر سلو پښتنو ځمکوالو لخوا چې شجره یې له پنځو څخه تر لسو پلرني نسلونو پورې رسیږي، تر ملکیت لاندې نیول شوي وي.

سره د دې هم، د سترو کلیو ځمکه معمولاً په څو فرعي واحدونو د مثال په ډول د تاپې د محلو ویش په څېر، جلا شوې ده. نو په دې ترتیب سره، ځمکوال د یوه واحد ګډه ځمکه په خپلواکۍ سره ویشي او د هغو شمېر له لسو څخه تر څلویښتو پورې بریښي[۴۸] دغه لس یا څلویښت تنه پلرني نږدې خپلوان او تربرونه د نوبتي مهاجرت سره سره همیشني ګاونډیان ګرځي. وروستی غوره ویش چې دیرش کاله وړاندې ترسره شو د دې سبب شوی دی چې دغه همسایه خپلوانې ډلې په یوه ټاکلې ساحه کې د خورې ورې ځمکې دایمي مالکان شي، ځکه دا ډول تیت او پرکوالی د ځای په ځای کېدو په وخت کې د ځمکې د ارزښت د برابرولو په نتیجه کې منځ ته راغلی دی. نو په دې سبب نن ورځ که په پولو یا د ځمکو د اوبو په ویش او داسې نورو موضوعاتو شخړې او تضادونه رامنځ ته کیږي هغوی زیاتره د همدغسې نږدې خپلوانو سره وي چې ورسره تل د ځمکې د بیا ویش او ځمکې نیولو پر سر شخړې کیږي.

دلته دا ضروري بریښي چې د عنعنوي ویش په یوه بڼه باندې دلته تاکید وکړو ځکه ننني شخړې او ټکرونه او همدا شان په ګوندونو کې تنظیم کیدل، ټول د نږدې تېر وخت په شرایطو کې جوت شوي دي. په عمومي ډول د سترو ډلو ترمنځ مربوطې ساحې د معادل ارزښت له مخې په برابره توګه ویشلې شوې او ورپسې د دغو سترو ډلو د وړو ډلو په منځ کې انقسام مومي. البته په عنعنوي ویش کې کوم ډول تضاد او توپیر راتلای نشو، یوازې دومره تکلیف په کې موجود و چې د لیږدیدنې په وخت کې د خونو لرګي له ځان سره وړل کیدل. دا معموله وه چې د خونو تیرونه او لرګي به هر چا خپل ځان سره وړل او هم به یې د وروستیو کلو ټوله کړل شوې سره خپلو نویو پټیو ته لیږدوله. نو تر هغه ځایه چې دا شان عادات او رواجونه د ټولو لخوا قبول شي د دغو متناوبو ډلو ترمنځ د کوم ټکر سبب نه کیږي. سره د دې د عنعنوي ویش په وروستي پړاو کې د کلي ځمکې د افرادو په منځ کې د شخړې او تضاد منابع دي. فردي ځمکې د اندازې له مخې بیخي جلا دي ځکه د نوبتي او عنعنوي ویش په دوران کې د کلیو ځمکې په کوم خانګړي شکل او ترکیب سره ویشلی شوې نه وي. نو دا ضروري ده چې په دغه نوي مرحله کې د جلا جلا ځمکو د ارزښت ټاکلو او د برخو په حساب د دغو ارزښتونو د بربرولو لپاره نوې خبرې وشي او متوازن یې کړي. له اوبو څخه استفاده او نورو ستراتیژیکو او اقتصادي ملحوظاتو

۴۸. لاندني کلي په هر یوه حالت کې په دوو محلو ویشل شوي او په هغو کې د پښتنو ځمکوالو شمېر په لاندې ډول دی:
سنګوټه (بابوزی) ۷ تنه، وریجو (نیکی خیل) ۲۶ (څلور یې غوره پلرګنی)، بیها (سیوجني) ۳۸ (۳۴ یې غوره پلرګنی) په داسې حال کې چې د تاپې د ستر کلي څلور محلي د بابا خیل محله، (۱۰۰۰۰) تنه وګړي، شپیته کسه خپلواک پښتانه ځمکوال (بابا خیل) لري (د تاپې شجره وګورئ).

سره په تله کول ترسره کیږي نو په دې ډول د ځمکې د مالکیت په هماغو اصولو کې بیان هم د وړو خپلوانو ډلو لپاره سخت کړکیچونه منځ ته راغلل حتی دایمي استوګنې د سوات د دولت په منځ کې په بشپړه توګه دا شان تشنج محوه نه کړ، ځکه چې د سیند د غاړو شولګرۍ ځمکې د موقتي تملک دود باید دوام موندلی وي.

پښتانه د پلرنیو خپلوانو او تربرونو ترمنځ اړیکو کې دا شان کشالې بیخي طبیعي ګڼي. البته دا ډول اختلاف او تضاد په هیڅ ډول په خپلوانو کې ښه نه دی دغه شان اختلافات او تضادونه او تشنج حتی د ژوند یوه ترخه پېښه بلله کیږي، ځکه چې له خپلوانو سره وفاداري یو ستر فضیلت او صفت ګڼل کیږي. د پښتنو د خپلوی اصطلاحات په ځانګړې توګه پلرني خپلوان او تربرونه له ټولو نورو خپلوانو ځخه «خپل» په مربوطه نسل کې غوره ګڼي. په پلرني نسل کې د پلار، تره، ماما، مور او ترور اصطلاحات یو له بله فرق لري او دغه اصطلاحات د والدینو، وروڼو او خویندو لپاره په تصنیفي شکل باندې استعمالیږي. د «خپل» په خپل نسل کې خویندې او وروڼه، پلرنۍ او مورنۍ تروریزي او د ماما لونې او زامن په مجموعي توګه د ورور او خور په نامه یادیږي، مګر د کاکا واقعي او تصنیفي اولاد د تربور په نامه یادیږي. د تربور اصطلاح د رقابت، سیالي او دښمنۍ مفهوم هم افاده کوي. (مارګن ستیرن۱۹۲۷) د تربور اصطلاح تر هغو چې د توهین او رقابت کوم ملحوظ نه وي، چاته د خطاب په وخت کې نه اخیستل کیږي.



اتم شکل. د سوات په پښتنو کې د خپلوانو نسبي نومونه

نو ځکه په یوه جمعیت کې د ځمکوالو پلرني خپلوانو او تربرونو ترمنځ ډېر سخت کړکیچ او تشنج منځ ته راځي. دغه کړکیچ د دې سبب ګرځي چې نسبي ډلې د سیاسي مقصدونو لپاره سره یو نه شي. دغه حالت د پښتنو د سیاسي ارتباط عامل له غیر رقیبو ګاونډیو سره کیږي. دا شان اړیکې لکه چې پورته وویل شول د سیاسي اتحادیو او ډلو بڼه غوره کوي او له دې لارې پښتانه کوښښ کوي چې د سیمه‌ییزو پلرنیو خپلوانو او تربرونو ځخه ځانونه وساتي یا پر هغوی باندې نفوذ ټینګ کړي.

یو سړی څکه د دغسې اتحادیو او ټرونو د منځ ته راوړلو په هڅه کې لویږي چې د خپلو سیالانو او رقیبانو په مقابل کې اکثریت د ځان کړي او د هغوی په مقابل کې بې وهځوي. له اکثریت څخه مو دلته مقصد د خمکوالو شمېر نه دی، بلکې داکثریت منظور یوازې داسې اغېزمن قدرت ګټل کیږي چې د ملاتړو د هغه مجموعې ډلې تابع وي، چې اتحادیه ځینې جوړیږي. له بلې خوا د اکثریت تر کنترول لاندې صمیمي له اندازې سره هم یو تناسب ایجابوي، په ټبره بیا پښتانه مشران په شمېر او پوځي لوړتیا سره کولی شي چې په ډله یا اتحادیه کې نفوذ وساتي. خو ستانه د خپل ځانګړي نقش په اساس باندې یوازې خاصو او ګټورو افرادو ته چې په هر ګوند پورې اړه ولري، اړ دي څکه دا ډول کسان د خپل امتیاز او نقش په اساس کولی شي د جمعیت په لاندې طبقو کې نفوذ پیدا کړي.

په بلاکونو (اتحادیو) کې د مشرانو صف‌بندي او تنظیم

د پلرنیو نړدې خپلوانو او تربرونو ترمنځ د تشنج او خړ پړتیاو لپاره چې د محلي بلاکونو یا اتحادیو په اصلي ترکیب کې په بشپړه توګه جوتیږي، باید سیاسي ائتلافونه په هر نسل کې موجود وي. کله چې په پلرونو پسې یې زامن منځ ته راځي، نو په دې صورت کې د ورونړو ملکیت د ترو زامنو ته لیږدوي. زما د خپلې تجربې له مخې پښتانه وایي چې هغه سیاسي اتحاد چې د دغه ملکیت په واسطه یو وخت موجود و، هرو مرو ماتیدونکی دی. هغه عوامل چې پورته یې یادونه وشوه، یوازې یو کړکیچ او تشنج زیږوي، نه یو واقعي درز یاد شوي کړکیچونه او تشنجات ښایي د نورو قواو د عمل په واسطه له منځه ولاړ شي دا مخالفتونه تر هغو پورې د افرادو په صف‌بندۍ کې دومره سم اغېزمن نه بریښي، ترڅو چې په یوه څرګند عمل سره ښکاره نه شي. په رښتیا سره داسې غوره هدفونه او نور ملحوظات موجود وي چې د اختلاف څرګند ظهور شاته اچوي. هغه افراد چې د هغوی ساختماني موقف سیالي او رقابت ایجابوي. ښایي تر زیاتې مودې پورې په یوه اتحادیه کې پاتې شي. د سوات پښتانه د مغرض اصطلاح محلي سیالانو ته د دې سره سره چې ورسره په یوه اتحادیه یا بلاک کې هم وي، استعمالوي.

په لومړي سر کې د ډلې یو کوچنی اختلاف د جلاوالي لپاره یو ګواښ ګڼل کیږي. ځوان افراد مخکې له دې چې د خپلواکو خمکوالو په حیث ډګر ته راووځي، نو د خپلو پلرونو د باوري استازیو په توګه له ډېر پخوا څخه په سیاسي فعالیت کې تکړه ونډه لري. او په دغه وخت کې دوی د خپلو پلرونو له متحدینو سره پراخه تماسونه ټینګوي. دوی غواړي چې ملګري او دوستان یې د هغوی په بلاک پورې اړه ولري او دښمنان یې په نورو بلاکونو پورې ارتباط پیدا کړي (د ځوانانو او سیاست ترمنځ اړیکې لپاره دضمیمې دویمه قضیه وګورئ). حتی که په یوه بلاک کې د نړدې خیلونو ترمنځ اختلاف پیدا شي، نو هیڅ خوا دا هیله نه لري چې خپل ټول دوستان پریږدي او له دښمنانو سره یوځای شي. د بلاک مشران هم په همدغه ډول هیله‌من دي چې د جدایي مخه ونیسي او د ډلې د اتحاد د ژوندي ساتلو لپاره له خپل ټول نفوذ څخه کار واخلي[۴۹] زیاتره مشران په دې بوخت دي چې د اتحادیو د ډلو په منځ کې د روغې او جوړې چارې تنظیم کړي.

۴۹. په دې ډول کله چې زما ملګري اورنګ زیب‌خان د وریجو کلي د خان له مړینې څخه خبر شو نو سمدلاسه له څو تنو متحدینو او غوره پیروانو سره د وریجو لور ته ولاړ دواړه خانان په ېلو ېلو سیمو کې (نیکۍ خیلو او له هغې وروسته په بابوزیو کې) د سیاسي ټرونونو په اساس سره نړدې شوي وو. د وریجو کلي سره د دې چې دوه محلي لري، خو ټول د خان لخوا چې د لږ شمېر لرونکي ځانګې یعني مانکی خیلو مشر غړی دی، اداره کیږي. دغه ځانګه د شادو خیلو څخه شتمنه ده، نو څکه خان د خپلې محلې او شادو خیلو په محله کنترول لري کله چې په مانکي خیلو کې اختلاف راځي نو اورنګ‌زیب خان په لانجه کې ورغورځي او په هره یوه مساله کې به د کلي نیمایي متحدین له لاسه وباسي، په دې سبب ده د ځانګې د اختلاف لپاره ډېرې اوونۍ کار کړی او خپله نسبي ځانګه په ژوره توګه ځاري.

د درز د مخنيوي لپاره يو بل عامل د يوه ژوندي سياسي واحد سره د ارتباط لرلو ضرورت دی. لکه چې لاندې به په مشرح توګه بيان شي، سيمه‌ييز بلاکونه او اتحاديې له خپلو سيالانو او رقيبانو سره د روغې جوړې لپاره يو ډول منظمه ستراتيژي برابروي په دا ډول مصالحتونو کې که په يوه لانجه کې يوې خواته امتياز ورکړل شي؛ نو دا کار په بله لانجه کې د امتياز ترلاسه کولو معنی لري. د يوه بلاک ستراتيژيکي ګټې د هغه د غړيو په متقابله مرسته پورې تړلي دي د دې لپاره چې يو ځمکوال خپل ځان په بلاک کې ټينګ وساتي نو پکار دی چې دی تر هغې اندازې د خپل ځان څخه د دفاع په برخه کې پياوړتيا ولري چې نورو غړيو ته د ارزښت او پاملرنې وړ وي ځکه داسې ونه شي چې د ده ځمکه ونيسي او يا دا چې دی دې ته مجبور کړي چې د امتيازاتو قوت بلې خواته په لاس ورکړي. نو په دې ډول شتمني خپلوانې ډلې او حتی افراد په يوازې توګه مقاومت کولی شي، ځکه دوی د پيروانو په يوه ستره قوه باندې تسلط لري. واړه ځمکوال بايد سره يو موټی شي چې د يوه خپلواک سياسي عمل لپاره لازمه پياوړتيا ولري. خو که داسې ونه شي، نو امکان لري له دوی سره به هيڅ څوک يووالی ونه لري، بلکې هغوی به د خان په لاس کې پريوځي. اتحاديې او بلاکونه ټول په پښتنو ځمکوالو پورې تړلي دي او د هغوی هر يو غړی هڅه کوي چې په اتحاديه کې د خپل مقاومت د ساتلو لپاره په غير پښتنو رعاياوو کې يوه ډله پيروان ولري چې د ضرورت په وخت کې له هغو څخه د سيال او رقيب په مقابل کې کار واخلي، که داسې نه وي، نو امکان لري. نړدې پلرنې خپلوان او تربرونه چې ورسره په يوه بلاک کې شامل وي، د ده ځمکې يا نورو شتو ته زړه ښه کړي او هغه ترې واخلي نو له دې امله د خپلوانو په منځ کې د يوه تاکتيک له مخې د کړکيچ اندازه محدوده پاتې کيږي، چې د بهرنيو په مقابل کې د يوې پياوړې جبهې په توګه په خپلو کې سره متحد پاتې شي. نو په عمومي توګه د وړو ځمکوالو په منځ کې متحدې سياسي نسبي ډلې ډيرې سترې وي. په پاسنۍ سيبوجني او جنکی خيلو کې چې د وګړو نيمايي يا دريمه برخه يې پښتانه او د ملکيت متوسطه اندازه او د پيروانو شمېر يې متناسباً لږ دی د پښتنو نسبتاً سترې نسبي ډلې يا سياسي لحاظ سره متحدې پاتيږي، په داسې حال کې د ناوې په کښتنۍ برخه کې لکه تانۍ او د بابوزيو په يوه برخه کې د پښتنو شمېر لسمه برخه جوړوي او د ترو زامنو او حتی مورنيو وروڼو ترمنځ ډېر ځله جدايي پېښيږي.

سره د دې هم دغه کړکيچونه او تشنجات د پلرنې نړدې خپلوانو او تربرونو ترمنځ او د مخالف دوه بلاکيز نظام موجوديت د نسبي ډلو په منځ کې دا شان عمليه ايجابوي. د دې لپاره چې دا موضوع روښانه شي، نو دلته پر يو بل باندې يو لږ تړلي عمليې تر کتنې لاندې نيسو. په دې مورد کې هغه لاړې چارې چې زورور د يوه کمزورې په ملکيت باندې تيرې کوي په دغه برخه کې ښودلی شوي دي. په نتيجه کې د پرله پسې لاندې کولو عمليه صورت نيسي او هغه پښتون چې خپله ځمکه له لاسه ورکوي، خپل پښتني موقف يې هم ورسره له منځه ځي. خو څرنګه چې د پښتنو ځمکوالو جمعيت ډېر زر زياتيږي نورو سره يوځای ملکيت هم کوچنی والی مومي او د پښتنو د فرقې نيستمني زياتېدونکې وده کوي. په حقيقت کې مدارک دا څرګندوي چې په اوسنۍ پيړۍ کې د ځمکې پرله پسې له لاسه ورکولو عمليه د پښتنو په فرقه کې د وګړو د طبيعي زياتوالي له محاسبې څخه اوښتې ده نو په دې سبب ځمکه په زياتيدونکي توګه د يوځو ډلو او يا څو تنو په لاس کې تمرکز پيدا کوي.

دغه عمليې په مستقيمه توګه د بلاکونو او اتحاد يو په تشکل او ړنګېدو پورې اړه لري. په يوه محلي ساحه کې ښايي يو يا بله اتحاديه په يوه ټاکلې موده کې تسلط ولري. امکان لري دا اتحاديه د بلې يوې په غړيو باندې په پرله پسې توګه فشار واچوي تر څو چې هغوی د پرله پسې تاوان سره مخامخ کړي. زورور له دې سره علاقه نه لري چې خپل توان د مقابلې خوا د بلاک له غړيو سره د ټړونونو د سرته رسولو پر بنسټ باندې زيات کړي دغه خو جوته ده چې دوی لاپخوا ساحه تر خپل نفوذ لاندې راوستې ده او له خپل موقف څخه ګټه اخلي. او د يووالي او ټړون هيله له چا څخه نه کوي، بلکې د کمزورې بلاک له غړيو څخه ځمکه په زور لاس ته ور

وړي. په نتيجه کې د يوې مودې په تېريدو سره کمزورى بلاک کوچنى کيږي. په دې معنى لومړى دا چې د پښتنې غړيو شمېر کميږي ځکه څوک چې ځمکه له لاسه ورکوي نو پښتنې موقف يې هم له لاسه ځي، او دويم دا چې په ډېر سرعت سره د ګردې ځمکې مجموعي ساحه او ټولې هغه مجموعي انساني قواوې کميږي چې هغې ځمکې باندې يې کنترول درلود.

که په دې مورد کې کوم بل عامل عمل ونه کړي، نو امکان لري په اخر کې کمزورى بلاک د محوه کېدو خواته سوق شي. البته بلاکونه خپل موجوديت ته دوام ورکوي، ځکه زورور بلاک کمزورې ته په يو څه امتيازاتو قايليږي. کله چې د اکثريت بلاک قوت زياتوالى ومومي، نو په منځ کې يې سياسي سيالان او رقيبان هم تبارز کوي. دغه سيالي او رقابت د مخالفانو له خوا تشويق کيږي. او په نتيجه کې د زورورې ډلې له فرعي مشرانو څخه يو تن هغې بلې خواته د مشر په توګه ګومارل کيږي. په دې توګه پوځي لوړتيا تامينيږي او حالت يې د سيالانو او رقيبانو په مقابل کې ښه والى مومي. هغه سيالي او رقابت چې په دغسې زورور بلاک کې راځي، معمولاً د نړدې خپلوانو په منځ کې وي چې د جلاوالي لپاره لار هواروي، په دې ډول هغه کړکيچونه چې پورته بيان شول، د اتحاديې او تړون د نظام په ستراتيژي سره برابر شوي چوکاټ کې خپله څرګنده بڼه غوره کوي.

دغه عملیې د معروف خيلو او بابوزيو د مشرانو په اوسني تاريخ کې تشريح شوې دي، چې د دواړو بلاکو د يو زيات شمېر معلومات ورکوونکو لخوا يې يادونه شوې ده. دغو مشرانو تردې اندازې شتمني ترلاسه کړې ده چې حتى د خويندو او وروڼو منځ کې يې د جلا کېدلو امکان منځ ته راغلى دى.

د وروستۍ پيړۍ په اوړدو کې د معروف خيلو د ملک بابا او د جوانه خيلو د مشر ترمنځ په دې ساحه کې تضاد موجود و. نړدې و چې ملک بابا جوانه خيل تقريباً له بيخه محوه کړي او خپل ځان يې د زورور بلاک مشر وګرځوه او هم يې خپل ځانګړي ملکيت له خلورو څخه پنځو سو ونډو (روپيو) ته اوچت کړه د ده له مړينې څخه وروسته د ده د زامنو ترمنځ د ميراث او مشرتابه په برخه کې لانجه منځ ته راغله. نو شيروان کاکا د خپل پلار ځاى ونيو او جمروزخان د خپلو سکه وروڼو او ميرني ورور جان کاکا سره د خپلو ملاتړو په ګډون له بلاک څخه ووتل. البته د ملک بابا د جايداد د ويش په برخه کې هيڅ ډول دود مراعات نه شو او هرې ډلې زامنو د خپلو ګوندیانو تر کنترول لاندې ځمکې اشغال کړې. خو د بيا ويش په ترڅ کې يې هر ورور له پنځو سو ونډو څخه يوولسمه برخه ځمکه استحقاق درلود. جمرزو خان له ميالګل او د هغه ورور شيرين صاحب سره «ميالګل ورپسې د سوات دولت جوړ کړ» په يوه اتحاديه کې شامل شو او د ده ګوند په بابوزيو کې نفوذ بيا مونده. خو کله چې ميالګل پاچا او شيرين صاحب په خپلو منځو کې مخالف شول، نو نوشيروان کاکا د شيرين صاحب ملاتړ وکړ. شيرصاحب يوځه وخت وروسته په يوه جګړه کې ووژل شو او د نوشيروان کاکا بلاک قوت وموند او د پاچا له نفوذ څخه يې خپلواکي حاصله کړه دا وخت پاچا له هغه څخه جلا شو او له بل سره يې ائتلاف وکړ. دوى د جمروز خان په قتل پسې شول او د هغه د مورني ورور پير محمد خان د ملاتړ لپاره يې هڅه وکړه چې د خپل محلي بلاک مشرتابه ته ورسيږي. دغه حالت د پير محمد خان او د جمروزخان د زامنو او وروڼو ترمنځ جلاوالى راوست او د اورنګزيب خان تر مشرۍ لاندې راغلل. دغه دوه پاتې غوره ځمکوال که څه هم سره سيالي او رقابت لري، خو د زياتو ننيو دښمنيو له امله په يوه ډله کې پاتې شوي دي.

نو په دې ډول يو اړخيزې نسبي ډلې د ميراث او د ځمکې د ارتباط له لارې د سياسي ډلو په ترکيب کې اغيزمنې ګټل کيږي. خو دغه اغيزې يوازې د هغو سيالیو پر بنسټ باندې چې د مربوطو اشخاصو ترمنځ وده کوي، منځ ته راځي، نه د همکارۍ او وحدت د اړيکو د محدوديدو په اساس. رښتيا هم دا اړيکې مشخصې دي او مخصوصاً په غچ اخيستلو کې د ارزښت وړ بريښي، خو د پلرنيو نړدې خپلوانو او تربرونو د ګټو

ساختماني تضاد د دې سبب ګرځي. چې يو واحد سياسي وجود منځ ته راشي. او دې ته لار هواروي چې په پورته ډول د بلاکونو ليکې او صف‌بندۍ (تصنيف) ډګر ته راووځي.

بالاخره د دغې موضوع يوه بڼه بايد جوته شي او هغه په هر يوه بلاک کې د ګوندونو موجوديت دی. که څه هم جوت تضاد د دوو بلاکونو په منځ کې موجود وي، خو د هر يوه په دننه کې کشالې د بالقوې جلاوالي څرګندې نخښې رابرسېره کوي د مغرضينو ترمنځ محلي سيالي او رقابت د هغې يوه بېلګه ده، په عمومي توګه تصنيف دوام نه لري او معمولاً د مشرتابه هر داوطلب په شاوخوا يوه ډله راغونډيږي چې هغه هم په خپلوانو پورې منحصر نه وي لکه چې په تېر مثال کې مو وښودله د جمروز خان او جوانه خيلو د پاتې کسانو ترمنځ تضاد دوام درلود. البته داسې تضاد کوم قهرآميز شکل نه غوره کوي، بلکې يوازې هغه وخت دا امکان موجود وي چې ورځخه نوي صف‌بندي راوزيږي، او حتى په ښکاره توګه لکه چې د بل مخالف بلاک سره مخالفت څرګنديږي، د بلاک دننه دا شان اختلاف څوک درک کولی نه شي.

اتحاد او سازماني اهميت

نو په دې ډول د يوې ساحې مشران د خپلو پيروانو سره جوخت د يو لړ ټرونو په اساس په دوو مخالفو او متضادو بلاکونو کې سره ليکه شوي دي. د دغو ټرونونو مشران داسې نور مشران يا نور زورور ځمکوال دي چې هر يو يې د خپلې حجرې مشري په غاړه لري. ځينې واړه ځمکوال هم له دغو مشرانو سره د حجرې د ټولنې له لارې په يوه صف کې ځانونه داخلوي. دغسې ځمکوال که څه هم کمزوري دي. د متحدينو په توګه يې درناوی کيږي او يادې فاکتو (بالفعل) پيروان يې ګڼي. د مشرانو اصلي پيروان هغه کسان دي چې ځمکه نه لري او د مشرانو د استازي او ساتونکو په توګه خدمت ترسره کوي. د کار ستره قوه بزګران او کاسبان دي چې د مشر په حجره کې راغونډيږي. دغه راز د بلاک موبوطو ځمکوالو په خونو کې ژوند کوي. دا شان پيروان د بېلا بېلو قراردادونو له لارې د مشرانو په اختيار کې وي. د ښتيانی جګړې په وخت د دغو کسانو کنترول حتمي بريښي، ترهغو چې داسې حساسې شيبې رارسيدلي نه وي د دوی شرکت په سياست کې بې‌ارزښته وي نو نوموړي پيروان په مقابله توګه د بلاک حمايت او پاملرنې ته اړتيا لري. مشران د دغه ضرورت د بشړتيا لپاره کولی شي د خپل جايداد څخه استفاده وکړي او ټول پيروان د يو واحد موجود په توګه تر لارښوونې لاندې راولي. له دې پرته د هغه هر يو په ملاتړ نه شي کولی له خپل ملکيت څخه دفاع وکړي او خپل ژوند وساتي. بالاخره ستانه او دوی مستعمرې له خپلو پيروانو سره يوځای په ناخرګنده او غير رسمي توګه اتحاديې جوړوي چې وروسته به يې بيان وکړو.

په ورځني ژوند کې د بلاکونو ترمنځ ډېر زيات درزونه څرګنديږي. زياتره نارينه خپل ژوند په يوه حجره کې تېروي او يوازې په يوه ګوند کې غړيتوب لري او د ګاونډيتوب کرښې هغه پولې دي چې د محلو له پولو سره په عمومي توګه سمون پيدا کوي او دغه ټاکلې محلې په بلاک کې د شاملو مشرانو تر اغېزې لاندې دي. نو د ګاونډيتوب واحد د يوې محلې ويش وي او د هغې غړي هڅه کوي چې د خپل ځان لپاره يو جلا جومات جوړ کړي او د همامغه يوه ګوند غړي په کې عبادت ته ځانونه ورسوي.

په ډله‌ييز ژوند کې د بلاکونو اهميت په جوته توګه د کوډو او جادو په ارتباط هم ښکاره کيږي. د زياتو انتروپولوجستانو (انسان پوهو) په نظر ملامتي او بدګوماني په دې باب هغه چاته منسوبيږي چې له هغه سره سيالي او رقابت يا تعلقات په مداومه توګه موجود وي (مارويک ۱۹۵۲). په پښتنو کې د کوډو عقيدې له «بد نظر» څخه د کرکې او ويرې بڼه لري او معتقد دي چې دا بد نظر او کوډې د يوه نامعلوم کس لخوا د حسد په اساس د زيان اړولو لپاره کيږي. د زيات شمېر معلومات ورکوونکو په حواله چې د ثبت شويو قضيو په بنسټ تائيد شوي دي، دا ډول بد نظر يوازې د خپل بلاک د متحدينو او غړو لخوا خطرناک وي.

په دې ډول د بلاکونو ترمنځ درز د ورځنۍ ژوند ټولو ساحو ته غزیږي. البته د یوې حجرې د ډلې ځخه پورته ډېره سترە ډله په ډېر قدرت سره کیدلی شي د یوې واحدې برخې په توګه تر تنظیم لاندې راشي. د پراخه سازمان لوی ارزښت د حکومت او سیاست په ساحو کې دی. په ټېره د جرګو او عمومي اسامبلو د دایریدو په ترڅ کې د خپلو استازیو له لارې د سیمه‌ییزو بلاکونو جوتیدل چې متحدې او مرستیالې ډلې دي، د زیات ارزښت لرونکي ګڼل کیږي.

د ځمکوالو د عمومي جرګو د مراتبو سلسله د سوات د پښتنو تر واک لاندې ساحو یوازنی خاصه شمېرلی کیدای شي. د ستانه و تر کنترول لاندې ساحو جرګې تر ډېرې زیاتې اندازې غیر رسمي او ناڅرګندې دي. د دغو جرګو ارزښت د سوات د دولت په جوړېدو سره په پراخه اندازه راولوید. نو په دې سبب دا وروسته بیان هغې ساحې ته راجع کیږي چې د سوات دولت له حدود ځخه بهر پرته ده. د مثال په ډول تاپه په دې بابا یادولی شو. البته ټول مدارک دا ښیي چې د نولسمې او شلمې پیړۍ ترمنځ د سوات ټولو پښتني سیمو یو شان نظام لرلی دی.

د دغه نظام ځینې عمومي بڼې وړاندې یادې شوې. د ویش هر واحد د پښتنو ځمکوالو د یوې نسبي ډلې د عمومي جرګو لخوا اداره کیږي. په دغو جرګو او اسامبلو کې د یوه غټ او یا څو وړو کلیو ګډه اسامبله لکه په کښتني سوات کې د تانې، په سیبوجني کې بالول خیلو او یا په بابوزیو کې د برات خیلو جرګې ډېرې غوره ګڼل کیدای شي.

دغه جرګې د دوو متضادو بلاکونو د غونډو لپاره رسمي چاپیریال برابروي. البته مخکې له دې چې د دغو بلاکونو نقش په جرګو کې څرګند کړو، بهتره به وي چې په خپله د جرګو حاکم قوانین وښیو، ځینې دغه قواعد ډېر زیات رسمیت لري او د متضادو ګوندونو په تاکتیک باندې بشپړه اغېزه کوي. دغه قوانین د خبرو له حق، د جرګې د راباللو کړنلارې او بڼې او د طرز العمل له قواعدو ځخه عبارت دي. د خبرو حق په هغو پلرنیو اولادونو پورې منحصر دی چې په مخورو اسلافو پورې اړه ولري او د هغو په نامه ځمکه قیدوي او غړیتوب یې ټاکلی وي او یا په بله وینا د پښتنو د نسبي ډلو د پلرګنیو مشران وي. د کانې ټول ځمکوال له حمزه، کنده او علي ځخه پیدا شوي دي. څرنګه چې دا کسان د ویش په برخه کې د تانې د پښتني کهولونو مشران ونو د هغوی اولاده د خبرو حق لري. (شکلونه وګورئ). د بازید خیلو په محدوده جرګه کې یوازې د حمزه ځمکواله اولاده باید خبرې وکړي، په داسې حال کې چې حوزوي جرګو ته د تانې هر یوه اصلي ډله باید خپل څو استازي ولیږي. د دغه مراتبو د سلسلې اهمیت په دې کې دی چې د هیڅ یوه ځمکه لرونکي کهول مشر به په جرګو کې د خبرو او بحث کولو له حق ځخه نه محرومیږي. حتی که ونډه یې بیخي وړه هم وي. د دې لپاره چې دا خبرې عملي بڼه ولري، نو د جرګې یو غړی هغه چې د جرګې په میدان کې وي، د درناوي وړ ګڼل کیږي. خو دا په دې معنی نه ده چې هرڅوک د جرګې ځای ته د تګ ازادي لري، بلکې په رښتیا هم ډېر ځله د غونډې ځای ته د غړیو په تګ باندې په زور بندیز لګول کیږي.

د جرګو لپاره یوه ټاکلې وقفه نشته او په هره یوه غونډه کې د بلې لپاره وخت معلومیږي هر یو غړی کولی شي د یوې موضوع د څېړلو لپاره جرګه راوبولي. خو غوره مشران له جرګې پرته هم په موضوع باندې بحث کولی شي. د وړو کلیو او ساحو جرګې چې زیاتې دایریږي، یو یا دوه تنه موظف کسان لري چې کوټوال یا د جرګې ناظر ورته ویل کیږي. دوی جرګې ته غړي راخبروي او دجرګوالو د لګښت لپاره پیسې راغونډوي. دوی د دغو خدماتو په مقابل کې د هر کال په پای کې د جرګې له غړیو ځخه یوه اندازه غنم اخلي.

په هغو ځایو کې چې منظم خدمت ته ضرورت نه وي، نو په فردي توګه ځمکوال د دغه مقصد لپاره خپل ډمان ګوماري.

د غونډې نصاب معلوم نه دی. دا به ضروري نه وي چې ټول ځمکوال په جرګه کې حاضروي. له بلې خوا پرېکړې د غایبو کسانو په مقایسه په هغه چا پورې ډېره اړه لري چې په غونډه کې حاضروي. دا خبره چې جرګه په قدرت سره په عملي اقداماتو لاس پورې کوي او اصلاً د مشورې لپاره یوه وسیله ده، دومره زیاته د اهمیت وړ نه ده. مهم شی دا دی چې د جرګې پرېکړې په هر یوه حالت کې تر هغې اندازې پورې د حاضرینو په واقعبینانه ارزیابي پورې اړه لري چې حاضر کسان د خپلو مربوطو ډلو علایق په صحیح توګه افاده او وړاندې کړي.

غونډه د ټاکلې کړنلارې په اساس مخې ته ځي. ټول جرګوال په منظمه دایروي توګه په یوه عام ځای کې سره په ځمکه کیني. دغه ځای زیاتره د یوې سترې ونې تر سیوري لاندې وي[50] دا مقررات او قوانین د پښتنو په نظر کې د جرګې اساسي اصول ګڼل کیږي. هیڅ یو سړی له بل څخه په یوه جګ ځای چپرکټ یا څوکۍ باندې نه کیني، بلکې ټول د برابرۍ په اساس په یوه غولي باندې په دایروي توګه ځای نیسي دا اصل د ارتر پاچا له ګردې میز سره ورته دي چې د غړیو د برابرۍ لپاره جوړېده. د جرګې ځای د هیڅا ملکیت نه وي او دغه ځای معمولاً نه کرل کیږي. په ژمي کې د جرګې لپاره جومات هم کله کله غوره کیدای شي.

هغه څوک چې غواړي په جرګه کې خبرې وکړي، نو له خپل ځای څخه جګیږي پرته له هغې د ده خبرې کتونکي او ریدونکي نه شي هڅولی چې غوږ ونسي یا تر یوه خاص کنترول لاندې یې راولي. ځرنګه چې په جرګه کې کوم مشر او رئیس نه وي، نو ډېر ځله ټول په یوه وار سره خبرې شروع کوي او هر سړی ازادوي چې د خپل ځنګ له نفر سره وغږیږي. سره د دې هر سړی د خبرو کولو حق لري، خو دا په دې معنی نه وي چې د ده خبرې دې هر څوک واوري. کیدای شي چې د ده د خبرو په منځ کې سملاسي یو بل څوک وروغورځي او یوه بله موضوع جرګې ته وړاندې کړي. د جرګې په جریان کې تګ او راتګ زیات وي. غړي خپل متحدین او رقیبان او سیالان د خبرو او مشورې لپاره یوه ځنګ ته رابولي او له دې څخه دا معلومیږي چې د مباحثې دومره اوږدوالی چې په هماغه ځای کې د جلا مشورو ایجاب کوي.

د جرګې وروستی پرېکړه د رایو په اتفاق سره وي. البته دغه اتفاق کوم ډول رایګیري نه غواړي، بلکې د اختلاف ورک کیدل د جرګې د غړیو ترمنځ د اتفاق معنی ورکوی.

دا ښکاره ده چې د دواړو ګوندونو لپاره د مانورې فرصت موجود وي زیاتره پرېکړې د لانجو او منازعو د حل بڼه لري. هغه څوک چې پرېکړه ورته ګټوره شي نو د دې توان مومي چې په خپله د پرېکړې په حدود کې فعالیت وکړي. هیڅوک له دغه سړي سره په جرګه کې د مرستې مجبوریت نه لري. خو د ده متحدین تل دې ته چمتو وي چې دا کار وشي او په دې ترتیب د مقابل بلاک په زیان ګوزار وکړي. له بلې خوا څرنګه چې د پرېکړې په پلوي ټول غړي ولاړ وي. نو دوی مجبوریږي چې د بریالي شخص د حقوقو په برخه کې مقاومت وکړي او د هغه حقوق وساتي. په دې ډول که یو سړی یوه مساله وګټي د متحدینو له مرستې څخه پوره ډاډه وي، نو د مخالف بلاک غړي مجبور دي چې د جرګې د پرېکړې په اساس به څټ کیني او د تاوانې شوي سړي په باب ټینګار ونه کړي. نو په دې ډول تاوانې شوی یوازې پاتې کیږي او ډېر په قدرت سره د مقاومت حالت غوره کوي.

همدا شان ځینې نورې پرېکړې په دغه وخت کې کیږي. د جرګې سپکول او عامه ملکیت (لکه سړکونو، غوره ویالو او کانونو او ورشوګانو) ته زیان رسول ټول د جریمې اخیستلو په واسطه چې مزدوران او نور استازي یې ټولوي، مجازات کیږي. هغه څوک چې کړنلارې مقررات ماتوي، د مقابل بلاک د فشار په اساس په هغه باندې

۵۰. د کونړ خلک دغسې ځای د (وستل) په نامه یادوي، ژباړن.

منل کیږي. ځینې وخت عامه کارونه په ټبره بیا هغه چې د اوبو لګولو په نظام کې پورې اړه لري، ایجادیږي په دغه وخت کې هر ځمکوال د خپلې ځمکې په اندازه د کارګرانو په برخه کې مرسته کوي. او یا د اوبو لګونې په مواردو کې هغه ساحې کومک کوي چې ورځخه ګټه اخلي خو البته د ا ډول ډلهییز کار په پرله پسې توګه په سختې سره تنظیمیدای شي. ځکه ځمکوال په جلا جلا اندازه سره له هر یوې ویالې ځخه استفاده کوي. په دې اساس د نوي کار له امله د ګوندونو د قواوو توازون اغیزمن کیږي. په نتیجه کې ډېرځله له ضروري ترمیم ځخه سترګې پټیږي، او ځمکې شاړې ګرځي.

د مثال په ډول د تانې ځمکې له دې پلوه زیانمنې شوي دي. په هغو ځایو کې چې برښنا موجوده وي هلته ځینې مشران د اوبو لګونې لپاره د واټر پمپ ځخه د زیات لګښټ سره سره کار اخلي. ځکه د پورتني سیاسي کړکیچ ځخه چې د ویالې پاکولو پر سر پیداکیږي ځان خلاصوي.

هغه ستونزې چې په افاقي ډول د عامه ښېګڼو د فعالیتونو په باب جوتیږي او د کوم چا په زیان نه وي، د جرګې اصلي موضوع جوړوي. داسې فکر کول چې جرګې د متحدو سیاسي ډلو د حاکمه هیات بڼه لري، سم نه بریښي، بلکې دا شان غونډې د مخالفو ځمکوالو او یا د ځمکوالو د متضادو بلاکونو ترمنځ د خبرو اترود رواجي میکانیزم په توګه ګڼل کیږي. لکه چې د سوات د دولت د تشکیل په ترڅ کې به ووینو چې هغوی په سیاسي نظام باندې دومره ډېرې اغیزمنې نه وي.

امکان نه لري هغه لاره به چې جرګې په کې عمل کوي (مخصوصاً د لانجو د حل په برخه کې) د یوې رښتیاني پېښې او مسالې له مخې څرګنده شي. دلته په دغه مساله کې استعمال شوي نومونه مستعمار دي.

د سوات په یوه کلي کې یوه جرګه د هغې لانجې د حل لپاره جوړه شوه چې د نواب خان او د عبدالله خان اولادې ترمنځ د یوې پولې په اوږدو کې د کروندو پر موقعیت باندې پېښه شوې وه. په بله وینا دا لانجه د هغې نرۍ ټوټې ځمکې پر سر وه چې د دواړو ډلو د ملکیت ترمنځ پرته وه. په دې موافقه وشوه چې دا ځمکه یو وخت په نواب خان پورې تړلې وه او نومورې هغه د تریاکو د کرلو لپاره ټاکلې ده او بالاخره دې پخپله د نیکوتیني موادو د زیات استعمال له امله مړ شو. د عبدالله خان ډلې د دغې ځمکې په کرلو پیل وکړ او دا ادعا یې وکړه چې د دغې ځمکې حقوق دوی له نواب خان ځخه اخیستی دی. رشید خان چې د نواب خان د پلار د تره زوی و او د هغه د دوو کشرانو وروڼو سرپرستي یې کوله، له دغه حقیقت ځخه څو کاله وروسته خبر شو او جرګه یې دایره کړه او د دغې موضوع حقیقت یې ورته بیان کړ. دا وخت رشید خان د رحمان خان یو متحد و او عبدالله خان په کلي کې د یوه بل بلاک مشر و. دغو دواړو بلاکو په ساحه کې دومره زیات نفوذ نه درلود.

رشید خان په جرګه کې خبرې وکړې او د پېښې په واقعیت باندې یې ټول خبر کړل او له زیاتو کسانو ځخه یې وغوښتل چې په مشخصو ټکو باندې د ده ملاتړ وکړي. عبدالله خان هم دفاعي حالت غوره کړ، د مدارکو او مشخصو ټکو په باب یې له مقابل لوري وپوښتل شواهدو ته یې ګوته ونیوله او هڅه یې وکړه چې د خپل ځان لپاره دلایل برابر کړي. دغې جرګې ډېرې خبرې ایجاب کړې او زیات کسان وغږیدل او په حاشیوي توګه په موضوع بحث وشو. په عین زمان کې رشید خان د درمنده تر شا لومړی له خپلو متحدینو په ټبره بیا د عبدالهل خان د کشر ورور سره او ورپسې د مخالف بلاک له غړو سره مشوره وکړه. د رحمان خان ورور چې یو وخت یې په بلاک کې د رشید خان لخوا ملاتړ کېده، خو ورپسې بل بلاک ته ولاړ. په دغه وخت کې یې په ځرګنده ژمنه وکړه چې له خپل نفوذ ځخه به په هیڅ ډول کار وانخلي. په دې شیبه کې امیرخان چې د عبدالله خان په قیمت سره یې بلاک کې نفوذ زیات شوی و، سملاسي د رشید خان د ملاتړ ژمنه په دې شرط وکړه چې نومورې به په بله مساله کې د ده ملاتړ وکړي. دا وخت عبدالله خان په رشید خان باندې د تاکتیک په بدلون

سره حمله وکړه او ويې ويل: «مور بايد دغه رشيد خان ته غوږونه نيسو او هغه څه ونه کړو چې دی يې وايي» مور خو د ده رعيت نه يو. هغه بله ورځ ده دلته د اوبو په کشالې کې خپل ځان له منځه وايست اوس دی راځي او وايي چې ځمکه د چا ده؟ د عبدالله خان خبرو ته چا دومره غوږونه نيو او د خبرو ګنګوسې ورو ورو پورته شوې. عبدالله خان په دې پوه شو چې دی به مساله وبايلي. يو پښتون د رشيدخان په ملاتړ راپورته شو. عبدالله ده ته نارې کړې چې چوپ شه، د لويانو په خبرو کې مه لويږه. په دې خبره د عبدالله ډله وه او پاريدله رحمان خان د کريږو په منځ کې چغه کړه چې دا څه د کوڅې شورماشور دی؟ څوک ويلی شي چې دغه يا هغه غړی دې د مشر په خلاف څه نه وايي. دی او رشيد خان د اعتراض په توګه له جرګې څخه ووت. د رشيدخان بلاک په عبدالله خان باندې د جرګې د سپکولو دعوا وکړه. خو ده (عبدالله خان) په سمه توګه وکولی شول دوی له دې څخه منعه کړي چې د لانجې وړ ټوټې ځمکې په باب کومې پرېکړې ته ورسيږي او موضوع هماغسې تر ډېرې مودې پاتې شوه. ځکه تر هغې چې بله جرګه جوړېده د ده په لاس کې وه.

داسې مانوره په جرګه کې د متحدينو د ګټو د ساتلو او د بلاک د ټينګتيا لپاره د يوه تاکتيک په توګه کار لويږي. په دغسې ما نورو کې مهارت لرل يوازې په مشرانو منحصر وي.

مور نه شو کولی جرګو ته حاکمه هياتو ته ووايو. ځکه په هغو کې د متحدينو او ډله د ګټو مساله مطرح ده او نه شي کيدای د هغوی د قدرت اندازه او د فعاليت ساحه معلومه شي. ليدل شوي حقايق مور دې ته مجبوري چې د بلاکونو د سازمان د هغو سياسي اصولو او متوازن مخالفت ته پام واړه وو او جرګې يوازې د دغو اصولو د څرګندولو لپاره يوه عنعنه وشمېرو.

د بلاکونو ترمنځ مخالفت

په دې ډول د سوات د سياسي سازمان اصلي چوکاټ د يو لړ ټرونونو او اتحاديو په واسطه بيان شوی دی. د متحدو ډلو له دغو ټرونو او يووالي څخه دوه محلي بلاکونه منځ ته راځي[51] خو کيدای شي چې په هغو کې غړيتوب تل له بدلون سره مخامخ شي. په هر صورت دغه سياسي متحدې ډلې د زيات وخت لپاره ثابتې پالیسی نه چلوي. دوی يوازې د بلې ورته ډلې په ضد تنظيم شوي او يا دا چې د هرې هغې ډلې په مقابل کې منځ ته راځي چې ګټې يې له تهديد سره مخامخ کوي. دغه مخالفت په ښلو ښلو بڼو جوتيږي. لکه چې مور وليدل دا شان ضديت د جرګې په ساحه کې د دواړو بلاکونو پښتني غړي حاضروي څرګند شوي دي او د دواړو د قواو توازن د هر يو د شاملو استازيو په قدرت پورې اړه لري او هم دغه توازن د هر يوه په ټاکلې ارادې پورې تړلی دی چې له خپلو مربوطو غوښتنو څخه د دغې قوې په واسطه دفاع کوي.

هر يو بلاک په ترتيب سره يوه ډله خلک د خپل قدرت د ښودلو لپاره د موضوعاتو د نهايي حل په منظور راولي چې پرېکړه په جرګه کې دسلا او مشورې له لارې يا په عمومي توګه د منځګړي په واسطه او ښايي د جګړې په ميدان کې د وسلو په اوچتولو سره سرته ورسوي.

نن ورځ په سوات کې د دير او باجوړ په مقايسه جګړې ډېرې لږې پېښيږي. نو په دې توګه دغه ميتود يوازې لنډ بيان غواړي. په بدل کې يې هغه کړنلاره زيات تفصيلات ايجابوي چې په تېره بيا د مشرانو او ستانه و په منځ کې د ټرونونو د نظام اړيکې څرګندوي.

---

۵۱. يعنې دوی د وخت په اوږدو کې په ځای پاتې کيږي. دوی په منظم ډول د واحدونو په توګه عمل کوي، دوی په خپل او دننه کې د قدرت او مسؤليت يو ويش لري، دوی د برخوالو غړيو د مجموعي حقوقو او امتيازاتو په ترڅ کې د يوه مشترک جايداد د ساتنې لپاره په خرګنده توګه مجبوريت لري. دا خبرې په دغه حقيقت سره چې بلاک په دننه کې د داخلي فنکشناليزم په واسطه جلا شي، اغېزمنې شوي نه دي.

د قوې ښودل

کله چې د یو چا په حقوقو تېرې وشي او یا هغه لپاره جوت ګواښ موجود وي نو دا کار د نوموړي سړي د متحدینو د یوې ډلې د یو موټي کیدو سبب ګرځي. په یوه عامه اصطلاح دا د متحدینو او ملاتړو د وفاداری اعلام دی چې تر تهدید لاندې سړي د دفاع په برخه کې یې ښکاره کوي. د افرادو ترمنځ دا لانجه او اختلاف بالاخره د دوو بلاکونو د اختلاف لاره پرانیزي. نو په همدې ترتیب د قوې او د قدرت د ځرګندولو لپاره زیات کسان راغونډیږي. ځکه په دې وسیله هر بلاک کولی شي عملي ګامونه واخلي. په محلي ډوله شخړو کې ښایي د قدرت دا شان ښودل د لانجه من ځای په برخه کې ترسره شي.

زما د څېړنې لاندې په یوه کلي کې د یوې پولې پر سر یو پخوانی اختلاف را ژوندی شو او سیالو مشرانو موافقه وکړه چې د هماغې پولې په ځای کې خپلې ډلې سره مخامخ کړي په دغو ډلو کې د ټولو فرقو غړي لکه بزګران، پوونده، کسب ګران، د مشرانو مزدوران او د جمعیت د نورو ځمکوالو په ګډون شامل وو. که چېرې د قواو په منځ کې توازن نه وي نو کمزورې ډله باید تسلیم شي او که د دواړو ترمنځ نسبتاً تعادل موجود وي نو یو یو منصف یا منځګړی چې معمولاً یو ستانه وي، ګومارل کیږي. سره د دې په دغه موضوع باندې جګړه ونښتله. د یوه خان پلار د یوه ورته سیال او رقیب مشر لخوا پنځلس کاله پخوا په دغه پوله باندې په ټوپک ویشل شوی و. نو دغه کینه هم لازیاته شوې وه. دواړو ډلو موافقه وکړه چې له وسلې پرته جګړه وکړي. خو کله چې په کوتکو او تېرو جګړه پیل شوه، نو د هرې ډلې غړي خپل کلي ته د وسلې د اخیستلو لپاره وځغاستل.

هغه اختلافات چې محلي ډوله وي او یا دا چې په هغو کې ستر جمعیت ګډون کوي نو په داسې حال کې د قوې ښودنه معمولاً د مربوطو مشرانو په حجره کې کیږي. د مثال په ډول یو خان ته د دښمن لخوا ښکنځل او سپک وویل شول په یوه شیبه کې د نوموړي خان د مشر په حجره کې (چې د هغه د تره زوی) متحدین راغونډ شول. دغه ډله ځمکوال په عین حال کې د متنفذې ډلې لخوا تر فشار لاندې وو. د دې لپاره چې د ښمن د دوی له موقتي کمزورۍ یا مصروفیت ځخه ګټه وانه اخلي، نو د هغې ملاتړ او متعلقین په ښار ګوتې کې ډله ډله د خپل شمېر او وفاداری د ښودلو لپاره ګرځیدل. د متحدینو هره یوه ډله د مشر حجرې ته د کتنې لپاره (په دغه ښارګوتې کې هر یو بلاک زیات شمېر حجرې لري)، ځینې به د حجرې بهر د زیات وخت لپاره انتظا و، ځینې به د خپلې وفاداری د ښودلو لپاره یوازې شل یا دیرش دقیقې په حجره کې کیناستل. د ورځې په اوږدو کې داسې ګړۍ به نه وه چې په حجره کې له ځلویښتو ځخه لږ کسان راټول شي. کله کله به دلته له سلو ځخه زیات کسان راغونډیدل. د خان مزدورانو به په ډېر ځېر سره هر چاته کتل، د دې لپاره چې پوه شي څوک راغی او څوک نه دی راغلی. په پورته ډول ټولو خپلوانو ډلو او ځمکوالو په تظاهراتو کې ونډه واخیستله په حجرو کې د دغو افرادو راغونډیدل ډېر ژر په بازار کې خپاره شول. تردې چې د ښارګوتې هغې خواته ماهم واوریدل. د خاصو مشرانو حرکت په ښه توګه پېژندل کیدلی شولو او وربانديې خبرې کیدلې.

د دواړو بلاکونو سیمه‌ییزې ډلې د قدرت د ښودلو لپاره په یوځای کې غونډیږي او افراد یې په مهیجه او وسله واله توګه تمرکز مومي او لکه چې په مخکني مثال کې مو ولیدل دا حالت د یوې جګړې سبب کیږي. البته د دغسې ټولو عملیاتو هدف یو موټی کیدل دي نه اساساً جګړه ترڅو چې د قدرت د ښودلو په اساس باندې له خپل رقیب سره خبرې او مذاکره وکړي.

د بلاکونو مشران په پرله پسې توګه د روغې جوړې په باب غږیږي او نن ورځ دا ډول سلا او مشورې د سوات په ناوه کې عمومیت لري. ورپسې د دواړو بلاکونو ترمنځ د منځګړیو په واسطه تماس ټینګیږي. دغه منځګړی یو سیمه‌ییز ستانه یا پیر او یا نن ورځ په خپله د سوات دولت وي. البته د دولت استازی تحصیلدار یا د دولت حاکم وي او معمولاً دا سړی د یوه پیر په اولاده کې راځي.

ستانه له ټاکلیو او فردي لانجو څخه پرته په خپله هم په اختلافاتو او کشالو کې اخته کیږي البته دغه مصروفیت د قواو او د توازن په ارتباط د تاکتیکي ما نورو په برخه کې تر ځانګړو فردي لانجو زیات وي. سره د دې هم څرنګه چې د ستانه و عنعنوي نقش په پرله پسې توګه دولت په غاړه اخیستی دی، نو زما شواهد په دغه برخه کې ښایي نیمګړي وي او زه په دغه برخه کې د عنعنوي حالت د ټاکلیو بڼو له یوه لنډیز څخه زیات څه ترسره کولی نه شم.

دا حقیقت بیخي څرګند دی چې ستانه د پښتنو مشرانو د متحدینو په توګه ګڼل کیږي.

د مثال په ډول د بابوزیو په ساحه کې دوه مخالف بلاکونه د روانې پیړۍ په سر کې د خپلو مربوطو ستانه وو په نومو سره چې د سیر او سرداری په کلیو کې وو، نامتو شوي دي. دا شان جوته صف‌بندي په هغو ځایو کې چې ما کار کاوه، لیدل کیدله. هغه لار چې مشران او ستانه له دغسې یووالي څخه استفاده کوي. په (نهم څپرکي کې وښودل شوه). د دې لپاره چې ستانه په زیاته اندازه په سیاسي لحاظ بریالي وي، نو تر ډېرې اندازې پوځي قوې ته اړتیا حس کوي. په دغه برخه کې یو مشر د ده لپاره یو ښه مرستیال کیدای شي، په داسې حال کې چې مشر د منځګړي ستانه له پیرزویني او ښه نیت څخه استفاده کوي. د دغو دوو ګوندونو د مشرانو (ستانه او ځمکوال مشر، ژباړن) پیروان یو له بله سره نغښتي وي. په داسې حال کې چې یو سړی یوازې د یوې حجرې غړی کیدای شي، د یوه ستانه خدمت کول یا مرید کیدل د دې سبب نه ګرځي. چې له مشر سره یې ژمنې بې‌باوره شي.

د مشرانو او ستانه و ترمنځ د اړیکو ارزښت هغه وخت زیاتیږي چې اختلافات سیاسي اهمیت ولري. په تېره بیا د لانجې په خاصو موضوعاتو کې دا شان اړیکې د پاملرنې وړ وي. دا خبره په دغو لاندې ملحوظاتو کې امکان موندلی شي. د پښتنو د سیاسي ډلو بدلیدونکي خاصه په جوته د مشرانو د ملاتړو له چلند څخه پیدا کیږي. د یوه مشر په ژوندانه کې ناکامي او بریالیتوب دواړه نغښتي دي. ناکامي ده او یا د هغه د یوه ملاتړ لپاره د دې سبب کیږي. چې د مشرتابه نفوذ کمزوری کړي او په نتیجه کې کیدای شي یو شمېر ملاتړي د ده له څنګه لرې شي. په مقابل کې په ده باندې د سیالانو فشار تر هغه زیاتیږي. چې دا عملیه روانه وي. نورې ماتې هم پرله پسې رامنځ ته کیږي. د دې په خلاف د مشر بری د مشر ملاتړ زیاتوي او د ده د لا بري زمینه برابروي. د یوې جګړې په نتیجه کې که هر خومره وړه هم وي، بیا هم د دواړو سیالو مشرانو په وزن او تله کې تغییر راولي او د بري یا ناکامۍ سبب ګرځي. په دې ډول هغه مخالفت چې د قوې د ښودلو په ترڅ کې د متحدینو د یو موټي کولو پواسطه وروستي حد ته رسیږي، یوه روغه جوړه ایجابوي او په دغه روغه کې د ټرونونو او همدا شان د ځانګړې لانجې حقایق په نظر کې نیولی کیږي.

دغه موضوع د سوات د دولت ځای نیوونکي د یوې مسالې په پرېکړه کې په ښه توګه په پام کې نیولې وه. دا مساله د یوه غوره خان د ملاتړ لخوا د یوه سپکاوي د غچ اخیستلو د موضوع پر سر باندې وه غچ اخیستونکی د واکمن لخوا جریمه شو، خو ده په عامو مجلسونو کې تل ویل چې خان او وروڼه یې زما ماماګان دي او د دوی سپکاوی، په خپله زما سپکه ده په دې ډول د هر بلاک د متحدینو لخوا یې بل داسې عمل منعه کړ.

په څرګنده توګه کوچني ستانه په سوات کې دومره قوت نه لري او دوی د اړیکو له مخې زیاتره د هغو مشرانو تابع دي چې دوی د هغو ترمنځ منځګړیتوب کوي. دوی په هغوی باندې خپلې خبرې منلی نه شي، بلکې مجبور دي چې د بلاک د غړیو په توګه یوه لوري ته ودریږي، که نه د مشرانو په لاس کې به یوازې د الې په توګه استعمال شي. د مثال په ډول د سوات اخوند چې په بشپړه توګه یې خپلو متحدینو ته ځان تسلیم کړی وو د جمعې په لمونځونو کې یې د هغو بریالیتوب ته دعا وکړه، بالاخره د بلاک په منځ کې یې پیاوړی دریځ لاس ته ور وړ او ټول بلاک یې په بشپړه توګه په خپل واک کې ونیو.

خو ستانه د خپل خاص نقش له امله دې ته اړ دي چې لږ څه «بې‌طرفي» وساتي. نو ځکه د پښتنو په څېر له خپلو متحدينو سره ډېر نږدیوالی نه لري. همدا سبب دی چې د نالکوټ پاچا د خپل بلاک د مشرخان بهادر صاحب د هیلو په خلاف، خپل خان ته د قضاوت ورکولو اجازه ورکړې ده. په دې ډول د دوو پښتنو مشرانو د اړیکو په پرتله د ستانه او مشرانو ترمنځ اړیکې کمزورې وي. نو ځکه د پښتنو په څېر د ستانه او د سیاسي صف‌بندۍ اصلي محک په مسایلو کې د هغوی له قضاوت سره سمون نه لري، بلکې د هغوی د اتحاد د محک د اعیادو په وخت کې له مشرانو سره لیدنې او کتنې دي.

د قوې استعمال (جګړه)

په دې ډول په اختلاف او لانجه (د قدرت ښودنه)، (او له جرګې څخه بهر د لانجې په فیصله کول) کې یوازې مشران ونډه نه لري. بلکې ټول محلي بلاک هغې کې برخه اخلي او حتی ستانه هم د بلاک سازمان ته راکښل کیږي. د قدرت د ښودنې بڼه داسې وي لکه چې د جګړې لپاره خلک سره راټول شي. نن ورځ هغسې سترې جګړې لکه چې د روانې پیړۍ په سر کې موجودې وي، په قدرت سره پېښیږي له وړو کلیو پرته، نورې ټولې سترې شخړې د دولت په منځګړتیا او مداخله سره او یا په ملکنډ کې د سیاسي استازي په واسطه بندیږي. د جګړې وروستۍ پېښې په باتخیله (له ۶۰۰۰ څخه تر ۸۰۰۰ وګړي لري) کې چې د سوات د ناوې په کښتنۍ برخه کې موقعیت لري، په ۱۹۴۹م کال کې منځ ته راغلې. دا جګړه د وینې غچ اخیستلو په مساله باندې هغه وخت پېښه شوه چې غچ اخیستنه له لاسه وتلې وه او غچ اخیستونکو د هغې حجرې په دروازه باندې حمله وکړه چې هلته تر تعقیب لاندې سړي پناوړې وه او پټ شوی و. نو په دغه ورځ د دواړو خواو متحدین راغونډ شول او ټوله ورځ یې له یو بل سره جګړه وکړه. د مربوطو کلیو پیروان هم راورسیدل او په جګړه کې یې برخه واخیستله. خو د دغې جګړې لمنه له با تخیلې څخه بهر خپره نه شوه.

د بلاکونو ترمنځ نښته، جګړه بلل کیږي. او که څوک په کې مړ شي، نو انتقام یا غچ اخیستل نه ایجابوي. البته د هر ډول حالت له شرایطو سره سم دا امکان لري چې د سیالانو او رقیبانو ترمنځ وژنه د غچ اخیستلو لپاره زمینه برابره کړي، ځکه شرم یوازې د انتقام اخیستلو په اساس له منځه ځي. په داسې حال کې چې په جګړه کې مړه کیدل هیڅ ډول شرم نه دی، بلکې ویاړ ګڼل کیږي. نو په دې ډول د بلاکو ترمنځ جګړه که څه هم په ژوبله او قتل پای ته ورسیږي. بیا هم د انتقام او د وینې بدل دښمني منځ ته نه راوړي. د ټرون او اتحاد اړیکې یوازې د متقابل سیاسي ملاتړ لپاره وي او د وینې د غچ اخیستلو په برخه کې د دغو اړیکو په اساس کوم قانوني مسؤلیت موجود نه دی.

د اوسنیو جګړو په برخه کې لکه د کشمیر جنګ (جهاد) چې په هغو کې نږدې لسو زرو سواتیانو ونډه واخیستله او هم د سوات او د دیر ترمنځ سرحد په اوږدو کې د قواو غونډیدل له سیاسي پلوه نه و او په هغو کې یوازې یو تن په افتخاري توګه مشري په غاړه لرله، له بلې خوا د متحدینو د بلاکونو ترمنځ د جګړې غوره بڼه ګډوډې ده چې دغو جګړو ته خاصه څېره وربخښي. دغه شان عدم تمرکز سیاسي او تاکتیکي تطبیقي موارد لري.

څرنګه چې د پښتنو مشران او پیروان دواړه په نظامي تاکتیکونو ښه پوهیږي، نو په څرګنده توګه دوی کولی شي په پوځي عملیاتو کې د امر کولو د مراتبو له سلسلې څخه پرته سره متحد شي. په دغه برخه کې د سوات د ناوې په هکله د چرچیل (۱۹۹۸م‌کال) توضیحات ښه مثال ګڼل کیږي. دی وایي چې د ملکنډ او چار درې په نویو چونیو باندې شلو زرو سواتیانو برید وکړ او هغه یې محاصره کړې. دغه کار د دې سبب شو چې هندي پوځ د هغو په مقابل کې یو غوره فعالیت وکړي. دغه حرکت د یوه متنفذ ملا لخوا (چې په پښتنو کې زیاتره د

لیونې په توګه مشهور دی) پیل شو. خو ده هیڅکله د هغه لارښوونه ونه کړه. سره د دې هم د پښتنو لښکر د عملیاتو تاکتیکي اړتیاوې په ډېره اغیزمنه توګه ترسره کړې دي. په دغه جګړه کې د بلاکونو ترمنځ شخړې په شان د افرادو منظمې ډلې چې هره یوه یې د مشرانو لخوا اداره کېدله، د متحدو واحدونو په توګه په لښکر کې ځای په ځای شوې. په دغه وخت کې ضروري تماسونه د ډلو مشرانو د شورا لخوا په غیر رسمي توګه ټینګیدل. غوره ټکی دلته دا دی چې د سترو قواو د جوړولو په صورت کې هم د جګړې لپاره د تاکتیکي شرایطو انتظام د ډاډ وړ کیدای شي. یعنې په دغسې حالت کې د مشرانو ترمنځ د اوامرو د رسمي سازمان د مراتبو سلسلې ته اړتیا نه لیدله کیږي.

د سازمان وروستنۍ بڼه

په یوه ساحه کې د متحدینو ډلې تر هغه حده پورې د یوه منسجم سازمان په توګه تکامل کوي چې دوی ورته اړتیا لري او د دې توان ولري چې په ټاکلیو حالاتو کې د وړو متحدینو په توګه سره متحد شي. د پورتنۍ شرحې څخه د دغو شرایطو ځینې خاص مشترک خصلتونه جوتیږي یو بلاک په هغو دریو عمده ډولونو حالاتو کې په یوه ځای کې راغونډیږي چې فعالیت ته راوبلل شي. په جرګو کې خبرې په هغو اړخو باندې ځي چې دمخه یې اتکل شوی نه وي. یوازې هغه کسان وربانديې پوهیږي چې په غونډه کې حضور ولري. په حجره کې د قوې شوندنه زیاتره متحدین او ملاتړ یوځای ته سره غونډوي او یوازې حجرې ته د تللو په اساس د یو متحد اړیکې له ټرون سره تائیدیدلی شي. بالاخره د جګړې په وخت کې متحدین خپل افراد د جګړې لپاره یوځای ته راټولوي. نو په نتیجه کې د متحدینو بلاکونه یوازې د پښتو سره د مقابلې په وخت رابلل کیدای شي چې د یوه ټاکلې ګواښ په مقابل کې عمل وکړي. له دې پرته هغوی غیر فعال وي او په پراخه حوزه کې په تیت او پرک ډول سره مربوطې چارې وړاندې بیایي.

په هیڅ ډول شرایطو کې د بلاک غړي، دې ته اړتیا نه لري چې صلاحیت کوم یوه مشر ته وسپاري ځکه هر وخت چې ډله کوم عمل ته اقدام وکړي، نو غړی د دې توان لري چې له یو بل سره سلا او مشوره وکړي. له بلې خوا د بلاک بریالیتوب د هغه په تحول منلې او استعداد پورې اړه لري چې وکولی شي د حالاتو له هر ډول بدلون سره سم خپل تاکتیک په متقابله توګه بدل کړي. په نتیجه کې بلاک کوم. داسې اداري سازمان نه جوړوي او د دې توان نه لري چې هر ډول پالیسي د اوږدې نښې لپاره تعقیب کړي.

نو په دې ډول بلاک د یوه بې‌مشره سازمان بڼه غوره کوي او د هغه واحدونه چې په منځ کې یې له خپل مشره سره تړلې ډلې شته، زیاتره د حجرې ډلې دي. د دوو تنو مشرانو ترمنځ هر یو ټرون په یوه پراخه شبکه کې د اړیکو د ټینګیدو سبب ګرځي. نو ځکه د متحدینو د سترو ډلو له املې چې کله کله متحدیږي، په یوه ساحه کې په پرله پسې توګه دوه متضاد بلاکونه د دغو شبکو په ترڅ کې راوځي. په همدې سبب پښتانه خپل سازمان یو پراخه شوی دوه ګوندیز نظام ګڼي. خو د دغه نظام جوړونه له هغو سترو واحدونو له حد ځخه نه اوړي چې په رښتیا هم سره متحد شوي دي. د ډېرو زیاتو مقاصدو د ترسره کولو لپاره دغه ستر واحدونه د ځمکې د عنعنوي ویش د نظام په حوزو کې لکه نیکبی خیل، بابوزی یا سیبوجني کې د بلاکونو په څېر دي.

خو دغه واحدونه په جوته توګه هیڅ کله جلا نه دي. مشران لکه د بابوزیو او رنګ زیب خان او په نیکبی خیلو کې د وریجو خان د سیمو د ګډو پولو په اوږدو کې د یوه بل سره ټرونونه کوي (نهم څېرکی وګورئ) په دغسې ټرونونو باندې په جرګو کې بحث نه کیږي، بلکې یوازې د قدرت د ښودلو یا جګړې په وخت کې ډېر ارزښت لري. نو ځکه د هرې سیمې یو بلاک د ګاونډي سیمې له یوه یا بل بلاک سره تر یوې اندازې تړلی وي. البته داسې موارد هم شته چې د زیات شمېر سیمو بلاکونه په هماهنګ ډول سره تنظیم شي. پخوا په زیاته اندازه

جګړې موجودې وي چې د پاسني سوات ټولو برخو ته يې خپله لمن خپره کړې وه. خو نن ورځ د سوات د واکمنۍ او غوره سبب ګرځيدلي دي. د همدغو مشرانو د اتحاديو پراخيدل تر يوې اندازې پورې د محلي بلاکونو ضديت په صف‌بندۍ کې کلک کړي دي. خو دغه حالت د سازمان اساسي بڼه تر اغېزې لاندې نه راولي. په زياتو حالاتو کې پراخه روابط موجود نه دي. په هغو سيمو کې چې تضاد ته اهميت ورکول کيږي، هغه زياتره د سيمې په منځ کې فرعي ساحې دي.

په بلاکونو کې د مشرانو دريځ

په دې ډول هر بلاک يو بې‌مشره سازمان دی چې په هغې کې يو شمېر سياسي مشران د مخالف بلاک په مقابل کې د يو بل ملاتړ کوي. هر يو سياسي مشر د يوې متمرکزې سياسي ډلې مشر وي. د يوه پير مريدان زياتره په جومات کې سره غونډيږي خو د مشر پيروان د هغه د حجرې ډله تشکيلوي. که څه هم ستر سازمان (بلاک) بې‌مشره وي، خو سره د دې هم د شمېر په لحاظه داسې مناسبو واحدونو څخه جوړيږي چې ځانته متمرکز سازمان لري. که څه هم يو بلاک په مداومه توګه متحده هسته نه لري او تر ډېره وخته پورې د يوې پالیسۍ څښتن نه وي. خو بيا هم دا شان عوامل وجود نه لري چې مشران له دغسې پالیسۍ څخه منعه کړي. په رښتيا هم دوی هر يو د شرايطو د سختوالي سره سم هڅه کوي چې تر خپل کنترول لاندې واحد پراخه کړي او په دې توګه وکولی شي افرادو لپاره عايد او دخل برابر کړي.

د مشرانو په عقيده هغوی هر يو د يو لږ متحدالمرکزه دايرو په مرکز کې ځانونه وينې. لومړی دا چې مشر د يوه خاص کلي غړی دی او هلته د ده رقيبان او سيالان ژوند کوي. سره د دې چې دا به يو وړوکی جمعيت وي. خو هلته زيات داسې مشران شته چې له ده سره متحد وي يا ورسره رقابت او سيالي لري. دی د ځمکې د عنعنوي ويش په ساحه کې د يوه بلاک غړی دی. چې په هغه کې له ده څخه زورور يا کمزوري مشران راغونډ شوي دي بالاخره کيدای شي چې د ده د بلاک نور غړي د ګاونډيو ساحو له مشرانو سره اړيکې ولري. زياتره لارښوونکي د پښتنو مشران دي. نو ځکه هغوی د يوې داسې حجرې اداره کوي چې په پرله پسې توګه د دوی د ملاتړو د افرادو لخوا ډکې دي. هر يو مشر په خپله حجره کې تل يوه منظمه او چمتو ډله ساتي. دی هڅه کوي چې د ترون او يووالي سازمان په خپله ګټه راوڅرخوي. که دی يو غوره مشر وي. ښايي د کلي بلاک تر نفوذ لاندې راولي. نو په دغه ډول دی داسې دريځ لري چې ډېر ځله بلاک تنظيم کړي او خپل نفوذ لاندې راولي. نو په دغه ډول دی داسې دريځ لري چې ډېر ځله بلاک تنظيم کړي او خپل نفوذ لوړ بوځي، سره د دې هم دی تر هغې چې قدرت يې ډېر لوړ شوی نه وي، نه شي کولی د يوې پراخې ساحې د متحدينو بلاک په خپل کنترول کې وساتي. دوی به هرو مرو د بلاک په منځ کې هغه اکثريت ته تابع وي چې غوره مشران يې راخوځوي. دا د ده د بلاک هماغه پاسنۍ کړۍ ده چې د ده بريالیتوب کلی په لاس کې لري. هر هغه وخت چې دی وکولی شي د خپلو يا د خپلو پيروانو د ګټو په ارتباط ستر بلاک متحد او تنظيم کړي او يا بالمقابل کې يې ګټې نه وي د بلاک د تنظيملو او متحد کولو په مقابل کې مقاومت وښيي. نو امکان لري دی به په دې ډول له خپلو ټرونونو څخه د هغه څه په پرتله چې له لاسه يې ورکوي، زيات څه لاس ته راوړي. په پوهه سره د خپل بلاک تنظيم يا د بلاک د تنظيم مخنيوی او همدا شان په وړ موقع کې له هغه څخه ښايي يوه مشر ته هر وار ګټه ورسوي. په دغه برخه کې دی د متحدينو ګټې او يا تاوان ته پام نه اړوي. هغه محدوديتونه چې د بلاک په پرمختيا کې ورځې او يا هغه نا انډولي چې دا بلاک يې په يوه ساحه کې له نورو بلاکونو سره پيدا کوي. د ځانګړو مشرانو د دريځ په پرمختګ باندې د هماغسې محدوديتونو معنی نه لري. د ملک بابا (نهم خپرکی وګورئ) قضيه د دې يو مثال دی.

په دې توګه د يوه مشر د شتمنۍ او دريځ زياتوالی په منطقي توګه د هغه د پيروانو د سياسي تمرکز مفهوم افاده کوي. سره د دې هم، د نورو ځايونو په څېر د سوات په اصلي ساحه کې متمرکزې خانۍ موجودې نه دي دا خبره د داوطلبانو د نيمګړتيا دليل نه دی، بلکې د هغې د نشتوالي علت د بېلا بېلو ماتيدونکو او تجزيه کېدونکو قواوو اغېزه شمېرل کيږي. د قواوو د بېلېدو څرګند عوامل د زامنو ترمنځ د ملکيت برابر ويش، د شخصي انتقام موجوديت، د سيالانو او ملاتړو ترمنځ د تناسب توپير او د غوره فردي نفوذ له ګټلو سره د نورو مشرانو تضاد دی. لکه چې په (اتم څېرکي) کې مو وليدل، شتمن ځمکوال هيله‌من دي چې د سترو کهولونو خاوندان اوسي. پلار ته په ژوند کې د زياتو زامنو شته والی يوه ستره شتمني ده. د پلار او زامنو ډله په سوات کې تر بلې هرې يوې ډلې د ګډو ګټو يو نغښتی جمعيت دی. ځکه جايداد ګډ او نا ويشلی پاتې وي. نو هر څومره چې له هغه ځخه زيات ځه لاس ته راشي، هر فرد ته زياته برخه ترې رسيږي. دا ډله په فوق العاده توګه سره نړديوالی غوره کوي او پښتانه د زامنو زياتوالی د سياسي او اقتصادي بريالیتوب لپاره لازمي شرط ګڼي. هغه څوک چې د زيات جايداد په ګټلو بريالي کيږي، نو د ده تر کنترول لاندې سياسي واحد د هغه د زامنو په مرسته نور هم پراختيا پيدا کوي. خو کله چې دی مړ شي، نو جايداد يې د زامنو ترمنځ په برابره توګه ويشل کيږي. نو په دې توګه د ده ستر ملکيت به د زمانې په تېريدو سره په وړو ټوټو باندې وويشل شي، په هغه صورت کې که يو غوره مشر په بېلا بېلو کليو کې ځمکه ولري، نو د ده زامن په هماغه بېلا بېلو کليو کې جلا کهولونه منځ ته راوړي. په تېره د ده هره يوه ماندينه او اولادونه به په دغو جلا کليو کې ميشته شي. د مثال په ډول، د لاندنۍ سيبوجني خان بهادر صاحب، په دريو جلا کليو کې کورونه او حجرې لري او دا ټول د ده په ژوندانه کې د يوه سياسي واحد په توګه ګڼل کيږي. خو د ده په مړه کېدو سره به دا ټول سياسي واحد بېل او زامن به يې په جلا جلا کليو کې ژوند غوره کړي.

که يو مشر غواړي چې تر خپل کنترول لاندې ځمکه يې ډېره پراخه شي. نو دی بايد له دې امله د ګواښ او تشدد يا ترور ځخه کار واخلي. د دغو مقصدونو د ترسره کولو لپاره د جمروزخان کشر ورور امير نواب خان په خپل لاس يو ځلويښت تنه ووژل، دغه قتلونه انتقام هم ايجابوي. نو ځکه د يوه سړي د جايداد په زياتېدو سره زيات کسان د انتقام اخيستونکو په توګه منځ ته راځي. پخپله اميرخان هم ووژل شو او د ده جايداد د هغه د دريو زامنو ترمنځ وويشل شو. په دې ډول هغه څوک چې په سرعت سره خپل جايداد زياتوي او په نتيجه کې يوه متمرکزه ډله تر کنترول لاندې راولي، نو همدغه اندازه يې د شغل او کارونو د پای ته د رسيدو چانس هم ډېريږي.

په ځانګيز سازمان کې يو مشر هڅه کوي چې تر خپل کنترول لاندې ډله پراخه کړي. خو دغه کار د دې سبب ګرځي چې تر ملاتړو يې مخالفان زيات شي. د اتحاد او تړون د نظام په اساس دی کولی شي په خپل بلاک کې نفوذ پراخه کړي. خو دغه سړی نه شي کولی د متحدينو له اړيکو ځخه د خپل کنترول د تمرکز لپاره تر ګټې واخلي، ځکه چې متحدين ټول ځانونه سره برابر ګڼي. نو په دې ډول دی بايد د مشورې اړيکې ورسره وساتي. نو همدا سبب دی چې دې ځمکه بايد په زور لاندې کړي. کله چې دی د خپلې نسبي ډلې د کوچني واحد ځمکوالو ځمکو ته خپله توجه اړوي. دی د خپلو زامنو، قوې او بحث په زور سره يوه ډله په دې ډول له ځمکو ځخه شړي چې د هغې په ترڅ کې يو شمېر وژل کيږي او نور يې ګاونډيو کليو ته پناه وړي. دی دې ته لاس اچوي چې د ليرې تربرو او خپلوانو ځمکې تر قبضې لاندې راولي. په دې صورت کې د لرې خپلوانو ډله هم په خپل وار سره په مخالفو بلاکونو کې تجربه شوي وي او په هغې کې هر يو غړی د ادعا لاندې ځمکې قبضه کولو ته تر ده زيات ليوال وي. نو په دې ډول دی په دغه لاس غزونه سره د خپل ځان په مقابل کې يوازې کولی شي هغوی د خپل ځان پر ضد متحد کړي. دا څرګنده خبره ده چې که دی د ليرې تر برو او خپلوانو په

غړيو باندې بريد وکړي. نو هغه ډله چې په دې وسيله د ده په مقابل کې اتحاد کوي له هغه نه ډېر زورور وي دی به د ځمکې پراخولو، د هڅو په ترڅ کې د متحدو بلاکونو د بيا تنظيم او صف‌بندۍ سبب وګرځي. که څه هم دی به د خپلې ځمکې ساحه پراخه کړي او د خپلو بزګرانو قوه به يې اوچته شي. خو په مقابل کې د خپلو مخالفانو او سيالانو شمېر زياتوي. له دې څخه علاوه د ميراث څخه محروم شوي دښمنان به له ده سره دومره کلک ضديت پيدا کړي چې د ده د پيروانو د ملاتړ څخه به يې قوت زيات وي. «د ده پيروان، اجوره کاران يا بزګران او د هغه نور ملاتړي چې د سوغاتونو له لارې پيدا کيږي». د سوات نور مشران خانان نن په همدغه سخت دريځ کې ښکيل پاتې دي. يو شمېر نور مشران همدغسې تمايل او چلند لري او د هغه چا څخه چې په خپلو کارونو کې ډېر بريالي وي له هغو سره ډېره زياته رخه او حسادت لري او ورڅخه ډاريږي. د دوی تسلي په دې کې ده چې د بريالي سړي د رقيبانو او سيالانو ملاتړ وکړي. نو کله چې دوی هغه له بري څخه وغورځوي، نو د هغه د سيالانو سره ملاتړ هم پای ته رسيږي او د بلاک په بې‌مشره نظام کې بيا توازن منځ ته راځي. دغه ستراتيژي په (اتم څېرکي کې) مورِ د پښتنو مشرانو لخوا د ستانه و د ملاتړ په برخه کې او هم د پاچا په مقابل کې له شيرين صاحب څخه د ملاتړ په باب بيان کړه، دغه لنډ بيان د متمرکز و واحدونو د نه پرمختګ مربوطو عوامل څرګندوي د پرمختيا مقابل کې له شيرين صاحب د ملاتړ په باب بيان کړه. پرمختيا لپاره کوم داسې ستراتيژي موجوده نه ده چې په دغو ستونزو باندې غلبه وکړي. په دې ډول د بې‌مشره اتحاديوي نظام په منځ کې هر يو متمرکز واحد په داسې کشاله بايد اخته وي چې کله کله د هغې د له منځه تلو سبب ګرځي.

لسم څپرکی

د سوات د دولت تاریخ او سازمان

په نهم څپرکي کې د سوات بې‌مشره سیاسي سازمان چې نن ورځ د ناوې په برخه کې په ریښتیاني توګه موجود دی، د ملکنډ د تحت الحمایې قبیلوي ساحې په ګډون بیان شول. د دغو عواملو سره چې د مرکزیت په مخ کې خنډ ګرځي، بیا هم د ۱۹۱۷ او ۱۹۲۶م کلونو ترمنځ یو بومي دولت منځ ته راغی او د ناوې پاسنۍ له دریو څخه دوه برخې یې تر کنترول لاندې راوستې. دغه کار د یوې جلا ستراتیژۍ محصول و چې دمخه ورته اشاره وشوه. (یعنې له ځمکې څخه علاوه د نفوذ د لاس ته راوستلو له لارې). د دولت موسس یوازې د ذکر شویو منابعو څخه خپل قدرت حاصل نه کړ، بلکې له ځینو قراردادي افرادو سر یې یو ډول نوې اړیکې ټینګې کړې چې هغوی د ده په خدمت کې د پوځ په توګه تنظیم او متحد شوي وو. د دغې موضوع بشپړ بیان د دغې رسالې له حدود او بیان څخه لرې دي، خو د هغو یو څو بنې او جنبې به دلته په لنډه توګه بیان کړو. زه به دا جوته کړم چې د سوات دولت په څه شان د مخکښ جوړ شوې سیاسي سازمان په چوکاټ کې رامنځ ته شو او څنګه په ځینو برخو کې له هماغه چوکاټ څخه په دغه دولتي سازمان کې کار اخیستل شوی دی.

په سوات کې د پښتو تاریخي سلسله د هغه سیاسي سازمان ریښتوني عملیه څرګندوي چې پورته ورته اشاره وشوه. زه هیله‌من یم هغه عملیې چې ما مخکې بیان کړې، د سوات د دولت د سیاسي تشکل لپاره لاتراوسه اساسي وې. له ټولو څخه علاوه د سیاسي نظام ټینګښت اوس هم تر زیاتې اندازې د بلاک په سازمان پورې اړه لري.

د ټول سوات د واکمنۍ او صلاحیت لپاره ټولو مشرانو تر هغه حده چې تاریخي مدارک یې څرګندوي هڅه کړې ده (بیلیو ۱۸۶۲، ویلي، ۱۹۱۲، ۱۱۱مخ او وروسته وګورئ). د سوات اخوند ډېر زیات نفوذ په کار واچاوه او تر یوه وخته پورې یې د سید اکبر ستانه چې د قبیلو د کانفدراسیون غیر مذهبي مشر و، ملاتړ کاوه. د اخوند په مړینې سره د دیر رحمت الله خان د قدرت لمن تر سوات وغزوله، په داسې حال کې چې د مړه شوي اخوند مشر زوی عبدالمنان د مخالف بلاک مشر شو. د دغه وروستي کس په مړینې سره د هغه ورور او د ده زامن له مخالفو بلاکونو سره یوځای شول. په عین حال کې د جندول عمراخان د دیر د نواب په شړلو سره په هماغه ساحه کې یو پوخ متمرکز حکومت جوړ کړ او تر هغه وخته پورې واکمن پاتې شو چې په ۱۸۹۵م کال کې

په چترال باندې د يرغل په وخت کې د انګريزانو لخوا مات شو (رابرت سن ۱۸۹۹) نواب بيا ډګر ته راووت او برتانويانو ورسره زياتې مرستې وکړې. ده د سوات د ناوې د لويديځې غاړې له قبيلو څخه د مالیو په ټولولو پيل وکړ. په داسې حال کې چې د سوات دننه مشرانو د مخالفتونو له امله ونه کولی شول سره متحد شي.

کله چې عبدالودود د اخوند کشر زوی[۵۲] ځوانۍ ته ورسيد، نو د خپل دريځ او موقف د لوړولو لپاره يې هڅه پيل کړه. ده لومړی خپل تربور امير پاچا دې ته مجبور کړ چې د خپل وروسيد پاچا له بلاک څخه ووځي. وروسته په ۱۹۰۳م کال کې امير پاچا خپل ورور وواژه. خو لږ وخت وروسته دی په خپله ووژل شو. عبدالودود (پاچا) د خپل نيکه د جايداد يوازنی ميراث خور وګرځيد او د هغه په څېر يو بانفوذه سياسي مشر شو.

په بابوزيو کې د ده بلاک د سرداری (يو کلی دی، ژباړن) د ميا (نهم څېرکی وګورئ) تر نفوذ لاندې و، نوموړی د ډېر قوت خاوند او د سوات او سند ترمنځ زياتې وړې ناوې (که څه هم اصلي ناوه يې په واک کې نه وه) يې په کنترول کې لرلې. په دې ځايو کې تل د پښتني مشرانو نفوذ موجود وو. پاچا له دغه بلاک څخه د وتلو او د سير (يو کلی) له ميا سره د يوځای کېدو په سبب يې بل محلي بلاک ته په دغه سيمه کې خپل نفوذ د زيات کړ او هلته يې پرله پسې نفوذ پسې وکړ.

بالاخره د سوات قبيلې د دير د نواب په مقابل کې د يوه کانفدراسيون په توګه متحدې شوې او د مخکښ مشر اکبرشاه لمسی سيد عبدالجبار شاه يې د خپل مشر په توګه وټاکه. سره د دې هم پاچا او سنډکی ملا چې دا وخت په سوات کې فعال وو، د روحاني مشرانو او ستانه و په توګه متحد شول او عبدالجبار شاه يې ملحدو ګانې، ځکه هغه له قاديانيانو سره تړلی و[۵۳]. دوه يا درې کاله وروسته دوی وکولی شول چې د هغه پر ضد يوه اله ګوله جوړه کړي. ورپسې ده پخپله تر سند پورې په قبيلوي سيمو کې يو وړوکی فيوډالي دولت رامنځ ته کړ.

د عبدالجبار شاه له ماتې څخه وروسته دغه ائتلاف ډېر ژر ړنګ شو او پاچا او سنډکی ملا د مشرتابه د حاصلولو په برخه کې له يو بل سره سيالان او رقيبان شول. د وروستي کس د يو شمېر نورو افرادو په ګډون د سيبوجني د تاج محمد خان لخوا ملاتړ شو (اووم څېرکی وګورئ) او پاچا د شاميزيو د دارمي خان او بابوزيو د خانانو تر حمايت لاندې راغی. د پاچا ملاتړ کوونکو سنډکي ملا سره د دې چې د دير له نواب سره يې اتحاد کړی و، له سوات څخه وشړه. له دغه بري څخه وروسته پاچا د خپلو ملاتړو لخوا د حکمران په توګه وګومارل شو. د سيبوجني خان بهادر صاحب د خپل تره تاج محمد خان له بلاک څخه ووت او له پاچا سره يوځای شو. نو په دې ډول ده په کښتنۍ سيبوجني کې ډېر زيات نفوذ لاس ته وروست. د درمی او بابوزيو د خانانو قدرت د دوی په مربوطو ساحو کې پياوړی شو.

د دې لپاره چې د سوات د نوي ګومارل شوي واکمن دريځ او قدرت تر څارنې لاندې راوستل شي. نو د بابوزيو جمروزخان او د ده ډېرو متحدينو خپله وفاداري شيرين صاحب ته چې د پاچا ورور او يوازينی خپلوان و څرګنده کړه. سره د دې هم پاچا شيرين صاحب د دير په پولو کې د هغه واړه ګوند د مشر په توګه وګومارە چې افراد يې په چونې کې ځای په ځای وو. شيرين صاحب د دير د قواوو د يرغل په وخت کې ووژل شو. خو په نتيجه کې بيا هم د دير لښکر د پاچا د سترې سواتي قوې لخوا ماتې وخوړه.

---

۵۲. دغه بيان چې د سوات له تاريخ نه دمخه ذکر شو، د زيات شمېر معلومات ورکوونکو له څرګندونو او بيليوګرافي کې له شاملو آثارو څخه چې له مستقلو منابعو څخه لږ ارزښت لري، اخيستل شوی دی.

۵۳. قاديانيزم د اسلام د پردې لاندې په حقيقت کې يو غير اسلامي نهضت دی چې د انګريزانو په لمسون او مرسته په ۱۸۸۹م کال کې د پنجاب د قاديان په نامه سيمه کې را پيدا شو او موسس يې د ميرزا غلام احمد قادياني په نامه يادېږي. له انګريزانو وروسته دغه نهضت ته بيا پاکستاني واکمنو وخت په وخت وده ورکړه چې تراوسه يې لا ورکوي او نژدې يو ملیون پيروان لري، ژباړن.

په ۱۹۲۶م کال کې د سوات دولت د انګریزانو لخوا بیا تنظیم شو او پاچا ته د ولي د لقب په ورکول کېدو سره یوه اندازه کلنۍ مرسته هغه ته ومنل شوه. دا وخت ډېرو لږو خانانو د ده له قدرت سره سیالي کولی شوه او هغوی هم ډېر ژر د دښمنیو په نتیجه کې کمزوري شول او پاچا په هوسا توګه د سوات کنترول ترلاسه کړ. سره د دې هم په متضادو بلاکونو کې د سیمه‌ییزو مشرانو تنظیم دوام وکړ او هڅه یې وکړه چې د پاچا د سیالانو په ملاتړ سره د هغه واک محدود کړي. د ده اصلي استازی حضرت علی خان په چترالي خیل پورې مربوط و او د ده زوی او وارث جهانزیب د متضادو بلاکونو مشران شول. په (۱۹۳۵م) کال کې د ده د وارث د بلاک په ماتېدو سره دی مجبور شو چې ترڅه وخته پورې له دولت څخه ګوښه شي. ورپسې ده او حضرت علي ترمنځ په مشابهو دسیسو باندې یوه شخړه پیښه شوه، چې په نتیجه کې یې ده لومړی خپل وارث راوغوښت او ورپسې یې په ۱۹۴۳م کال کې هغه ته د دولتي پوځ کنترول په لاس کې ورکړ. او بالاخره دغه شخړه په ۱۹۴۴م کال کې د حضرت علي او د ده د ورور د تبعید سبب وګرځیدله. په ۱۹۴۹م کال کې ده ګوښه توب غوره کړ او خپل ځان یې د ديني عبادت په نامه ځیله (چیله) کړ او د ده مشر زوی جهان زیب د والي په توګه وګومارل شو. حتی ځینو شکاکانو د پاچا ګوښه توب یو چل او فریب وګاڼه، چې په دې وسیله د پاچاهی کورنۍ دښمنان د پلار او زوی ترمنځ په بې‌اتفاقۍ اچولو باندې وازمایي. د پاکستان په نفع د جاري احساس ډېر زیاتوالی نوي والي یو لړ امتیاز ورکولو ته وهڅاوه چې په دې توګه زما له تګ وروسته د سوات دولت په بهرني او ننني خواو کې د پاکستان په اداري حوزو کې د یوې برخې په توګه موجودیت وموند[۵۴].

د سوات د دولت سازمان

د سوات دولت رسمي سازمان د اداري پوځي او مالي تر دریو عنوانو لاندې خلاصه کیدای شي[۵۵]. د قضایي او اجرایي قدرت ترمنځ جوت او مداوم بیلتون نشته او هم د مسؤلیت په باب د ځانګو په منځ کې ټاکلی بیلتون نه لیدل کیږي. حکمران خپل ځان یو مطلق واکمن بولي او اداري چارې د یوې کورنۍ موضوع په توګه شمیري چې په هغې کې په غیر رسمي توګه وظایف او مسؤلیتونه د ده په خوښه باوري افرادو ته سپارل کیږي. دولت په ۳۵ تحصیلیو یا سیمه‌ییزو ناحیو ویشلی شوی دی او د هرې یوې (واحد) په راس کې یو تحصیلدار شته چې مربوطې چارې د یوه قاضي په ګډون چې د تحصیلدار په خوښه ګومارل کیږي اداره کوي. د تحصیلدارانو ډله تر اوو اولسوالانو (حاکمانو) لاندې سره یوځای شوې ده. تحصیلداران او حاکمان د پاسني سوات، کښتني سوات، کوهستان او بونیر د ریګونو مشیرانو څخه یوه ته مسؤلیت لري. دغه مشیران په پرله پسې توګه له حکمران یا والي سره سلا کوي. عریضې او اطلاعات په دغه اداري سلسله کې پورته ځي، په داسې حال کې چې له پورته څخه هم په همدې شان اوامر د تطبیق لپاره لاندې درومي. د دغه سازمان کار کوونکي ملکي افراد دي چې زیاتره یې د ستانه و په فرقې پورې اړه لري. دوی ډېر ژر سره تبدیلیږي او په قدرت سره په خپلو اری (بومي) سیمو کې د خدمت اجازه موندلی او لرلی شي.

د عنعنوي نسبي ډلو ځانګو او د دوی ساحې هم منل شوي دي او د دوی مشران په رسمي توګه د خانانو او ملکانو په حیث پیژندل کیږي او دویم اداري مرتبه لرونکي تسلسل جوړوي. دغه کسان ښایي د خپلو ځمکوالو ډلو او یا د حکمران لخوا وټاکل شي. له ځینو خاصو حالاتو پرته، دوی د متحدینو د بلاکونو مشران ګڼل کیږي او د مرکز د یوه څه ملاتړ په واسطه کولی شي په خپلو ساحو کې نفوذ ټینګ کړي. په دې ډول که یو خان خپل محلي بلاک له لاسه ورکړي، نو حکمران یا والي مجبوروي چې د هغه د سیال یا رقیب بلاک مشر د خان په توګه وپیژني. دا ځکه چې د هغه په ساحه کې ټولې اداري او قضایي چارې په خان پورې اړه لري

۵۴. سوات تر ۱۹۷۰ پورې څه تش په نامه خپلواکي لرله، خو دا وخت پاکستاني مارشلایانو (یحیی خان) هغه هم ونه زغملی شوه او له منځه یې یوړه، ژباړن.

۵۵. دغه بیان په ۱۹۵۴م کال کې زما د ساحوي څېړنې په وخت پورې اړه لري.

او همدغه خانان د دغسې قدرت د عملي کولو لپاره ضروري جسمي او فزيکي قوه چمتو کوي. عريضې او اطلاعات د دغه مرتبه لرونکي تسلسل له لارې هم حکمران ته مخ پورته ځي. خو يوازې په وړو چارو کې په خپلواکه توګه پرېکړې کيدای شي. سره د دې هم کيدای شي چې پرېکړې له يوه چوکاټ ځخه بل ته بدلون وموميږ. ښايي له يوه تحصيلدار ځخه د امر اخيستلو کار خان ته بالمقابل انتقال شي.

په ټوله ساحه کې ځانګړی عمال خواره شوي او خپلو محلي امرانو ته راپور ورکوي. دا خو بيخي ځرګنده ده چې دا شان دريم چوکاټ جوت نه دی په دغو جلا شويو چوکاټونو کې د اداره چيانو ترمنځ اړيکې په عمومي توګه لانجه مني دي او د تضاد او د قواو د نسبي توازن بڼه ځرګندوي. حکمران په مستقيمه توګه دغه سازمان د دا شان توازن د حاصلولو لپاره تنظيموي. د همیشني امنيتي قوې شمېر دوو زرو تنو ته رسيږي. دا قوه د دولت په اتيا بېلا بېلو چوڼيو کې د تحصيلدار تر کنترول لاندې تحصيلي کې ځای په ځای شوې ده. يو وسله‌وال پوځ چې شمېر يې لسو زرو ته رسيږي، هم د دولت په چوکاټ کې موجود دی. د دغې قوې يوازې يوه برخه په يوه وخت کې فعاله وي. د پوځ اعلي قوماندانی د حکمران لخوا سپهسالار ته سپارل شوې ده او اوسنی مسؤل يې د پاسني سوات مشر دی. دغه سړی د سير (د کلي نوم) د مبارزې د (لسم ځپرکی وګورئ) او د دوو قوماندانو لخوا ورسره مرسته کېده چې يو يې د ده زوی او بل يې د بابوزيو پير محمد خان (نهم ځپرکی وګورئ) و. پوځ زياتره په عامه کارونو کې بوخت و. افسران او افراد د يوه کلني قرارداد له مخې چې په غله ادا کيږي دنده ترسره کوي او د کار موده يې په کال کې شپږ اوونۍ ده. دغه افسران د سړکونو او پلونو په جوړولو کې د ځارونکو او افراد يې د کارګرانو په حيث فعاليت کوي. يوازې سپهسالار کولی شي چې د پوځ د تنظيم امر ورکړي ځرنګه چې د پوځ افراد په هغو ځايو کې ميشت دي چې متضادو بلاکونو سيمه په برابره توګه جلا کوي، نو هيڅ يو محلي افسر په خپل سر د افرادو د تنظيم قدرت لرلی نشي. د والي او پاچا شخصي ګارد د جلا کسانو ځخه جوړيږي چې د هغوی د افسرانو تر لاس لاندې وي.

د حکمران لپاره د مالیې وزير د دولت مالي چاري اداره کوي. د دغه کار اوسنی مسؤل د قوماندان پير محمد خان ورور دی چې د بونير د مشری سره يوځای هغه اداره کوي. له ده سره په دغه برخه کې يو خزانه دار او کم شمېر نور مامورين مرسته کوي. د دولت عمده عايد له هغې مالیې ځخه لاس ته ورځي چې د کرنې د محصولاتو د ديارلسو ځخه د دوو برخو د اخيستلو له لارې حاصليږي. د مالياتو د راټولولو حق د محلي تحصيلداريو له لارې د مالیې د وزير لخوا په هره يوه سيمه کې د مزايدې په توګه پيرودل کيږي. هغه ځوک چې د مالیې د ټولولو حقوق ترلاسه کړي نو په دغه کار کې ځوک ورسره مرسته نه کوي. په بله وينا دی په خپله بايد د مالیې ټولولو کافي واک ولرلی شي. د مالياتو بيه د پياوړو سياسي کسانو لخوا چې معمولاً د بلاکونو مشرانو په مقابل کې زياته مالیه ترلاسه نه کړای شي، نو مجبور دي چې تفاوت يې له ځان ځخه ور پوره کړي. خو که په مقابل کې زياته مالیه لاس ته راوړي نو اضافي اندازه يې د ده جيب ته لويږي. له هغو کسانو ځخه چې له ديارلسو ځخه دوه برخو نه يې زياته مالیه راټوله کړي وي، د ځمکوالو د شکايت په اساس د تحصيلدار په واسطه ورځخه ښرته اخيستل کيږي. هغه غله چې په دغه توګه د مالیې په عنوان لاس ته راځي په سيمه‌ييزو ډيپوګانو کې زيرمه کيږي او د پوځ امنيتي قوې او اداري ته پرسونل معاش ورځخه ورکول کيږي.

په پای کې بايد د دولت نورې تخصصي ځانګې لکه د ښوونې او روزنې نظام د ودې او پراختيا او د وړيا تداوی پراختيا کوونکې اداري هم دلته يادې کړو.

پخپله حکمران يا والي خپلې چارې د عمومي منشي او د قلم مخصوص مدير په مرسته وړاندې بيايي او هره ورځ هغوی بايد په دربار کې وي چې دی ورځخه د اړتيا وړ موضوع په برخه کې کومک واخلي. د ده

پرېکړې ټول هغه تصامیم ماتوي چې د نورو لخوا نیول شوي وي. دی په پرله پسې توګه د سیمو له اداره چیانو سره تیلفوني تماس لري.

کله چې پاچا د والي په توګه انتخاب شو، د ده لومړی کار دا و چې له مرکز څخه د اداري حوزو خواته د تیلفون مزي وغځوي. د دغسې نوي مخابراتي شبکې ګټه ده ته زیاته ده، ځکه دی کولی شي هر وخت له هر یوه مرکز سره مستقیماً تماس ونیسي، خو په مقابل کې دغه مرکزونه نه شي کولی د ده له امر پرته له یو بل سره مستقیمې خبرې وکړي. سړکونه هم د دې لپاره جوړ شوي چې هرې سیمې ته د رسیدلو امکان پیدا کړي.

په دې ډول څرنګه چې والي د مخابراتو او مواصلاتو د نظامونو په منځ کې ځای لري، نو له دې امله یې نفوذ پیاوړی شوی دی. له بلې خوا دی کولی شي مرکزي سیاسي دریځ بې‌له دې چې مطلقه محلي قدرتونه د مامورینو یوې مرتبه لرونکي دستګاه ته وسپاري، د تیلفوني اړیکو په واسطه د دې توان لري چې افراد د یوه بل په مقابل کې په پرله پسې ډول تنظیم کړي.

د سیمه‌ییزو متنفذو مشرانو قدرت او واکمني هم منل شوې او له هغې څخه د مثال په توګه د مالیې په راټولولو کې کار اخیستل کیږي. د متقابلو بلاکونو ترمنځ د مالیاتو د رانیولو په برخه کې داوطلبي کیږي. هغه ګټه چې له دغې لارې لاس ته ورځي لږ ده. پوځ چې یوازې د مرکز له لارې تنظیم ګیدای شي، د مشرانو په مقابل کې اخرنی قدرت ګڼل کیږي له بلې خوا والي د متضادو بلاکونو په منځ کې یو سطحي توازن په دې ډول ساتي چې کله د یوه او کله د بل ملاتړ کوي. د خانانو قدرت د هغو اداره چیانو په واسطه لکه تحصیلداران کنترولیږي. خو د دې لپاره چې هغوی له خانانو سره ټکر ونه کړي، معمولاً دوی زر زر تبدیلیږي. له بلې خوا د دوی واک د هغو امنیتي مقامونو لخوا محدودیږي چې دوی ورپورې تړلي دي. د دغو مقامونو لرونکي افسران په خپلواکه توګه د حکمران لخوا ګومارل کیږي. په پای کې دا باید ووایو چې د دغسې پالیسی ترسره کول یوازې د حکمران په لاس کې نه دی، بلکې د هغه ترڅنګ د باوري کسانو یوه ډله شته چې اوس هغه پنځه تنه دي (سپهسالار د مالیې وزیر، د کښتني سوات مشر عمومي منشي او د تحریراتو او قلم مخصوص مدیر). دا کسان د دولت بېلا بېلو څانګو ته مسؤل او ټول حکمران سره یوځای په سیدو شریف کې ژوند کوي. د پټو استخبارچیانو ترڅنګ د اداري ټول څرخ باید په یوه وخت کې د حکمران په دربار کې په څانګړې توګه حضور ولري او خپل عرایض تقدیم کړي. د ده دربار ته د ناموفقې عریضې وړاندې کول عموماً عریضه کوونکي ته ناوړې نتیجې لري.

دولت یوازې د سیبوجني شامیزیو په تېره بیا په کښتني سیبوجني کې دغه نظام مات کړی دی. مخکنی‌پالیسی، والي دې ته اړ کړی و چې د یوه خان ملاتړ ته دوام ورکړي. هغه حاکم چې اوس دغې سیمې ته لیږل شوی، له خان سره نږدې همکاري لري او داسې ویل کیږي چې هغه د حاکم له تبدیلیدو سره مخالفت کوي. څو کاله وړاندې یو شمېر څمکوالو د عرض په حال کې د والي د ساتونکې ډلې لخوا د ټوپکو د کنداغونو په کلکو ګوزارو سره دا شان مجازات شول چې د هغوی د مخ د غاښونو په بیه تمامه شوه. د دې په عوض چې دوی تشویق کړي بیا خپله عریضه وړاندې کړي، دوی ته دا وښودل شوه چې لاهم په اسانه خلاص شوي دي. سره د دې چې یو خان په خپل لاس لاندې ساحو کې د مطلق واک خاوند دی، خو بیا هم داسې دریځ نشي لرلی چې د حکمران د پراخه واک او قدرت په مقابل کې ودریږي. که نه، د متضادو بلاکونو عنعنوي نظام چې خپل توازن په وفاداری (متابعت) کې د وقفوي بدلون له امله ساتي دوام کوي. هغه عوامل چې له دغه نظام سره په دې برخه کې مرسته کوي، د دولتي سازمان په واسطه لرې شوي نه دي. د سیمه‌ییز نفوذ شرایطو د هماغه بې‌مشره ټولنیز نظام په څېر دي. مرکزی نظام یوازې په دغه نظام باندې د پاسه تحمیل شوی دی او د هغه په

بنسټ کې يې کوم بدلون راوستلی نه دی او نه يې د هغه ځای اشغال کړی دی، بلکې د بلاک د سازمان هويت د سوات د دولت د ساحې په چوکاټ کې په خپله آري (بومي) بڼه پاتې شوی دی او همدا شان له همدغې دولتي ساحې څخه بهر موجوديت لري. دولت يوازې د تحصيلدارانو د بدلولو او يا د يوه بلاک د حمايه کولو په برخه کې خپل شته والی ساتلی دی. پوځ يوازې د حکمران په امر متحد او تنظيم کيدای شي. نو ځکه د ده د لوړتيا بنسټ جوړوي. خو د مخابراتو ارزښت له دې څخه هم د زياتې يادونې وړ دی. په تېره بيا دغه کار په پخوا وخت کې چې پوځ لاکمزوری و، غوره بريښي، د چټکو مخابراتو او مواصلاتو نوښتونه او د حکمران يا والي ځای نيول د سړکونو او تيلفوني شبکو د عمده نظامونو په مرکز کې دريځ لرل هغې ته ګټې رسولې دي او د هغه وړ دولتي سازمان په تاسيس کې د هغه د بري يو عامل ګڼل شوی دی.

پایله

منځني ختیځ دولتونو او امپراتوریو ټاټوبی دی او د هغه متمرکز سیاسي سیستمونه د نړۍ له هرې بلې سیمې څخه ډېر زیات لرغوني دي (چیلډ۱۹۳۴) هغه وګړي چې دلته ژوند کوي هیڅکله یې خپلې قبیلوي موسسې په بې‌شعوره او پټو سترګو ترلاسه کړي نه دي، بلکې دا د هغه طبیعي او ټولنیز چاپیریال محصول دی چې دوی خپل ځانونه په ښه او بریالي توګه په هغه کې توافق ورکړي دي. کان (۱۹۵۲) دغې «جسورو»[۵۶] قبیلوي ځمکې خلک د مرکزي دولت لرونکو له مسکونو او تر اداري لاندې ځمکو سره پرتله کوي او په تاکید سره وایي چې په منځني ختیځ کې دا دواړه اجتماعي جوړښتونه د منځني ختیځ په تاریخ او د هغه په جوړښت کې هر یو خپل ځانته دریځونه لري.

پښتانه تر اداري لاندې ځمکې چې د منظم حکومت لرونکي دي، له ازادو سیمو او غستان څخه جلا ګڼي. په دغه څېړنه کې زه دغه ازادې او یاغي سیمې تر تحلیل لاندې نیسم. شپیرا د دغو دواړو ټولنیزو جوړښتونو ترمنځ د بیلوونکي ټکي په باب په سیاسي نظامونو کې د مشرانو په نقش او د مشرتابه په اجرا اتو باندې تاکید کوي. په سوات کې ټولې ډلې چې په سیاسي نظام کې لومړنۍ متحد واحدونه جوړوي. د فردي مشرتابه په اصل باندې ولاړې دي. په دې ډول د هرې ډلې لپاره یو ځانګړی مشر وجود لري او د هغه واکمني د ملاتړو د اړیکو له ټولې لرۍ څخه لاس ته راځي. که د دغو اړیکو له مخې مورِ یوه درجه بندي جوړه کړو. نو مشران په دوو غوره ډلو باندې ویشل کیدای شي: د پښتنو مشرانو ډله او د ستانه وو روحاني نسبي ډله. لومړی ډله خپله واکمني له شتمنۍ او فتحې څخه حاصلوي او دویمه یې د منځګړتوب او شریعت له لارې ترلاسه کوي دواړه یې په جوته توګه د خپلو ملاتړو د تنظیم او مشرتابه په برخه کې سیاسي دي او هم دواړه یې په نهایت کې د خپل قدرت او واکمنۍ د ټینګولو لپاره وسلې او قوې ته لاس اچوي.

۵۶. دا د استعمارچیانو یوه اصطلاح ده، ژباړن.

د دغو دوو مختلفو ډلو موجوديت داسې يوه مساله رامنځ ته کوي چې د هغې حل زما د غوره موضوعاتو څخه دی. که څه هم يوه بهرنې سړي ته به مشران او ستانه له څو خواوو څخه يو شان و بريښي. خو هغوی د مفهوم له مخې په ښه توګه د قطبي متممو عناصرو په ډول پيژندل کيدای شي. د هر يوه سياسي فعاليتونه د بل يو د وجود مستلزم دي. دغه دوه ټکي يوځه بيان ايجابوي. له مشرانو څخه د غرور، سيالي رقابت او زړه ورتوب هيله کيږي. کليوال پښتانه د دا شان خصايلو يادونه، هڅونه او ستاينه کوي. خو دغه خصوصيتونه نسبي دي او د خپلو اضدادو لکه اعتدال، معقوليت او ملايمت له مخې په ښه توګه درک او څرګنديدای شي. دغه متمم ډوله خوی د ستانه و څخه توقع کيږي او ضد يې تر ډېر زيات حد پورې له مشرانو څخه غوښتل کيږي.

د مثال په ډول د مشرانو زياتو ميلمستياو پر ضد د ستانه و په منځ کې د اعتدال هغه حالت چې د سوګټوالي سره نږدې وې مقابله کيدلی شي، يا دا چې د ستانه و د پاکو سپينو جامو سره د مشرانو نمايشي او ځلا لرونکي کالي تضاد څرګندوي.

دغه متمم والي د سياسي نقشونو د اختلاف او يو پر بل بستګی پورې ارتباط لري. مشران د محلي پښتني نسبي ډلو غړي دي. دوی ملاتړ او پيروان برابروي او په خانګيز بې‌مشره نظام کې د يو لړ ورته متمرکزو حجرو د ډلو مشران ګرځي، کوم وخت چې مشران د قدرت لپاره يو له بل سره سيالي او رقابت کوي کشالې او شدت زياتيږي.

د دوو مشرانو ترمنځ تضاد د تېرې د زياتوالي زمينه برابروي.

هماغه کسان چې د مشرانو ملاتړي ګټل کيږي او د هغو د تشنج ايجادونکو خويونو ستاينه کوي، په عين حال کې د ستانه و مريدان هم دي. له دې څخه علاوه، د ستانه و، مريدان د مشرانو د ملاتړو په توګه د هغوی بريد ته داخليږي ځکه چې د مشرانو په پرتله د ستانه و ملاتړ او مريدان ډېر زيات خواره واره پراته دي. کله چې د مشرانو په منځ کې لانجه منځته راشي، په دغه وخت کې د دوی ټاکلي معتدل، نرم، معقول او سپيڅلي مرستيالان يعنې ستانه د هغوی په منځ کې د منځګړي په ډول روغه تامينوي. د دوی دنده دا ده چې منځګړتوب وکړي او د تشنج د لږولو په برخه کې داسې فعاليت وکړي چې د مشرانو ترمنځ روغه جوړه وشي. ځکه مشران د دغه کار توان نه لري. په هغه وخت کې چې مشران هر يو د ځان لپاره ډلې جوړوي او پيروان روزي، په داسې شرايطو کې که ستانه، نه وي هرومرو په سيمه کې بې‌نظمي منځ ته راځي. نو په دې ډول ستانه او مشران د يو بل متلازم دي او سياسي نظام د هغوی د دواړو د فعاليتونو پايله ده.

د دغه سياسي نظام اصلي بڼه دا ده چې ټول مخکښان له خپلو ملاتړو سره يوځای د متحدينو په دوو پاشلو او شيندلو او په سياسي لحاظ په خپل منځ کې سره نږدې بلاکونو کې تنظيم شوي دي، په هر يوه بلاک کې ستانه او مشران يوځای دي او دا د دوی متمم والی څرګندوي. د سازمان نورې بڼې هم په بلاکونو باندې اغيزه کوي. په تېره بيا په هغه کې د نږدې خپلوانو او تربرونو د ډلو ترمنځ د کړکيچ موجوديت يادولی شو. دغه تضاد چې د غوره پلرنيو نسبي خيلونو او ډلو د سترو ځمکوالو په منځ کې راولاړيږي د متضادو ډلو د سياسي ماتېدنې سبب ګرځي او دغه له يو بل څخه جلا شوي متضادې ډلې په خپل وار سره متضادې ډلې جوړوي. نو په دې ډول په سوات کې د نورو څانګيزو په تېره بيا د افريقا د څانګيزو ټولنو په شان د شرايطو سره سم په جلا جلا سطحو کې د څانګو د ائتلاف او ماتېدلو پر بنسټ باندې منځ ته نه راځي، بلکې د دې په خلاف د سوات په سياسي نظام کې د سيالانو او رقيبانو ترمنځ تضاد دايمي بڼه لري او د دوی او پرمختيا عمليې په اساس او په نهايت کې د ډلو د تجزيې پر بنسټ باندې چې د څانګړي لارښود لخوا يې لارښود نه کيږي او دغه عمليه د يوه يا بل بلاک له پرېښودنې سره جوخته روانه وي، توازن منځ ته راځي.

په دغه رساله کې ما د دې توان ونه موند چې له سازمان څخه راپیدا شوي جلا جلا پرابلمونه لکه د دوو بلاکونو څخه زیات د نورو د نه منځ ته راتګ مسایل او یا په دغه څو څانګیزه ټولنه کې په ببلا ببلو ډلو کې د نسب معنی، په بشپړه توګه حل کړم. زما لپاره دا هم ممکنه نه وه چې د سوات د ناوې په یوه برخه کې د یوه داسې دولت د جوړېدو په باب ډېر اوږد معلومات وړاندې کړم چې د یوه ستانه لخوا د روانې پیړۍ په اوږدو کې اداره کیږي او یا د ناوې په بله برخه کې د دیر د خانۍ د غزیدلو په باب زیات څه ووایم چې د یو پښتون لخوا وربانديې حکومت کیږي، (د دغو دواړو په منځ کې د یوه نه بدلیدونکي بېمشره سازمان یوازې یوه کوچنۍ برخه جلا پاتې کیږی). صرف دومره څرګندولی شم چې دا شان پرمختیاوې د سازمان د عنعنوي عناصرو د بیا تنظیم (د ځینو تخنیکي نوښتونو په ګډون لکه تیلفون) نتیجه ګڼل کیږي. سره د دې چې دغه نوی پرمختیاوې د دوی دولتونو ته زیات تمرکز وبانبه، بیا هم د عنعنوي بلاک سازمان لاتراوسه لاس ناوهلی پاتې شوی دی. که څه هم د سوات د دولت موسس لا ژوندی دی او د ولایت څوکۍ یې زوی ته رسیدلې ده، خو بیا هم د دغه دولت د پیاوړتیا اندازه تر ازمویني لاندې نیول شوې نه ده او هم تراوسه پورې داسې سند او مدرک نه لرو چې ووایو چې د هغه ننني سازمان ځانته توازن پیدا کړی دی.

ضمیمه

د وینې په بدل پورې مربوطې قضیې

لومړی قضیه

د پاسني سیبوجني د دوو همسایه کلیو دوه تنه ولیان (ستانه)، د بیها سید او نالکوټ پاچا منازعه په ۱۹۲۵م کال کې. (تقریبي نېټه)

د بیها سید د.ج.م. د یو شمېر ټاکلیو پټیو واښه وریبل، د.ج.م. لخوا ونیول شو او دومره وهل یې وخوړل چې سر یې مات شو. خلکو ده ته په دغو وهلو پیغور ورکاوه او په دې یې ولمساوه چې خنګه دی یوې ټیټې ونې لرونکي سړي وهلی دی! په دې سبب یوه ورځ په بیا کې سید په د.ج.م. حمله وکړه او د خپل یوه کلیوال په مرسته یې وټکاوه. په نتیجه کې د.ج.م. د غچ اخیستلو په پام کې ولوید او د ناوې په تل کې یې دوو تنو سیدانو د نیولو لپاره انتظار وایست او تصمیم یې ونیو چې ورته سپکه ورسوي. کله چې سره مخامخ شول نو د نښتې په ترڅ کې سید د.ج.م. په خټه کې چاقو ورننه یوست او هغه یې پرې خټرې کړه. وروسته له دې ونیول شو او خټه یې وګنډله. بله ورځ سهار د.ج.م. مړ شو. د ده زوی لا ماشوم و او نږدې خپلوان یې هم دومره بالغ نه و چې د ده غچ واخلي لرې خپلوانو ته د انتقام چانس په لاس ورکړل شو. خو هغوی په دې شکمن وو چې له مړه شوي سړي سره ډېرې نږدې اړیکې نه لري. په دې ډول د وژل شوي سړي وراره نالکوټ پاچا نیول شوی قاتل وویشت. ورپسې خان بهادر صاحب د نالکوټ پاچا د ډلې ملاتړ وکړ. دوی په بیها یرغل وکړ او سید په افرادو یې اور بل کړ او سیدان دیر ته وتښتیدل. درې کاله وروسته د قربانۍ په شپه راستانه شول او له مقابلې کورنۍ څخه یې بخښنه وغوښتله چې هغوی ومنله.

دویمه قضیه

د تاپې د مشرانو خان کور او علیخیل منازعه، په اټکلي توګه په ۱۹۱۰م کال کې.

یوه ډله زلمیانو د شپې د لوبو کولو په وخت کې له یو بل سره ټوکې ټکالې کولې. د باز د محلې ډلې د علیخیلو د محلې د ډلې مشر تر انتقاد لاندې ونیو او سپکې سپورې یې ورته وویلې. ده تصمیم ونیو چې په (خان کور) پورې د باز د محلې مشر ونیسي او پرتوګ ترې وباسي او د ښار په منځ کې یې وګرځوي. په مقابل کې د (خان کور) مشر مورچل ونیو او د علیخیلو مشر یې د شپې په لسو بجو د تراویح لمانځه ته د تللو په وخت کې ونیو او د دوی ترمنځ د اخ او ډب په نتیجه کې علیخیل ووژل شو. د کلي جرګې د دوی ترمنځ اوربند او متارکه وکړه او دواړو ډلو ته خبر ورکړ شو چې د تاپې په کلي کې څنګ ژوند ونه کړي. په ورپسې کلونو کې د (خان کور) مشر تر خپل لاس لاندې کلي پالي ته لاړ او د علیخیل کهول دیر ته وخوځید. دوه کاله وروسته د وژل شوي علیخیل ورور په پاسني سړک کې د (خان کور) قاتل وواژه. د ملکنډ ولسوال له دې امله چې مړی د پاچا پر سړک شوی و، په دغه موضوع کې دخیل شو. قاتل څوارلس کاله د هند د یوې محکمې لخوا بندي شو او په دغه موده کې متارکه روانه وه. خو کله چې زنداني خوشې او کور ته راغی نو د مړه شوي (خان کور) سړي زوی او ورور لوړه وکړه چې د وینې غچ واخلي او په دې ډول یې خپل مزدور وګومارله چې زنداني بازار کې ووژني. دا خبره یوولس کاله وړاندې وه او لاتراوسه پورې دا دښمني پای ته رسیدلې نه ده.

دریمه قضیه

زما د ساحوي څېړنې په وخت کې د الف او ب د غوره خانانو د زامنو منازعه.

څوان خان (الف) تودې میاشتې په غرونو کې په ښکار تېرولې او د ده ملګری (ب) خان د ده لیدنې ته لاړ. سهار شپږ بجې دوی دواړه له مزدورانو څخه پرته د باندې ووتل. په لار کې د دوی ترمنځ لانجه پیدا شوه، او (الف) د (ب) لور ته د ټوپک خوله برابره کړه. ب د ټوپک خوله لاندې ووهله خو د ناڅاپي ډزې په واسطه یې خپله پښه سخته ټپي او ماته یې کړه. په دې وخت کې (ب) مصلحتاً وویل چې (الف) ټوکې کولې او ډز تصادفي و. ده وویل: «ته زما پښه وتړه او څېړې ته مې یوسه».

(الف) زیار وایست، خو د ویرې څخه د زنګنونو دمه لاړه. ده څېړې ته منډې کړې او د (ب) د وړلو لپاره یې مزدوران خبر کړل. دوی د شپې تر تیارې پورې هلته پاتې شول چې څوک وربانديې برید ونه کړي او ورپسې کلي ته راستانه شول او د (الف) تره (س) د کور خوا ته راغلل. (الف) د باندې ودرید او (ب) ټوله کیسه په درسته او سمه توګه د (الف) تره ته وویله. دا خبرې (الف) واوریدې او د غرو خواته وتښتید او ورپسې په ګاونډي کلي کې د خپل ماما کور ته ورغی.

(س) ژر تر ژره (ب) لرې واستاوه او وروسته یې ټول خپل خپلوان په موضوع باندې خبر کړه. دوی ټول د (س) په حجره کې راغونډ شول. (س) د خپلې خور د مېړه په واسطه چې د (ب) لرې خپلوان و د (ب) پلار خبر کړ. د (ب) پلار د خپلې وسلوالې ډلې سره یوځای د (س) د حجرې او باغ لورې ته راغی. خو (الف) یې بیا نه موند. (ب) مجبور شو چې خپله پښه پرې کړي. ورپسې لانجې سیاسي بڼه پیدا کړه او د دښمنۍ لمن (س) ته هم خپره شوه. (س) خپل نفوذ د (ب) د پلار په واسطه ګټلی و. سره د دې چې (س) په څرګنده توګه د خپل وراره له عمل څخه ځان په څنګ ښووه. خو بیا یې هم کولی نه شول چې د هغه له مسؤلیت څخه ځان خلاص کړي. کله چې زه له دغه ځای څخه لاړم. نو دا وخت (س) له خپل کلي څخه په تبعید کې ژوند کاوه.

څلورمه قضیه

زما د ساحوي څېړنې په وخت کې د یوه واړه کلي بزګران.

یوه ورځ د کلي لاندې پټیو کې د شپې ډزې واورېدل شوې. په دې وخت کې پټول اورونه سملاسي مړه شول او ټول وسله وال کلیوال د ډزو خای ته په احتیاط سره وړاندې ولاړل، یوه شیبه وروسته دا غږ «خبره جوته شوه» واوریدل شو او له څینو کورونو څخه د سړیو په لاسو کې څراغونه ښکاره شول. یو څوان هلک په پټیو کې د مرګ په حال کې پیدا شو. دی په چغې (جغی) کې د خپلې خور د کور خواته چې په کلي کې واده شوې وه، یووړل شو. دا هلک پخپله د ګاونډي کلي و. ده وویل چې زه د خپلو پټیو په کتنه بوخت وم چې دوه تنه د غلا لپاره راواوښتل، غوښتل مې چې هغوی ژوندي ونیسم، خو هغوی زه وویشتلم او وتښتیدل. هلک د سینې له ټپ څخه ډېرې وینې ضایع کړې او د شپې په اوږدو کې مړ شو. داسې افواه هم موجوده وه چې هلک د یرغل کوونکو هویت څرګند کړی دی. د ده خپلوان ماته راغلل چې د یوه هوایي مکتوب پاڼه هغوی ته ورکړم. ورپسې په دغه لیک ما ادرس ولیکه او په یوه نړدې پوسته خانه کې مې دوی ته واچاوه چې دیرش میله لرې وه. دا لیک بمبیي ته د وژل شوي هلک د ورور لپاره لیږل کېده، چې خپل کور ته راشي او د وینې بدل واخلي. یوه اوونۍ وروسته تحصیلدار یو سړی د قتل په تور په دې دلیل بندي کړ چې هلک د څنګندن په وخت کې د هغه د کورنۍ نوم اخیستی و. توقیف شوی سړی دوولس کاله پخوا هم د وژل شوي هلک د مور د وهلو په ګناه نیول شوی و. تحصیلدار د هلک کورنۍ دې ته راوبلله چې د توقیف شوي سړي په ضد شاهدي ورکړي او که داسې نه وي، نو وروستۍ شاهدي به صحت ونه لري. هغوی د دوو نورو کسانو نومونه ده ته وښودل، په داسې حال کې چې هلک دوه تنه یاد کړي وو. په دغه وخت کې د هلک د خور مېړه خسرګنۍ ته لاړ چې د پاتې کوچنۍ او بنې څارنه او ساتنه وکړي. ورپسې دوو وروستیو توقیف شویو کسانو د محلې مشر حاکم ته لاړل او له هغه سره د خبرو وروسته دوه توقیف شوي کسان خوشې شول. په دې باب په کلي کې د رشوت اوازه خپره شوه. د هلک کورنۍ له دې څخه انکار وکړ چې دوی د دغو دوو تنو نوم ورکړی دی. یو څه وخت وروسته د وژل شوي هلک د کلي د بلې محلې سیال مشر د لومړي زنداني شوي سړي د خلاصولو لپاره ولاړ. دا وخت د قتل یوه نوي انګېزه معلومه شوه او هغه دا چې یوه پښتون په ګاونډي کلي کې له یوه خان سره په څمکه کې اجوره کاري کوله. دغه سړي نوموړې څمکه په ډېره ګټه سره اجاره کړې وه. د وژل شوي سړي کورنۍ چې له بمبیۍ څخه د هلک ورور ته زیاتې پیسې لیږلې وې، خان ته وویل چې دا څمکه هغوی ته ورکړي. اجاره والا دغې کورنۍ ته ګواښ وکړ چې له دغه کار څخه لاس واخلي. خو دوی زیات ټینګار وکړ. نو څکه دغه پښتون توقیف شوی سړی یې دې ته استخدام کړ چې هلک ووژني. په دې ډول مسؤلیت د پښتون و، نه د توقیف شوي سړي زما له تګ څخه وروسته هم دا مساله لا حل شوې نه وه.

پنځمه قضیه

زما د ساحوي کار په وخت کې د (ډ) او (ی) غوره مشرانو منازعه.

(ډ) د سوات په پوځ کې د جمعه دار په حیث یو وخت د منګوړ په ښارګوټي کې د سړک ترمیم تر څارنې لاندې درلود. دغه کار د ده د اصلي دښمن (ی) د کورونو په مخ کې روان و. (ی) په کار کې مداخله پیل کړه او کار کوونکو ته یې جلا دستور ورکړ. څرنګه چې دغو کار کوونکو د ده امرونه مانه، نو ده په مقابل کې د دوی مشر ته ښکنځل وکړه. کله چې (ډ) راورسید، نو کارکوونکو ته یې د کار پخواني حالت لارښوونه وکړه، څکه (ی) په دغه کار کې واک نه درلود (ی) ټینګار وکړ. (ډ) هغه ته وویل چې لرې ولاړ شي. (ی) په غضب شو او (ډ) یې په مخ باندې په څپېړه وواهه. څرنګه چې (ډ) ته خپل وقار ډېر جګ برښیده نو ویې نه غوښتل چې نور زیات په عمومي سړک باندې شورماشور جوړ شي او له هغه ځایه ووت. (ی) والي ته ولاړ او له هغه

څخه يې د ساتنې هيله وکړه. خو والي ونه منله. نو له دې امله يې ځان پټ کړ. د (ډ) ورور چې د يوه بل کلي اوسيدونکو، خپل بزګران او مزدوران يې راغونډ کړل او د (ی) د پيدا کولو لټه يې وکړه. بالاخره څلور ورځې وروسته يې (ی) په لار کې پيدا کړ چې له کلي څخه يې د باندې تېښته کوله. د ده ډله بې‌وسلې کړل شوه او په خپله خان يې په سړک باندې وغورځاوه او دومره يې وټکاوه چې سر يې مات شو او غوږ يې وشکيد. په وروستيو (۲۴) ساعتو کې د (ډ) ملاتړ (ملاتړي ملاتړ کوونکي) د هغه په حجره کې راغونډ شول او له خپل خاوند سره د وفاداری د څرګندولو په څېر کيناستل. (ډ) د والي لخوا ناغه شو، خو ده خپل پت په دغه عمل سره وساته او اعتبار يې ډېر اوچت شو.

پای

BIBLIOGRAPHY

I. SOURCES RELATING TO THE SWAT VALLEY.

- BADEN POWELL, B.H. (1896). The Indian Village Community.
- Lonngmnans, Green & Co. London.
- BARTH, FREDRIK (1956). Indus and Swat Kohistan. Studies honoring the centennial of Universitetets Etnografiske Museum, vol. 11.
- BARTH, EREDRIK (1959). The system of social stratitcation in Swat, North Pakistan In E.R.Leach (ed). Aspects of Caste, Cambridge Papers in Social Anthropoloy No.2 Cambridge University Press.
- BARTH, FREDRIK and GEORG MORENSTIERNE (1956) Vocabular and specimens of some S-E Dardic dialects. Norsk Tidsskrift for Spakvidenskap. Vol. 18.
- BARTON, SOR WILLIAM (1939). India's North West Frontier. John Murray, London.
- BELLEW, H.W. (1864). A General Report on the Yosufzai. Government Press, Lahore.
- BRUCE, R.I. (1900). The Forward Policy and Its Results. Longmans, Green & Co. London.
- CHURCHILL, W.L.S. (1898). The Story of the Malakand Field Force. Longmans, Green & Co. London.
- COBB, E.H. (1951). The Fronteir States of Dir, Swat and Chitral, Journal of the Royal Central Asian Society, vol XXXVIII.
- Elphinstone, Hon. MOUNTSUART (1939). An Acconut of the Kingdom

of Caubul, and its dependencies, in Persia, Tartary, and India vols, 2nd ed. Richard Bentley, London.
- FERRIER, J.P. (1858). History of the Afghans.
- John Murray, London. HAY, W.R. (1934). The Yusufzai State of Swat. The Geographical Journal, vol. LXXIX, No.3. History of Swat. A printed but undistributed translation of an Urdu account by the late scribe of H.R.H. Abdul Wadud.
- Citations are based on notes made while reading this work.
- KHAN, GHANI (1947). The Pathans. National Information & Publications Ltd. Bombay.
- MORGENTIERNE, GEORE (1927). An Etymological Vocabulary of Pashto. Det Norske Videnskaps – Akademi I Oslo II, Hist. Filos Klasse, No.3.
- Papers re British Relations with Neighbouring Tribes on the North West Frontier of India Parliamentary Papers, Cd. 496, 1901.
- PLOWDEN, T.C. (1875). Selections from the Tarikh-i-Murassa's of Afzal Khan, c.1700 A.D, in Translations of the Kali-i-Afghani. Central Jail Press, Lahore.
- RAVERTY, H.G. (1860). A FRAMMAR of the Pukhto. 2nd ed. Williams and Norgate, London.
- Raverty, H.G. (1867). A Dictionary of the Pukhto. 2nd ed. William and Norgate London.
- REDGEWAY, R.T.I. (1918) Pathans. Handbooks for the Indian Army. Calcutta.
- ROBERTSON, SIR GEORGE SCOTT (1899). Chitral – the story of a minor siage, Methuen & Co. London.
- STEIN, SOR AUREL (1929). On Alexander's Tracks to Indus. Macmillan & Co. London.
- STEIN SIR AUREL (1930). An Archaeological tour in upper Swat. Memoirs of the Archaeological Survey of India, No.42. Calcutta.
- Wylly, H.C. (1912). From the Black Mountain to Waziristan. Macmillan and Co. London.
- ZABEEH, MOHAMMAD ISMAIL (1954). Glim pses of Swat. Ferozsons, Peshawar.

II. ANTHROPOGICAL WORKS CITED

- BARTH, FREDRIK (1953). Principles of Social Organization in Southern Kurdistan.
- Universietets Etnograpfi – ske Museum Bulletin No.7 Oslo.
- BOHANNAN, Laura (1952). A Genealogical charter. Africa, col. XXII. CHILDE, V. GORDON (1934). New light on the Most Ancient East Kegan Paul & Co.
- COON, CARLETON S. (1952). Caravan The Story of the Middle East. Jonathan Cape, London.
- EVANS – Pritchard, E.E. (1949). The Sanusi of Gyrenaica. Clarendon Press, Oxford.
- Firth, Raymond (1951). Elements of Social Organization. Watts & Co. London.
- FIRTH, RAYMOND (1954). Social Organization and Social Change. Jurnal of the Royal Anthropological Institute, vol. 84.
- FORTES, MEYER (1945). The Dynamics of Clanship among the Tallensi. Oxford University Press.
- FORTES, MEYER (1949). The Web of Kinship among the Tallensi. Oxford University Press.
- FORTES, MEYER (1953). Structure of unilineal descent groups. American Anthropologist, vol.55.
- FORTES, MEYER, and E.E. Evans-Pritchard (1940). African Political systems. Oxford University Press.
- DE JOUVENEL, BERTRAND (1945). Power the natural history of its growth Hutchinson & Co. London.
- LINTON, RALPH (1936) The Study of Man. Appelton – Century Co. New York.
- MAINE, SIR HENRY SUMINER (1816). Ancient Law. Johan Murry, London.
- MARWICK, M.C. (1952). The social context of Cewa witch beliefs. Africa, vol. XXII.
- PATAL, RAPHAEL (1949). Musha'a tenure and co-operation in Palestine. American Anthropologist vol.51.
- RADCLIFFE – BROWN, A.R. (1934). Patrilineal and matrilineal sucession, reprinted in Structure and Function in Primitive Society, Cohen & West Ltd. London 1952.

- SCHAPERA, I. (1956). Government and Politics in Tribal Societies. Watts, London.
- STEVENSON, H.N.C. (1954). Status evaluation in the Hindu caste system. Journal of the Royal Anthropological Institute, vol.84.
- WEBER, MAX (1947). The Story of Social and Economic Organization (Translated by A.R. Henderson & Talcott Parsons), William Hodge & Co. Ltd. London.
- WISER, W.H. (1936). The Hindu Jamani System. Lucknow Publishing House.

Fredrik Barth

Political Leadership Among Swat Pathans

Pashto Translation by

Nasrullah Sobman Mangal

ISBN 978-9936-8073-1-0